# زمونږ صحت او آخرت
# ته تاواني توکي

د خوراك او څښاك د ځينو شيانو، نشه يي توکو، ځينو بهرنيو
مصنوعاتو، د سينګار د شيانو، درملني، روغتيا ساتني
او داسي نورو په هکله د هر خاص او عام لپاره
ګټور کتاب

**ليکونکی:**
**عبدالمالک «همت»**

د کتاب نوم: زمونږ صحت او آخرت ته تاواني توکي

د کتاب فارسي نوم: چیزهای مضر بر صحت و آخرت مان

لیکونکی: عبدالمالک «همت»

موضوع: موعظې او حکمتونه

د چاپ شمیر: لومړي (دیجیتال)

د چاپ تاریخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

سرچینه:

دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برښنا لیک: **book@aqeedeh.com**

**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیکلړ


**لیکلړ...............................................................................أ**

**د دوهم چاپ سریزه.................................................................... ۱**

**سریزه.................................................................................. ۲**

**د حرامو شیانو له خوړلو څخه د پرهېز یوه اند پاروونکې کیسه ........................ ۵**

**شراب د انسانیت ډېر بد دښمن (شر آب) ........................................ ۹**

(الف) د هضم پر نظام باندي د شرابو اغېزه: ..................................... ۱۱

(ب) دویني د دوران پرنظام باندي د شرابو اغېزه:.................................... ۱۳

(ج) پرعصبي نظام باندي د شرابو اغېزه: ........................................ ۱۵

(د) پرتولنیزو روحیاتو باندي د شرابو اغېزه: ....................................... ۱۶

**بنګي، چرس، تریاک، هېروئین او داسي نور ........................................ ۱۸**

بنګي او چرس: .......................................................................... ۱۸

د چرسو تاریخ: .......................................................................... ۱۸

بنګي: ...................................................................................... ۱۹

چرس او روغتیایي ضررونه یې: ....................................................... ۱۹

خشخاش، کوکنار، تریاك، هېروئین او نور:............................................ ۲۰

د تریاکو تاریخ: ........................................................................... ۲۰

د تریاکو روغتیایي ضررونه:............................................................ ۲۲

مورفین: .................................................................................... ۲۳

هېروئین: ................................................................................... ۲۳

د پورتنیو توکو په هکله شرعي او فقهي احکام: ...................................... ۲۴

د قرآن کریم احکام: ..................................................................... ۲۴

د رسول ﷺ سپېڅلي لارښووني: ........................ ۲۵
د فقهي د ځينو متونو او د هغو د شرحو او حاشيو خبري: ........... ۲۷
د فقهي د نورو مطولو کتابونو څرګندوني: ..................... ۲۷
څرګندونه: .............................................. ۳۰

**د تمباکو ضررونه او حراموالی ............................ ۳۲**

د تمباکو روغتيايي ضررونه: ............................ ۳۳
د تمباکو نوم: .......................................... ۳۵
د تمبکو تاريخ: ......................................... ۳٦
د تمبکو د استعمال پر خلاف اقدامات: ..................... ۳۸
د تمبکو په اړه طبي څېړني: ............................. ٤۳
د تمبکو د استعمال ډولونه: ............................. ٤۷
۱- د خولې د نسوارو په ډول: ........................... ٤۷
۲- د چلم څکولو په ډول: ............................... ٤۷
۳- د سګرېټو څکولو په ډول: ............................ ٤۷
٤- د تمباکو ژوولو په ډول: ............................. ٤۸
٥- د پزي د نسوارو په ډول: ............................. ٤۸
تمباکو د اسلام له نظره: ................................ ٤۸
د تمبکو د حرمت په هکله د اسلامي عالمانو څرګندوني: ......... ٥۲
د تمبکو په هکله وروستۍ خبري: ........................... ٦۱

**د قهوې او چايو زهر جني جوشاندې ........................ ۶۴**

د قهوې تاريخ: .......................................... ٦٤
د چايو تاريخ: .......................................... ٦٦
د قهوې او چايو ګټې اوضررونه: .......................... ٦۷
دقهوې او چايو د چيښلو له امله د کوچني نقصان: ............... ۷۲
بوره يا سپين زهر ........................................ ۷۳

**غنم، اوړه او ډوډۍ ........................................ ۷۷**

د غنمو اصلاح سوي تخمونه: ............................... ۷۸

په غنمو او اوړو هم ډول ډول مواد وهي: ........................ ۷۹
ترمیده اوړه: ........................ ۸۲
د اوړو خمیره: ........................ ۸۲
**سره مرچک یا سره زهر ........................ ۸۴**
پاپړ ........................ ۸۶
د کټوي دارو (مسالې) ګټې اوتاوا نونه يې ........................ ۸۶
د امریکایي او صهیونیستي مصنوعاتو تحریم ........................ ۸۸
**د سرکوزي غوښې ولې حرامې دي؟ ........................ ۹۲**
هغه شیان چې د سرکوزي وازګې پکښې استعمال سوي دي ........................ ۹۵
کفار او د سرکوزي غوښې: ........................ ۹۵
د خوراك او چیښاك په شیانو کې د سرکوزي د غوړزګیو کارول: ........................ ۹۶
په پاکستان کي هم په ځینو شیانو کې د سرکوزي غوړ ګډوي ........................ ۹۹
د سینګار په شیانو کې جعلکاري: ........................ ۱۰۰
د غاښو په کریمو نوکي جعلکاري: ........................ ۱۰۱
د ښځو په لب سرینونو کې جعلکاري: ........................ ۱۰۱
د سینګار په سامانونو کې د ماشومانو د هډوکو کارول: ........................ ۱۰۱
په شیندونکو عطرونو (Perfume Spray) کي شراب ګډوي: ........................ ۱۰۱
په کلونیا کې هم الکحل او یو بل ډول نجسه ماده ګډه ده: ........................ ۱۰۳
**سینګار، سینګار ځای او د سینګار شیان ........................ ۱۰۵**
سینګار په کور کې د مېړه لپاره دی نه د باندې د خلکو لپاره: ........................ ۱۰۶
سینګار ځاي (آرایشګاه) او شرعي احکام: ........................ ۱۰۷
په بې حیا آرایشګرو ځان سینګارول: ........................ ۱۰۹
په نارینه سینګار کوونکو ځان جوړول حرام کار دی: ........................ ۱۰۹
سینګار ځایونه او نوي ساینسي څېړني: ........................ ۱۱۰
سینګار ځایونه له ډول ډول خطرونو ډک دي (برتانوي څېړنه): ........................ ۱۱۱
سینګار ځای او د سرطان ناروغي: ........................ ۱۱۱
د سینګار د سامانونو ناوړي اغېزې ........................ ۱۱۲

لب سرين او نوي ساينسي څېړني........................................١١٤
روږ اندې او په معنوي پسول ښکلې ښځه سينګار ته اړتيا نه لري.........١١٦
د سينګار د شيانو استعمال له شرعي او اقتصادي پلوه.......................١١٨

**د ښځو د وړېښتانو او ځينو نورو په هکله ځيني احکام.......................... ١٢٣**

د وړېښتانو رنګول:.....................................................................١٢٣
د ښځو لخوا د مصنوعي وړېښتانو استعمالول: ....................................١٢٤
د ښځي د وړېښتانو خريل:............................................................١٢٥
د ښځي د وړېښتانو لنډول: ...........................................................١٢٥
د ښځي د سر د وړېښتانو توني کول: ..............................................١٣٠
له تورو وړېښتانو څخه د سپينو وړېښتانو ايسته کول: ...........................١٣١
د ښځي د سر د وړېښتانو په ډول ډول ډېزانونو جوړول: ..........................١٣٢
د وړېښتانو د ودي او زياتوب لپاره د هغو څوکي پرې کول: .....................١٣٢
د ښځي سر عورت دی: ...............................................................١٣٢
د ورځو جوړول او د مخ او لاسونو او پنډيو وړېښتان ايسته کول:...........١٣٣
شنه خالونه د بدن پر بېلو بېلو ځايونو وهل: .....................................١٣٣
د غاښونو کوچني کول او داسي جوړول چي سره جلا جلا سي:...........١٣٥
غاښونو ته د سرو يا سپينو زرو پوښ ورکول: .......................................١٣٦
د نوکانو اوږدول او رنګول: ...........................................................١٣٨
د ښځو لخوا عطرونه وهل: ...........................................................١٣٩

**له امريکا او نورو کفري هيوادونو څخه راوړل سوي غوښي......................... ١٤١**

د بهر نيو په اصطلاح ذبح سوو چرګانو د غوښو په هکله څه نوري خبري
١٤٤...........................................................................................
د ګامېښو او غويو د غوښو روغتيايي تاوانونه .......................................١٤٦
غوښی له روغتيا يي پلوه:.........................................................١٤٦
د غوا او ګاميښي غوښي:.........................................................١٤٧
له بهرنيو هيوادونو څخه د غوايي راوړل سوي غوښي:...........................١٤٨

**کوکاکولا، پيپسي، فانټا او دغسي نور مشروبات (خواږه زهر) ...................١٥٢**

کوکا کولا: ........................................................ ۱٥۲
پیپسي کولا: ........................................................ ۱٥٤
د کوکاکولا او پیپسي کېمیاوي مواد: ........................ ۱٥۷
د کوکاکولا، پیپسي او داسي نورو روغتیایي تاوانونه: ............ ۱٦۰
سوډا واټر او لېمونېډ: ........................................ ۱٦۳
د کوکاکولا او داسي نورو پر ځای باید څه شي وڅیښو؟ ........... ۱٦۳
د کوکاکولا او پیپسي په هکله ځیني عجیبي تجربې.............. ۱٦٤
**معدني اوبه (منرل واټر Mineral Water) ........................ ۱٦٦**
د شربتو د پوډرو پوړۍ ........................................ ۱٦۹
**شیدې، د قوطیو شیدې، وچي شیدې او د مور شیدې .............. ۱۷۱**
د قوطیو مایع شیدې: ........................................ ۱۷۲
د نیستلې د شیدو په قوطۍ کي شرموښکۍ؟! ................ ۱۷۳
وچي شیدې او د سرکوزي غوړزګي: ........................ ۱۷٤
د مور شیدې که د دبلیانو او نورو وچي شیدې؟ ................ ۱۷٦
**غوړي.................................................. ۱۸۱**
دغوړو روغتیایي ضررونه: ........................................ ۱۸۲
د پلاسټیکي کڅوړو استعمال زموږ روغتیا او چاپېریال د ګواښ سره مخامخ کړی دی ........................................ ۱۸٤
**درملنه.................................................. ۱۸٦**
په نړۍ او زموږ په هیواد کي د درملني لنډ تاریخ: ............ ۱۸٦
اسلام او درملنه: ........................................ ۱۸۸
د ناروغیو د درملني په هکله د اسلام لارښووني: ............ ۱۹۳
په ساري ناروغیو له اخته کسانو څخه ګوښه اوسېدل: ............ ۱۹٤
د ناروغۍ روحاني درملنه او دعاوي: ........................ ۱۹۷
که څه ناروغي درپېښه سي په غذا یې درملنه وکړئ: ............ ۱۹۹
تر څو کېدای سي په طبیعي او نباتي بوټو او درملو درملنه وکړئ: ...... ۲۰۰

د کېمیاوي او طبیعي درملو په هکله د ډاکټرانو نظریې: ........................ ۲۰۱
د کېمیاوي درملو د ناسمو کارولو په هکله څرګندوني: .......................... ۲۰۲
درمل باید د ډاکټر په مشوره او بشپړ وخوړل سي: ............................ ۲۰۸
په هغو درملو چي الکحل او داسي نور ګډ وي درملنه څنګه ده؟ ....... ۲۱۰
د قرآن کریم لارښووني: .................................................. ۲۱۲
د احادیثو لارښووني: ............................................... ۲۱٤
د محدثینو اقوال: ..................................................... ۲۱۵
د فقهي احکام: ................................................ ۲۱۶
سپرټ او ټنکچر: ............................................... ۲۱۹
ځیني شرعي حکمونه: ................................................. ۲۲۰
نیم پیازه او بې سنده ډاکټران: ....................................... ۲۲۱
پاکستاني زښت ګران او هندي بې اغېزي درمل: ......................... ۲۲٤
د لوېدیزو هیوادونو د درملو د تحریم په هکله فتوا: ....................... ۲۲۵
د نارینه ډاکټرانو لخوا د ښځو درملنه ....................................... ۲۲۶
د نارینه ډاکټرانو لخوا د ښځو د درملني په هکله شرعي احکام:........... ۲۲۷
**د حرامو شیانو تجارت ........................................ ۲۳۱**
د مخدراتو د سوادا ګرۍ په هکله د یوه معتبر کتاب څرګندوني: ....... ۲۳٤
د چرسو او تریاکو د کښت حراموالی: ...................................... ۲۳۶
**د ځان، کور او چاپېریال خواپاکي ...................................... ۲۳۸**
د ځان پرېولل: ......................................................... ۲٤۰
د عطرو وهل: ........................................................... ۲٤۱
د ځان او خیرې سمون او سمبالښت ته پاملرنه: ........................ ۲٤۲
د کالیو پاك ساتل او د کواړي پرېولل: .................................. ۲٤۵
د غاښو ساتنه: ......................................................... ۲٤۶
د مسواك وهل: ........................................................ ۲٤۷
مسواك که پلاسټیکي برس؟ .............................................. ۲٤۸
د غاښونو د پاکولو توکي: ............................................... ۲٤۹

د کور پاك ساتل: ........................................... ۲۵۰
د کور لوښي: ............................................ ۲۵۳
د کور د لوښو پرېولل: .................................. ۲۵۶
د کورونو او د هغو د شاوخوا پاك ساتل: .................. ۲۵۶
**د کندهار د ښار وضع.......................................... ۲۵۹**
**د کتاب د مراجعو فهرست ......................................... ۲۶۳**
**د لیکوال لنډه پېژندنه............................................ ۲۶۸**

## ډالۍ:

زما ننګيالي ولس ته چي يوځل روسانو سخت وکړاوه، خو بالاخره يې هغوی سخت مات کړل او د غرور له نيلي يې د تل لپاره را کښته کړل. اوس يې بيا امريکايان او نور بېګناه زوروي، حو دوی يې هم د سختو ستونزو سره مخامخ کړي دي او هغه ورځ ډېره نژدې ده چي دا مځکه او آسمان به ټول دا آيت زمزمه کوي چي:

﴿وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ٨١﴾ [الإسراء: ٨١].

# د دوهم چاپ سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام على النبي الهادي الأمین، نبینا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعین، وبعد:

حقیقت دادی چې دا کتاب لومړی ځل په ډېر خراب کیفیت چاپ سوی وو. نه یې وقایه سمه وه، نه یې د متن کاغذ او نه یې د چاپ ځرنګوالی.

یو لیکوال د کتاب پر لیکولو باندي څونه خواري کاږي، خو نور یې دې خواریو ته څونه کم ارزښت ورکوي؟

په هر صورت کتاب بیا هم د مطالعې د مینه والو لخوا ډېر خوښ کړی سو او د هغه زیاتي خبري ډېرو خلکو ګټوري او خوندوري وبللې او په ډېرو مجلسونو کي ډېر بحثونه پر وسول. اوس چې د کتاب ټوکونه په بازار کي خلاص سوي دي، خپرندوی یې بیا خپرېدوته د هغه د چمتو کېدو غوښتنه راځخه وکړه او ژمنه یې وکړه چې دا ځل به کتاب په ښه کیفیت خپروي. ما هم پر کتاب باندي بیا کتنه وکړه او په ډېره خواري او تپاک سره مي سموني پکښي راوستې او ډېري اړیني زیاتوني مي پکښي وکړې. خدای ﷻ دي وکړي چې داوار دا کتاب په ښه بڼه له چاپه راووزي او د توذیع او د ډېرو لوستونکو تر لاسونو د رسېدو کار ته یې هم پاملرنه وسي، والسلام.

**عبدالمالک «همت»**

**د ده افغانانو نوآباد، کابل د ۱۳۹۰ ل. کال د سلواغې اووه ویشتمه.**

**(اې لویه ښتنه! موږ په خپل ځانګړي رحمت سره سر لوړي کړه، زموږ کارونه را سم کړه!)**

# سریزه

حامداً ومصلیاً ومسلماً وبعد:

لکه څنګه چي پوهیږو د نړۍ مادي پالو پانګوالو، عیسویانو، یهودو، هنودو او د دوی ټیټو ګوډاګیانو د دوی د سرابښ مادي او طاغوتي ماهیت او شیطاني لوړتیا غوښتنو او ځان غوښتنو پر بنسټ د مادي ګټو د تر لاسه کولو لپاره د مسلمانانو او د نړۍ د بې وزلو ولسونو د هیوادونو د لاندي کولو، د هغو د مادي او معنوي شتمنیو د لوټولو یا وجاړولو او د هغو د مریي کولو او اېلولو (مطیع کولو) او په نهایت کي پر ټوله نړۍ د خپلي شومي واکمنۍ د ټینګولو او دغو اهدافو ته د آسانه رسېدلو په خاطر د مسلمانانو د معتقداتو د تخریبولو او دښمنۍپاللوپه موخه د هغو په وړاندي ډول ډول پټي او ښکاره دُسي، مکرونه او ظالمانه تېري، بریدونه او ورانوونکي جنګونه په لار اچولي دي. د دې توطئو او دښمنیو د هر اړخ په هکله ډېرلو ډېرلو څېړنو او پر هغو باندي ډېرلو ډېرلو کتابونو لیکلو ته اړتیاده. خو موږ دلته پر یوه موضوع باندي بحث کوو چي هغه د دغو انسان او اسلام دښمنو عناصرو د ځینو سترو ملټي نېشنل کمپنیو هغه خوراکي توکي او ځیني مصنوعات په زیاته هغه الکحلي او غیر الکحلي مشروبات دي چي زموږ هیواد او نورو اسلامي ملکونو ته یې صادروي.

موږ به په دې لنډ کتابګوټي کي په ګوته او جوته کړو چي د دغو بهرنیو کفري، مادي پالو، مغرضو، ښکېلاك ګرو او تېري کوونکو هیوادونو دغه خوراکي مواد له آره (له اصله) ګندهېر او زهریات دي، نور مصنوعات یې زموږ روغتیا ته تر زهرو ډېر مضر او غیر الکحلي مشروبات یې هم تر الکحلو بدتر او که سم ووایو خواږه زهر دي چي هم زموږ اقتصاد او صحت او هم مو اسلامیت او آخرت ته ستر تاوان رسوي.

د دې تر څنګ به موږ د ځینو نورو روغتیایي مسایلو او هغو توکو په هکله هم څه څرګندوني وکړو چي استعمال یې له روغتیایي یا شرعي پلوه ښه نه

دی. هیله ده په دې هکله ستاسو ژوره پاملرنه راواړولای سو او زموږ د دښمنانو په ډول ډول چلونو او د هغو په بېلو بېلو اړخونو باندې د دقیق پوهېدو تر څنګ له هغو چارو ډډه وکړو چې زموږ روغتیا او هغې دنیا ته تاوان پېښوي. خدایﷻ دې وکړي چې دا وړوکی کتاب ستاسي د خوښې او منلو وړ وګرځي او د شاعر د دې قول مصداق نه سي چې وايي:

لقد اسمعت لو نادیت حیاً ولکن لا حیاة لمن تنادی

یعني که دې یوه ژوندي ته دا خبري کړي وای هرو مرو به دې په اورېدلي وای. خو هغه چا ته چې ته خبري کوې ژوندی نه دی.

کاشکي تا کړلای خبري و ژوندو ته خو ته ګډیې دزړه درد وایې ومړوته

خو زه باور لرم چې داسې به نه کیږي، بلکي د شاعر د دې قول مصداق به سي:

دبیان انداز که څه هم ډېر شوخ نه‌دی ګوندي بیاهم داستا زړه لږ درخبر کړي

وړ خو داده چې په دې کتاب کې چې کومو منکراتو او ناوړو او نادودو ته نغوته (اشاره) سوې ده د هغو د مخنیوي لپاره عوام او خواص ټول هر یو په خپل خپل وار، خپل وس او وسایل په کار واچوي او دې ارزښتناکې نبوي لارښووني ته عملي جامه واغوندي چې فرمایي:

«مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ» (مسلم، کتاب الایمان ۷۸حدیث).

یعني له تاسي څخه چې هر څوك ناوړه چاره ووینی په لاس (د مټه په زور) دې بدلون ورته ورکړي. که دا نه سي کولای په ژبه (وینا، وعظ او تبلیغ) دی بدلون ورکړي او که دا هم نه سي کولای نو په زړه کې دې بد ځني یوسي، او دا د ایمان ډېره ضعیفه ثمره ده.

لوی ښښتن مو دې له بدیو، منکراتو او منهیاتو وساتي، د هغو پر له منځه وړلو دې توفیق راکړي او د هغه قوم په شان مو دې نه کوي چې قرآن یې یادونه د نوحعليه السلام په ژبه په دې الفاظو کړې ده:

﴿جَعَلُوٓاْ أَصَٰبِعَهُمۡ فِيٓ ءَاذَانِهِمۡ وَٱسۡتَغۡشَوۡاْ ثِيَابَهُمۡ وَأَصَرُّواْ وَٱسۡتَكۡبَرُواْ ٱسۡتِكۡبَارٗا ۝٧﴾
[النوح: ٧].

يعني: «هغو په غوږونو كي ګوتي كښېښوولې او په كاليو سره يې مخونه پټ كړل او پر خپلو كړو يې ټينګار وكړ او ډېر تكبر يې وكړ». والسلام

**عبدالمالك «همت»**

**همت ټاټوبی، كندهار**

**د ١٣٨٥ل.كال د لېندۍ پنځمه**

**د ١٤٢٧س.كال د میانۍ پنځمه**

## د حرامو شیانو له خوړلو څخه د پرهیز یوه اند پاروونکې کیسه

په معتبرو کتابونو کې راوړي چې د حضرت ابوبکر صدیقؓ د خلافت په وختو کي د هغه مریي یوځل هغه ته څه خواړه وړاندي کړل او هغه د پخواني دود په خلاف بېله پوښتني وخوړل خو د دې خوړو د خوړلو سره یې طبیعت څه ناکراره غوندي سو. نو یې له مریي څخه وپوښتل چي: «دا څنګه خواړه وه» مریي ورته وویل چي ما د جاهلیت په زمانه کي د کهانت کار (غیب ویل او اټکلي خبري کومي چي په اسلام کي منع او حرامي دي) کاوه، خو دغه کار مي ښه نه وو زده او یو څوك مي تېرایستی. نن مي هغه ولید او زما د دغه کار په بدل کي یې دغه خواړه راکړه او ما تاسي ته درکړه. د دې خبري په اورېدو سره ابوبکر صدیق سخت پرېشانه سو او سمدستي یې په ستوني ګوتي ننه ایستلې او هغه خواړه یې قی کړل. څنګه چي یې ښه ډاډ نه وو حاصل سوی بیایې د هغو د قیولو کوشش وکړ او څوني چي یې په وسه وه هغو ني یې قی کړل. ان چي دونه قیونه یې ووهل چي بېخي یې حالت بدلون وموند. خلك وارخطا سول چي نه چي له دې امله سا ور نه کړي. نو یې ورته عرض کړه چي: ای د رسول اللهﷺ خلیفه نور د قی وهلو کوشش مه کوه. نور له دې خوړو څخه ستا په نس کي څه نه دي پاته. بیا حضرت ابوبکرؓ وفرمایل: «زه بېرېږم چي د دغو خوړو کوم څه مي په نس کي نه وي پاته». بیا یې وژړل او ویې ویل: «ای لویه څښتنه ز ما خو چي څه په وس وه هغه مي وکړه. که اوس هم زما په نس کي د دې خوړو کوم څه پاته وي ای لویه څښتنه تر را تېر سې».

الله اکبر! وګورئ چي کهانت هم صدیق اکبر نه وو کړی او دغه ګټه هم د هغه نه وه، بلکي دا ټول کار د هغه د مریي وو، خو د هغه تقوا او احتیاط تر دې کچي وو چي داسي څه یې چي شبهه پکښېکي وه هم په ګېډه کي نه پرېښوول. دا یو مثال وو چي موږ ستاسو د ایماني پیاوړتیا د راویښولو او اند پارولو لپاره راوړ. د نورو ټولوصحابه وو، اهل بیتو او رشتیانیو مسلمانانو تقوا

هم دغسي وه. د دوی د تقوا او سپېڅلتيا په هکله پخپله قرآن کريم شهادت ورکړی دی.

د رسول مقبولﷺ ارشاد دی: «أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا وَإِنَّ اللَّهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ. فَقَالَ: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرُّسُلُ كُلُواْ مِنَ ٱلطَّيِّبَـٰتِ وَٱعْمَلُواْ صَـٰلِحًا ۖ إِنِّى بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ ﴿٥١﴾﴾ [المؤمنون: ٥١] وَقَالَ: ﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُلُواْ مِن طَيِّبَـٰتِ مَا رَزَقْنَـٰكُمْ﴾ [البقرة: ١٧٢] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟» (مسلم، کتاب الزکاة، باب قبول الصدقة **١٠١٥** حديث).

ژباړه: ای خلکو! لوی څښتن پاك دی بېله پاکۍ (حلالو) بل څه نه قبلوي. او لوی څښتن مومنانو ته په هغو امر کړی دی چي پېغمبرانو ته يې کړی دی. او ويې فرمايل: ای پېغمبرانو! پاك (حلال) شيان وخورئ او نېك عمل ترسره کړئ. تاسي چي هر څه کوئ زه ښه په پوهېږم. او ويې ويل: ای مومنانو که تاسي په رشتيا د لوی څښتن بنده ګي کوونکي ياست نو کوم پاك شيان چي موږ درکړي دي هغه وخورئ. بيا رسولﷺ هغه څوك ياد کړ چي ډېر اوږد مزل يې کړی وي او د سفر د کړاوونو له امله يې سر ببر او په دوړو ککړ وي او د دعا لاسونه د آسمان پر لوري پورته کړي او لويه خدايه! لويه خدايه! وايي. په داسي حال کي چي خورا ك او چيښاك يې حرام، کالي يې حرام او پوست او وينه يې له حرامو څخه وي، نو د داسي چا دعا به څنګه قبوله سي؟

دغه راز فرمايي: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنْ الْحَرَامِ» (بخاري، کتاب البيوع، باب من لم يبال، **٢٠٥٩** حديث).

ژباړه: داسي وخت به پر خلکو راسي چي سړی به پروا نه کوي چي څه شي يې اخيستي او خوړلي دي. آيا حلال يې اخيستي او خوړلي دي که حرام. يعني د حرامو او حلالو په منځ کي به توپير نه کوي او څه چي يې په مخه ورځي خوري به يې. دغه راز د رسولﷺ حديث دی: «الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهَا كَثِيرٌ مِنْ النَّاسِ فَمَنْ اتَّقَى الْمُشَبَّهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ

وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وقعَ في الحَرامِ كَرَاعٍ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى أَلَا إِنَّ حِمَى اللَّهِ فِي أَرْضِهِ مَحَارِمُهُ أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الجَسَدُ كُلُّهُ وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ» (متفق عليه، مشكوٰة، كتاب البيوع، باب الكسب، ۲۷۶۲ حديث).

ژباړه: حلال او حرام دواړه څرګند دي. خو د دې دواړو په منځ کې داسې شيان دي چې يو بل ته ورته دي او د حلال بللو او حرام بللو په هکله يې اشتباه کيږي. دغه شيان ډېر وګړي نه پېژني. نو چا چې له دغسې شبه ناکو شيانو څخه ډډه او پرهېز وکړ خپل دين او عزت يې وساتی او ويې ژغوری. او څوك چې په شبهاتو اخته سو، هغه په حرامو کې ولوېدی، د هغه مثال د هغه چوپان دی چې د ممنوعه (قورغ) څړځای پر شاوخوا څاروي پيايي او نږدې وي او احتمال ولري چې دغه قورغ څړځای ته ورننوزي. پوه سئ چې هر پاچا ته قورغ څړځای وي او د خدای قورغ څړځای په مځکه کې د هغه محارم دي.

پوه سئ چې په بدن کې د غوښې يوه ټوټه ده. کله چې دغه ټوټه په معاصيو، شهوتونو او شبهو کې له لوېدو څخه سپېڅلې سي او سلامته پاته سي ټول بدن به ورسره روغ او سپېڅلی سي. او که دغه ټوټه فاسده سي ټول بدن به ورسره فاسد سي.پوه سئ چې دغه ټوټه زړه دی.

په دې اړه کتابونه وايي چې د مشتبه شيانو او چارو څخه د ځان ساتني نوم تورع دی او دا تورع (پرهېز، احتراز او ډډه کول) انسان پر صحيح طريقه روزي. د رسول ﷺ صحيح حديث دي: «لَا يَبْلُغُ الْعَبْدُ أَنْ يَكُونَ مِنْ الْمُتَّقِينَ حَتَّى يَدَعَ مَا لَا بَأْسَ بِهِ حَذَرًا لِمَا بِهِ الْبَأْسُ». (ترمذي، کتاب صفة القيامة، ۲۴۵۱ حديث، ابن ماجه، کتاب الزهد، باب الورع والتقوی، ۴۲۱۵ حديث). يعني: يو بنده تر هغو پرهېزګاره کېدلای نه سي څو هغه شيان چې پروا ونه لري، له دې بيري چې پروا به ولري، پرې نه ږدي.

دغه راز په يوه صحيح حديث کې راغلي دي چې حضرت حسن بن علي رضي الله عنهما وايي: «حَفِظْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْ مَا يَرِيبُكَ إِلَى مَا لَا يَرِيبُكَ» (مسند احمد۱/ ۲۰۰ مخ، ترمذي، کتاب صفة القيامة، ۲۵۱۸ حديث،

نسائي كتاب الاشربه، باب الحث على ترك الشبهات، ۵۷۱۱ حديث). يعني: ما له رسولﷺ څخه دا خبره په ياد كړې ده چي كوم شی چي تا به شك کي اچوي هغه پرېږده او هغه څه غوره كړه چي په شك كي دي نه اچوي.

بل حديث دی: قال رسول اللهﷺ «إِنَّهُ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ النَّارُ أَوْلَى بِهِ» (مشكوٰة، کتاب البيوع، ۲۷۷۲ حديث).

ژباړه: رسولﷺ ويلي دي: هغه غوښي چي له حرامو خوړو څخه يې وده كړې وي جنت ته نه ننوزي. او هري غوښي چي په حرامو وده كړې وي اور يې وړ دی.

د رسولﷺ له احاديثو څخه مو پورته څو حديثونه له دې امله نقل كړل چي پوهانو ته صرف يوه اشاره غوندي سي.

اوس دي نو هغه خلك چي پر حلاله او حرامه يې نه دي، بلكي ان د كفارو په ملګرتيا او پلوي خپل مسلمان وروڼه وژني، دوی ورته ګوري او امريكايانو او اروپايانو غونـدي زبرځـواك سره كفار په مدرنو او پر مختللو كمپيوټري الوتكو او وسلو مسلمانان بمباردوي، بې ګناه ښځي، ماشومان او بوډاګان په ډله ييزه توګه كشتاروي او غوښي يې پاش پاش كوي، كورونه او كښتونه يې ور وجاړوي، په سپينو پښتنو ښځو او كورونو كي تلاښی كوي او يا دوی پخپله غلاوي كوي، د خپلو افغانانو ماشومان او عزيزان تښتوي، د مسلمانانو مالونه او حقوق خوري او تلفوي، سود او حرام خوري، جعلي شيان له بهره راوړي يا يې خپله جوړوي يا د نورو سره د دغسي شيانو په را ايستلو او خرڅولو كي كومك كوي، د مسلمانانو د غوښو او وينو په بيه له بهره را غلي پيسي په خپلو جيبو چيخي، اختلاس او بډو ته يې ملاوي تړلي دي، يا د خپل ولس او خلكو سره د پردو كافرو او بې دينو غليمانو په پلوي او ګټه ټګي، خيانت او غداري كوي پخپله دي فكر وكړي چي دوی څه كوي آيا خپل قبرونه خپلو ځانو ته د جنت بڼونه جوړوي كه د دوږخ كندي؟

# شراب د انسانیت ډېر بد دښمن (شر آب)

څنګه چي په شرابو کي زښت زيات اخلاقي، بدني او ټولنيز ضررونه سته نو د هغو چيښل د اسلامي شريعت له نظره په ډېر مغلظ حرمت حرام، له ډېرو خبيثو کبايرو او شديدو جرايمو څخه بلل سوي دي.

قال الله تعالی: ﴿۞يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ﴾ [البقرة: ۲۱۹].

ژباره: «پوښتنه کوي له تا څخه (ای محمده) چي دشرابو او قمار څه حکم دی؟ ورته ووايه په دواړو کي لويه ګناه ده. او د خلکو لپاره څه ګټې هم پکښې سته، خو ګناه يې تر ګټې ډېره زياته ده».

بايد تر ټولو دمخه يادونه وکړو چي په دغه مبارك آيت کي له ګټې څخه مراد د وجود روغتيا او ګټه نه ده، بلکي د هغو له چيښلو څخه ظاهري خوند مراد دی. يا هغه مادي ګټې ځني مراد دي چي د شرابو د تجارت له لاري يې په لاس راوړي.

شراب يو نشه راوړونکې مايع ماده ده چي د ډول ډول اجزاوو له پلوه بېل بېل ډولونه لري، لکه چي په ځينو کتابونو کي يې د شرابو د مختلفو اقسامو شمېر تر شپږو سوو پوري ليکلی دی.

د جوړښت له لحاظه د شرابو عمده ډولونه درې دي:

1- «بير» چي ستر جز يې اُربشي او نور دي.

2- «واين» چي انګور او داسي نور يې ستر جُزوي.

3- «سپرت» دا د پورتنيو دوو ډولونو څخه را باسي يا يې مقطر کوي چي د الکحلو د ډېرښت له امله تېز وي.

اصلي خبره داده چي شراب ډېر ناولي چيښناك دی. ځينو پوهانو شرابو ته په «شرآب» ويلي دي. رشتيا چي دا يې ډېر ښه نوم ورته ايښی دی. شرابي نه د

دين کېداى سي نه د دنيا. شرابي نه دين دوسته وي او نه وطندوسته، بلکي يوازي او يوازي شراب دوسته وي. نه غيرت پکښي پاته وي نه حيا.

د شرابو عملي کېدل د دې او هغې دنيا خواري ده او روغتيا ته تر زهرو کم نه دي. اينه، ګېډه، سږي، کولمې او دماغ ټول خرابوي او د عقل ځواک ته ډېره بده صدمه رسوي. دغه راز د ستر ګو ليد لږوي، د پښو رپږدېده رامنځته کوي، نبض مختلوي او کله يې تر دې اندازې رسوي چي خبره تر مرګه ورسيږي.

د شرابو دعملي په معده کي يو ډول سوَئْ پيداسي. د اينې پاړسوب، ژړى، هېره، د سر ګرځېده او درد، ابليج، لېونتوب، ماليخوليا او نوري دماغي او عصبي ناروغۍ هم ورته پيداکيږي. پوهو ډاکټرانو پتېيلې ده چي د شرابو اغېزې يوازي پر شرابي نه لوېږي، بلکي د هغه اولاد ته هم سرايت کوي. د شرابي مور او پلار اولاد کمزورى، او بې زړه وي او کېداى سي چي د اعصابو په ضعف او نورو ډول ډول ناروغيو هم اخته سي.

د نؤة د روغتيا نامتو ماهرپروفيسر هرش HIRSCH پرديګ موضوع باندي په خپل ليکلي کتاب کي وايي: «متمدني امريکا پنحګلس کا له پرله پسيګ هلي حګلي وکؤيګ چي پرشرابو باندي بنديز پلى کؤي، اما پلى ييګ نه کؤلاى سو، خو اسلام خګوارلس پيګؤة دمخه په بريااليتوب سره پرشرابو بنديزعملي کؤ او تر اوسه ييګ پلى کؤى دى».

په قرآن کريم کي پرشرابو باندي بنديز په درو سورتونو کي راغلى دى؛ د البقريګ په همدغه پورتني آيت کي؛ د نساء دسوريګ په (13) آيت کي او دالمائده دسوريګ په (90) او (91) آيتونوکي.

اوس به د شرابو د کيمياوي اجزاوو په اؤه لإ خګه معلومات وؤاندي کؤو، بيا به پرروغتيا باندي دشرابو د نورو زياتو زهرجنو اغيګزو په هکله بشپؤه رنګا واچوو:

د کيميا پوهني (CHEMISTRY) له مخي مولإ ته دامعلومه ده چي الکحل (شراب) د ويلي کولو يا حلولو لپاره يو حګواکمن محلول دى. په تيره بيا دغوؤزکګة لپاره. خو په غذايي اصطلاحاتو کي دا حلوونکي نه، بلکي تګوکر تګوکر کوونکى شى دى. له ديګ امله شراب دانساني جسم لپاره يو نقصان

رسوونکيګ کيمياوي ماده ده، چې دانسان اينه سمدستي تګوکر تګوکر کوي. او لکه خګنګګه چې زياتره د هغو حګيني شوقيان ادعا کوي، هغه هيخګ کوم غذايي ارزښګت نه لري. خو کله چې شراب د جسم دننه ته رسيږي، نو د نورو هرأول خوؤو برعکس د بدن جُز ګګرحګي يا هضميږي (METABOLIZD) کيږي. چې يوازي دغه ظاهري ګګتګه ييګ په آيت کريمه کي ويل سويګ ده.

## (الف) د هضم پر نظام باندي د شرابو اغېزه:

لکه چې پوهيإوغاشګونه، خوله، ستونی، سره غاؤه او کرنکه أيګر مشکل کار تر سره کوي او پر هغو باندي أيګر حساس استر
(MUCOUSMEMBRANCE)
غوؤيګدلی دی. دشرابو خوؤلو له امله پردغه حساس استر باندي أيګره بده اغيګزه پريګوزي او دسوي (سوزش) باعث ګګرحګي. چې په پايله کي د بدن په دغو غؤو کي دضعف رامنحګته کيګدل پيليإي او پای په سرطان بدليإي. له ديګ امله دی چې کومي اداريګ چې دسرطان له ناروغة سره په مبارزه بوختي دي له 1980ع. کال خګخه را په ديګخوا دشرابو پرضد اوإدمهالي او سنجول سوي اقدامات کوي.

دا هم تګولو ته معلومه ده چې دشرابو له امله دمعديګ أيګري خطرناکي ناروغة لکه GASTRITIS) پيداکيإي. دا حګکه چې دشرابو له خوؤلو خګخه په وينو کي موجود لائيپأ (LIPID) کوم چې يو خاص أول غوؤزکګي ده، ويليإي. دغه لائيپأ يوأول ساتونکی استرمهيا کوي چې تيزابيت يعني هائيأروکلورك اسيأ بيا پرمعده باندي نقصان رسوونکيګ اغيګزه نه شګندي. که خګه هم همدا اوس په بشپؤه توکګه نه ده ثابته سويګ چې شراب لکه چې دستوني اوسريګ غاؤي دسرطان باعث ګګرحګي، همدغسي دمعديګ دسرطان باعث هم ګګرحګګي که حګنګګه؟ خو ورحګ په ورحګ دا اند پياوؤی کيإي چې دمعديګ په سرطان کي هم شراب اغيګز لري.

شراب أيګره بده اغيګزه پر اثنی عشري يا دوولس ګګوتي کولمو (DUODENUM) باندي کوي. دغه حګای د أيګرو نازکوکيمياوي اثراتو د

واقع کيگدومنونکی دی. شراب د دغه حگای هغه خاصيت اغيگزمن کوي چي د حگانکگؤو هضم کوونکو لعابو د خارجولو په صلاحيت پوري اؤه لري او د هغه پر کيمياوي حساسيت اغيگزه شگندي. شراب د هاضميگ د دغي أيگري مهمي لاري تر خرابولو وروسته له اينيگ خگخه د رامنحگته کيگدونکي هاضم لعاب (BILE) پر راوتلو هم اغيگزه اچوي.

دغه راز دشرابيانو د دوولس کگوتي کولميگ او تريخي پوست تل ناروغه وي يا زياتره سم کار نه کوي. چي دغه حالت هر شرابي دمعديگ د کگيس (باد) او بد هضمۍ په بوخله اخته کوي. دمعديگ دغه تکاليف پر نورو کولمو هم اغيگزه کوي، لکه چي د هضم د نظام کوم چي کمپيوتگر غوندي کار کوي، شگه ترتيب او يو له بله مرسته هم کگأوأوي. يو روغ انساني جسم هر هغه شی هضم کوي چي اؤتيا ورته لري. چي دا د هضم نظام ته د حگانکگؤولا رشگوونو په ورکولو سره ترسره کيږي. خو تر أيگره حده او په مستقله توکگه دشرابخورو په اؤه دغه کنتگرول له منحگه حگي او د هضمولو عمل بيگله کوم کنتگرول او خگه توپيره روان وي. چي بده پايله ييگ د أيگر چاغشگت په بنگه خگرکگنديږي. دا له ديگ امله چي دغه أيگر هضمول ترديگ زيات بل خگه نه سي کولای، بيگله ديگ چي د جسم د وؤو حجرومنحگ (INTERSTICES) دغوؤزکگيو ذخيره کول پيل کؤي. په حقيقت کي دغوؤزکگيو دغه أيگره اندازه د زړه په اعصابو پوري نشگلي او په ديگ أول زؤه په أول أول خطرناکو ناروغيو اخته کيږي.

دشرابو أيگره بده اغيگزه پر اينه لويږي. دانسان اينه هغه حساس لابراتواردی چي دشرابو هره يوه کوچنه ذره د زهرو غوندي محسوسوي. پراينه باندي دشرابو اغيگزه دوه أوله وي:

۱- دشرابو خوؤلو په صورت کي د جسم وؤيگ حجريگ دالکحلو د ختمولو په چاره په بشپؤه توکگه لکگيا کيږي، چي په ديگ توکگه هغه خپل نور کارونه پريگږدي.

۲- د اينيگ کيمياوي عمل چي يو په بل پسيگ پرمخ حگي، حساسيږي، چي د شرابو د بيگ کنتگروله اغيگزيگ له امله وران وجاؤ سي. د ديگ

پایله داسي چي اینه یو کار په پلاوو پلاوو تکراروي او له دیگ أول زیات، پرله پسیگ او بیگ اؤتیا محنت او مشقت خگخه اینه کمزوریگ سي.

دغه اثرات اینه د خطرناکو پایلو سره مخامخ کوي. په دغو اثراتو کي أیگر مشهوره بیگ داینیگ سره نشگلیگده اوتنکگیگده دي. چي دا د دیگ ژوندی ثبوت دی چي داینې وراني او خرابي بشپؤه سویگ ده. له أیگرو خطرناکو ممکناتو خگخه دا هم کیگدای سي چي دشرابو خوؤل یو په بل پسیگ داینیگ تگول افعال وجاؤ کؤي.

له دیگ افعالو خگخه یو دادی چي اینه هغه اجزا پیداکوي چي له هغو خگخه د وینو عملیه رامنحگته کیإي. نو خگنکگه چي دشرابو له خوؤلو خگخه اینه دغه اجزا نه سي پیداکولای اویاییگ په تولید کي أیگره لإتیا راحگي، له دیگ امله تگول عملي شرابیان د جسم دننه کمزوري وي. که خگه هم د دوي خگیگریگ د وینو د رکگونو دغتگیگدو یا پراخیگدو له امله حگواکمني ایسي. خو د دوي د هأوکو مغز پوچ سوی وي. یعني په حقیقت کي د وینو د تولید عمل بیگخي ختم سوی وی یا خو أیگر کم سوی وی. پردیگ سربیره داینیگ هغه حگواکمنتیا چي له هغیگ خگخه د جسماني ساتني غؤي لکه أول أول کگلوبین په تیره امینو کگلوبین په شرابیانو کي تر خطرناکه بریده کمیإي. چي پایله بیگ داسي چي په دغو وکگؤو کي د ناروغیو په وؤاندي دمدافعیگ حگواك لإسي.

شراب کله کله داینې د فعل د نابره دریگدو لامل هم کیإي. په دیگ صورت کي شرابي د بیگسد تیا په حال کي مري. د اینیگ په اؤه یوه بیگلکگه هم داسي نه ده لیدل سویگ چي پر هغیگ دي دشرابو د تاواني اغیگزو ثبوت په لاس رانه سي. البته په دیگ هکله خبري أیگري جدي دي، خو زه بیگ تردیگ زیاتي نه سم خگرکگندولای.

### (ب) دویني د دوران پرنظام باندي د شرابو اغېزه:

د وینې پـردوران بانـدې دشـرابو اغیـګـزه دوه أولـه وي. یـو پراینـه بانـدي د اغیګزي په ذریعه بالواسطه وي. بل د زړه پـر تنسـته بانـدي د بیګلـه واسـطیګ اغیګزي په ذریعه په اینه کي (کومه چي په وینو کي دغوږزکګیو پـه ویلي کولـو کي ترتګولو أیګر مهم عمل ترسره کوي)، ضعف او خرابي پیدا کوي. چي پـه پایله کي ییګ د وینو لیګاډوونکي وؤیګ عصبي رشتیګ سختیاړي او د ویني د فشار تکلیف حګني پیدا کیاړي. له بله پلوه دشرابو د تیزه له امله د سوحګني لـه عمل خګخه د وینو د بهیګدو په مخصوصـه لار کـي ناسـمتیا راحګـي، چـي د هغیګ له امله د زړه دربی رامنحګته کیاړي. پردیګ سربیره د شرابو لـه املـه پـه زړه کي دغوږزکګیو ذریګ تګولیاړي او پـه دیـګ أول پرعصـبي نظـام بانـدي د بدي اغیګزیګ په ذریعه د زړه په کار کولـو کـي کګأوأي پیـدا کیـاړي. دا جوتـه سویګ ده چي عملي شرابي بالاخریا د اینیګ په فعالیت کي د کګأوأة له امله یا د زړه د دریګدو له امله خپل ژوند لـه لاسـه ورکـوي. یـو سـؤی چـي د زړه پـه تکلیف اخته وي هغه ته دشرابو دیوه خګاخګکي خوؤل د دیګ معنا لري چي د خپل ژوند یا خپل حګان د کوم غؤي د خرابیګدو خګه پروانه لري.

د شرابو حګیني عملیان په دیګ اند دي چي پـه لإ او مناسـبه انـدازه شـراب چیشګل د زړه تشنج یا درد اراموي. چي دا پـه وار د واره کـي دشـرابو کګتګـه بلل کیاړي، خو دا خبره له ساینسي او طبي نظره کوم اصل نه لري.

د شرابو له استعمال خګخه دانسان پشګتورکګو ته کوم چي د ویني د دوران وروسـتی حګـای بالـه سـي، هـم أیګـر سـتر تـاوان رسـیاړي. دا حګکـه چـي پشګتورکګي د أیګر حساس کیمیاوي جوهر (VALENCE) دیو حګای کیګدو پـه حګـای کـي د چـانګوونکو کـارورکوي. خـو شـراب دغـه نـازك عمـل هـم کګأوأوي. دایو منلی حقیقت دی چي هغه شراب چي د الکحلو اندازه ییګ لإ وي، پشګتورکګو ته لازیات تاوان رسوي. لکه چي د هغو وکګؤو پشګتورکګي چي زیات بیر (BEER) خوري زیاتره خراب وي.

د (LYMPHATIC) یعني د جسم د هغو وؤو وؤو رکګونونظـام چـي بیـګ رنکګه خوَلیګ حګني وزي په انساني جسم کي زشګت زیات ارزشګت لري. د دغه نظام د ویني رکګونو تـه دشـرابو لـه لاسـه نـه رغیـګـدونکی تـاوان رسـاړي.

حگکه چي غوؤزکگي لرونکی وده ورکوونکی مرکب (لائیپأ) په دغه نظام کي أیگر ستر حگای لري، خو دشرابو تاوان رسوونکی اغیگز دغه حیرانوونکی ساتندوی نظام کگرد سره پوپنا کوي.

که لوی خگشگتن ﷻ لکه چي دقرآن کریم په بیگلو بیگلو آیتونو کي ییگ ویلي دي د خپلو پیگرزوینو له مخي له نورو لارو دانساني ژوندانه ساتنه نه کولای، نومواٖ به په أیگره خگرکگند تیاسره لیدلای چي شراب خگونه ضررناکه دي.

## (ج) پرعصبي نظام باندي د شرابو اغېزه:

شراب دعصبي رشتو په هغونریو پردوننوزي، کومي چي د وده ورکوونکو غوؤزکگیو غوندي مرکب یعني لائیپأ په حفاظت کي وي. چي په دیگ توکگه د دغه نظام په بریگشگنایي رابطو (ELECTRICAL COMMUNICATION) کي خلل اچوي. دغه خراب اغیگز په دوو بیگلو بیگلو ذریعو خگرکگندیاٖي. د هغه لومؤی اغیگز د نشیگ د نابېره حملیگ په توکگه وي. خو د هغه أیگر پایشگتی اغیگز أیگر خطرناکه وي. شراب ورحگ په ورحگ عصبي نظام ته داسي تاوان رسوي، چي خگو أوله ناروغة حگني پیدا کیاٖي. که خگه هم په پیل کي دشرابو اغیگزه معمولي یا نا خگرکگنده وي، خو بیا هم د هغو پایشگتي خرابي اغیگزیگ له هماغه پیله خگخه رامنحگته کیاٖي. نو د هغوکسانو دا خبري چي وایي: «ما شراب نه نشه کوي، حگکه نو بده اغیگزه هم نه رابانـدي کوي». خوشي دماشومانو خبري او حگان غولول دي.

د شرابو بدي اغیگزیگ په حگواني کي په تیگره په کوچني والي کي بیگخي زیاتي وي. په عامه توکگه تگاکلي ناروغة لکه پرتي ویل، له وهم او بیري خگخه ریگاٖدیگده، (PLYNEURTIS) او د (KORSAKOF SYNDROME) مجموعي علایم دشرابو داغیگزو له امله وي. دشرابو ستر اغیگز دعصبي نظام پرمراکزو باندي تر دیگ کچي رسیاٖي چي درملنه ییگ ناشونیگ سي. د نومونو او الفاظو هیگریگدل (AMNESIA) او دلاسونو ریگاٖدیگدل د دغي عصبي ناروغه نخشگي دي

خګنګګه چي شراب غوؤزګګي ويلي کوي، نو په جسم کي په جوؤوونکو حجرو ننوزي او أيګر بد نقصان ور رسوي. د ديګ عام فهمه مثالونه د نوي توکم د ذهانت په لإ والی او ناقصه وده کي په ګګوته کيإي. أيګرو ژورو خګيګؤنو او سروي ګګانو دا حقيقت په أاکګه کؤی دی چي د ماشومانو د ذهن کوتګه والی له ديګ امله وو چي مور اوپلارييګ أيګراو د زياتي فيصده لرونکي شراب خوؤل. دا هم جوته سويګ ده چي شراب دشګحګي تخم (OVUM) او د حيات د تخم حجري ګ (EGG CELL) ته أيګر زيات تاوان رسوي. چي د ديګ په پايله کي دشرابي ميندو ماشومان زياتره په موروثي توکګه د دماغي يا قلبي صدمو شګکار کيإي. البته دشرابي پلار له لوري دغسي پيګشګي په سل کي تر درو اوؤي.

## (د) پرتولنيزو روحياتو باندي د شرابو اغېزه:

په پلاوو پلاوو جوته سويګ ده چي شراب د تګولني او تګولنيزو اؤيکو پر تګينکګشګت باندي أيګره ناوؤه اغيګزه کوي. موإ د دغو اغيګزو د خګو بيګلکګو يادونه کوو:

١- شرابيان د دوی د أيګري ژر او سملاسي غوسيګ له امله، دوی په تګولنه کي په بيګ شميګرو شخؤو او جنګګ جکګؤو اخته کوي.

٢- د طلاق بيګ شميګري پيګشګي د تګولني بنستګونه کمزوري کوي، چي په پايله کي ييګ دمجرمانه اندونو او ذ هنيتونو درلودونکوماشومانو د أيګريګدلو له امله، تګول ولس په أيګره خطرناکه توکګه متاثر کيإي. د طلاقونو پرله پسيګ زياتوب د شراب خوره له امله وي.

٣- د أول أول هنرونو او کارونو پر هنرمندانو، کارکګرانو او مزدورانو باندي د شراب خوؤلو له امله تل تګنبلی او کهالی زورکؤی وي، چي د دوی پر کار او مهارت او د دوی د کار د محصولاتو پرکيفيت باندي أيګره بده اغيګزه شګندي. خګر کګنده ده چي نهايتاً ييګ تاوان تګولني ته رسيإي.

٤- د شرابو له امله په انسانانوکي يو پربل پيگرزوينه او زؤه سوی له منحگه حگي چي پايله ييگ دا کيإي چي د ولسي او تگولنيز يووالي اند او تفکراو د تگولني د کگتگو پرضد توکوسره د جهاد او جکگؤيگ ولوله په بشپؤه توکگه ختميإي او له منحگه حگي.

پورته خگلور أوله ربؤو لويگديز تگولنپوهان دونه أيگر په فکر کي اچولي دي چي د خپلو حکومتونو پام ييگ په وارو وارو هغو ته اؤولی دی او خگرکگنده کؤيگ ييگ ده چي که دشرابو خوؤل همدغسي پرمخ ولاؤ سي په دغو هيوادونوکي به دملتپالني ولوليگ کگردسره له منحگه ولاؤي سي.

قرآن حکيم هغه مهال د ديگ ربؤي نوغه وايست، چي په هيخگ يوه تگولنه او هيخگ يوه پوه او فيلسوف کي دا همت نه وو. اوس هم دشراب خوره ربؤه دغير اسلامي تگولنو بنستگونه له بيگخه سستوي، خو د لوی خگشگتن په حکم او پيگرزوينه زموإ معاشره له ديگ بوخلي خگخه خوندي پاته ده. نو لوی خگشگتنﷻ لره دي حمد وي.

# بنګي، چرس، ترياک، هېروئين او داسي نور

دلته به لومړی د دغو توکو د څرګندېدو او د هغـو د روغتيـايي ضـررونو پـه هکله څرګندوني وکړو او ورپسې به د هغـو پـه هکلـه شـرعي او فقهـي احکـام بيان کړو:

## بنګي او چرس:

بنګي او چرس په ډول ډول نومونو يادوي. شاهدانه د بنګو يا چرسـو بـوټي ته وايي. شهدانج د همدغه شاهدانې معرب (عربي سوې) بڼه ده. بـنج هـم د بنګـو معـرب دی. قنب د کنب معـرب دی چي کنـف هـم ورتـه وايـي. دا د همدغي شاهدانې تخم (بنګو) يا پاڼو تـه وايـي. د ردالمحتـار پـه ۵/ ۴۰۴ مـخ کي ليکي چي بنج (بنګي) د هغه نبات نوم دی چي پـه عربـي شـيکران ور تـه وايي. خو ښايي دا تېروتنه وي، ځکه شيکران يا شوکران يو بېل نبات دی، خو په هغه کي هم شديده سمي ماده سته. وګـورئ فرهنـګ عميـد او د لغـاتو نـور کتابونه. په هرصورت د بنګو د بوټي د ګـل لرونکـو ښـاخونو لـه سـرونو څخـه بنګي او د چرسو پاڼي اخلي. د حشيش کلمـه هـم د دغـه بـوټي د ګـل لرونکـو ښاخلو پر سـرونو او لـه هغـو څخـه پـه لاس راوړل سـووپاڼو (چرسـو) بانـدي اطلاقيږي. حشيش په انګريزي کي هم hashish ليکي، خو په دغـه ژبـه چرسـو ته hemp وايي.

## د چرسو تاريخ:

کلـه چي پـه مسـلمانانو کـي ډول ډول بـدۍ او نـارواوي رامنځتـه سـوې او خلك په زيـاتو ګنهونـو اختـه سـول نـو لـوی څښتنﷻ پـر هغـو بانـدي داسـي دښمنان را پيدا کړل لکه چنګېزيان او دغه منحوس بوټی. لومړی دغه بوټی پـه منځني ختيځ کي څرګند سوی دی. شيخ عبدالحق محدث دهلويؒ د اشـعة اللمعات په ۳/ ۲۹۸ مخ کي وايي چي: «د ۵۵۰ سپوږميز کال په شـاوخوا کـي

کله چي حيدر نومی يو سړی له خپلو ملګرو څخه و تښتېد، په يوه بېديا کي يې وليدل چي د يوه بوټي بلګونه ببله باده ښورېدل. په زړه کي يې وويل چي په دغه بوټي کي يو سِر سته. نو يې څو بلګونه له هغه څخه وشکول، کله چي يې وخوړل نشه يې کړ. بيا يې خپلو ملګرو ته هم ور کړل. ځيني بيا وايي چي دغه بوټی لومړی د احمد سارحي قلندري په نامه يوه سړي وموند». د شيخ عبدالحق په دغه ليکنه کي د دغه بوټي د ځای په هکله څرګندونه نه ده سوې. خو د دغي ليکني له وروستيو کرښو څخه اټکل کيږي چي ښايي دغه ځای به مصر وو. اوس دغه بوټی په منځني ختيځ، نيپال او نورو آسيايي هيوادونو او د لاتيني امريکا په هيوادونو کي ډېر کرل کيږي.

## بنګي:

بنګي لکه چي پوهيږو د چرسو د بوټي دانې دي کومي چي د سمي موادو د درلودو له امله مخدري او نشه کوونکي دي. دغه دانې د تنباکوغونډي د چلم پر سرخانه يا پيپ (Pipe) ږدي او څکوي يې. له دغو بنګو څخه يو ډول مايع مواد هم جوړوي چي «بنګاوه» يا «بنګاب» ورته وايي او د هغو په نشه روږد خلك يې چيښي. د بنګو له يو ډول موادو څخه په طبابت کي هم کار اخلي. بنګي وچي، خنکي او قابضي دي. اشتها خلاصوي، ژر هضميږي. د احتلام ځواک له منځه وړي. خوړل يې روغتيا ته ډېر ضرر رسوي. په تېره پر مغزو ډېر بد اغيز ښندي. د بنګو خوړل د سترګو ځواک هم کمزوری کوي.

## چرس او روغتيايي ضررونه يې:

څنګه چي چرس او داسي نور نشه يي توکي يو ډول زهري مواد لري نو د انسان روغتيا ته پر ضرر رسولو سر بېره د انساني ټولنو سالميت ته هم کلك تهديد متوجه کوي. له بده مرغه زموږ هيواد نن مهال د دې خطرناکو توکو د توليد او استعمال ځای ګرځېدلی دی. له دې امله دی چي په چرسو او نورو زموږ ډېر وګړي ان زموږ ځيني ډاکټران او د امنيت ساتندويان لا اخته سوي دي.

په موږ كي دا خبره يو متل ګرځېدلې ده چې وايي: «چرسي زوی نه زوی». رشتيا هم د چرسو عملي ډېر ډارن او بې زړه وي. نشه يي نه د جنګ او جهاد په ميدان كي څه اتلولي ښوولا ی سي او نه د هيواد په لار كي تر ځان تېرېدلا ی سي.

د چرسو او نورو نشه يي توكو استعمال خوب او بې سدتياراوړي او زړه، دماغ، معده، ځګر او نور رئيسه غړي پوپنا كوي. د چرسو عملي تل له ښې اشتها څخه بې برخي وي. دماغي ځواک يې ګډوډ وي، څېره يې مړاوې او ژړه وي، ډنګر وي، سترګويې توري الغې وهلي وي او عقل يې كار نه وركوي. چرسي او نشه يي تل سست او تنبل وي، كار ته يې زړه نه كيږي او يوازي او سېدل يې ډېر خوښ وي.

## خشخاش، كوكنار، ترياک، هېروئين او نور:

د خشخاشو نباتاتي نوم ګلاشيم (Glaucium) دی. همدغه ګلاشيم هم د دغي كورني يو غړی دی. دغه بوټی د يوه متر په شاوخوا كي اوږده، نری ساقه او اوږده بلګونه لري. د خشخاشو ګلان سره او سپين وي. د دغه بوټي د ګلانوپه رژېدو سره د هغه د ساقې په سر كي يو ډول ګردی غوټی رامنځته كيږي چي دې ته كوكنار (ډوډی يا كوكړې) وايي. د كوكنارو په منځ كي ميده تخم ته خشخاش وايي.

د كوكنارو له پوست څخه په نيښ وهلو سره سپينه شيره راوزي. دغه شيره بيا په هوا كي نيمي وچي ژاولي غوندي سي او رنګ يې هم بور (نسواري) واوړي. چي دغو ته ترياك يا افيون يا افيم وايي. افيون د يوناني كلمې اپيون يا اپيوم څخه اخيستل سوی لفظ دی.

## د ترياكو تاريخ:

په انسايكلوپيډيا بريټانيكا كي وايي: د كوكنارو اصلي ځای هغه مځكه ده چي اوس په تركيه پوري اړه لري او يوناني طبيبانو په لومړۍ عيسوي پېړۍ كي د درملو په توګه ګټه ځني اخيستل. بيا دغه بوټی د بين النهرين او يونان څخه ورو ورو د ختيځ پر لور خپور سو. داسي ښكاري چي په لرغونو مهالونو كي

هنديانو او چينايانو دغه بوټی نه پېژندی. په لرغونو آسيايي ټولنو كي د ترياكو د كرلو دود او عادت هم د درملو په توګه د استعمالولو لپاره نه وو عام سوی.

چينايان د دغه توكي سره د اوومي زېږديزي پېړۍ په شاوخوا كي بلد سول. بيا د ترياكو څكول په اوولسمه پېړۍ كي لـه جـاوا څخـه چـين تـه ور وپېژنـدل سول او دغه دود هلته په خـورا چټكـۍ سـره خپـور سـو. ورپسـې خبـره تـر دې ورسېدل چي انګرېزانو د هند ترياك چين ته صادرول او دا د دوی دتجارت ستر توكی وو. په ۱۸۳۹ع.كال د چين حكومت ترياك منع كـړل او نـژدې شـل زره صندخه ترياك يې چي د انګرېزانو په تجارتخانو كي پراته وه ضبط كړل او له منځه يې يووړل. انګرېزانو د چين د كانتن ښار كلابند كړ او بيا يـې د چـين سره هغه جګړې ته ور ودانګل چي د تريـاكو پـه جګـړه ونومـول سـول. دغـه جنګ يـو كـال دوام وكـړ. پـه پايلـه كـي چينايـان سـولي تـه اړ سـول (۱۸۴۲د اګست ۲۹). د هانګ كانګ كوچنی ټاپو يـې انګرېزانـو تـه وركـړ او پنځـه نـور بندرونه يې هم د انګرېزانو د سوداګرۍ پر مخ پرانيستل. په دې ترڅ كي امريكا او فرانسې هم لـه چـين څخـه امتيازونـه تـر لاسـه كـړل او د كاتوليـك عېسـوي مذهب د مبلغينو له كار او تبليغ څخه د ملاتړ امتياز يې هم په رسمي توګـه پـه لاس راوړ.

په چيني ټولنه كي د ترياكو عمل د يوې ستونزي په توګه پاته سو څو چي په ۱۹۴۹ع.كال هلته كمونيستي اوښتون رامنځته سو او د دغه عمل جرړي يې له بېخه وايستې.

د ترياكو څكول لومړی په شمالي امريكـا كـي او بيـا پـه اروپـاكي هلـه پيـل سول چي د هندي تمبكو څكول په پايپ كي پيل سول. ځينو كسانو به ترياك د تمبكو سره ګډول او څكـول او ورو ورو دغـه ډول څكـول د تريـاكو د كـارولو غوره دود وګرځېد.

په لوېديځ كي د دردونو د آراموونكي درمل په توګه د ترياكو په پراخه پيمانه كارول په اتلسمه پېړۍ كي رامنځته سول. دغه مهال په ډېروpatent درملـو، پـه يو ډول ټينچرو (له ترياكو او الكولو څخه په جوړو سوو ټينچـرو) او پـه ځينـو

نورو مسکنو درملو کي ترياك ستر توکی وو. دغه درمل بېخي په آزاده توګه کارول کېدل او په دې هکله څه قانوني او روغتيايي بنديز نه وو.

وروسته چي د ترياکو کر په هند، ترکيه او چين کي زيات سو او کله کله نورو هيوادونو ته هم لېږدول کېدل له ترياکو څخه د هېروئينو جوړول رامنځته سول او په سر ترسره نړۍ کي يې په مليونونو وګړي په استعمال روږد سول.

خو څنګه چي وروسته د دې مادې سخت وژونکي ضررونه په ډاګه سول. نو د شلمي پېړۍ په دوهمه نيمايي کي د نړۍ په ډېرو هيوادونو کي د هغو استعمال او کار وبار منع سو. خو د دې سره سره اوس هم ترياك او هېروئين په ډېرو هيوادونو لکه برما، افغانستان، لاووس، پاکستان او نورو کي توليدېږي او د مخدروموادو د مافيايي بانډونو لخوا کوم چي زيات غړي يې امريکايان او اروپايان دي په خورا پراخه پيمانه نورو هيوادونو ته صادرېږي. د دغو مخدرو موادو د غير قانوني کاروبار پيسې د ځينو اروپايي هيوادونو په بانکونو او نورو کي لاندي باندي کيږي.

د اړوندوسر چينو او خبري رسنيو له خولې ويل سوي دي چي په ۲۰۰۶ع. کال يوازي له افغانستان څخه د درو مليارډو ډالروپه ارزښت مخدر مواد اروپاته صادر سوي دي چي اويا فيصده ګټه يې لويو اروپايي کار وباريانو او دېرش فيصده يې د افغانستان بزګرو او نورو ته رسېدلې ده.

## د ترياکو روغتيايي ضررونه:

لکه چي وويل سول ترياك څو پېړۍ د دردونو اصلي آراموونکي ګڼل کېدل او په درملو ګډېدل. اوس هم د خشخاشو، کوکنارو او ترياکو څخه د درملو په توګه او په درمل جوړولو کي کار اخلي.

د خشخاشو د پوستکی خورک خوب راوړي، دردونه تسکينوي او قبض پيدا کوي. خوترياك چي خلك يې د نشې په ډول استعمالوي د انسان روغتيا ته ډېر مضر توکي دي. بدن ډنګروي، اشتها بندوي. ترياک د دماغ او رئيسه اعضاوو (د بدن د بنسټيزوغړو لکه زړه، دماغ، اينې اونورو) اوعصبي نظام (نروس سيستم، Nervous System) لوی دښمنان دي. د انزال د ځنډېدو سره

مرسته کوي، خو وروسته انسان کمزوری کوي. که څوک ترياک، يا شراب يا بنګي يو څو موده وخوري، د بدن حجرات يې مړه کيږي او بدن يې لکه د وني تشه تنه غوندي کيږي. څنګه چي ترياک خوب ډېروي له دې امله ځيني ميندي د دې لپاره چي د ماشوم له ژړا څخه فارغي سي يا خپل کار په بيغمۍ سره وکړي، نو کوچني ته لږ ترياک ورکړي، چي هغه آرام بيده سي. خو د دې څخه د کوچني زړه، معده، ځګر او دماغ ټول کمزوري کيږي او ماشوم په ناروغي اخته کيږي.

لکه چي پوهيږو د ترياکو له شيرې څخه کومه چي له تازه کوکنارو او د هغو له تازه خشخاشو څخه راوزي مورفين ) ج (morphine، هيروئين (Heroin)، کوډئين، (Codeine) پاپاورين (Papaverine) او نور استخراجوي.

## مورفين:

يو ډول مخدر او درد آراموونکي زهري مواد (د ترياکو جوهر، ترخه الکوئيډ) دي چي په درملو کي استعماليږي. مورفين د لومړي ځل لپاره د ۱۸۰۴ع.کال په شاوخوا کي د يوه جرمني درمل جوړوونکي F.W.A. Sertü rner لخوا له ترياکو څخه وايستل سول.

## هېروئين:

يو نشه لرونکي سفوف يا پوډر دي چي د مورفينو له مشتقاتو (ترياکو) څخه د کېمياوي عمليې په پايله کي په لاس راځي او ډېر خطرناك مواد باله سي. د دغو زهرجنو موادو استعمال د انسان پر بدن او مغزو داسي ناوړي اغېزي ښندي چي د ترياکو پر ناروغيو سربېره يې په نورو داسي ناروغيو اخته کوي چي د ډېر عمر ناروغ غوندي تل بې سده پروت وي يا ببخي لېونی ځني جوړ سي.

دغه وژونکي مواد د لومړي ځل لپاره په 1898ع.کال د جرمني د باير کمپنۍ لخوا له مورفينو څخه کشف سول. هيروئين په لومړيو وختونو کي د مخدرو او آراموونکو موادو په توګه استعماليدل.

## د پورتنیو توکو په هکله شرعي او فقهي احکام:

لومړی به وګورو چې په دې اړه قرآن کریم څه فرمايي. بیا به وګورو چې د رسول اللهﷺ له لارښوونو څخه څه استنباطیږي. بیا به د فقهي د ځینو (مختصرو) متونو او د هغو د شرحو او حاشیو خبري راوړو. او بیا به وګورو چې د فقهي نور کتابونه په تېره مطول کتابونه په دې هکله څه وايي:

## د قرآن کریم احکام:

دلته تر ټولو د مخه باید ووایو چې پر انسانانو باندي د حل او حرمت حق د لوی څښتنﷻ دی. خو هر څه چې لوی څښتن پر مسلمانانو حرام کړي دي، پر دوی باندي د قهر او هغو ته د جزا ورکولو لپاره نه دي، بلکي لوی څښتن پر خپلو بنده ګانو باندي د لوربیني او پېرزویني په خاطر هر هغه څه چې د دوی په ګټه، پاك او بې ضرره دي حلال کړي او هر هغه څه چې ضرري او ناپاکه دي هغه یې ورته حرام کړي دي. دلته ستاسي توجه لاندي آیتونو او د هغو ژباړو ته را اړوو:

لوی څښتن فرمايي:

﴿يَسۡـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمۡۖ قُلۡ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ﴾ [المائدة: ٤].

ژباړه: «خلك له تا څخه پوښتنه کوي چې هغو ته څه شي حلال کړسوي دي ورته ووایه چې تاسي ته پاك شیان حلال کړل سوي دي».

﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ﴾ [الأعراف: ١٥٧].

ژباړه: «هغه امي پیغمبر پاك شیان حلالوي او ناپاکه حراموي».

(د دې آیتونو په استناد پوهان وايي: هر هغه څه چې روغتیاته ګټه رسوي هغه پاك او طیب دي او هر هغه څه چې ضرر ورته رسوي شراب وي که چرس یا تریاك یا نوري نشه کوونکي ګولۍ یا نور څه وي هغه ناپاك او خبیث دي).

بل ځای فرمايي:

﴿وَلَا تُلۡقُواْ بِأَيۡدِيكُمۡ إِلَى ٱلتَّهۡلُكَةِ﴾ [البقرة: ١٩٥].

«تاسي په خپلو لاسونو خپل ځانونه په هلاکت کي مه اچوئ».

بل آیت مبارك دی:

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمْۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ۝٢٩﴾ [النساء: ۲۹].

يعني «خپل ځانونه مه وژنئ. باور ولرئ چي لوی څښتن پر تاسي مهربانه دی». د دې آيت په استناد عالمان وايي: مسلمان ته روا نه ده چي له داسي خورك يا څيښاك څخه استفاده وكړي چي سمدستي او يا يې په تدريج هلاك كړي او يا ورته مضر او موذي تمام سي. (وګورئ منهيات در اسلام۴۷۲مخ).

بل ځای فرمايي:

﴿وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا ۝٢٦ إِنَّ ٱلْمُبَذِّرِينَ كَانُوٓاْ إِخْوَٰنَ ٱلشَّيَٰطِينِۖ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ لِرَبِّهِۦ كَفُورًا ۝٢٧﴾ [الإسراء: ۲۶-۲۷].

ژباړه: «بې‌ځايه لګښت (اسراف) مه كوئ، بې ځايه لګښت كوونكي د شيطانانو ورونه دي او شيطان د خپل څښتن نا شكره دی».

په دغو ناولو توكو روږد كسان د هغو پر رانيولو زښتي زياتي پيسې د هغو خرڅوونكو او قاچاقبرانو ته وركوي. چي دا په دغه آيت كي له ويل سوي اسرافه څخه پرته بل څه كېدای سي؟

## د رسول ﷺ سپېڅلي لارښووني:

رسول ﷺ فرمايي:

«كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ». (مسلم، كتاب الاشربة، باب بيان انه كل مسكر خمر و انه كل خمر حرام ۷۰ ـ (۱۷۳۳) حديث).

د پورتني حديث معنا داده چي هر نشه كوونكی شی حرام دی.

دغه راز د رسول ﷺ بل حديث دی:

«كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ» په بل حديث كي داسي راغلي دي:

«كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ وكُلُّ خَمْرٍ حَرَامٌ». (مسلم، كتاب الاشربة). يعني هر نشه كوونكی شی خمر (شراب) باله سي او هر نشه كوونكی يا هر خمر حرام دي.

بل حديث دی: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفَتِّرٍ». (رواه ابوداود في الاشربة. قال الحافظ الزين العراقي: اِسناده صحيح وصححه

السيوطي في الجامع الصغير). يعني رسولﷺ له هر نشه كوونكي او كمزوري كوونكي شي څخه منع فرمايلې ده.

بل حديث دى: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ». (مسند امام احمد او سنن ابن ماجه). يعني نه خپل ځان ته ضرر رسول جايز دي نه بل چا ته.

د چرسو ترياكو او داسي نورو استعمال هم بدني ضررونه لري او هم مالي.

د الزواجر په ۱/ ۳۰۵ مخ كي وايي چي دغه حديث د چرسو، ترياكو او داسي نورو شيانو په تحريم كي اصل او بنسټ دى. او مفتر هر هغه شي ته وايي چي فتور، ضعف، سستي، كهالي او كمزوري راولي. او دغه شيان ټول مسكر (نشه كوونكي)، مخدر (د اعصابو سستي او تشنج راوړونكي) او مفتر (د بدن د غړو كمزوري كوونكي) دي. په دغه كتاب كي يې د چرسو او نورو مخدراتو د ديني او روغتيايي ضررونو په هكله ډېر مفصل بحث كړى او د چرسو (۱۲۰) ديني او دنيوي اضرار يې بيان كړي دي او چرس يې تر شرابو ډېر بد ګڼلي دي. وايي چي ابليس تر بل هر څه زيات د چرسو په څكولو خوشاله كيږي. ځكه چي دايې خسيسو نفوسو ته ښايسته ايسولي او هغو هم روا ګڼلي او څكوي يې.

د بخاري په «كتاب الاشربه، باب ما جاء في ان الخمر ما خامر العقل» كي د حضرت عمرؓ خطبه راوړل سوې ده. په دغه خطبه كي هغه فرمايي: «الْخَمْرُ مَا خَامَرَ الْعَقْلَ». «خمر هغه دي چي عقل غايب، ګډوډ او زايل كړي او له خپله اصلي حالته بدلون ورته وركړي».

امام ابن حجرؒ د فتح الباري په ۱۰/ ٦۰ مخ كي د دغو ټكو د څرګندولو په ترڅ كي مفصل بحث كړى دى چي لنډيز يې دادى: حضرت عمرؓ په دې هكله د شرعي تعريف داسي بيان كړى دى چي كوم خمر چي د شرعي په ژبه حرام بلل سوي دي هغه دي چي عقل ګډوډ او له خپله حالته بدل كړي. نور احاديث هم سته چي هر مسكر او عقل ګډوډوونكى شى، له انګورو په لاس راغلى وي يا له بل شي څخه خمر باله سي.

حضرت ملا علي قاري د مرقاة په ۷/ ۲۲٦ او ورپسې مخونو كي او شيخ عبدالحق محدث دهلوي د اشعة اللمعات په ۳/ ۲۹۰ او ورپسې مخونو كي

وايي چي هر هغه څه چي مسكر (نشه كوونكي) وي او عقل ګډوډوي له انګورو وي ياله بل شي څخه خمر باله سي او حرام دي.

په دې ډول شراب، چرس، ترياك، او داسي نور ټول مخدرات كوم چي عقل ګډوډوي خمر او حرام باله سي.

## د فقهي د ځينو متونو او د هغو د شرحو او حاشيو خبري:

د هدايې د كتاب الحدود په باب حد الشرب كي يې د بنګو استعمال مباح بللى دى او كه څوك د هغو له خوړلو څخه نشه سي د حد د جاري كېدو موجب يې نه بولي.

په عنايه كي وايي چي: «په هدايه كي چي يې د بنګو د اباحت په هكله ويلي دي دا د عامو كتابونو موافق خبره ده. خو د امام محبوبي په جامع الصغير كي يې د بنګو نشه حرامه بللې ده، او پخپله بنګي يې حرامي نه دي بللي».

د بحرالرائق د كتاب الحدود، باب حد الشرب په ۵/ ۴۶ مخ كي هم وايي چي: «بنګي پر صحيح مذهب مطلقاً حلالي دي».

خو د بحر الرائق په حاشيه منحة الخالق كي ليكي: «څه چي په تنوير الابصار كتاب كي ويل سوي دي د دې خلاف دي. په هغه كي وايي: د بنګو، چرسو او ترياكو استعمال حرام دى. خو حراموالى يې د شرابو غوندي نه دى. وروسته وايي: بنګي دوه ډوله دي كومي چي عقل زايلوي هغه حرامي دي او پر دې فتوا ده. او بل ډول يې مباح دي. دغه ډول يې كه څه هم عقل مختلوي خو زايلوي يې نه». (د بحر د ۵/ ۴۶ مخ لمن ليك).

## د فقهي د نورو مطولو كتابونو څرګندوني:

دا خو د فقهي د ځينو (مختصرو) متونو او د هغو د شرحو او حاشيو خبري وې. اوس به وګورو چي د فقهي نور كتابونه په تېره مطول كتابونه په دې هكله څه وايي:

په درالمختار كي وايي: «د بنګو، چرسو او ترياكو خوړل حرام دي. ځكه چي دا شيان د سړي عقل فاسدوي او د خداى له ذكر او لمانځه يې را ګرځوي. او څوك چي بنګي او چرس حلال بولي هغه زنديق او مبتدع دى.

بلکي ځينو ويلي دي چي په دې خبره کافر کيږي او مرګ يې روا کيږي». (وګورئ ردالمحتار٥/ ٤٠٤، ٤٠٥مخونه).

د ردالمحتار په همدغو مخونو کي وايي:

«دا چي په هدايه او نورو کي يې د بنګو استعمال مباح بللی دی، موخه يې د درملني لپاره د هغو لږ استعمال دی. په غاية البيان کي د شرح شيخ الاسلام په حواله وايي چي: د درملني لپاره د سقمونيا (Scammony) يو ډول د سريښو غوندي درمل چي د سختو جلابو لپاره يې استعمالوي. او بنګو لږ استعمال مباح دی او د ډېرو استعمال يې چي څوك وژني او يا يې عقل له منځه وړي حرام دی او حراموالی يې هم د هغو د مضر والي له امله دی. ابن حجر د ځينو علماوو له خولې ويلي دي چي د چرسو په استعمال کي يوسل وشل ديني او دنيوي ضررونه سته. دا چي څلورو امامانو په دې هکله څه نه دي ويلي دا له دې امله وو چي د هغو په وختو کي چرس نه وه. چرس د چنګيزيانو په وختو کي د شپږمي سپوږميزي پېړۍ په وروستيو او د اوومي پېړي په لومړيو کي پيدا سول».

د الفقه على مذاهب الاربعة په ۲/ ۸مخ کي وايي: «هر هغه څه چي بدن او عقل ته ضرر رسوي لکه ترياك، چرس او کوکايين (Cocaine) يوه نشه کوونکې او بې حسه کوونکې دوا (او د مضرو او مسمومونکو ټولو شيانو استعمال په شديد حرمت سره حرام دی».

د حلال و حرام در اسلام په ۱۰۴ مخ کي ليکي: «مخدر مواد لکه چرس، ترياك، هيروئين او نور حرام دي». په نوموړي کتاب کي يې د دې موادو ډول ډول ضررونه په تفصيل سره بيان کړي دي او د هغو او د شرابو فرق يې نه دی کړی. ان تر شرابو يې بد تر ګڼلي دي.

پورته خبروته ورته خبري يې په فتاوٰی عزيزي ۲/ ۱۲۰ مخ کي هم کړي دي.

دغه راز يې په الزواجر عن اقتراف الکبائر کتاب کي له ۱/ ۳۰۵ تر ۳۱۰ مخونو پوري د بنګو، چرسو، ترياکو او داسي نورو د حرمت او زياتو روغتيايي ضررونو په هکله د اسلامي عالمانو او نامتو طبيبانو د ويناوو او

نظريو په استناد په تفصيل سره څرګندوني کړي دي. د دې توکو د استعمال لـه بديو څخه يې يوه دا ليکلې ده چي لـه اسـتعمالوونکي څخـه يـې د مړيني پـر مهال د شهادتينو ويل هېرېږي. لوی څښتن مودي آل او اولاد ځني وساتي.

په پای کي بايد ووايو چي په دې هکله ستر اوسمهالي اسلامي پـوه او فقيـه علامه عبدالرحمن الجزيري د كتاب الفقه على المذاهب الاربعة په ۵/ ۲۸مـخ کـي د يـوه ډېر اوږده بحث پـه تـرځ کـي د بيـرو، چرسـو او نـورو مخـدراتو د حراموالي په هکله ډېري مدللي څرګندوني کړي دي چي موږ يـې دلتـه لنـډيز د ګرانو لوستونکو د لا زياتي استفادې لپاره وړاندي کوو:

ځيني فاسقان فکر کوي چي د بيرو چيښل روا دي، ځکه چـي دا د اوربشـو اوبه دي. او څنګه چي چرس او نور مخدر مشروبات د رسولﷺ په وختو کـي نه وه او د هغو د تحريم په هکله کوم نص (آيت) هم نه دی راغلـی نـو د هغـو استعمالول حلال دي. په داسي حال کي چي ټولـو اسـلامي عالمـانو د چرسـو، ترياکو او نورو پر حراموالي اجماع کړې ده. په دې هکله د مصـر د مفتـي فتـوا هم صادره سوې ده. او د مجلة الازهر د ۱۳۶۰ سپوږميز کال د برات (شعبان) په ګڼه کي خپره سوې ده. د دغو موادو د استعمال په حراموالي کـي هـيڅ شـك نسـته ځکـه چـي دا د سـترو ضـررونو او زيـاتو مفاسـدو لامـل ګرځـي. عقـل فاسدوي او بدن د ډول ډول ناروغيو سره مخ کوي. نو هيڅ ممکنـه نـه ده چـي شـريعت دي د هغواستعمال اجازه ورکـړي. ځينـو حنفـي علمـاوو ويلـي دي: «څوك چي چرس حلال بولي هغه زنـديق او مبتـدع دی». دغـه راز څـوك چـي نور داسي مخدرات کوم چي ضرر يـې تـر چرسـولاهم زيـات دی حـلال بـولي هغه هم زنديق او مبتدع دی.

همدغه ټولي لوړي يادي سوي بـدۍ او ضـررونه پـه تريـاکو کـي هـم سـته، بلکي د ترياکو ضررونه نور هم زيات دي او نور نوي مخدرات هم دغسي دي. څوك چي له دغو مخدراتو څخه کوم شی حلال بولي له هغو کسانو څخـه دی چي پر لوی څښتن افترا کوي او يا پر لوی څښتن هغه څه وايي چي په خبر نـه دي. زموږ پاك اسلامي شريعت څنګه داسي شی حلالوي چي اسـلامي ټـولني او د مسلمانانو بدن، عقل، دين، اخلاقو او مـزاج تـه يـې مـادي، روغتيـايي او

نور ډول ډول ضررونه د شرابو په نسبت زيات رسيږي؟ د دې شيانو د حلال والي خبري يا داسلام په هکله جاهل کوي يا يې زنديق او مبتدع کوي.

د اسلام دښمنان موږ د چرسو او نورو په نشو د دې لپاره اخته کوي چې زموږ ځوانان ضعيف سي، شته يې خرڅ سي، له مړاني ولوېږي، شهامت يې له منځه ولاړ سي او عقلونه يې فاسد سي، څو د پر مختللو ولسونو سره په سيالي او مبارزه کي وروسته پاته سي او غليمان پر مسلط او هيواد يې د هغو تر ښکېلاك لاندي راسي. لکه چي اسرايل د عربو د هلاك لپاره په هغو کي چرس او ترياك ترويجوي. (دا وې د الفقه على المذاهب الأربعة څرګندوني چي په لنډه توګه وړاندي سولې).

(د يادولو وړ ده چي اوس امريکايان، اروپايان او د دوی ګوډاګيان په ظاهره د ترياکو او هېروئينو د کرلو او دودولو پړه پر افغانانو او نورو اچوي، خو له اصله دوی په ډول ډول چلونو د مسلمانانو او نورو بې وزلو ولسونو دين او صحت ته مضر توکي لکه شراب، چرس، هېروئين، سګرېټ او نور په دوی کي دودوی او له دې درکه په مليارډونو ګټي هم تر لاسه کوي).

په دې هکله زما هيله له درنو او حق پالو مسلمانانو څخه داده چي موږ مسلمانانو بايد د پورته صريحو او مستندو حکمونو او دلايلو په مقابل کي د ځينو کتابونو او کسانوپه غير مستندو څرګندونو ناسم استدلال ونه کړو، بلکي د حقايقو له ليدو، تقوا او زښت زيات احتياطه کار واخلو.

## څرګندونه:

تاسو پوهېږئ چي زموږ دولتي چارواکي د شرابو، چرسو، هېروئينو او داسي نورو ټولوپه ديني او روغتيايي تاوانونو ډېر ښه پوهيږي او د کفري دولتونو چارواکي که يې په ديني تاوانو پسي نه ګرځي، روغتيايي تاوانونه خو يې ښه ورمعلوم دي. خو څنګه چي په چرسو زموږ په هيواد کي ډېر خلك روږد دي او پر شرابو هم زياتره د کفري او اسلامي هيوادونو ډېر عياش او فحاش چارواکي او شتمن او بې بندوباره خلك خوند اخلي، نو نه زموږ د دولت چارواکي په دې هکله دونه سر ګرځوي، نه د کفري هيوادونو چارواکي.

خو څنګه چي د ترياکو او هيروئينو په اړه د کفري هيوادونو د سرانو طاغوتي مادي پالو ځواکونو لېوالتيا ـ د دوی او د نړيوالو قاچاق وړونکو د ګټو په پام کي نيولو سره زياته ده، نو کفري هيوادونه او د هغو لاسپوڅي زياتره تبليغات يوازي د ترياکو او هيروئينو پر ضد کوي. البته دا د دې لپاره نه کوي چي ګواکي هغوی د خپلو خلکو يا د نورو د روغتيا غم اخيستي دي، بلکي دا ټول د دې لپاره دي چي د دوی مادي ګټې په خوندي او شومي موخي په تر سره سي. که نه که په رشتيا د هغو سره د خپلو خلکو او بشريت څه پروا وای نو خپل خلك به يې په عراق او افغانستان کي په مسلمانانو نه وژلای او په عراق، فلسطين، افغانستان او نورو ځايونو کي به يې د مسلمانانو پر وژلو او د هغو د هيوادونو پر ورانولو دا دونه ستر لګښتونه نه کولای.

## د تمباکو ضررونه او حراموالی

موږ باید ډېر خوښ واوسو او شکر وباسو چې د اسلام د مقدس دین پیروان یو. اسلام چې د نړۍ وروستی دین دی په هغه کې انسانانو ته د متوازن، معتدل، ښه او ښکلې، هوسا او بسیا ژوندانه هراړخیزې لارې چارې بیان سوې دي. له دې امله دغه مبارك دین موږ ټولو ته یو ستر نعمت دی چې باید قدریې وکړو او په ژوندانه کې د هغه لارښوونې په بشپړه توګه عملي کړو.

د دې سپېڅلي دین بله ښېګڼه داده چې خپل منونکي لوړ همتې، زیارکښ، چسپانده، پیاوړې او تکړه، روغ رمټ او په کار بوخت خوښوي او هغوی له داسې چارو راګرځوي چې له امله یې ټنبل، مړژواندي، لټان، بې واکه او بې ځواکه، ناپوه او غافله واوسي.

له بده مرغه د دې مقدس دین د دښمنانو؛ طاغوتي مادي ځواکونو، نصاراوو، یهودو، هنودو او د دوی ډول ډول بې شعورو، بې اصولو، ټېټتیا خوښو او د خپلواکۍ او د خپل فرهنګ په خوند ناخبرو ګوډاګیانو او لاسپوڅو د توطئو، دسیسو او بې همتیو له امله مسلمانان او د نړۍ نور ډېر بې وزلي ولسونه او پرګنې په ډول ډول بخولو او خواریو اخته دي. له یوې خوا انسان د مهال په غوښتنه د ماشین غوندې په کارونو لګیا او ستړی ستومانه دی. له بلې خوا په ډول ډول مضرو او نشیي توکو داسې اخته دی چې ان د ډېرو په دیني او روغتیایي اضرارو هم نه دی خبر.

له دغو توکو څخه زیات یې څنګه چې له پخوا څخه موجودوه، لکه شراب، د سرکوزي غوښې اونور اسلام په قطعي توګه حرام ګڼلي دي. ځینې چې په راوروسته وختونو کې پیدا سوي دي، لکه بنګې، چرس، تریاك او نور اسلامي عالمانو د هغو د روغتیایي او داسې نورو ضررونو له امله د اسلام د اصولو له مخې حرام بللي دي. ځینې چې په را وروسته کې پیدا سوي لکه تمباکو او له هغو څخه جوړ سوي توکي تر هغو چې روغتیایي اضرار یې ښه نه وه څرګند ځینو عالمانو د هغو د حلال والي فتواوې ورکړې دي. خو

وروسته چې د هغو ډول ډول ضررونه په ډاګه سول نو ډېرو اسلامي عالمانو د هغو د حرمت په هکله فتواوي ورکړې.

له بده مرغه زموږ په ګران هیواد کي تمباکو د چلم، سګرېټو او نسوارو په توګه بېخي ډېر استعمالیږي، چي ډېر خلك یې په ضررونو او حرمت نه دي خبر. نو موږ وپتیېل چي په دې کتاب کي د تمبکو او د هغو د روغتیایي تاوانونو په هکله څه ډېره رڼا واچوو؛ لومړی د تمبکو او د هغو د روغتیایي ضررونو په هکله څه معلومات ولیکو او بیا د هغو د حراموالي په هکله د اسلامي عالمانو د فتواوو او څرګندونو په هکله معلومات وړاندي کړو:

## د تمباکو روغتیایي ضررونه:

څنګه چي د تمباکو په هکله څېړني سوي دي په دې بوتي کي یې (۲۵۰) زهرجن مواد موندلي دي. چي له دې امله روغتیا ته له ډېرو مضرو او مرګونو توکو څخه شمېرل کیږي. د تمبکو له زهرو څخه ډېر خطرناکه یې نیکوتین (Nicotine) دي چي د هغو ډېره بده اغېزه د زړه د دربي او د ویني د لوړ فشار په بڼه څرګندیږي.پر دې سر بېره څو نوري ناروغۍ لکه د سږو سرطان، د زړه او د نس خوږ، د ستوني، کولمو او پښتورګو ناروغۍ هم ځني پیدا کیږي چي له امله یې هر کال په ملیونونو وګړي د مړیني کومي ته ورلویږي. د یوې احصائیې له مخي یوازي په ۲۰۰۰ع.کال نژدې څلور ملیونه وګړي د تمبکو د اغېزو له امله مړه سوي دي. په صحت بخش عادات کتاب کي لیکي:

«په دې کي هیڅ شك نسته چي راتلونکي تاریخ لیکونکي به زموږ د عمر او عادتونو د پوهېدو په هکله د دې خبري جواب ونه لري چي په شلمه پېړۍ کي خلکو ولي خپل ژوند پخپله پوپنا کاوه؟ که دا ووایو چي تمباکو څکوونکي خپلو ځانونو ته پخپله سزاورکوي دا به بې ځایه خبره نه وي. څنګه چي د تمباکو څکوونکي خوله د هغه د لوګي (دود) له بده بویه څخه ډکیږي نو د هغه د غاښو د خرابۍ سبب هم ګرځي. دغه راز په تمبکو یو پوخ او ډېر روږد څکوونکی د خولې، سږو او ګېډې په بیلابیلو ناروغیو اخته کېدلای سي. همدا

شان طبي څېړنو جوته کړې ده چې له اتو تنو سګرېټ څکوونکو څخه يو د سږو د سرطان د اخته کېدو وړګرځي». (۱۲۸، ۱۲۹مخونه)

په زموږ خواړه او درمليز توکي کتاب کې ليکي:

«تنباکو ګرم او وچ دي. دا يو ډېرمضر بوټی دی. سږو، دماغ او اينې ته ډېر تاوان رسوي. د تنباکو له استعمال څخه خوله بدبوی کوي، خو پر هغه چا چې تنباکو څکوي پر هغه يې بدبوی نه لګيږي اما پر هغه چا چې تنباکو څکوونکي ته نژدې ناست وي، پر هغه ډېر بد لګيږي او دماغ يې ورخرابوي. د دې توکي استعمال ببله يو څو ناروغيو څخه په هيڅ حالت کې ښه نه دی. روغتيا پوهان په دې عقيده دي چې د سګرېټ څکوونکي تر نورو ډېر د سږو د سرطان په ناروغۍ اخته کيږي.

د تمباکو څکولو او سګرېټ جوړولو پرضد د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د اعتراض ږغونه پورته سوي دي. خو له بده مرغه د سګرېټ جوړولو کمپنۍ ترمادې ګټو او سګرېټ څکوونکي د هغو تر څکولو نه سي تېرېدلای. چې په دې ډول له يوې خوا انسانان د خپل خواږه ژوند ـ د خدای تعالی له دې ستر نعمت سره ـ بې پروايي کوي او له بله پلوه د دې پر ځای چې د وږو او بې وزلو لاس ونيسي د ورځي په ميلونونو ډالر سوځي چې دا ډېر د فکر او حيرت ځای دی». (۸۰، ۸۱ مخونه)

دغه راز په «صحت بخش عادات» نومي کتاب کې ليکي:

«د سګرېټو څکولو تاوان يوازي د هغه څکوونکي ته نه رسيږي، بلکي په سګرېټو عادي وګړي خپل شاوخوا هم ککړوي. د سګرېټو دود ته نژدې خلك هم ناروغه کيږي. د نوو څېړنو سره سم د سګرېټو دود د سګرېټ څکوونکي په پرتله هغه ته نژدې ناست يا ولاړ چا لپاره ډېر تاواني دی. پر هغو کسانو چې سګرېټ يې نه دي څکولي او د زړه په نارو غي يا سرطان اخته دي د څېړنو په پايله کې څرګنده سوې ده چې دغسي خلکو تر يوه مهاله پوري د سګرېټ څکوونکو سره ناسته ولاړه درلوده او په غير ارادي توګه او په بې خبري کې يې د سګرېټو وژونکی او په زهرو لړلی لوګی خپلو سږو ته دننه کړی دی. د مختلفو طبي رپوټونو څخه څرګنده سوې ده چې د سږو له هرو درو ناروغانو

څخه یو ناروغ هغه دی چي پخپله یې سګرېټ نه دي څکولي خو د سګرېټ څکوونکو سره یې ناسته ولاړه وه. د دغسي ناروغانو لپاره څېړونکو د «د دوهم لاس سګرېټ څکوونکي» (Second Hand Smokers) اصطلاح وضع کړې ده». (۱۳۰ مخ)

دغسي کسانو ته د (Passive Smoing) یعني د غیر ارادي تمباکو څکونکو اصلاح هم کارول کیږي.

په «تمباکو اور اسلام» کتاب کي لیکي:

«له تمبکو څخه سږي، ستونی، خوله، کولمې، مثانې او نور د سرطان ښکار کیږي. زیاتره د زړه ناروغۍ ځیني رامنځته کیږي. دغه راز د تمبکو له استعمال څخه ذهن کمزوری کیږي، اعصاب خرابیږي، د سترګو لیده او د اورېدو ځواك کمیږي، سر پر له ګرځي، د هاضمې قوت ورانیږي او د مردانګۍ ځواك اغېزمن کیږي. یوازي د هند په نیمه وچه (هندوستان، پاکستان او بنګله دېش) کي د تمبکو له ژوولو څخه تر یو میلیون زیات وګړي د خولې او ستوني په سرطان اخته دي. د نارینه وو په پرتله ښځوته له تمبکو څخه ډېر تاوان رسیږي. د تمبکو له څکولو څخه د ښځي په میاشتنۍ ناروغۍ کي اخلال راځي او که د ښځي کوچنی په نس وي له تمبکو څکولو څخه د کوچني د زړه حرکت د معمول سره سم نه وي. دغه راز د تمباکو څکوونکي مور اولاد له ذهني پلوه معذور پیدا کیږي او کېدای سي چي تمباکو څکول د حمل د اسقاط لامل هم سي. په امریکا کي په ۱۹۹۳ع. کال پنځوسو زرو ښځو د تمبکو د څکولو له امله حمل اسقاط کړ. د یوه طبي رپوټ سره سم که مور تمباکو څکوي د هغه اغېز به د هغې په څو پښتو کي څرګند وي». (۱۴۱، ۱۴۲ مخونه)

## د تمباکو نوم:

د تمباکو نباتاتي یا ساینسي نوم NICOTIANA TABACUM دی. د انسایکلوپیډیا بریټانیکا د یوه مقاله لیکونکي د لیکني له مخي د تمباکو عام نوم له هندو - امریکایي نامه (Tobacco) څخه اخیستل سوی دی. Tobacco هغه

پایپ (Pipe) ته وایي چي د هغه په ذریعه د امریکا اصلي اوسېدونکو (سور پوستو هندیانو) د تمباکو بوټی په څکاوه.

د نوو څېړنو له مخي کرسټوفر کولمبس او د هغه بېړۍ چلوونکو ملګرو د میکسیکو د خلیج په Tobago ټاپو کي د دغه ځای اوسېدونکي ولیدل چي دغه بوټی یې استعمالاوه. په دې مناسبت یې د دغه ټاپو نوم په انګریزي Tobacco وباله او پر دغه بوټي یې هم دغه نوم کېښېښاوه.

خو مولانا محمد حسین آزاد بیاپه «آب حیات» کي وایي: «د تمباکو لفظ د سانسکرت د تامر ګټ له لفظ څخه جوړ سوی دی او په ان بهت چکتسا ساګر کي د تمباکو نوم«تامر کوټا» درج دی».

په هر صورت اوس په فرانسوي ژبه کي تمباکو په Tabac او په هسپانوي کي په Tabaco تلفظ کیږي. په عربي کي یې په تبغ، دخان، تمباك، تنباك، طباق، طابه، تتن یاتوتون پېژني. خو توتون له ترکي ژبي څخه اخیستل سوي دی چي د تمباکو په معنا استعمالیږي.

دغه راز په دغه بوټي کي د نیکوټین د مادې د نوموني په هکله وایي چي په ۱۸۲۸ع.کال د جرمني د هایډل برګ د پوهنتون دوو تنو ساینس پوهانو (Reiman) او (Bosselt) پر تمبکو څېړنه وکړه او په هغو کي یې زهري ماده وموندل. نو ځنګه چي په پرتګال کي استوګن فرانسوی سفیر (Jean Nicot) د تمبکو د څکولو د دودولو په هکله ډېره ونډه اخیستې وه، په تمبکو کي موجود زهر یې د ده نامه ته منسوب کړل او Nicotine یې وبلل.

## د تمبکو تاریخ:

وایي چي د تمبکو د کښت اصلي ځای امریکا، په تېره میکسیکو ده. نامتو ډاکټر محمد علي البار لیکي چي د میکسیکو اوسېدونکي دوه نیم زره کاله دمخه له تمبکو څخه خبر وه. لکه چي مشهوره ده په ۱۴۹۲ع.کال چي د ۸۹۸سپوږمیز کال سره سمون خوري د امریکې موندونکي کرسټوفر کولمبس ولیدل چي د امریکا اصلي اوسېدونکي چي ده د ریډ انډین (سورپوستو

هندوانو) نوم ورکړ تمباکو څکول[1]. دغه مهال د اروپا، افریقا او آسیا خلك د دې بوټي سره بلد نه وه. د امریکا اوسېدونکو ګومان کاوه چي تمباکو د طبي ځانګړنو درلودونکی دی. په اروپا کي د دې بوټي د دودېدو اصلي لامل هم همدغه وو. وایي چي کولمبس او د هغه ملګرو د تمبکو څه بوټي هسپانیې ته وروړل. بیا د امریکا اصلي اوسېدونکو هغه پرتګال ته یووړل. په پرتګال کي د فرانسې سفیر (Jean Nicot) هغه په هکله طبي تجربه وکړه. دغه مهال د فرانسې د ملکې CATHERINE DE MEDICEIS پر سر درد سو نو جان نیکوټ د تمباکو بوټی د هغې د درملني لپاره ورولېږی. بیایې د هغه تخم فرانسې ته ولېږی. په دې ډول هلته د تمبکو کرنه پیل سول او خلکو د هغو استعمال په بېلو بېلو لارو پیل کړ. بیا تمباکو د اروپانورو هیوادونو ته ورسېدل.

ځیني بیا وایي چي تمباکو د لومړي ځل لپاره د هسپانیې یوه ډاکټر هونډیز نومي اروپایانو ته وروپېژندل. دغه ډاکټر د هسپانیې پاچا دوهم فلیپ میکسیکو ته د څه اطلاعاتي او تحقیقاتي چارو د تر سره کولو لپاره لېږلی وو.

ځیني تاریخ لیکونکي وایي چي ټیچر نومی لومړی سړی وو چي تمباکو یې اروپایانو ته وروپېژندل. ویل کیږي چي دغه سړي تر کولمبس یوه پېړۍ دمخه په ۱۳۹۲ع.کال د هندوستان په لټه بېړۍ چلول او امریکا ته ورسېد.

بیا دغه زهر جن بوټی له اروپا څخه د ۹۹۹ او ۱۰۲۰سپوږمیزو (۱۵۹۰ع. او۱۶۱۱ع.) کلونو په شاو خوا کي ترکیې، عربي ملکونو، افریقا، ایران، افغانستان، هند، جاپان، روس او د نړۍ نورو هیوادونو ته ورسېد. هند ته دغه بوټی لومړی یوه پرتګالي سوداګر او بیا د شرق الهند د کمپنۍ کارکوونکو وروړ.

اوس دغه بوټی تر ټولو زیات په چین، امریکا او هند کي کرل کیږي. د یوې احصائیې له مخي په ۱۹۶۲ع.کال ۳، ۴میلیونه هکټاره مځکه په تمبکو کرل

---

۱- مشهوره داده چي امریکا کولمبس وموندل. خو ځینو مسلمانو او غیر مسلمانو پوهانو د لاسوندونو (اسنادو) په رڼا کي جوته کړې ده چي مسلمانانو تر کولمبس سوونه کلونه دمخه پر دغه مځکه ګامونه ایښي دي. پر دې موضوع باندي تقریباً له نیمي پېړۍ څخه بحث روان دی. منار الاسلام مجله د ۱۴۰۸د جمادي الآخر ګڼه.

سـوې وه. او اوس د نـړۍ اتیـا فیصـده تمبـاکو د سـګرېټو پـه جوړولـو کـې استعمالیږي.

## د تمبکو د استعمال پر خلاف اقدامات:

د تمبکو د څرګندو ضررونو له امله د هغـو د څکولـو د منـع کولـو لپـاره لـه هماغه پیلـه پـه دولتـي او ولسـي کچـه د مسـلمانانو او نامسـلمانو لخـوا جـدي اقدامات تـر سـره سـوي دي. تـر ټولـو لـومړی د ترکیـې پاچـا لـومړي سـلطان احمدبن سلطان محمد ثالث د تمبکو د منع کولو په هکله اقدام وکړ. وایي کله چي هغه ته د تمبکو ضررونه معلوم سول نو یې د هغو د خرڅولو د دکـانونو د بنـدولو حکـم ورکـړ. بیـا څلـورم سـلطان مـراد عثمـاني (د کعبـې شـریفي بیـا رغوونکي) حکم وکړ چي د تمباکو څکوونکو دواړي شـونډي دي پـرې کیـږي او څوك چي تمباکو د پزي د نسوارو پـه توګـه اسـتعمالوي پـزه دې پـرې سـي. وروسـې څلـورم سـلطان محمـد عثمـاني د تمبکـو د څکوونکـو د پانسـۍ حکـم ورکړ.

د مصـر والـي محمـد الیدکشـي چـي پـه ۱۷۴۳ع.کـال هلتـه وټاکـل سـو د کورونو په دروازو کي، په دکانونو او پر عامو سړکونو بانـدي د تمبکـو څکـول منع کړل او امر یې وکړ چي پولیس دي په قاهره کي د ورځي درې واره ګرځـي او چي دغسي کسان ونیسي سختي سزاوي دي ورکوي.

د مکې مکرمې شـریف مسـعود بـن سـعود پـه ۱۱۴۶ سـپوږمیز کـال فرمـان جاري کړ چي په بازارونو او قهوه خانو کي دي په عامه توګه تمباکو نـه څکـول کیږي.

د انګرېزانو په وړاندي د سوډان نامتو مجاهد محمد احمد المهدي تمبـاکو حرام وبلل او څوك چي به یې پر استعمالولو ونیول سو اتیا درې به یې واهه او یوه اوونۍ به یې بندي کاوه.

د هند مغولي واکمن جهانګیر او د ایران واکمـن شـاه عبـاس هـم پـه خپلـو ملکونو کي پر تمبکو څکولو بندیزونه لګولي وه. ان وایي چي په ایران کي یې د

تمبکو د څکوونکو په خولو کي ايشېدلي تېل اچول، چي له دې امله ډېر وګړي د مرګ شومه سول.

عېسوي واکمنانو هم د تمبکو استعمال منع کړی وو. مثلاً د برتانيې واکمن لومړي ژاك، سر والټر والي نومی کوم چي د تمبکو څکول يې په برتانيه کي دود کړي وه، ونيو او د مرګ سزا يې ورکړه. په روسيه کي به يې د تمبکو څکوونکي په شلاخو وهل او د سزا په دود به يې خصيانول. ځيني وايي چي که به يې دوهم وار د تمبکو پر څکولو څوك نيولی وای پزه يې ورپرې کول او که به يې درېيم وار پر نيولی وای د مرګ سزا يې ورکول.

دا خو ټولي پخوانۍ خبري وې. اوسمهال هم د تمبکو د استعمال د مخنيوي لپاره د ځينو لخوا رشتيانۍ او د ځينو لخوا سرسري او غولوونکي هلي ځلي کيږي.

د بحرين د حکومت د اسلامي شؤونو رياست په ۱۹۹۴ع.کال د تمبکو د حراموالي فتوا ورکړې ده. کويټ ښځي د سګرېټو څکولو پر خلاف قانون نافذ کړی دی، چي له مخي يې په عامو ځايونو کي پر سګرېټو څکولو بنديز لګېدلی دی. د خليج په دغه وړوکي هيواد کي که څوك لومړی ځل له دغه قانونه سرغړونه وکړي پنځوس ډالره جريمه کيږي. که دوهم وار له دغه قانونه سروغړوي درې سوه ډالره يې جريمه کوي او پر درېيم ځل يې بندي کوي. دا له دې امله چي په کويټ کي په تېرو لسو کالو کي درې زره تنه د سګرېټ څکولو په پايله کي د ورپېښو سوو ناروغيو له امله مړه سوي دي.

د تمباکو څکولو سره د ماليزيا نامتو مسلمان سياست پوه او پخواني لومړي وزير ډاکټرمهاتيرمحمد د سخت مخالفت له امله هلته په موټرونو، روغتونونو او نورو ټولو دولتي دفترونو او ودانيو کي تمباکو څکول په ټينګه منع سوي دي.

د ايټاليا حکومت هم په دې اړه يو قانون نافذ کړی دی چي له مخي يې په روغتونونو، ښوونځيو، پوهنتونونو، سينماوو، موزيمونو، هوټلونو، او نورو کي د تمباکو څکول منع سوي دي. هلته که څوك د دغه نوي قانون څخه سر وغړوي دوه لکه لېرې جريمه کيږي او که څوك دغه قانون په خپلو ادارو کي

پلی نه کړي پنځوس لکه لیرې جریمه به ورکوي. (پنځوس لکه لیرې د دوه ویشت زرو فرانکو سره برابري دي). د یادولو وړده چي تر اوسه په نړۍ کي د داسي ستري جریمې ساری نه دی لیدل سوی.

اوسمهال د تمبکو د څکولو په منع کولو کي تر ټولو زیات بریالی هیواد او په دې هکله د سخت قانون درلودونکی سینګاپور دی. هلته په بندو ځایونو کي د سګرېټ څکولو جریمه پنځه سوه سینګاپوري ډالره ده. ان کېدای سي چي د دغه قانون سر غړوونکي ته د مرګ سزا ورکړل سي. د دغه هیواد ټولي ډله ییزي رسنۍ د تمباکو پر ضد تبلیغ او خپروني کوي. له دې امله په دغه هیواد کي تر ټولو لږ سګرېټ څکول کیږي. خلك د سګرېټو په تاوانونو پوهېدلي دي او دغه قانون ته ډېر درناوی کوي. ویل کیږي چي ښایي په نږدې راتلونکې کي په سینګاپور کي د سګرېټ څکول ګردسره ختم سي.

په ځینو هیوادونو کي له ټلوېزیونونو څخه د تمبکو په اړه د اعلانونو خپرول بند سوي دي او ځیني اخبارونه او مجلې هم په دې اړه اعلانونه نه خپروي. په الوتکو کي هم د تمبکو څکوونکو چوکۍ د هغو کسانو له چوکیو بېلې وي چي تمباکو نه څکوي.

په ځینو نورو هیوادونو کي هم د تمباکو پر څکولو باندي په ډول ډول لارو چارو بندیزونه لګول سوي دي. اوسمهال هرکال د روغتیا د نړیوالي ادارې لخوا د می (۳۱) د تمبکو نه څکولو د ورځي په نامه لمانځل کیږي. دغه راز د ښځو یوې ډلې د تمبکو څکولو په خلاف د ښځو نړیواله ټولنه جوړه کړې ده، څو ښځي له تمبکو خرڅولو او څکولو څخه را وګرځوي. خو لکه چي ښکاري د روغتیا د نړیوالي ادارې او نورو طاغوتي مادي پالو ځواکونو او سازمانونو هلي ځلي رشتیانۍ نه، بلکي ریاکارانه دي. له دې امله دی چي د دغو ځواکونو او سازمانونو دروغجنو او غولوونکو کارونو او تبلیغاتو دوني اغېزې نه دي ښندلي او ډېر لږ خلك د دغو مضرو توکو په ناوړو اغېزو پوهېدلي او ور ځني منع سوي دي.

امریکا چي د مدنیت، آزادۍ، بشري حقوقو او داسي نورو ډېرو ښېګڼو په ادعاوو کي دروغجنه، بلکي د دغو چارو ضد جوته سوې ده، په دې هکله هم

دروغجنه ده. دا لا څه چې د هېروئينو او نورو مخدره موادو مافيا او لويه سوداګري او ستره ګټه يې هم په همدغه امريکا اړه لري. اوس د همدغه هيواد په نوو ځوانانو کي د ډول ډول مخدره موادو استعمال او تمبکو څکول ورځ تر بلي مخ پر زياتېدو روان دي او دولت دې لوري ته هيڅ بنسټيزه توجه نه کوي.

دردوونکې لا داده چي زموږ دې بې وزلي او پردو ته اړ هيواد ته دونه ډېر او په دونو ډېرونومونو سګرېټ را ځي چي توبه کاږه. اوس مهال زموږ له ښاري څخه نيولې ترصحرايي پوري کوچنيانو هلکانو، ځوانانو، ز ړو او ښځو په دکانونو، هوټلونو، کورونو، دفترونو، موټرونو او داسي نورو کي ډول ډول سګرېټونه چپه او راسته په خولو کي نيولي وي او دودوي يې. د دغو سګرېټو پر دبليو باندي د هغو د صفتونو لپاره ډول ډول تبليغاتي جملې او کلمې ليکل سوي او د دې تر تر څنګ بيا په سيمه ييزو ژبو داسي کلمات هم چاپ سوي وي: «سگرت کشيدن جداً مضر صحت است». «التدخين سبب رئيسي للسرطان وامراض الرئة والقلب والشرائين». يعني تمباکو څکول د سرطان، او د سږو، زړه او رګونو د ناروغيو بنسټيز لامل باله سي. «خبردار: تمباکو نوشي کينسر اور دل کی بيماريون کا باعث هے». يعني خبر اوسئ چي: تمباکو څکول د سرطان او زړه د ناروغيو لامل باله سي.

"HEALTH WARNING: SMOKING IS A MAIN CAUSE OF LUNG CANCER, LUNG DISEASE AND OF HEART AND ARTERIES DISEASES".

يعني روغتيايي خبرتيا: سګرېټ څکول د سږو د سرطان، د سږو د ناروغۍ او زړه او رګونو د ناروغيو لامل باله سي.

ښه نو چي دا د دولتونو مشران او دروغتيا وزيران او ډاکټران په دې پوهيږي چي تمباکو اوسګرېټ د نسانانو روغتيا ته دغونه ستر خطرونه او تاوانونه لري نو ولي يې د ترياکو او هېروئينو غوندي کښت، توليد او له يوه هيواده بل هيواد ته لېږل او پېر او پلور نه منع کوي؟

ښکاره خبره ده چي دغه مشران او د روغتيا وزيران يا په خپله د دې توکو د کمپنيو څښتنان، سوداګر يا عمليان دي يا يې د سوداګرو ملاتړي او ملګري دي. او دا خبري يې هسي چټي رنګسايي ده او بس. که چيري دغه ښاغلي شراب، چرس، هېروئين، سګرېټ او نور ټول مخدره مواد په ټپه بند کړي نو له دې مدرکه دا دونه ګټي به له کومه کړي؟ او چي خلك دا شيان استعمال نه کړي نو دا دوني ناروغۍ به له کومه سي؟ او د دوی دا دونه درمل به پر چا خرڅوي؟ او د درملو دا دونه ستر کار وبار او دا ستري ستري کارخانې خوبه تقريباً په ټپه ودرېږي؟ دلته بايد يادونه وکړو چي دا توکي له کومه سول او اوس له کومه راځي او ضررونه يې چاته او ګټي يې چاته رسيږي؟ ضررونه يې په لويه کچه مسلمانانو او بيا د کفري هيوادونو بې وزلو ته او ګټي يې د پانګي او پانګوالۍ خرمستو واکمنو او سراښو او يې وجدانو سوداګرو ته. مرګ او لعنت دي وي د انسانيت پر دغسي انسان مخو، شيطان صفتو دښمنانو!

اوس چي په لوېديزو هيوادونو کي د سګرېټ څکولو په باب څه پوهه او شعور پيدا سوی دی، د سګرېټ جوړولو لوېديزو کمپنيو کوششونه په لار اچولي دي چي دريمه نړۍ د خپلو سګرېټو د لا ډېرو خرڅولوستر مارکېټ جوړ کړي

خو له بده مرغه زموږ په هيواد کي د تمبکو پر ضد تر اوسه نه کوم قانون پلی سوی او نه په دې اړه کوم اغېزمن تبليغات سوي دي. بلکي تر څه مهال دمخه پوري حکومتونو د نسوارو پلورل په ټېکه ورکول او له دې درکه به يې له ټېکه کوونکو څخه محصولونه اخيستل. بده يې لا دا چي د پوهنوال عبدالنبي ستانکزي په نامه يوه ليکوال د «صنعتي بوټي» په نامه يو کتاب په دري ژبه ليکلی چي سيد نور الله ځل په پښتو ژباړلی او د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز (اريك) په ١٣٨٠ لمريز کال خپور کړی دی. د دغه کتاب په يوه برخه کي يې د تقريباً اتو مخونو په تورولو سره تمباکو دصنعتي بوټی په نامه تبليغ کړی، هغه يې د اقتصادي؟! ارزښتونو لرونکی بوټي ګڼلی او زموږ د هيواد بزګران يې د هغه کرلو او دودولو ته هڅولي دي. دغه کتاب دغي

موسسې د اریك د ګرځنده کتابتون له لاري د هیواد د بېلو بېلو سیمو خلکوته د مطالعې لپاره وړاندي کړی دی.

## د تمبکو په اړه طبي څېړني:

دا اند چي تمباکو روغتیا ته ضررناکه دي دغونه لرغونی دی لکه خپله تمباکو. په ۱۶۰۴ع.کال د لومړي ځل لپاره د برتانیې پاچا لومړي جېمز په رسمي توګه اعلان وکړ چي تمباکو روغتیا ته مضر دي. چي البته دا د تمبکو د ضرر په هکله لومړی څرګندونه وه. د تمبکو پر ضد لومړی طبي رپوټ په ۱۸۵۹ع.کال چاپ سو. په دې رپوټ کي ویل سوي وه چي د فرانسې په یوه روغتون کي (۶۸) ناروغان چي د شونډانو، ستوني، او د خولې د نورو برخو په سرطان اخته وه، تمباکو یې استعمالول. له هغو څخه (۶۶) تنو ناروغانو د تمبکو څکولو لپاره د ختو کوچني پایپونه جوړ کړي وه. چي د دې رپوټ په خپرېدو سره دغه پایپونه له استعماله ولوېدل. خو بیا هم د تمبکو څکولو سره د خلکو لېوالتیا مخ پر زیاتېدو وه. په تېره تر لومړۍ او دوهمي نړیوالي جګړې وروسته د سګرېټو څکول نور هم زیات عام سول او په ټوله نړۍ کي خپاره سول.

د روغتیا نړیوالي ادارې (W.H.O.) رپوټ وړاندي کړ چي په کومو هیوادونو کي چي د سګرېټ څکولو لعنت ډېر عام سوی دی هلته د سږو د سرطان له ناروغۍ څخه د مړو شمېر په خطرناکه توګه مخ پر زیاتېدو روان دی.

په ۱۹۵۴ع.کال د امریکا د سرطان ټولني (American Cancer Society) او د برتانیې د روغتیايي څېړنو د ډلي (British Medical Research Council) د دروکالو پر شمېرو مشتمل یو رپوټ خپور کړ. په دې رپوټ کي ویل سوي دي چي په مړو کي د نورو په پرتله د سګرېټ څکوونکو شمېره زیاته ده.

په ۱۹۶۲ع.کال د برتانیې د (Royal College of Physicians of London) په یوه لنډ خو هر اړخیز رپوټ کي د تمبکو او د هغو پر اړوندو ناروغیو بحث سوی او د سګرېټو څکول یې روغتیا ته ډېر مضر جوت کړي دي. د دې رپوټ

له امله د برتانيې حکومت يو پروګرام په لار واچاوه څو خلکو ته د تمبکو د استعمال د لږولو په هکله لازمي ښووني وسي.

په ۱۹۶۳ع.کال د امريکا د سرطان ټولني يو بل رپوټ خپور کړ. په دې رپوټ کي ويل سوي دي چي د سګرېټ څکولو په عادت کي پرله پسې زياتوب راځي او له دې امله په خلکو کي د مړيني شمېره هم مخ پر زياتېدو ده. خو د دې ټولو رپوټو نو سره سره په امريکا کي د تمبکو څکولو په اړه څه د پام وړ کمښت رامنځته نه سو.

په ۱۹۶۴ع.کال دامريکا دعمومي جراحۍ ادارې (United States Surgeon General) لخوا يوې جوړي سوي کمېټې تر دوو کلنو څېړنو وروسته په خپل رپوټ کي څرګنده کړه چي په امريکايي نارينه وو کي له ۱۹۵۰ څخه تر ۱۹۶۰ع. پوري د سګرېټ څکولو له امله د سږو د سرطان د ناروغانو د مړيني شمېره اويا فيصده زياته سوې ده. دغي کمېټې سګرېټ څکول روغتيا ته تر خطرناکي پولي مضر وګڼل او له حکومت څخه يې د هغو د کنټرول غوښتنه وکړه. په دغه رپوټ کي دا هم ويل سوي دي چي د سږو سرطان، د زړه د رګونو او د ويني ناروغۍ، د سږو سوی او د ټوخي غوندي خطرناکي ناروغۍ د سګرېټو څکولو سره اړه لري. دغه راز په دغه رپوټ کي دا هم راغلي دي چي د شونډانو سرطان په پايپ څکولو اړه لري.

په ۱۹۶۴ع.کال د امريکا حکومت پر روغتيا باندي د سګرېټو د ناوړو اغېزو په هکله د زياتو معلوماتو د تر لاسه کولو او څېړنو لپاره ستر لګښتونه وکړل او په دغه کال د تمبکو شپږو سترو کمپنيو هم لس ميليونه ډالر د امريکا د درملو ټولني ته د څېړنو لپاره ورکړل.

په ۱۹۶۵ع.کال په امريکا کي يو قانون نافذ سو چي د ۱۹۶۶ع.کال د لومړۍ ورځي څخه دي د سګرېټو پر ټولو قوطيو روغتيا ته د تمبکو د تاوان په هکله ليبل ونښلول سي.

د ۱۹۷۱ع.کال له جنورۍ څخه په تلوېزيون کي د سګرېټو په هکله اعلانونه منع سول او د امريکا د سرطان ټولني او د زړه د درملني ټولني په تلوېزيون کي د تمبکو څکولو پر ضد ډېري ښې خپروني وکړې.

دغه ډول څېړني اوس هم په ډېرو هیوادونو کي رواني دي او وخت په وخت د تمبکو د ضررونو په هکله خپل ریوټونه خبروي. خو له بده مرغه په سګرېټ څکولو کي څه کمی نه دی راغلی او له دې امله ناروغۍ او د هغو درمل هم پر له پسې زیاتیږي.

د خپرو سوو شمېرو له مخي یوازي په ۱۹۹۱ع.کال کي په امریکا کي د تمبکو څکولو له امله د رامنځته سوو ناروغیو په پایله کي درې نیم لکه تنه مړه سوي دي.

چین د نړۍ یو داسي هیواد دی چي د تمبکو څکولو له امله د مړو شمېر یې د نورو په پرتله زښت زیات دی. د یوه رپوټ سره سم اوس په چین کي د تمبکو له استعمال څخه د ورځي دوه زره تنه سا ورکوي. په هند کي هر کال زیات وکم اته لکه تنه د تمبکو د بېلو بېلو ناروغیو له امله مري. دسرطان ډاکټران وایي چي په هند کي د سرطان په مړو کي نیمی هغه کسان دي چي تمباکو یې څکول. او نوي ځوانان زیاتره د تمباکو څکولو له امله د زړه په ناروغیو اخته کیږي. د یوه رپوټ سره سم په هغو کسانو کي چي عمرونه یې تر څلوېښتو کالو کم دي او د زړه د ناروغیو له امله مري۷۶ فیصده یې هغه ځوانان دي چي په تمبکو څکولو روږد وه.

په ۱۹۷۵ع.کال د روغتیا نړیوالي ادارې (W.H.O.) په خپل یوه رپوټ کي وویل چي له سګرېټ څکولو څخه د مړو یا بدحالو وګړو شمېر تر هغو وګړو زیات دی چي د طاعون، کوي، نري رنځ، جذام (خوراړه)، لویي تبې (Typhoid) او نورو غوندي ناروغیو څخه مري. د دغي ادارې د نوي رپوټ سره سم په نړۍ کي هرکال (۴۲) لکه وګړي د سګرېټ څکولو له امله د مړیني ښکار کیږي. چي کېدای سي دغه شمېر تر ۲۰۳۰ کال پوري تر پنځلسو ملیونو پوري ورسیږي. له دې امله دی چي د تمبکو څکولو د کنټرولو لپاره هر کال نړیواله غونډه کیږي او د می (۳۱) د تمبکو د نه څکولو د ورځي ( No Tobacco day) په توګه ټاکل سوې ده.

په ۱۹۸۷ع.کال د برتانیې یوې روغتیایي مجلې (LANCET) د دغه کال د فبرورۍ د (۴) نېټې په ګڼه کي په آسټرالیا کي د تمبکو د کمپنیو د برخه والو له

لوري يو ليك خپور كړ چي پكښي ليكل سوي وه: د ۲۵ کالو را په دې خوا موږ د سګرېټو د کمپنيو څښتنانو له عامو خلکو څخه د تمبکو د نقصانونو په هکله په بېلو بېلو وسايلو د پټولو کوښښونه کول خو اوس موږ اعتراف کوو چي موږ د سګرېټو جوړولو په سبب په آسټراليا کي د کاله د درويشتو زرو تنو سا اخيستل. له ۱۹۶۲ع.کال څخه تر ۱۹۸۴ع.کال پوري موږ کمپنۍ والاوو څلور لکه اويا زره آسټراليايي او سېډونکي وژلي دي. اوس موږ دغه ستر مسؤوليت احساس کړ او په راتلونکې کي د دغسي شيانو د دودولو لپاره هلي ځلي نه کوو.

د ۲۰۰۱ع.کال د جولای په لومړيو کي د امريکا د تمبکو يوې مشهوري کمپنۍ (PHILIP MORRIS) په يوه رپوټ کي په ډېره سپين سترګي سره اعتراف وکړ چي د تمبکو څکوونکي چي تر وخت د مخه مري په دې کي اقتصادي ګټه ده. دغي کمپنۍ د دلايلو او شواهدو په توګه څرګنده کړې ده چي د چك په جمهوريت کي چي تمباکو څکوونکي تر خپل وخت د مخه مړه سوي دي له دې درکه (۱۴۷) ميليونه ډالره سپمېدلي دي. يعني که دغه خلك ژوندي پاته وای نو د هغو پر روغتيايي ساتنه به حکومت دغونه ستر لګښت کولای. له دې رپوټ څخه د دغو بې حيا پاټکوالو موخه داوه چي حکومتونو ته څرګنده کړي چي له تمبکو څکولو څخه دوی ته اقتصادي ګټه رسيږي.

د يوه بل رپوټ سره سم د تمباکو څکولو له امله په نړۍ کي هر کال دېرش لکه تنه د مرګ ښکار کيږي.

د ROYAL COLLEGE OF PHYSIANS د ۱۹۷۷ع.کال د رپوټ سره سم که په يوه سګرېټ کي موجود نېکوټين وايستل سي او يوه روغ سړي ته ورکړل سي نو هغه به سمدستي ومري.

ايس آی ميکملن نومي ويلي دي چي يوازي يو سګرېټ ستاسي د ژوند اتلس دقيقې ضايع کوي او د لسو سګرېټو يوه قوطۍ ستاسي ژوند درې ساعته کموي.

د تمبکو دې سترو او بېروونکو ضررونو ته چي وګورو نو ويلای سو چي د تمبکو کمپنۍ، د هغو سوداګر او دکانداران ټول د مرګ پلورونکي دي. ډاکټر

ابراهیم الشامي د تمبکو څکول د مرګ د ملایکي عزرایل سره تشبیه کړي دي، لکه چي د خپل کتاب نوم یې «التدخین عزرائیل العصر الحدیث» (سګرېټ څکول د نوي پېر عزرایل) ایښی دی.

## د تمبکو د استعمال ډولونه:

### ۱- د خولې د نسوارو په ډول:

زموږ د هیواد په ګوټ ګوټ کي د نسوارو سوداګر، کاروباریان، دکانداران او عام خلك ترخه تمباکو میده کوي بیا یو مقدار اهاك په ګډوي او نسوار ځني جوړوي. دغه نسوار په بازارونو کي خرڅیږي او زیاتره نالوستي او اطرافي خلك یې د نسوارو په دبلیو او قوطیو کي اچوي او بیا یې د شپې او د ورځي څوواره په خوله کوي او څو شیبې وروسته یې توکي. په دې ډول د تمبکو او اهاکو زهرجن او ناوړه اثرات د خولې له لاري جذبیږي او د وینو په ذریعه ټول بدن ته انتقالیږي.

### ۲- د چلم څکولو په ډول:

زموږ په هیواد او نورو ځینو ګاونډیو او عربي هیوادونو کي ډول ډول چلمونه جوړیږي. خلك د هغو په سرخانو کي تمباکو اچوي، د اور لګیت خاشه ورته وهي او لوګی یې د چلم د نل له لاري څکوي.

د روغتیا د نړیوالي ادارې یوه مشر مصري ډاکټر شریف عمر ویلي دي چي د چلم نقصانونه د سګرېټو په پرتله بېل دي خو د سګرېټو تر نقصانونو کم نه دي.

### ۳- د سګرېټو څکولو په ډول:

تمباکو د سګرېټو څکولو په ډول په نړیواله کچه استعمالیږي او دا طریقه ورځ په ورځ زیاته دودیږي. د ځینو رپوټونو له مخي (۸۰) یا (۹۰) فیصده تمباکو د سګرېټ په توګه استعمالیږي. څنګه چي د انسانانو ځینو خواخوږو د سګرېټو پر ضد تبلیغات وکړل نو د سګرېټو پر خرڅلاو یې بده اغېزه وښندل. ځکه نو د سګرېټو کمپنۍ اړې سوې چي د خلکو د تېر ایستلو لپاره سګرېټو ته

فلټرونه ورکړي او وښيي چي په دې توګه د تمبکو د مضرو اغېزو مخه نيول کيږي. خو حقيقت دادی چي د تمبکو هغه اجزا چي د سرطان سبب کيږي تقريباً ټوله له فلټر څخه تېرېږي او جسم ته ننوزي.

**۴– د تمباکو ژوولو په ډول:**

د هند په نيمه وچه او جنوب ختيزه آسيا کي تمباکو د پانو سره ژويي. دا تر ټولو بده او صحت ته مضره طريقه ده. ځکه چي په دې توګه د تمبکو اثر په ډېره چټکتيا سره کولموته رسيږي او پر اعصابو هم ډېره بده اغېزه کوي. د پانو کيمياوي تجزيه چي يې کړې ده، هغه هم پر روغتيا ډېره بده اغېزه کوي او چي تمباکو ورسره يو ځای سي ضرر يې نور هم زيات سي.

**۵– د پزي د نسوارو په ډول:**

له تمبکو او ځينو نورو توکو څخه يو ډول پوډر جوړوي چي د پزي نسوار ورته وايي او ځيني خلك يې په پزه سوغکي. د تمبکو د استعمال دغه طريقه هم روغتيا ته بېخي ډېره مضره ده. ځکه چي د تمبکو زهري مواد د پزي له لاري جسم ته ننوزي.
دغه راز ځيني خلك تمباکو د سيګار او بېړۍ په بڼه او ځيني يې د پايپ په ذريعه استعمالوي چي دغه ټولي طريقې صحت ته ډېري مضري او د خولې د سرطان او نورو ناروغيو رامنځته کوونکي دي.

## تمباکو د اسلام له نظره:

څنګه چي تمباکو او له هغه څخه جوړ سوي توکي په ډول ډول شکلونو بېخي ډېر استعمال سوي دي، نو د ډېرو تجربو او طبي څېړنو له مخي د انسان روغتيا ته په قطعي توګه مضر جوت سوي دي. پر دې سر بېره لکه چي پوهيږو سګرېټ د چرسو، هېروئينو او نورو مهلکو او نشه يي موادو د استعمال ذريعه هم ګرځي. بنايي د تمبکو د کمپنيو لخوا د هغو په مرکباتو کي نور داسي شيان هم ګډيږي چي هغه هم حلال نه وي. د سګرېټو د کاغذ لوګی هم روغتيا ته ضرر رسوي. په دې هم پوهيږو چي انسانان خپله په مليارډونو پانګه چي بايد

پر ښو او د خیر پر لارو ولګیږي د تمبکو په استعمال سره په خپلو لاسونو سوځي. نو دا خو یو داسي توکی جوت سو چي د هغه خطر او ضرر انسانان او انساني ټولني د سترو ناورینونو سره مخامخ کوي.

دلته پوښتنه کېدای سي چي دا خطر چا او څله انسانانو ته متوجه کړی دی؟ جواب دادی چي د مسلمان او بې وزلي انسان طاغوتي، مادي پالو، انسان مخو، شیطان صفتو دښمنانو د مادي ګټو د تر لاسه کولو او د مسلمان او بې وزلي انسان د لا خوارولو، بې ځواکه کولو او له پښو اچولو لپاره او تر ډېره حده پخپله همدغه مسلمان او بې وزلي انسان د هغه د غفلت او بې پروایۍ له امله.

دا چي مسلمانان له دې امله د ستر هوډۍ، الوالعزمۍ، لوړ همتۍ، هوښیارۍ خواپاکۍ او سپېڅلي، پر مختللي او متمدن ژوندانه پر ځای په ډول ډول غلامیو، غفلتونو، اسرافونو، ټېټتیاوو او خوار، اسکېرلي او بې خونده ژوند او نورو قسم قسم ناوړو چارو اخته دي دا خو یو داسي خبره ده چي هر مسلمان ته د اسلام له روح څخه د هغې ناوړتیا څرګندیږي.په دې مورد کي بېله دې چي د اسلام اصولو او اساساتو ته په کتو سره د تمبکو او نورو ډول ډول نشو د هرڅه ژر مخنیوي لپاره جدي ګامونه پورته سي بل څه ته ضرورت دی؟ له آره په دې هکله اوسمهال اسلامي فقهي بحثونو او دلایلو ته اړتیا نه لیدل کیږي. خو د دې لپاره چي په دې هکله مو په قطعي توګه د کج بحثیو مخه نیولې وي او د دې شیانو له استعمال څخه د غوځي ډډې او د هغو د قطعي مخنیوي په خاطر مو وجدانونه را پارولي او را پاڅولي وي د قرآني آیتونو، نبوي احادیثو، او اسلامي عالمانو د څرګندونو په رڼا کي د تمبکو د حرمت په اړه څه څرګندوني کوو.والله ولي التوفیق.

بدن، ژوند او روغتیا د لوی څښتن عطیه ده. دا یو الٰهي نعمت، ستره پانګه او لوی امانت دی. د دې نعمتونو ساتنه او له ضررونو څخه ژغورنه ضروري چاره ده. له دې امله په خوړو کي غلطي او بې قاعده ګي یا د تاواني درملو استعمال مجرمانه عمل بلل سوی دی. په دې هکله زموږ ستر پیغمبر ﷺ موږ له عقله کار اخیستلو ته وربولي، لکه چي فر مایي: «لکل شئ دعامة ودعامة المؤمن

عقله». (رواه بغية الحارث) يعني هر شي ته ستون او تکيه ځای وي او د مومن تکيه ځای د هغه عقل دی. تر څو چې د انسان بدن روغ رمټ نه وي نه ديني چارې په ښه توګه تر سره کولای سي نه دنيوي چارې. له دې امله دی چې رسول ﷺ صحت د انسان د نېکمرغۍ يو مهم عنصر بللی دی. لکه چې فرمايي: «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ مُعَافًى فِي جَسَدِهِ عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا» (رواه الترمذي وابن ماجه). يعني له تاسي څخه چې څوك په داسي حال کې شپه سبا کړي چې د ځان بېره نه وي ورسره، صورت يې روغ رمټ وي او د همهغې ورځې خوراك ولري، ګواکې ټوله نړۍ د ده ده.

له دې امله د اسلام سپېڅلی دين يوازې د هغو شيانو د خوړلو او استعمالولو اجازه ورکړې ده چې بدن تندرسته کوي او د روحاني ځواك په پرمختيا کې يې مرستندوی باله سي. او د هغو شيانو خوړل يې منع کړي دي چې جسم ته تاوان پېښوي او روحاني ځواك مړاوی کوي. د دې مصلحت پر بنسټ فقهاوو رحمهم الله شرعي ضابطه ټاکلې ده چې: «ويحرم ما يضر بالبدن والعقل» «هر هغه څه چې بدن او عقل ته تاوان رسوي حرام دي».

نو پر دې بنسټ د تمبکو د ضررونو په هکله د دولتي چارواکو او اسلامي عالمانو پټه خوله اوسېدل يا پخپله د هغو په دغه عمل اخته کېدل او مېلمنو او نورو ته يې ورکول ښه کار نه ښکاري.

درسته ده چې په نبوي پېر او د اسلام په لومړيو وختونو کې اسلامي ټولنه د تمبکو سره بلده نه وه. له دې امله په احاديثو، د صحابه وو او تابعينو په آثارو او د مجتهدو امامانو په اقوالو کې د هغو د حراموالي يا حلالوالي په باره کې يادوني نسته، خو کله چې دغه بوټی د لسمي هجري پېړۍ په وروستيو کې په اسلامي ټولنه کې ښکاره سو له هماغه مهاله اسلامي عالمانو د هغو د استعمال د منعې په هکله ښکاروني کړي دي؛ ځينو په دې هکله بېلې رسالې وليکلې يا يې د خپلو فقهي کتابونو د نشه يې توکو په بابونو کې د هغو په هکله شرعي حکمونه بيان کړي دي او دا لړۍ تر اوسه روانه ده.

دا چې ځینو عالمانو د تمبکو استعمال مباح بللی او د هغو د جواز فتواوي يې ورکړي دي، دا د هغو عالمانو خبري دي چې د تمبکو مضر اثرات نه وه ورته ښرګند سوي، بلکي په لومړيو مهالونو کي دغه توکی په ځینو مواردو کي د بدن پر ځینو باندنيو برخو باندي د درملو په توګه استعمالېدی. لکه چې د ځينو دردونو د تسکين لپاره پر پوست وهل کېدی. چې البته اوس د دې بوټي د زياتو ضررونو د ښرګندېدو له امله د هغه ځيني ګټي د هغه د حرمت مانع کېدلای نه سي. لکه چې د شرابو او قمار ځيني ګټي په قرآني نص جوتي دي خو قرآن د حلت او حرمت دا ضابطه وړاندي کړې چې: ﴿وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَاۗ﴾ [البقرة: ۲۱۹] «د شرابو او قمار ګناه د هغو تر ګټو ډېره لويه ده». له دې آيت څخه دا ډېر مهم اصل معلومېږي چې په هر شی کي چې هر څونه بد هم وي څه ناڅه ګټي هم سته. خو په کار ده چې د ګټو او تاوانونو پرتلنه وسي. که يې نقصانونه او مفاسد زيات وه نو د لږو ګټو په خاطر هغه جايز نه ګڼل کيږي.

څنګه چې دغو عالمانو ته يوازي د تمبکو ناوړه بوی معلومېدی، له دې امله يې د هغه استعمال پر هوږه او پيازو د قياس له مخي مکروه باله. که چيري هغو ته د تمبکو ضررونه د اوس په شان معلوم وای هيڅکله به يې د هغو د استعمال د جواز فتوا نه وای ورکړې. نو اوس څنګه چې د تمبکو د خطرناکو ضررونو په هکله حقايق ښرګند سوي، ښايي ديني عالمان د دې خطرناك بوټي اوسنيو او راتلونکو ضررونو ته متوجه سي او د هغو د تحريم په هکله متحد موقف غوره کړي. لکه چې د ۱۴۰۲ سپوږميز کال د دربېمي خور له ۲۷ تر ۳۰ پوري د مدينې منورې په اسلامي پوهنتون کي د نشه يي موادو پر ضد د اوولسو اسلامي هيوادونو د سترو عالمانو په ګډون يو نړيوال کنفرانس جوړ سو او ټولو په متفقه توګه د تمبکو د حرمت فتواوي تائيد کړې.

د تمبکو او له هغو څخه د جوړو سوو توکو پر حراموالي ټول هغه آيتونه او احاديث چې د چرسو او ترياکو په بحث کي راغلي دي دلالت کوي. په تېره څنګه چې تمباکو خبيث او صحت ته ډېر مضر توکي باله سي او انسان په تدريج سره هلاکوي او له بله پلوه د تمبکو څکول د پيسو سوځل او اسراف دی ځکه يې نو استعمال جيدو اسلامي عالمانو حرام بللی دی.

البته کېدای سي چي پوښتنه وسي چي د تمبکو د منعي او تحريم په هکله خو د لوی ښتن په کلام او د حضرت نبيﷺ په سنتو کي ښرګند نص نسته. جواب دادی چي د قرآن کريم او نبوي سنت نصوص پر دوه ډوله دي: يو ډول يې عام دلايل دي، لکه هغه ضوابط او قواعد چي د قيامت تر ورځي پوري ډېر جزئيات تر هغو لاندي کيږي، بل ډول يې هغه دلايل دي چي د يوه ټاکلي شي په هکله دلالت کوي. د لومړي مثال هغه آيتونه او احاديث دي چي موږ د چرسو او ترياکو د حرمت په هکله ذکر کړل کوم چي په عامه توګه د تمبکو د ښکولو پر تحريم هم دلالت کوي. دوهم مثال د لوی ښتن دا قول دی:

﴿حُرِّمَتۡ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةُ وَٱلدَّمُ وَلَحۡمُ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ﴾ [المائدة: ۳].

ژباړه: «پرتاسي مرداره، وينه، د سرکوزي غوښه او هغه ښاروي چي له لوی ښتن پرته دکوم بل چا په نوم ذبح سوي وي حرام کړای سول».

په دې توګه د دغو دواړو ډولو نصوصو د دلالت په مقتضا د لوی ښتن بنده ګان ملزم دي.

## د تمبکو د حرمت په هکله د اسلامي عالمانو ښرګندوني:

د تمبکو د حرمت او ديني او روغتيايي اضرارو په هکله د ښلورو فقهي مذهبونو ډېرو جيدو عالمانو مفصلي ښرګندوني کړي دي. موږ دلته د حنفي فقهاوو او علماوو ښرګندوني په لنډه توګه را اخلو او د نورو په هکله په لنډو يادونو بسنه کوو.

1- ابوالحسن مصري حنفي فرمايي: «صحيح او نقلي آثار او ښرګند عقلي دلايل د تمبکو د حرمت اعلان کوي. د غه بوټی د ۱۰۰۰ع.کال په شاوخوا کي رامنځته سو. او تر ټولو دمخه د يهودو، نصاراوو او مجوسو (اورپالو) په ملکونو کي ښرګند سو او يوه يهود خلك د مغرب اقصیٰ په سيمه کي د طبابت په پلمه په رووږد کړل. بيا په روم کي د اتکلين په نامه د يوه عيسوي او په سوډان کي د مجوسيانو لخوا دغه بوټی خلکو ته ورو پيژندل سو او بيا په مصر او حجاز او نورو هيوادونو کي عام سو. لوی ښتنﷻ هر نشه کوونکی شی منع کړی دی. دغه

توکی د څکوونکي ظاهري او باطني غړي بې حسه او کمزوري کوي او که دا څوك نه مني لږ تر لږه خو مخدر او مفتر هرو مرو دی. ټول ډاکټران د هغه پر مضر والي متفق دي. بدن او شتوته تاوان رسوي او څکول يې د فاسقانو سره مشابهت دی. ځکه دا زياتره فساق او رذيل غوندي وګړي څکوي او څوك چې يې څکوي له خولې څخه يې ناسم او خبيث بوی هم راوزي».

2- محمد فقهي عيني حنفي د تمبکو د حرمت په هکله يوه رساله ليکلې ده او په لاندي څلورو لاملونو يې د هغو څکول حرام بللي دي:

(الف) د معتبرو طبيبانو د څرګندونو سره سم روغتيا ته مضر دي او کوم شی چې صحت ته مضر وي د هغه استعمال په اتفاق سره حرام وی.

(ب) د طبيبانو په اند تمباکو له مخدراتو څخه بلل کيږي او د مخدراتو استعمال شرعاً ممنوع دی. د يادولو وړ ده چې د تمبکو او د تمبکو غوندي شيانو په هکله د طبيبانو خبره د ټولو سلف او خلف (مخکنيو او وروستنيو) عالمانو په اتفاق معتبره او حجت ده.

(ج) د تمبکو بد بوی هغو کسانو ته تکليف رسوي چې نه يې څکوي. په تېره په لمانځه او نورو مجلسونو کي خو له دې امله تکليف بېخي ډېر وي. ان ملايکو ته هم له تمبکو څکولو څخه تکليف رسيږي. امام بخاري او مسلم له حضرت جابرﷺ څخه روايت کوي چي رسولﷺ وفرمايل: «څوك چي پياز او هوږه وخوري زموږ او زموږ له مسجد څخه دي ګوښه ګرځي او په خپل کور کي دي کښېني». البته په دې ټول پوهيږي چي د تمبکو بوی د پيازو او هوږي تر بوي ډېر بد دی. دغه راز په صحيحينو کي له حضرت جابرﷺ څخه روايت کوي چي رسولﷺ وفرمايل: «له کوم شي څخه چي خلك په تکليف کيږي ملايکي هم له هغه څخه په تکليف کيږي».

رسولﷺ دا هم فرمايلي دي چي: «چا چي کوم مسلمان ته تکليف ورکړ ګواکي ماته يې تکليف راکړ او چا چي ماته تکليف راکړګواکي لوی څښتن ته يې تکليف ورکړ». (دغه حديث طبراني په المعجم الاوسط کي له حضرت انس څخه روايت کړی دی).

(د) د تمبکو څکول فضول خرڅي ده او فضول خرڅي حرامه ده. (فتوٰی في حکم شرب الدخان ۵، ۶مخونه).

1- ابوالعباس احمد رومي حنفي د خپل «مجالس الابرار» نومي کتاب په دېرشم او شپږ نوییم، اووه نوییمو مجلسونو کي د چلم څکولو په هکله بحث کړی دی او په درو سرو مجلسونو کي یې د هغه حرمت ثابت کړی دی. هغه د فقهاوو په حواله وایي: له کوم چا څخه چي داسي بدبوی ځي چي خلك ځني په تکلیف کیږي نو له مسجد څخه د هغه ایستل لازم دي. که یې څه هم د لاسونو او پښو په نیولو او کشولو سره وي. خو د بریري او سر تر وربښتانو دې نه نیسي. نو له دې کبله اوس له مسجد څخه د ډېرو امامانو او مؤذنانو ایستل لازمیږي. ځکه د دغسي ډېروامامانو له خولو څخه د دغه توکي د استعمالولو په سبب بدبوی ځي. (مجالس الابرار ۶۸۵مخ، د کراچي د دارالاشاعت چاپ).

۲- علامه ابن وهبان په خپله نامتو منظومه کي وایي:

ویمنـع مـن بیـع الـد خـان وشربـه وشـاربه في الصـوم لاشـك یفطـر

یعني د تمبکو بیه او څکول دي منع سي او که یې په روژه کي څوك وڅکوي روژه یې ماتیږي.

1- حسن بن عمار مصري شرنبلالي حنفي د ابن وهبان د منظومې په شرح کي د الکراهیة والاستحسان په فصل کي د یوه مفصل بحث په ترځ کي د تمبکو د دیني او روغتیایي ضررونو او حرمت په هکله څرګندوني کړي او د هغو څکول یې قبیح عادت او د هغو څکوونکی یې دشیطان غوندي بللی دی.

2- د شاه ولي الله محدث دهلوي پلار شاه عبدالرحیم یو لوی عالم وو. هغه که څه هم د تمبکو د څکولو د قطعي حرمت قایل نه وو، خو د هغو د څکولو سخت مخالف وو. او شاه ولي الله له هغه څخه د تمبکو د قباحتونو په هکله ډېر دلایل وړاندي کړي دي. (وګورئ انفاس العارفین، اردو، د دیوبند د الفلاح چاپ ۱۷۵- ۱۷۷ مخونه).

3- علامه عبدالعظيم مکي چې په مکه مکرمه کې د احنافو مفتي وو د تمبکو د څکولو د ضررونو او حراموالي په باب په خپله رساله «تحذير الامة عن ملابسة الغمة» کې مفصلي خبري کړي دي.

4- عبدالغني مزجاجي حنفي د تمبکو مکروه تحريمي بلل تر ټولو غوره او مناسب قول بللی دی. (فتاوٰی مولاناعبدالحی ۵۴۰مخ).

۵- احمد عجبي حلبي حنفي د تمبکو په هکله يوه رساله ليکلې ده او پکښې ويلي يې دي چې د تمبکو څکولو مصيبت چې په ټولو هيوادونو کې عام سوی دی په ټولو مذهبونو کې بدعت منکره دی، د قرآن کريم په مجلس کې د هغو له څکولو څخه د سوء خاتمې (بد انجام) انديښنه ده. د هغو په حرمت کې شك نسته.لوی څښتن دي په خپل فضل او کرم موږ ځني وساتي.

نوموړي يوه خپله دغه رساله د عثماني خلافت مرکز آستانې (استنبول) ته وړې وه او د هغه مهال شيخ الاسلام ته يې ښکاره کړې وه چې د هغه لخوا هم تائيد او منل سوې وه. همدغه ستر عالم د درمختار په شرح کې هم د «الاشربه» په بحث کې د تمبکو څکول حرام بللي او د ځينو هغو کسانو دلايل يې چې تمباکو حلال بولي رد کړي دي. (الدخان مابين القديم والحديث ۱۷۰مخ).

1- د حلب يوه اسلامي عالم محمد بن عبدالله طرابيشي حنفي د تمبکو د حرمت په هکله درې رسالې ليکلي دي چې دوې په نثر او يوه په نظم ده.

2- محمد حيات مدني حنفي هم په ډول ډول دلايلو د تمبکو څکول حرام بللي دي.

3- عبدالرحمن شهيد نقشبندي سندي حنفي ويلي دي چې د تمبکو څکول مکروه تحريمي دي او ځنګه چې دا يو خبيث توکی دی په قرآني نص منع دی او استعمالول يې د الٰهي فطرت بدلون دی. (وګورئ الموقف الشرعي من التبغ والتدخين۹۸مخ).

4- عمر بن احمد مصري حنفي ليكي: د مصر، ديار روم (تركيې)، حجاز، او يمن د ډېرو عالمانو په اند تمباكو حرام دي. د دې توكي په حرمت كي هغه څوك توقف او تردد كوي چي ښوييدلی مكابر او معاند وي او لوی څښتن له بصيرته بې برخي كړی وي.

5- د شام د حنفيانو مرجع شيخ محمد الحامد د تمبكو پر حرمت د فتوا وركولو په ترڅ كي وايي: دا خبيث توكی دی او د هغه څكول د ځان هلاكول او بربادول دي. د هغو نقصانونه نوي طبابت جوت كړي دي، نو چي ضرر يې جوت دی حرمت يې هم جوت دی. (الموقف الشرعي١٠٢ مخ).

6- محمد بن عبدالباقي مكي حنفي د تمبكو د حرمت په هكله د «الحسام القاصم» په نامه يوه رساله ليكلې ده.

7- صبغة الله بهړوچي حسيني هم د تمبكو د حرمت په اړه د «الحجة والبرهان في تحريم الدخان» په نامه رساله ليكلې ده.

8- محمد الحامدي الزبيدي د تمبكو د حرمت په باب دوې رسالې ليكلي دي.

٩- د عثماني تركيې ستر مفتي شيخ الاسلام محمد بن سعدالدين حنفي د يوې منظومي استفتا په جواب كي منظوم جواب وركړی چي يو بيت يې داسي دی:

حرام شربه لاشك فيه محال ذكره بين الحلال

ژباړه: د تمبكو د استعمال په حرمت كي هيڅ شك نسته او د حلالو توكو په منځ كي د هغو يادول ناشونی كار دی.

د غه فتوا د عثماني سلطنت د وختو عالمانو هم تائيد كړه.

10- شيخ الاسلام عطاء الله رومي حنفي هم د تمبكو د حرمت ملاتړی وو.

11- دعلامه ابوزيد عبدالرحمن بن محمد عمادالدين عمادي حنفي چي د دمشق مفتي وو له كتاب «هدية ابن العماد لعباد العباد» څخه ځرګنديږي چي هغه تمباكو مكروه تحريمي ګڼل او د هغو

څکوونکی يې فاسق باله. عمادي د خپل دغه کتاب د «الجماعة» په فصل کي وايي: په هغه چا پسي اقتدا مکروه ده چي په سود خوړلو، يا کوم حرام کار کولو يا پر کوم بدعت او مکروه چاره لکه تمباکو څکولو باندي په پابندۍ او اصرار مشهور وي، په تېره چي تمباکو څکول د سلطان لخوا منع سوي هم وي. (وګورئ ردالمحتار/۵ ۴۰۷مخ).

12- د عبدالغني نابلسي پلار اسماعيل نابلسي حنفي په «الاحکام شرح درر الاحکام» کي ويلي دي چي مېړه کولای سي خپله مېرمن د تمبکو له څکولو څخه منع کړي، په تېره چي مېړه تمباکو نه څکوي. ځکه چي دا خوله بدبويه کوي. اعاذنا الله تعالی منه (لوی څښتن مودي ځني وساتي). (ردالمحتار/۵ ۴۰۶مخ).

13- په مصر کي د خپل وخت د احنافو امام ابوزيد عبدالرحمن مسيري حنفي مصري هم د تمبکو د څکولو د منعي فتوا ورکړې ده. (پورتنی ماخذ).

14- علامه محمد بن علي علاء الدين حصکفي حنفي دمشقي د «الدر المنتقٰی في شرح الملتقٰی» د کتاب الاشربه په وروستيو کي په واضح توګه د تمبکو څکول حرام بللي دي.

15- رجب بن احمد حنفي په «الوسيلة الاحمدية والذريعة السرمدية» کي ويلي دي: هغه فضول خرڅي چي له ګنهونو او منهياتو څخه شمېرل کيږي يو هم د تمبکو رانيول دي کوم چي دمسلمانانو د دښمنو کفارو لخوا رامنځته سوي دي. او خاص او عام ټول په اخته سوي دي. څنګه چي دا په لوړه بيه رانيسي نو په حرامو فضول خرڅيو کي راځي. او د دې ترڅنګ د هغو څکوونکي د هغو د بد بوی له امله مسلمانانو ته اذيت رسوي او په حديث کي راغلي دي چي: «کل مؤذ في النار» (کنز العمال ۳۹۴۸۴ حديث او الجامع الصغير ۶۳۴۴ حديث). يعني هر اذيت کوونکی به په دوږخ کي وي.

16- ابوسعيد الخادمي القونوي د «الطريقة المحمديه» د شرحي «بريقة محمودية» د لومړي باب د دوهم فصل د عادي تر بدعتونو په بحث

کي ليکي: که اصح داده چي تمباکو حرام نه دي نو څنګه چي موثقو عالمانو ډېر اختلاف پکښي کړی دی او د هغو په هکله يې فتواوي ورکړي دي نو د هغو په کراهيت کي هيڅ شك نسته په تېره چي بيا پاچا د عامه مصلحت لپاره د يوه مباح کار منع کړی وي د هغه متابعت خو نو بېخي اړين دی او په کوم څه کي چي علماوو ډېر لږ اختلاف کړی وي هغه شبهه رامنځته کوي او په التلويح کي وايي چي له شبهاتو څخه محرمات ثابتيږي. (وګورئ البريقة شرح الطريقة ۱/ ۱۳۴مخ).

17- د الفقه الاسلامي وادلته مؤلف ډاکټر وهبه الزحيلي د شيخ محمد بن جعفر الکناني له کتاب څخه د تمبکو پر حرمت باندي اوولس دليله را اخيستي دي او د هغو زښت زيات مفاسد يې په ګوته کړي دي. (وګورئ الفقه الاسلامي وادلته ۷/ ۵۵۰۸مخ).

18- ابوطالب ابن علي حنفي د تمبکو د حرمت په هکله د «البرهان علی تحريم الدخان» په نامه رساله ليکلې ده.

19- عيسی شهاوي مصري هم د تمبکو د حرمت په هکله يو کتاب ليکلی دی.

20- محمد عبدالباقي حنفي د تمبکو د حرمت په هکله د «المدافع البرهانية في مدافع المناکير الدخانية» په نامه رساله ليکلې ده.

21- علاء الدين رومي حنفي هم د تمبکو په هکله يوه رساله ليکلې ده او په هغې کي يې ويلي دي چي د تمبکو د حرمت په هکله ډېرو حنفي او غير حنفي عالمانو فتواوي ورکړي دي.

22- ملا حسين بن اسکندر حنفي هم د تمبکو د حرمت په باب يوه رساله ليکلې ده.

23- علامه مخدوم عبدالواحد سيوستاني سندهي د فتاوای واحدي په ۷۲مخ کي ويلي دي چي تمباکو د هغو شيانو له جملې څخه دي چي فساق باندي راغونډيږي نو د هغو استعمال فسق دی او د فاسق امامت که له ده پرته بل څوك وي مکروه تنزيهي دی. په فاسق پسي لمونځ کوونکی که څه هم د جماعت فضيلت ترلاسه کوي خو د تقي او

پرهېزګاره د امامت فضيلت نه ترلاسه کوي. لنډه دا چي د تمبکو څکوونکي امام ته دمخه کېدل او په هغه پسي اقتدا تنزيهي مکروه ده. که په بل چا پسي لمونځ امکان ولري نو هغه افضل دی که نه تر انفرادي لمونځ په فاسق پسي اقتدا اولٰی ده.

24- د احياء العلوم الدين او القاموس المحيط شارح محمد مرتضٰی الزبيدي پر تمبکو باندي دوې رسالې ليکلي دي چي يوه يې «اتحاف الاخوان في حکم الدخان» نوميږي او بله يې «هدية الاخوان في شجرة الدخان» نوميږي.

د هند له حنفي عالمانو څخه:

25- شيخ وجيه الدين علوي

26- مولانا صبغت الله.

27- مولانا عبدالغني صديقي سنبهلي.

28- مولانا حسن حسيني.

29- مولانا يار محمد احمد آبادي.

30- مولانا احمد الله احمد آبادي د تمبکو د حرمت فتواوي ورکړي دي.

31- مولانا عبدالحی لکهنوي د تمبکو د مطلق اباحت قايل نه وو، بلکي مکروه تنزيهي يې بلل خو دا يې هم ليکلي دي چي د تمبکوپر له پسې استعمالول او عادت کبيره ګناه ده. (وګورئ ترويح الجنان ۲۲ مخ).

32- حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي د امداد الفتاوٰی په ۴/ ۹۹ مخ کي د چلم او تمبکو څکولو په هکله اوږدي څرګندوني کړي دي چي له هغو څخه د هغه نفرت څرګنديږي او په ځينو مواردو کي يې د حرمت قايل دی. هغه په خپلو څرګندونو کي دا هم ويلي دي چي د تمبکو په څکولو سره د اهل نارو سره مشابهت راځي چي له خولې او پزي څخه يې دود وزي او بد او سخت مکروه دی او که څوك نشه کړي نو د هغو په حرمت کي څه شك نسته. بيا وايي: په هر حال د تمبکو څکوونکی له ګناه خالي نه دی او پر ګناه اصرار سخته ګناه ده. او د زياترو اهل کشفو له اقوالو او رښتنيو خوبونو څخه معلومه سوې ده

چي د تمبکو څکوونکی د نبوي محفل څخه بې برخي ليدل سوی دی او ځينو د تمبکو څکوونکی معذب ليدلی دی اعاذ نا الله منه شاعر څه ښه ويلي دي:

تمباکو نوش را سينه سياه است اگر باور نداري نی گــواه است.

33- علامه نواب محمد قطب الدين خان دهلوي د مشکوٰة شارح هم د تمبکو د حرمت قايل دی. (وګوری مظاهر حق۶۶ مخ).

34- مشهور خطيب او مبلغ مولانا محمد پالن حقاني ګجراتي په خپل کتاب «شريعت يا جهالت» کي د تمبکو په هکله اوږدي څرګندوني کړی او خلك يې د هغو له څکولو څخه پرهېز او ډېري کولو ته بللي دي.

35- مولانا احمد رضاخان برېلوي که څه هم د تمبکو د څکولو د اباحت قايل وو خو ليکلي يې دي: البته هغه چلم چي ځيني جهال يې د روژې په مبارکه مياشت کي د روژه ماتي پر مهال څکوي او په هغه سره په خپلو حواسو او دماغ کي فتور او سستي راولي او ستړګي او زړه په يوه عجيب حالت اخته کوي بې شکه چي ممنوع او ناجايز او ګناه ده او هغه هم د روژې په مبارکه مياشت کي معاذ الله. لوی څښتن دي دغسي خلکو ته هدايت وکړي.

دا وې د تمبکو د ديني اضرارو او حرمت په هکله د حنفي علماوو نظريې او څرګندوني فاعبروا يا اولی الابصار.

د تمبکو د ديني او دنيوي اضرارو او حرمت په هکله زښتو زياتو مالکي، شافعي او حنبلي علماوو ليکني کړي، فتواوي يې ورکړي او ډېري رسالې او کتابونه يې پر ليکلي دي. سعودي سلفي عالمانو هم د تمبکو د حرمت په هکله فتواوي ور کړي او رسالې يې ليکلي دي او ځينو علماوو لا دا هم ويلي دي چي که چا هغه استعمال کړي او يا يې د هغو تجارت کړی وي بايد د هغو له استعمال او تجارت څخه توبه وکاږي.

د ايران دولت په ۱۹۹۱ع.کال د تمبکو د منعي او تحريم او د تمبکو څکوونکو ته د دندو د نه ورکولو امر صادر کړ.

د نورو اسلامي او غير اسلامي مذاهبو عالمانو هم د تمبکو استعمال حرام بللی دی، لکه چي په جزيرة العرب کي اباضيه وو، په شمالي او لوېديزه افريقا کي تيجانيه وو، په سوريه او لبنان کي نصيريه وو او دروزو، په ايران کي بهائيه وو، په هند کي د سيکانو لسم ګرو ګوبند سيګهـ جي او د هندوانو د مذهب کتابونو د تمبکو استعمال منع کړی دی.

## د تمبکو په هکله وروستی خبري:

په مخکنيو پاڼو کي مو د تمبکو د ديني او روغتيايي اضرارو په هکله د پوهانو، ډاکټرانو، ديني عالمانو او محققينو څرګندوني، نظريات او فتواوي ولوستلې له هغو څخه څرګنده سوه چي ځينو علماوو او اکابرو چي د هغو د اباحت په هکله څه ويلي دي لـه دې امله وو چي هغوی د تمبکو په دغونو مهلکو تاوانونو نه وه خبر او څوك چي په لومړيو يا راوروسته کي د دغه خبيث بوټي په ډول ډول ضررونو پوهېدلي دي هغوی د هغو د حرمت په هکله فتواوي ورکړي دي.

په هر ترتيب د دغه مضر بوټي استعمال، کرل او خرڅول او رانيول د اسلامي شريعت له روح سره منافي کار دی. که زموږ له ديني عالمانو څخه څوك دغه توکی استعمالوي بايد له امامت او داسي نورو سپېڅلو چارو څخه ګوښه سي څو په دې توګه زموږ اسلامي ټولنه له دغه توکو او نورو ټولو ناولو مخدراتو څخه پاکه سي. زما له پياوړو، جيدو او متعهدو ديني پوهانو او عالمانو څخه په ډېر درناوي هيله ده چي د دين او ټولني د سمون او اصلاح په لړ کي د دغه منکر له منځه وړلو ته هم پام واړوي.

ځيني کسان ښايي ووايي چي نسوار، چلم او تمباکو خو زموږ ځيني لوی عالمان او پوهان استعمالوي، نو موږ هم د هغو د پيروی او اطاعت له مخي دا کار کوو. د دغو کسانو په جواب کي بايد عرض سي چي يو خو دغه ستر عالمان د انبياوو غوندي معصوم نه دي، نو د دوی د هر کار تقليد چي د شرعي سره سم نه وي جايز نه دی. لکه چي حضرت عليﷺ له رسولﷺ څخه روايت کوي «إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِي الْمَعْرُوفِ» (صحيح مسلم کتاب الامارة ۴۰

حديث). يعني اطاعت په ښېګڼو او نېکو چارو کي وي. بل موږ ته اسوه (نمونه او بېلګه) رسولﷺ دی، لکه چي لوی څښتن‌ﷻ فرمايي: ﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [الأحزاب: ٢١]. يعني «بې‌شکه چي ستاسي لپاره د لوی څښتن په رسول کي يوه خورا غوره نمونه (موجوده) ده». ځکه نو موږ ته د رسولﷺ لارښووني او تعليمات د تقليد وړ دي. نو تاسي فکر وکړئ چي رسولﷺ دغسي بدبويه توکي استعمالول؟ او که به بل چا استعمال کړي وای هغه يې ځان يا خپل مسجد ته نژدې پرېښاوه؟ او که دغه توکي په هغه وخت کي موجود وای د هغو له استعمالولو څخه به يې خلك نه وای منع کړی؟

دغه راز ښايي ځيني کسان ووايي چي اوس خو تمباکو ډېر کسان استعمالوي نو چي دا دونه ناوړه توکی دی او شرعاً يې استعمال ښه نه دی نو ولي يې دا دونه ډېر خلك استعمالوي؟ د دې خبري په جواب کي بايد وويل سي چي تاريخ شاهد دی چي د حق معيار په لږو او ډېرو اړه نه لري. بلکي د اصولو خوښوونکي او د حق پلويان زياتره لږ وي، خو دا د دې معنا نه لري چي موږ د ډېرو يا اکثريت اطاعت وکړو: لوی څښتن‌ﷻ فرمايي: ﴿وَإِن تُطِعۡ أَكۡثَرَ مَن فِي ٱلۡأَرۡضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنۡ هُمۡ إِلَّا يَخۡرُصُونَ ١١٦﴾ [الأنعام: ١١٦]. يعني «ای محمده که ته د زياترو هغو خلکو متابعت وکړې چي په مځکه کي مېشته دي، نو هغوی به تا د لوی څښتن له لاري واړوي. هغوی خو يوازي د ګومان پيروي او ګردسره اټکلي خبري کوي».

له دې څخه څرګنده سوه چي د حق او حقيقت پر لار تلونکي خلك تل لږ وي او دا هم جوته سوه چي د حق او باطل معيار د خلکو اکثريت او اقليت نه بلکي دلايل او براهين دي. يعني داسي نه ده چي کوم کار چي ډېر خلك کوي هغه ښه او حق وي.

نو ښه داده چي د بې ځايه خبرو او کج بحثيو پر ځای حق ته غاړه کېښېږدو او که غواړو چي سم او بشپړ مسلمانان واوسو او ټولنه مو له ناولتياوو او د مخدراتو او خبائثو او روغتيايي او اقتصادي تاوانونو څخه وژغورو او سپېڅلې او پاکه يې کړو بايد له تمبکو څخه په کلکه ډډه وکړو او د تمبکو او نورو ټولو

مخدراتو د استعمال د مخنیوي په لار کي وړ هلي ځلي وکړو او له دې مدرکه او د هغـو څخـه د را ولاړو سـوو نـاروغیو د درملنـي لـه درکـه پـه ملیونونـو لګېدونکي پیسې د خدای او د خدای د بنده ګانو د خیر اوښـېګڼي پـه لار کـي ولګوو.

# د قهوې او چايو زهر جني جوشاندې

## د قهوې تاريخ:

قهوه يوه وړه ونه ده چې بيضوي تېز نوکي پاڼې لري او سپين خوشبويه ګلان کوي. د مېوې دانې يې د الوبالو د مېوې غوندې دي، د دغودانو ميده پوډر په ايشېدلو اوبو او شيدوکي ايشوي او چيښي يې. وايي چې يوه پوونده چې«خالدي» نو مېدی او د ځينو په قول د يمن وو او د ځينو په وينا د حبشې وو، د يمن يا حبشې په غرونو کې د پسو د رمې پوولو پر مهال ولېدل چې د هغه کوم څاروي چې د غره يو ځانګړی بوټی وخوري نه بيديږي او تر نورو وختونو ښه او زيات وانبه خوري. نو هغه وو چې دغه پوونده له دغه بوټي څخه څه وخوړل څو د هغه اغېز پر خپل ځان وازميي. خو هغه ته د دغه بوټي خوړلو ښه خوند ورنه کړ او د هغه څه اغېز يې هم احساس نه کړ. بيا هغه دغه بوټی په اوبو کې وايشاوه او د هغه له چيښلو څخه يې هم خوند واخيست او هم يې په څرګنده د هغه د چيښلو له امله په ځان کې تکړه توب وموند.

د «قهوې» لفظ له اصله عربي ګڼل سوی او ويل کيږي چې دغه چوپان پر اينښی دی. په يوولسمه عېسوي پېړۍ کې يو عرب طبيب د هغې په خواصو پوه سو. بيا نورو پوهانو پر هغې د «کوفيا ارابيکا» (coffea arabica) نوم کښښېښود.

بيا په پنځلسمه عېسوي پېړۍ کې په يمن او د سره سمندرګي پر غاړو د هغې کښت او حاصلات زيات سول او په ټول عربستان، يمن او حبشه کې خلک د هغې په استعمالولو روږد سول. انګلستان ته قهوه په ۱۶۰۰ع.کال ورسېدل، خو تر ښېخي ډېره مهاله دونه ګرانه وه چې يوازي شتمنو چيښلای سول.کله چې په ۱۶۱۰ع.کال د انګرېزانو د شرق الهند کمپنۍ د منېجر هينري ميډټيون قافله د سره سمندرګي پر غاړه تم سوه نو هغه د قهوې د دانو زياتي بورۍ رانيولې او انګلستان ته يې يووړې.په ۱۶۴۴ع.کال قهوه د فرانسې پاچايي دربار ته ورسېده او شپاړسم لوئي د هغې لومړنۍ پياله وچيښل. څو کاله

وروسته طبیبانو د هغې د چیښلو سره سخت مخالفت وښوود. خو بیا هم په سلطنتي مانۍ او نورو کورو نو کي لږ لږ استعمالیدل.په ۱۶۵۴ع.کال په پاریس کي لومړنۍ قهوه خانه را ووتل چي یوازي قهوه پکښي چیښل کېدل. په اتلسمه پیړۍ کي ډېرو خلکو په تېره د علم او قلم څښتنانو د هغې چیښل پیل کړل.

څنګه چي سوداګرو او شتمنو ته د قهوې تجارتي ارزښت څرګند سو نو د هغې د کرلو په هکله د هغو ترمنځ مقابله پیل سول او هر یوه کوشش کاوه چي په خپله اړونده مځکه کي زیاته قهوه وکري، او په رشتیا یې د هغې له کرلو او سوداګرۍ څخه زیاتي ګټي تر لاسه کړې. د اوولسمي پیړۍ په منځ کي قهوه پر هر لوري خورا ډېره خپره سوه او له ویانا او امیسترډام څخه تر بوسټن او نیویارك پوري خلکو د هغې د چیښلو سره مینه پیدا کړه.کله چي ۱۷۱۴ کال پیل سو نو د قهوې شهرت د انګریزانو ډېر ډنګرشاعرالکزانډر پوپ (۱۶۸۸ - ۱۷۴۴م.) اړ کړ چي د هغې په ستاینه کي څه ووایي. اوس لکه چي د «اخبار جهان» مجلې د۲۰۰۲ کال د ډسمبر د ۱۶تر ۲۲ ګڼي په ۵۵ مخ کي وایي د یوې احصائیې له مخي یوازي په امریکا کي د کاله تر (۱۴۰) بلینو ګیلاسو زیاته قهوه چیښل کیږي.

قهوه اروپاته تر رسیدلو پنځه پیړۍ د مخه اسلامي نړۍ پیژندلې وه. هماغه مهال (د لسمي سپوږمیزي پیړۍ په لومړیو کي) د قهوې د چیښلو د منع کولو لپاره کوښښونه وسول ډېرو اسلامي عالمانو د هغې په هکله ډول ډول فتواوي ورکړې ان ځینو روغتیا ته د هغې د ضرر له امله د هغې چیښل حرام وګڼل. بیا د هغې د استعمال د مخالفینو او پلویانو تر منځ شخړې را منځته سوې، تر دې چي دا خبره د ازهر پوهنتون شیخ ته ورسیده. په ۱۵۳۱ع.کال هغه فتوا ورکړه چي دا حرامه ده، ځکه چي له هغې څخه سړی نشه کیږي. بیا د الازهر لخوا د قهوه خانو د تړلو حکم وسو. بیا احتجاجي غونډې وسوې او ربړه محکمې ته وړاندې سوه. قاضي د قهوې چیښل حلال وبلل. چي له دې امله په هر کور او کوڅه کي د هغې چیښل عام سول او په لویو لویو اسلامي ښارونو لکه مکه مکرمه، قاهره او استنبول کي دود سوه. د قهوې په هکله د عالمانو د

اختلاف او بالاخره حلال والي په هکله د ردالمحتار۵/ ۴۰۸مخ وګورئ. د طريقة محمديه د شرحي البريقه په ۲/ ۱۳۴مخ کي يې هم قهوه حرامه نه ده ګڼلې خو د هغې د چيښلوپرېښوول يې اولٰی يعني ښه کار بللی دی.

په هر صورت اوس پوهو او سترو ډاکټرانو او طب پوهانو جوته کړې ده چي قهوه او چای روغتيا ته ضرر لري. په دې هکله به تاسي په راتلونکو کرښو کي معلومات تر لاسه کړئ. خو له بده مرغه بيا هم ځيني کسان د چايو او قهوي دضررونو پر ځای د هغو د ګټو په هکله کله ناکله د مجلو او اخبارونو مخونه توروي. دا درسته ده چي هر څه ان شراب لا هم څه ګټي لري خو بايد وکتل سي چي ګټي يې څوني دي او تاوانونه يې څونه دي. لنډه داچي کومو کسانو چي د چايو يا قهوې په هکله ليکني کړي دي او د هغو روغتيايي ضررونه يې نه دي منلي تاسي يې معلومات وکړئ دغسي کسان يا په دې هکله ناپوهان جوت سوي دي يا د پانګوالو او پانګوالي نظام لاسپوڅي او مزدوران. چي غواړي په افغانستان کي د چايو بازار تر دې لا تود وساتي او د قهوې چيښل هم د چايو غوندي دود کړي او په دې توګه زموږ د بې وزلو خلکو په مليارډونو پيسې د پردو بانکونو ته ولېږدول سي.

## د چايو تاريخ:

چای له چيني ژبي څخه اخيستل سوی لفظ دی. د چايو ونه تر درو مترو پوري جګيږي، زرغونې دندانې لرونکي پاڼي لري، دانې يې کرل کيږي، دوه کلن نيالګي يې ايږدي، پر څلورم کال حاصل ځني اخلي او تر پنځوسو کالو حاصل ورکوي. خو ځيني ځايونه يې وني تر شل کلنۍ وروسته کاږي او نوي وني يې پر ځای ايږدي. د چايو پاڼي تر ټولولو وروسته په ځانګړو ماشينونو او آلو کي وچوي او تخميروي. خو د شنو چايو پاڼي تر ټولولو وروسته سمدستي په آزاده هوا کي وچوي او نه يې تخميروي.

ويل کيږي چي د چايو کښت لومړی په چين کي پيل سو. د چايو په هکله يوه لرغونې چيني کيسه مشهوره ده. وايي چي يوه بودايي مذهبي ته د نفس لېزيمه کولو لپاره د عبادت پر مهال خوب ورغی. کله چي را کښېناستی د خپلو

سترګو جرمي يې پرې کړې او پر مځکه يې وغورځولې. بيا له هغو جرمو څخه د چايو بوټي راو ټوکېد او يوه کوچنۍ اغزنه ونه ځني جوړه سوه. چې بيا د دغي وني په پاڼو کي د خوب د تښتېدو ځانګړنه وليدل سوه. دغه راز د نورو افسانوي رواياتو له مخي ويل کيږي چې چاى په چين کي د عيسٰیؑ تر زيږېدو ٢٧٠٠ کاله د مخه لا د درمليز چيښاك په توګه پېژندل سوي وې، چي په اوبو کي به يې د هغو تازه پاڼي تر ايشولو وروسته استعمالولې. خو د دريمي عيسوي پېړۍ په بهير کي چاى هلته ورځنى چيښاك وګرځېد او د هغو کښت او پروسيس پيل سو. بيا د چايو د کرلو، پروسيس او چيښلو د لارو چارو خپرېدل په ٣٥٠ع.کال په پراخه پيمانه پيل سول. په ديارلسمه عيسوي پېړۍ کي د هغو تخم جاپان ته ورسېد او هلته هم د هغو کرل پيل سول.

په شپاړسمه پېړۍ کي چاى په اروپا کي د يوه فيشني چيښاك په توګه استعمالېدلې او سمدلاسه په امريکا کي هم د هغو چيښلو رواج وموند.په ١٦٥١ع.کال په انګلستان کي د يوه پاونډ (نژدې نيم کيلو) چايو بيه لس پونډه وه. په هغه زمانه کي دا ډېره لوړه بيه وه. دغه مهال په يوه کور کي د چايو شتون د شتمنۍ نخښه ګڼل کېدل. پوهو ښځو به چاى په ځانګړو لوښو کي د ګېڼو غوندي ساتلې. په ١٧٢۴ع.کال په برما او د هند په آسام کي د چايو کرل پيل سول، خو ډېري ګراني وې. بيا کله چې په ١٨٢٨ع.کال د چايو بوټي د ځنګلي ونو غوندي ډېر را شنه سول د هغو کښت هم ډېر سو او بيه يې هم را کښته سوه. په دې ډول د چايو کرل او چيښل په نورو ډېرو ځايونو کي دود سول.

## د قهوې او چايو ګټي اوضررونه:

لکه چې د مخه مو وويل په قهوه او چايو کي به هرو مرو څه ګټي وي خو د پوهو او تجربه لرونکو ډاکټرانو او طبيبانو ليکنو او څرګندونو ته چې لږ څه ځير سو پوهيږو چې دغه توکي د انسان روغتيا ته ستر تاوان رسوي.

که څوک غواړي چې لږ تر لږه دي ښکلى پاته سي تر ټولو لومړى دي چاى او قهوه پرېږدي. که د چايو او قهوې پر ځاى ايشېدلي اوبه وچيښل سي ښه به وي. ايشېدلي اوبه په بدن کي د هضم آلات د خپلو دندو د ښه تر سره کېدو

لپاره په خو ځښت راولي، اینه صافوي او د جسم د رنګ په ساتلو کي ستره مرسته کوي.

یو هندی لیکوال د «د حسن وصحت» په نامه کتاب په ١١١ــ ١١٣ مخونوکي وایي:

«د ډېرو لږو خلکو دې خبري ته فکر کیږي چي دوی چي د سهار د ناري په مهال کوم چای او قهوه یا کاکاو (Coco) چیښي، د دوی د دې چیښاک اغېزه د دوی پر جسم او دماغ باندي څه ده. ډېرو نامتو طبیبانو چای او قهوه بده ګڼلې او د دوی دا بد ګڼل بېله معقو له دلیله نه دي. چای او قهوه په جوړښت او اوصافو کي یو له بله سره ورته دي. په دې دواړو کي یو قابض توکی چي «ټینک اسیډ» (Tannic Acid) ورته وایي سته چي په چایو کي په سل کي (١٥) او په قهوه کي په سل کي (٥) موجود دي. په دواړو کي داسي یو له منځه تلونکی، لطیف او خوشبویه توکی سته چي د وچېدو او سره کېدو پر مهال څرګندیږي. په دواړو کي یو ډول جوهر هم سته چي د چایو دا په «تئین» (Thayne) او د قهوي دا په «کافئین» (Caffeine) شهرت لري. د دغو له تجزیې څخه څرګندیږي چي دا وژونکي زهر دي چي د هغو له یوازي خوړلو څخه انسان او حیوان سمدستي مري. له دې تجربو څخه جوته سوې ده چي زموږ د چایو او قهوې جوشانده په حقیقت کي زهرجنه ده او دا زهر د تمباکو د نیکوټین سره یو شی دي. ځکه نو زموږ جسم ته هرومرو لږ و ډېر نقصان رسوي. که څوک د چایو د چیښلو څخه پرهیز وکړي نو پرخوړو باندي به د ناړو ترشح (راوتل) بند کړي او چي بند نه سي، نو معدې ته درومي او بیا معده خواړه نه سي هضمولای.

دا خبره څرګنده ده چي له ډېرو چایو چیښلو څخه عصبي کمزوري پیدا کیږي. بد پرهیزه چای چیښونکي به ژر یا وروسته په عضلاتي ریږدېدا (رعشه)، بدهضمي، دماغي خراش او بي خوبي اخته سي.

یوه ډاکټر د قهوې په هکله ویلي دي: کمزورو یا ذکي الحس وګړو ته دي معلومه وي چي که دوی نوی د قهوې په چیښلو پیل کړی وي، نو د خوړو تر خوړلو وروسته د تیزي قهوې له چیښلو څخه به د دوي هاضمه سمدستي

خرابه سي. دا جوته سوې ده چي نازک مزاجو او زود رنجو ښا غلو ته د قهوې چیښل هیڅکله ښه نه دي. دا یوازي محرک شی دی او د جسم غړي ډېر ژر ځني خرابیږي او انسان ډنګر او ژړ سي. تر چایو او قهوې کوکو یا چاکلیټ ډېر ښه دي. دا جسم ته ډېر لږ ضرر رسوي چي د غذا په ډول د خوراک او چیښاک دواړو ځای نیسي. ځکه چي په هغو کي غوړزګي، البومین او نشایسته لرونکي توکي سته».

د هندوستان یو نامتو طبیب حکیم هري کشن لا ل په خپل کتاب «پیغام جواني» کي د نورو ناوړو شیانو تر څنګ د چایو او قهوې ډېر چیښل هم د صحت او ځوانۍ د بربادۍ عامل بولي او د تیزي مساله لرونکي غذا، شرابو، تمباکو، چای او قهوې د نه استعمال توصیه کوي. د یوه بل کتاب چي «په خوړو سره درملنه» نومیږي په ۵۴مخ کي لیکلي دي: «چای خوب لږ وي او که ډېر وخت پرله پسې وچیښل سي، نو وینه خرابوي، معده کمزورې کوي او د احتلام او انزال شکایتونه هم رامنځته کوي».

دوه انګریزي ډاکټران فنبار ګارټن او ډینیل سټیل د خپل کتاب « Peptic ulcer» (د نس خوږ) په ۲۴ مخ کي وایي: «په امریکا کي تر سره سوو تجربو ښوولې ده چي هغه زده کوونکي چي ډېره قهوه یا کوکا کولا چیښي د هغو په راتلونکي ژوند کي د نس د خوږ (د معدي د زخم) ناروغي ډېره لیده سوې ده. مګر چای او شراب داسي اغیزه نه ښندي». خو یو بل لیکوال په «د نس د خوږو درملنه» نومي کتاب کي د چای، قهوې او نور چیښاک تر سر لیک لا ندي لیکي چي: «داسي ټول مشروبات او هغه چیښاک چي الکحل په ګډه وي هرومرو په نس کي تیزابي تعامل پیدا کوي او باید د هغو له چیښلو څخه پرهیز وسي».

د «صحت و زندګي» کتاب په ۱۹۱ مخ کي لیکي:

«په چایو کي «تئین» (د چایو جوهر)، البومین، ډیکسټرین، ټنین (Tannin) او معدني او نباتي اجزا او نور سته. تئین او ټنین د هغو اغېزمني برخي دي. د چایو له ډېرو چیښلو څخه چي بدن ته تئین ډېر ورسیږي نو د ډول ډول ناروغیو ور ته مخه سي؛معده او هاضمه خرابه سي؛ د کولمو

ناروغۍ را منځته سي؛ د زړه دربی دونه تېز سي چي د هغه د اختلاج او غورځېدو کیفیت رامنځته سي. د پلاو پلاو تحریك له امله اعصاب ضعیفه سي، مثانه هم کمزورې سي او په وارو وارو متیازو راتلو ستونزه زیاته سي؛ ګېډه هم ضعیفه سي او د سړي شی خوا ته نه کیږي؛ څه چي خوري هغه هم ښه نه سي هضمولای. د چایو بل عیب دادی چي وینه خرابوي او خوب لړوي او د محرکو اغېزو له امله د نارینتوب ځواك کمزوری کوي، مني خرابوي او د جریان، احتلام او د انزال دسرعت ستونزي هم رامنځته کوي.

د فرانسې یوه نامتو ډاکټر موسیو الیوي د خپلو تجربو پر بنسټ لیکلي دي: ځوك چي چای ډېري چیښي د هغه په دماغي ځواکونو کي خرابي را منځته کیږي. دماغ نازك رګونه یې کمزوري کیږي، د اوربدو په ځواك کي یې ضعف پیښیږي او په غوږونو کي یې ډول ډول آوازونه مونده سي، زړه یې غورځي او د ځېرې رنګ ژړ واوړي. دغه راز د ډاکټر بلارډ نومي په وینا ځوك چي چای چیښي څه یې خواته نه کیږي او د بدهضمۍ، د زړه دربی او داسي نور عوارض هرو مرو ورپیښیږي. یو شمېر نورو ډاکټرانو هم د چایو په هکله دغسي خبري کړي دي».

دغه راز د پورتني کتاب په ۱۹۴ مخ کي د قهوې په هکله کاږي: «قهوه هم د چایو غوندي روغتیا ته ضرري ده؛ بدهضمي او بې خوبي رامنځته کوي؛ د هغې له پرله پسې چیښلو څخه د هاضمې په کار کي سستي راځي، د زړه سوی او دربی او د لاسونو او پښو رېږدېده رامنځته کوي. اعصابو او دماغ ته تحریك او ځواك بخښي، نبض تېز وي او خُوَلې او متیازي په زیاته اندازه خارجوي».

یو بل ایراني ډاکټر د «اطلاعات پزشکي» په نامه کتاب په ۵۰۷ مخ کي لیکي:

«قهوه او چای تقریباً له یوې کورنۍ څخه دي. په قهوه کي کافئین او په چایو کي تئین سته او دواړه کېمیاوي مواد باله سي. دغه دوې مادې چي الکالوئیډ یې بولي تېنیك اسیډ لري چي که تجزیه سي یوریك اسیډ (aciduric) تولیدوي، له دې امله ډاکټران د هغو چیښل د بندونو د پاړسوب او درد (نقرس) او د پښتورګو د ډبري ناروغانو ته نه توصیه کوي. قهوه په

ځانګړې توګه پر اعصابو اغېز ښندي. که لږ وچيښل سي ځوك نه مسموموي. که سهار د شيدو سره يوه خوږه پياله تر خوړو وروسته وخوړل سي بده نه ده او ضمنا څنګه چي لږ څه قبض ماتوونکې ده د قبضيت د ماتولو لپاره ښه ده. او سړی کار ته چمتو کوي، خو په دې شرط چي په خوړلو کي يې افراط ونه سي. که نه سړی د الکحلو غوندي مسموموي. دغه راز د چايو مسموميت تر قهوې لږ دی، خو څنګه چي تر قهوې ډېري خوړل کيږي خطر يې زيات دی په تېره چي ډېري ګاټه وي. د چا چي فشار لوړ وي، يا ډېر عصبي کيږي يا د زړه په کسالت اخته وي بايد د چايو او قهوې له چيښلو ډډه وکړي».

بل ايرانی طبيب د «راز سلامتي وطول عمر» په نامه کتاب په ۵۴۶ مخ کي د «چای، قهوه او کاکاو» تر سر ليك لاندي د يوه اوږده مطلب په ترځ کي ليکي:

«د چايو پاڼي تئين، مرفين، کوکائين، کودئين، ټينين او داسي نور لري چي له دغو څخه هر يو مهلك او خطرناك سموم دي، د انسان ګېډې ته ضرر رسوي او ژړ وي او ډنګروي يې. دغه راز چای د پوهانو د څېړنو له مخي راډيو اکټيف تشعشعات لري او له دې امله هم بدن ته ډېري مضري دي. په بدن کي يوريك اسيډ زياتوي او د نقرس ناروغي توليدوي.

د هاوايي د پوهنتون يو استاد ډاکټر ډوريس ام هيلګر وايي موږ ته جوته سوې ده چي چای او قهوه د انسان په بدن کي ويټامين (B1) له منځه وړي. کله چي يو انسان د دې ويټامين د لږوالي سره مخامخ سي ستړی او عصبي وي، ربړدي، د شپې لخوا يې بدن په موضعي دردونو اخته کيږي او د ځان خارښت ور پيښيږي. دغه حالت د پښو د عضلو په ربړدېدو او د پښو د تلو په خارښت سره پيل سي، بيا د چا شی خواته نه کيږي او پای کېدای سي د مړيني لامل يې سي».

د «صحت بخش عادات» نومي کتاب په ۱۵۷ مخ کي ليکي: «په تش نس د چايو له چيښلو څخه د اشتها کمی او د هاضمې خرابي رامنځته کيږي. د وخت په تېرېدو سره د چايو د ټينين د اغېزو له امله د ګېډې بلغمي غشا (د

نس دننه نرۍ پوست؛ (Mucos Membrane) ته هم نقصان رسېدلای سي او په کولمو کي سوی احساسيږي».

په دې وروستيو کي د يوې نړيوالي راډيو يوې خبريالي د افغانستان د ننګرهار اړوند د آدم خيلو په نامه د يوه کلي د يوه اوسېدونکي ګل الدين نومي سره، کوم چي عمر يې يوسل وپنځلسو کالو ته رسېدلی دي او اوس لا هم ښه تکړه دی، مرکه کړې ده، هغه په دې مرکه کي د خپل عمر د ډېرښت راز دا بللی چي تمباکو او چاي يې نه دي استعمال کړي.

يوه بله خبره چي ډېره مهمه او د يادولو وړ ده هغه دا ده چي په هند کي د چايو د پاڼو په ټولولو او د هغو د پروسيس او تخميرولو په بهير کي خواپاکي هيڅ نه مراعاتوي.

## دقهوې او چايو د چيښلو له امله د کوچني نقصان:

د «اخبار جهان مجلې» د ۲۰۰۱ع.کال د جنورۍ د ۱۵ - ۲۱ ګڼي په (۵۸) مخ کي ليکي: که اميندواره ښځه هره ورځ د قهوې پنځه ګيلاسه وچيښي نو هغې ته به د کوچني د نقصان (د حمل د اسقاط) خطرونه تر دوه برابره زيات سي. دا خبره تر اوسه پوري د کافئينو او د حمل د اسقاط په اړه د تر ټولو ستري څېړني څخه جوته سوې ده. له آره له لومړيو وختونو څخه ځينو ډاکټرانو شبهه درلوده چي کافئين د حمل د ضايع کېدو سره اړه لري. له دې کبله هغوی دغسي مېرمنو ته سلا ورکوي چي له کافئينو څخه پرهيز وکړي.

د نيو انګلينډ جرنل آف مډيسن د وينا سره سم که دغسي مېرمني د ورځي د امريکايي قهوې له يوه څخه تر درو ګيلاسو وچيښي نو په هغو کي به د حمل د اسقاط خطره ۳۰ فيصده زياته وي. البته له درو څخه تر پنځو ګيلاسو پوري دغه خطره تر۴۰ فيصدو رسوي او تر پنځو يا تر هغو زيات ګيلاسونه خطره تر دوه برابرو زياتوي.

د حمل په دوران کي د چايو د ناوړو اغېزو په هکله د «صحت بخش عادات» نومي کتاب په ۱۵۸ مخ کي ليکي: «په ۱۹۷۳ع.کال د اکسفورډ پوهنتون يوه څېړونکي د اميندوارۍ په وخت کي د چايو چيښلو او د شديدي

دماغي خرابۍ (Anencephalous) په هکله د شمېر يوه مهمه اړيکه څرګندده کړه. د برتانيې هغه ميندي چي پورتنۍ ناروغي ولري او چای خوري د هغو هيوادونو د ميندو په پرتله چي چای نه خوري لس واره زيات مړه کوچنيان زېږوي او يا د پيدا کېدوسره سم مري.

## بوره يا سپين زهر

بوره کومه چي ډاکټرانو سپين زهر بللې ده په لومړيو وختونو کي خلکو ډېر بيې او نادره مساله ګڼل او د خوړولو لپاره يې له شاتو څخه کار اخيستی. لومړی يې بوره له ګنيو (شکرني) څخه جوړول او خورا ګرانه وه. بيا سوونه کلونه وروسته خلکو ته څرګنده سوه چي له جغندرو څخه هم بوره جوړيږي. اوس يې له ګني او جغندرو دواړو څخه جوړوي.

پر بوره باندي په جوړښتونونو (کارخانو) کي د هغې بشپړي بڼې ته تر رسېدو پوري ډول ډول کېمياوي پړاوونه تېريږي. لومړی د جغندرو شربت باسي او دوه نيم فيصده د اهاکو شربت په ګډوي. تاسي پوهېږئ چي ډبري په کوره کي د پخېدو په پايله کي اهاک ګرځي او چي وخوړل سي صحت ته به څونه تاوان لري؟ بيا دغو شربتو ته لس فيصده يو ډول سوډا وراچوي چي هغه هم وژونکي او سوځونکي زهر دي. بيا د جغندرو د څګ د له منځه وړلو لپاره وازګي ور اچوي او بيا يو بل ډول سوډا په ګډوي څو دغه وازګي له منځه يوسي. بيا د دې لپاره چي جغندر سپينه بوره سي د فاسفورو (Phosphore) په نامه يوډول کېمياوي مواد په وهي. دغه مواد يوه تېزه سوځونکي او وژونکي سموم دي. د اورلګيتو په جوړښتون کي که په ګوګړو فاسفور ګډ نه کړي، اور نه اخلي. بيا د بورې د شفافتيا، او خيرو ليري کولو او داسي نورو لپاره څو ډوله داسي مواد په ګډوي چي ټول قوي او وژونکي سموم دي او د انسان بدن ورو ورو له کاره اچوي او د ډول ډول ناروغيو اخته کېدو ته يې برابروي. په دې ډول په ظاهره سپينه شکره خو په اصل کي د ناروغيو تومنه جوړيږي.

له دغسي بورې او تر دې بترو نورو خوږو څخه د نړۍ ټول خواږه خواره جوړيږي او موږ خو يې بيا په چايو کي تر هر چا زياته استعمالوو. د امريکا،

انګلستان او ډېرو نورو ځايونو د طب پوهانو ډول ډول ژورو څېړنو جوته کړې ده چې د بورې او په هغې له خوږو خوږو څخه د زړه، شريانونو، پښتورګو، اعصابو، چاغښت، شکري، کلسټرولو، لوړ فشار، د رګونو د بندېدو، عصبانيت، سټريا، سردرد، ګنسيت، هېري، تدريجي مسموميت، بدهضمۍ، د تناسلي ځواك د مړژواندي کېدو او ژر سپين برېرتوب ناروغۍ رامنځته کيږي او د ډېرو مړينو پايله د بوري استعمال بلل سوی دی. ان وايي چې د بورې او خوږو خوږل د انسان په وجود کي د غوړو په پرتله ډېر کلسټرول رامنځته کوي. په دې وروستيو کلونو کي ډاکټران دې پايلي ته رسېدلي دي چې بوره د بشر د جسمي سلامتيا د لومړۍ درجي دښمنانو څخه ده. حتی ځيني وايي چې که بوره نه وای اختراع سوې انسان به پنځلس کاله زيات عمر کولای او د هغو دريمه برخه به لږ ناروغه کېدلای.

له بده مرغه په موږ کي ځيني مېندي واړه ماشوم ته د قوطيو په شيدو کي بوره ور اچوي او ورکوي يې. بيا چې څه لوی سي مور او پلار او نور خپلوان يې ډول ډول چاکلېټونه، ژاولي او داسي ډېر نور ورته ورکوي چې په دې ډول کوچنی په خوږو روږد او عادي سي او په پايله کي چې پنځه کلنۍ ته لا نه وي رسېدلي دغاښو په ناروغي اخته سي. بوره وړو ماشومانو ته نور زښت زيات ضررونه هم لري. څنګه چې د دوی ګېډه سخت شيان نه سي هضمولای. نو کوچنيانو ته د خوږو شيانو ورکول د هغو د مقاومت ځواك له منځه وړي او په پايله کي د ډول ډول ناروغيو ښکار سي. د امريکا يو ډاکټر «سيل حارث» وايي کوچنيانو ته د ډېرو خوږو ورکول په هغو کي د هډوکو د ناروغيو امکانات زياتوي او بدن يې د ډول ډول مکروبونو په وړاندي له مقاومته اچوي.

له بله پلوه تاسي وګورئ چې ستاسي څونه دوستان او خپلوان د غاښو په ناروغيو اخته دي او د غاښو د ډاکټرانو کتنځايونوته څونه وګړي ورځي. دا زياتره د بورې او په هغې د خوږو خوږو له شامته دي.

په امريکا کي چې بوره ډېره استعماليږي خبره تر دې رسېدلې ده چې له شل کلنۍ څخه تر دېرش کلنۍ پوري ډېر ځوانان له خپلو طبيعي غاښونو څخه بې

برخي سوي او مصنوعي غاښونه او زامي يې ايښي دي. د بورې بله ستره خرابي داده چي انسان د چايو او تمبکو په څېر د هغې د خوړلو عادي کيږي. تاسي چي کله هغه شيان چي بوره په ګډه وي لکه شربت يا چاى يا داسي نور وخورئ نو ستاسو بدن د دې خطرناکي پېښي د مخنيوي او مدافعې لپاره خپل ټول ځواکونه فعال کړي، تاسي په ظاهره او سمدستي څه تکړه توب احساس کړئ او دغه شيان بيا بيا استعمالوئ خو خبر نه ياست چي بدن مو د دې توکو په وړاندي داسي عاجز او زبون سوى وي لکه د امريکايانو او نورو کفارو پوځيان چي د عراقيانو او افغانانو په وړاندي لالهانده او سربداله سوي دي.

له بده مرغه نن زموږ نژدې شل فيصده خواړه بوره او شيريني جوړوي. اوس چي سرابن او د دين، وطن او خلکو پر ځاى پر پيسه مين پانګوال او سوداګر په عامه توګه په تېره د کوچنيانو لپاره څه شيان جوړوي او مادي پال راډيو، ټلويزيون او اخبار والا يې اعلانوي يا له پلاستيکو څخه جوړي سوي بوغۍ او ناوکۍ وي يا له بورې او نورو ضررناکو خوږو څخه جوړ سوي آيس کريم، شربتونه، مرباوي، کيکونه، چاکلېټ، پلمېټ، بسکېټ، ژاولي او په ډول ډول نومونو نور څه. چي ټول زموږ د لويانو او ګلاليو ماشومانو روغتيا په تېره د هغو غاښو ته ستر او نه جبيره کېدونکى ضرر رسوي.

بده لا داده چي په ځينو خوږو خوړو او ډوډيو کي د دې لپاره چي ښه وپړسيږي او د يخي جوړولو ځيني خاوندان د دې لپاره چي يخى ژر توليد سي د «امونياك» (Ammoniac) په نامه يو ډول مضر ګاز کاروي کوم چي د نوشادرو، اهاکو يا ځينو نورو چټلو شيانو څخه په لاس راځي. چي هم وژونکي سم دي او هم ښايي چټل او ناپاکه وي.

نېکمرغه هغه څوك دى چي په کوچنيوالي يې مور او پلار د بورې او دغسي نورو خوږو خوړو څخه منع کړى وي.

د بورې او نورو خوږو خوړو پرېښوول څه ناشونى کار نه دى، خو لږ څه ستونزمن هرو مرو دى. څوك چي د خپل ځان او اولادونو د سلامتيا سره مينه لري بايد د بوري او د هغې له خوږو څخه په تدريج سره شلوون وکړي او

کرار کرار يې پر ځای د هغو خوړو استعمال پيل کړي چې خوښ يې وي او بوره ونه لري.

که د نړۍ واکمنانو په رشتيا د خپلو ولسونو د روغتيا سره مينه درلودای پر ډېرو دغسي مهلکو خوړو به يې بنديزونه لګولي وای او که يې دا نه کولای لږ تر لږه خوبه يې د سګرټو د قوطيو غوندي د دغو زهرجنو توکو پر قوطيو او بوتلونو هم ليکلای چې: «خبر اوسئ! د خوږو شيانو ډېر استعمال غاښو او روغتيا دواړو ته مضر دی، ځکه نو له هغو څخه پرهېز وکړئ».

په هر صورت تر څو کولای سئ له هغو طبيعي او اومو موادو څخه چې په بوره نه وي خواږه سوي استفاده وکړئ. ترکاری، مېوې او حبوبات ډېر استعمالوئ. که مو خوږو ته هوا کېدل له شاتو يا پاکي ګوړي، وچو انځرو، وچو توتو يا داسي نورو کار اخلئ. شات په جسم کي د مصنوعي تکړه توب پر ځای رشتيانی ځواك او پياوړتيا رامنځته کوي او صرف په شلو دقيقو کي د بدن برخه ګرځي. دغه راز تاسي کولای سئ د مصنوعي قندو پر ځای د مېوو له طبيعي قندو څخه ګټه واخلئ. انګور ببخي ډېر قندي مواد لري. په مڼو او امرتو کي له ۶ څخه تر ۸ پوري قندي مواد سته. وچي مېوې له ۴۰ څخه تر ۶۵ پوري قندي مواد لري. دغه راز په خرما، کشمشو، ګنيو، چغندرو او داسي نورو کي هم زيات قندي مواد سته. (د يادو سوو توکو د روغتيايي ګټو په هکله «زمونږ خواړه او درمليز توکي» کتاب وګورئ).

# غنم، اوړه او ډوډۍ

غنم د لوی څښتن ﷻ له لويو نعمتونو څخه باله سي. د انسان له هر ډول خوړو څخه خوا توريږي خو د غنمو له ډوډۍ څخه يې هيڅ خوا نه نوريږي او له کوچنيوالي څخه د مړيني تر ساعته يې خوري. د نوو څېړنو له مخي په غنمو کي دونه ګټور مواد، پروټينونه، نشايسته، ويټامينونه، پاسفورس او لږ څه ځانګړي غوړي سته چي تقريباً د انسان د بدن اړتيا ليري کوي او ځواك او ودي ته يې ګټور تماميږي.په غنمو او داسي نورو غلوکي داسي مواد هم سته چي د کلسټرولو د توليد مخه نيسي او زموږ د بدن د اړتيا وړ معدني مالګي او ويټامينونه، په تېره ويټامين B او نور بشپړوي. دغه راز يوه (۳۵۰) ګرامه ډوډۍ (۸۵۰) کالورۍلري، چي د يوه انسان د ورځنۍاړتياوړ کالوريو ۱/۳ برخه تامينوي. هغه کسان چي کار کوي او زياتو کالوريو ته اړتيا لري اکثره وختونه د څه زياتي ډوډۍ خوړل ورته کافي باله سي. (کالوري د تودوښي يا حرارت د اندازه کولو مقياس[واحد] يا د ځواك يا انرژۍ د اندازه کولو واحد چي د خوړو په واسطه په بدن کي پيدا کيږي؛ (Calorie). له بله پلوه څنګه چي غنم او نوري غلې آسانه هضم کيږي ځانګړې غذايي ارزښت لري. دغه راز څنګه چي غنم نسبتاً ارزانه دي نو هغه کورنۍ چي لږ ګټه لري کولای سي د غنمو په ډوډۍ خپله لوږه ليري کړي.

له بده مرغه اوسمهال په ډېرو ځايونو کي په تېره په اروپايي هيوادونو کي د ډول ډول خوړو د دوديدو له امله د ډوډۍ خوړل لږ سوي او د بورې مصرف زيات سوی دی. په داسي حال کي چي د غنمو او نورو غلو د نشايستې قند تر سپيني بوري ډېر ګټور دي. ځکه چي بوره د هغې د توليد او تصفيې په بهير کي له خپله اصلي حالته وزي او روغتيا ته ډېره ضررناکه تماميږي. په تېره کوچنيان چي خواږه خورا ډېر خوري، د هغو صحت ته بيا بېخي ډېر تاواني تماميږي.

په هر صورت په خوړو کي باید توازن او اعتدال له لاسه ورنه کړل سي. دغه راز د غنمو او اوړو د کارولو په هکله هم باید له ډېر احتیاطه کار واخیستل سي. له دې امله موږ په لاندي ډول څه مطالب راغونډ کړي دي چي ستاسي پام ور ته را اړوم:

## د غنمو اصلاح سوي تخمونه:

هوښ کوئ چي د غنمو اصلاح سوي تخمونه په تېره د غنمو بهرني اصلاح سوي تخمونه اوړه نه کړئ او ډوډۍ يې ونه خورئ. د جان لوك ډاريګول (Jean-luc Darrigol) په کتاب کي چي د ساعد زمان نومي ایراني لخوا د «غلات برای سلامتی شما» تر سرلیك لاندي ژباړل سوی دی لیکل سوي دي چي د ۱۹۵۱ع.کال د اګست په میاشت کي د پونټ سنټ سپری په ښار کي پنځه تنه مړه او په لسګونو نور لېونیان سول. دغه راز د دغه ښار یو شمېر نور خلك په یو ډول غیر عادي مسمومیت اخته سول. کله چي په دې هکله څېړني وسوې څرګنده سول چي هغو هغه ډوډۍ خوړلې وه چي د اوړو غنم يې د غنمو د تخم د ساتلو او کنسروي لپاره په یو ډول موادو چي «سټاټ فنیل مرکور» نومیږي لړل سوي وه. وايي چي دغه مواد د جنین (د مور په نس کوچني) د غړو د نقص لامل ګرځي او هم د میناماتا (Mina Mata) په نامه مشهوره ناروغي رامنځته کوي.

په ۱۹۷۲ع.کال هم دغسي ډوډۍ په عراق کي نژدې پنځه سوه تنه ووژل. دغه راز په راوروستو کلونو کي د بنګله دیش د وږو خلکو یوې ډلي پر یوه اورګاډي باندي چي د غنمو تخمونه پکښي وړل کېدل برید وکړ، چي د دغوغنمو د ډوډۍ د خوړلو له امله په زرګونو تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

له دې امله کله چي غنم رانسئ پام مو وي چي اصلاح سوی تخم نه وي. ځکه په اصلاح سوو تخمونو داسي ډول ډول مواد وهي چي زیاتره سمي وي او د انسان د مړيني لامل ګرځي.

**په غنمو او اوړو هم ډول ډول مواد وهي:**

لکه چي پوهيږو په ځينو هيوادونو کي دونه زيات غنم توليديږي چي ګودامونه، بيړۍ، سيلوګاني، د اوړو لويي ژرندي او نور ځني ډک وي او زيات مقدار يې بهر ته صادروي. نو د دې لپاره چي دغه غنم خراب نه سي او شپږۍ ونه کړي ډول ډول مواد لکه تتراکلرور کاربن، ډيبرومټان، ډيکلروس، فسفور المينيوم او... په وهي. دغه راز د اوړو د ساتلو لپاره هم څو ډوله د شپږيو او حشراتو ضد سموم لکه ليډان، ملاتيون، ډکلروس، ډيبرومټان او فسفورالمينيوم کاروي. په امريکا کي په دې منظور سيانيډريك اسيډ، سولفور کاربن، برومورمتيل، سيانور هايډروجن، کلرپيکرين او يو خورا پيچلی سموم چي وارفارين نوميږي کاروي. چي دا وروستی سموم روغتيا ته ډېر ضررناکه دی. په امريکا کي د غنمو او اوړو د ساتلو لپاره يوازي د دغو سمومو پر استفاده بسنه نه کوي او اوړه په يو څو ډوله نورو موادو چي تری کلرورازټ، پروکسيډ بنزول، ډياکسيډکلر او نور نوميږي سپينوي. جان لوك وړاندي ليکي: اوس په دغو سمومو هم بسنه نه کوي او د اوړو د شپږيو سره د مبارزي لپاره د بريښنا د څو زره ولټو څخه په استفاده، د بريښنا شعاعوي د اوړو له ګونيو تيروي. چي د ګونټر شواب نومی په وينا: «دغه اوړه د سمېټو د يوې کڅوړي غوندي مړه مواد وګرځي».

په دې توګه زياتره بهرني غنم او اوړه په دغسي روغتيا ته خطرناکو او مضرو کېمياوي موادو وهل سوي وي.

پر دې سربېره کېدای سي زياتره بهرني اوړه نور عيبونه هم ولري. په دې هکله ستاسي پام د پاکستان د نامتو مجلې«اخبار جهان» د ۲۰۰۱ع.کال دمی د مياشتي د۲۱ تر ۲۷ نېټې د ګڼې (۱۳) مخ ته را اړوم. د دغي مجلې د «خوراك په اداره کي درغلۍ د رسوايی پولي ته رسېدلي دي» تر سر ليك لاندي په يوه اوږده مضمون کي راغلي دي:

«د سکهر د سيمي د خوراك د ادارې په ګدامونو کي تقريباً دوه نيم لکه بورۍ غنم د شپږيو کولو له امله خراب سوي دي او دغه غنم په اجباري توګه د اوړو لويو ژرندو (فلورملز) ته ورکول کيږي. د لويو ژرندو ځينو خاوندانو له

دې امله تشويش څرګند کړی او ويلي يې دي چي له دغو غنمو څخه د اوړو معيار خراب او ختم باله سي او دغه غنم انساني روغتيا ته هم مضر دي. د خوراك اداره د خپلي نا اهلۍ د پټولو لپاره دغه غنم د اوړو لويو ژرندو ته ورکړه او د هغو پر ځای يې په ګدامونو کي نوي غنم واچول او د لويو ژرندو او وړو ژرندو مالکان مجبوروي چي دغه خراب غنم استعمال کړي. له بله پلوه د غنمو کښتګر په دغو ورځو کي د سختو ستونزو سره مخامخ دي. په هره سيمه کي په زرګونو ټنه غنم تر آسمان لاندي پر ډاګونو پراته دي او د خوراك د ادارې له خوا نه رانيول کيږي».

ښه، تاسي څه فکر کوئ چي دغسي اوړه او يا تر دې بدتر به لا افغانستان ته نه راليږي؟ نو عجبه نه ده چي موږ دغه خپل وطني غنم ولي نه اوړه کوو؟ زه خو د غنمو ګنج ته ورسم، په دوبي لس منه او په ژمي شل منه ښه غنم رانيسم، هلته يې ژرندګړي ته وسپارم، د ښه پاکولو سپارښتنه ورته وکړم، خو نه ورته وايم چي ښه ميده يې را اوړه کړه. دا ځکه که تاسي «زموږ خواړه او درمليز توکي» کتاب لوستی وي، په هغه کي ويل سوي دي چي:

«دا سمه نه ده چي وګړي ډېر ميده اوړه خوښوي او وايي چي ډوډۍ يې ښه، پسته او نازکه وي. د ميده اوړو ډوډۍ روغتيا ته تاوان رسوي قبضيتي او درنه وي، په ډېرعمر هضميږي او هرڅو نه چي اوړه ميده وي هغو نه بې سېکه وي. (په تېره د سپينو ميده اوړو ډوډۍ په خورا تکليف ژوول کيږي).

زموږ د خوړو ډېره برخه پروټين جوړوي. غوښه او وينه د پروټين څخه جوړيږي.او پرو ټين تر ميده اوړو په ځيږو اوړو کي ډېر دي. د ميده اوړو پراټې يا سمبو سې يا داسي نور شيان ګېډې ته تاوان رسوي او خوړونکي يې تل تر تله په قبض اخته وي. خو ځيږه اوړه ډېر ژر هضميږي.

اوس مهال چي په ځينو نانواييو او هوټلونو يا نورو ځايونو کي اوړه اغږل کيږي يا ډوډۍ پخيږي، تردې ډوډۍ خوړلو نه خوړل ډېر ښه دي، پدې چي دا ډوډۍ نه سېک لري او نه ژر هضميږي.

د ډوډۍ پخولو پر مهال بايد زواله په وچو اوړو کي ډېره ونه وهل سي، ځکه چي وچ اوړه نس ته تاوان رسوي. په اوړو کي مالګه اچول ډېر ضروري

دي، پدې چې مالګه د خوړو ډېره مهمه برخه ده او خواړه په ډېره ښه توګه په وينه بد لوي.

غنم بايد دونه اوړه کړئ چې په دوبي کې مو د پنځلسو ورځو لپاره بس سي او په ژمي کې د يوي يا دوو مياشتو لپاره بسنه وکړي. پدې چې اوړه ژر خرابيږي او بې سيکه کيږي او په خوند کې يې هم توپير راځي. په نوره نړۍ کې د اوړو پر بوجيو باندي د هغو د مودې د تېرېدو (Expiry) نېټه ليکلې وي او چې د مودې د تېرېدو نېټې ته يې لږ وخت پاته وي لا يې څوک نه رانيسي. مګر زموږ هيواد ته چې پاکستاني يانور اوړه راځي د هغو پر بوجيو باندي د هغو د وخت د تېرېدو نېټه هيڅ نه وي ليکلې او زموږ دولتي چارواکي او خلک هم سر نه پرې ګرځوي، چې دا ښه نه ده».

بله خبره داده چې که کېدلای سي غنم په وطني (د اوبو په ژرندو) اوړه کوئ. ځکه د بريښنايي ماشيني ژرندو د ډېري تېزۍ له امله اوړه داسي ګرم سي چې جوهر او ګټور مواد يې وسوځي. که بيا هم غنم نه سئ اوړه کولای له بازار څخه بهرني سپين اوړه مه رانيسئ. په بهر کي غنم په داسي ځانګړو ماشينونو اوړه کوي چې د غنمو پوست کوم چې د غنمو عمده، ژوندی، ګټوري او فعالي برخي باله سي، په بشپړه توګه ځني بېلوي او تقريباً يوازي د غنمو مغز پاتيږي. چې د دغو اوړو ډوډۍ ګردسره بې خاصيته، بلکي روغتيا ته زښته زياته ضررناکه تماميږي.د سپينو اوړو ډوډۍ، ډبل روټي او نور د معدې تېزاب ډېروي چې په پايله کي په په معده کي بدهضمي او په بدن کي عمومي ضعف، فشار، د شکري ناروغي او د چاغښت ناروغي رامنځته کوي او د عفوني ناروغيو لار ورته پرانيزي. څوك چې سپينه ډوډۍ خوري د هغې (۵۸) فيصده نه هضم کوي او دفع کوي يې. د دې په خلاف د سرو غنمو او د سبوس لرونکو اوړو ډوډۍ ډېره ګټوره ده اوپه ډېره آساني هضميږي، په دې شرط چې ښه يې وژوياست او ډېري اوبه ورسره ونه چيښئ. که نه په ګېډه کي باد پيدا کوي او هاضمه خرابوي. البته د ډوډۍ برشته برخه د هغې تر مغز ډېره ژر هضميږي. بل دا چې کوچنيانو ته تر درې کلنۍ پوري ډېره لږ ډوډۍ ورکوئ او بيا يې مقدار په تدريج سره زياتوئ. نوي ځوانان او هغه لويان چې ډېر بدني

کار کوي کولای سي د ورځي له (۵۰۰) څخه تر (۶۰۰) ګرامو پوري ډوډۍ وخوري. خو ګټه يې په دې کي ده چي تر دې زياته ونه خوري. دغه راز د غنمو اوګره، کوچه او د غنمو د اوړو حلوا هم روغتيا ته ډېر ګټور خواړه باله سي.

## ترميده اوړه:

د تر ميده او ړو په هکله بايد ووايو چي که څه هم موږ له هغو څخه په شل ګونو ډوله خوندور او مالګين خواړه تياروو خو له دې حقيقت څخه هم انکار نه سي کېدلای چي له ترميده اوړو څخه جوړ سوي شيان چي موږ يې په ډېر خوند او شوق سره خورو او ډېري پيسې پر ورکوو ثقيل (درانه) دي او په ډېر عمر هضميږي. په تېره هغه چا ته يې خوړل چي د کمزوري صحت خاوند وي ښه نه دي او نقصان ور ته پېښوي. پوهو طبيبانو د دې خبرو د څرګندولو تر څنګ دا هم ويلي دي چي ترميده صحت ته مضر دي او د هغو د ډوډۍ خوړلو څخه هم بايد ډډه وسي.

## د اوړو خميره:

لکه چي پوهېږو پخوا موږ د اوړو په طبيعي خميره اوړه خميرول چي نه لګښت پر راتی او نه يې روغتيا ته تاوان درلود. خو اوس چي د نوي تمدن له برکته ژوند ماشيني سوی او نوو لاسته راوړنو له يوې خوا په ژوند کي سرګرداني او له بلي خوا آسانتياوي راوستي دي، ډېري چاري په مصنوعي توکو تر سره کيږي. په دې لړ کي موږ خپل اوړه لا هم په مصنوعي توکو خميرو. خو له بده مرغه د روغتياپوهانو د څېړنو له مخي د دغسي ډول ډول خميرو استعمالول صحت ته ډول ډول تاوانونه لري. بدن په تدريج سره مسموموي، لومړی د هاضمې خرابي ورته پېښوي او بيا يې په نورو صعب العلاجو ناروغيو اخته کوي. له دغه ځايه دی چي نوی تمدن که هوسايي لري ډول ډول خطرات يې هم له ځانه سره راوړي دي. په دې هکله زما هيله له ګرانو خوندو او نانوايانو څخه داده چي د پوډري، کېمياوي خميرې له

استعمال څخه ډډه وکړي او خپل ځانونه او هم خپل ګلالي ماشومان، د کورنۍ او ټولني غړي له دې پلوه په ناروغتیا اخته کېدو څخه وژغوري.

## سره مرچک یا سره زهر

سره مرچک ډېر ګرم او وچ دي. وینه سوځي، د بدن پوستکی سور کوي. بدن ګرموي. د ګرم مزاجو لپاره ډېر تاوان کوي او مواسیر پیدا کوي. د مرچکو له خوړلو څخه د تولید د مادې ناروغۍ، د احتلام او جریان، سرعت انزال، نامردي، سوزاک او آتشک ډېریږي. د سرو مرچکو لږ خوړل بلغم ګټي، اشتها خلاصوي او خواړه هضموي. د سرو مرچکو پاخه سوي غوړي هر ډول پاړسوب، کا او د پوستکي د خرابی لپاره ګټور دي او د بندو پاړسوب لیري کوي.

شنه مرچک هم کټ مټ د سرو مرچکو خواص لري.

د «صحت و زندګي» په نامه یو کتاب د هند یوه نامتو لیکوال خوشتر ګرامي په اردو ژبه لیکلی او د ۱۹۴۶ع. له جولا ی څخه د۱۹۸۰ع. کال تر نومبر پوري نولس ځلي چاپ سوی دی، څنګه چي په دغه کتاب کي د سرو مرچکو په هکله د «سره زهر» تر سر لیک لا ندي یو مطلب راغلی دی او ډېر ګټور او په زړه پوري دی، نو موږ یې ځیني برخي دلته را ژباړو:

زموږ «خوند پالني» موږ ته د یوه شي د ګټې او تاوان په اړه د فکر کولو موقع نه ده راکړې. په دې هکله موږ نه د ځان او نه د خپلي مېرمني او اولا دونو روغتیا ته څه پام کړی دی. زموږ کوچنی چي د ډوډۍ د خوړو سي موږ هغه ته په مرچکو تریخ سالن ور کول پیل کړو. لومړی کوچنی له هغه څخه د خپلي کرکي څرګندونه کوي، خو موږ د هغه کرکي ته پام نه کوو پای هغه د مرچکو د خوړلو سره عادي سي او له مرچکو څخه د کرکي هماغه فطري جذبه یې له دماغه ووزي.

د سرو مرچکو د تاوانونو فهرست ډېر اوږد دی او د هغو ګټې دوني دي لکه په اوړو کي مالګه.

د مرچکو ضررناکي اغېزي تر ټولو د مخه د انسان د خوړو پر هغه نالۍ پرېوزي چي له خولې پیل سوې تر مقعدي رسېدلې ده. کله چي موږ کوم داسي

څه خورو چي په هغو کي مرچک تېز او ډېر وي نو تر ټولو د مخه هغه زموږ ژبه احساسوي. ګواکي د لوی څښتن ﷻ لخوا د جوړ سوی جسماني نظام سره سم موږ ته خبر تیا راکوي چي موږ داسي شی خورو چي زموږ روغتیاته د تاوان رسېدو اندېښنه ځني سته. خو له بده مرغه موږ د دې خبرتیا پروانه کوو.

په دې ډول مرچك خوله په ډېره بده توګه سوځي، پزه راوبهیږي، له سترګو اوښکي رواني سي، په ژړاسي، خو موږ بیاهم دغه سره زهر خورو. د خولې، ستوني، او ژبي د دې اخیستي اور د وژني لپاره پرله پسې یخي اوبه غوړپو. چي پای خبره تر نزلې، زکام او ټوخي ورسیږي. اوبیا ټوخی ډېر اومزمن سي او په ټول ژوند کي مو نه خوشي کوي.

د مرچکو ګوله چي ژبه، خوله او ستونی وسوځي تر سرې غاړي (مری) تېره سي ګېډې ته ورسیږي. سره غاړه له دې امله له هغې څخه لږ اغېزمنه کیږي چي له هغې څخه ژر تېریږي. له مرچکو څخه ګېډې ته هم د خولې غوندي اذیت رسیږي. د نس په مخاطي غشاوو کي سوی پیداسي او له دې امله د ګېډې د رطوبت ترشح او راوتل زیات سي او هاضمه خرابه سي. چي بیا د چا شی خواته نه کیږي، معده ضعیفه سي او پای خبره دې ته ورسیږي چي د سرطان د مهلکي ناروغۍ اندېښنه رامنځته سي.

کله چي دغه سره مرچک له ګېډې تېر سي اوکولموته ورسیږي، هلته هم بېله خپلو اغېزو ښوولو نه پاته کیږي. سهار په تشناب کي د خوړو نالۍ هغسي سوی کوي لکه د مرچکو د خوړلو په مهال چي خولې کاوه.

کله چي د مرچکو تېزي او ګرمي په وینه کي جذب سي او دغه اغېزمني ویني سترګوته ورسیږي نو خپل مضر اغېز پر سترګو هم اچوي. سترګي چُڅړي کوي، جرمي یې سوی کوي او دانې پکښې راوخېژي. چي که یې ژر علاج ونه سي کېدای سي چي بېخي د سترګو لید کم سي.

دغه راز دغه اغېزمني ویني پر اینه هم اغېز وښندي او په ډول ډول ناروغیو یې اخته کړي. تر مثانې، پښتورګو او د متیازو تر نلکۍ د هغو اثرات ورسیږي.

په کومه ورځ چي مو مرچک ډېر خوړلي وي په هغه ورځ مو متیازي ډېري ژړي وي او سوی هم کوي. خو موږ بیا هم څه پروانه کوو او نور هم د مرچکو

خوړلو ته ادامه ورکوو چې پای یې پایله داسې چې د مثانې او د متیازو د نالۍ سوی ډېر سي او نوونه ځني راوزي.

د مرچکو له پرله پسې او بېخي ډېر استعمال څخه پر نورو تاوانونو سربېره د تولید مادې ته هم ډېر ستر تاوان رسیږي. د تولید ماده ډېره نرۍ سي د سرعت او پرله پسې احتلام شکایتونه رامنځته سي او پای د باه د ضعف بڼه غوره کړي.

د مرچکو په ډېر لږ استعمال کي لږ ګټې هم سته. (پورته وویل سوې). دا ځکه چې دا یوه قدرتي خبره ده چې په دې نړۍ کي داسي هیڅ شی نسته چې یوازي تاوانونه ولري.

## پاپړ

پاپړ وچ او ګرم دي. په عامه توګه د ماشو له اوړو څخه جوړیږي. پاپړ ژر هضمیږي. خواړه خوندور کوي، که هاضمه کمزورې وي، یا څوک د یوې ناروغۍ څخه راولاړ سوی وي، که د پاپړ سره ډوډۍ وخوري د خولې لعاب یې ډېر وي او خواړه ښه هضموي او ډېره وینه ځني پیدا کیږي. البته هغه پاپړ چې په بازار کي خرڅیږي او ډول ډول رنګونه لري، له روغتیایي پلوه ډاډ نه سي پر کېدلا ی. ویل کیږي چې ځیني زهرجن جوهر ورسره ګډ وي. بل لمر هم وهلي وي او دوړي هم پر لوېدلي وي، نو له دې امله د بازار پاپړ پورتنۍ ګټې نه لري، بلکي هغه پاپړ ګټور دي چې په کور کي پاخه سوي وي.

## د کټوي دارو (مسالې) ګټې اوتاوا نونه یې

په خوړوکي د کټوي داروته اړتیاسته کنه؟ که وي نو څنګه سته؟ د هغو شیانو چې د مسالې په توګه کاریږي ګټې اوتاوانونه څه دي؟

دا داسي خبري دي چې د هر چا لپاره د هغو په اړه معلومات اړین دي. پوهیږو چې که خواړه ګټوروي تاوانونه هم لري. د هغو د تاوانو د اصلاح لپاره پوهانو مسالوته اړتیا محسوسه کړې ده. او څنګه چې دا اصلاح د پوهو خلکو لخواوه، ځکه نو د هغو سره ځیني نوري ضروري خبري هم رامنځته سوې.

لکه دا چي د هاضمې د تحریک لپاره د خوړو خوندورکول او ښه رنګ او بوی هم د مسالې جز وبلل سو.

مسالو ته په لا ندي لا ملونو اړتیاده:

1- لومړی شی چي د خوړو په اړه پام ورته اوړي، د خوړو شکل اورنګ دی. که خواړه د رنګ له مخي ښکلي او په زړه پوري وي، نوښه خوړل کیږي. وایي: خواړه له رنګه خوړل کیږي. اوله دې امله یې ګټې هم ډېري وي.

2- په دې پسي د خوړو د ښه بوی خبره راځي. که خواړه خوشبویه وي، نو طبعاً یې انسان خوښوي او له دې امله یې په وجود کي هضم او جذب هم زیات وي.

3- خونددی. که خواړه ډېر خوندور وي، نوغذائیت به یې هم ډېر وي. ځکه چي خوندور خواړه د بدن اعضا ډېر هضموي او جذبوي یې.

4- د خوړو د بدبویی او بدخوندی لیري کول دي.

5- د خولي د ناړو زیاتول دي. څو د خولې د ناړو زیاتوب د خوړو نشایسته لرو نکي توکي په آساني هضم کړای سي.

6- د هاضمې پر خوځښت راوستل دي. څو د خوړو درانه توکي ژر هضم کړای سي.

7- د کولمو پر خوځښت راوستل دي. څو قبض رامنځته نه سي.

8- د بدن د رئیسه اعضاوو پیاوړتیاده. (د بدن رئیسه اعضا: د بدن بنسټیزغړي، لکه زړه، د ماغ، اینه اونور).

9- له ځینو ناروغیو څخه مخکي تر مخکي ځان ساتل (وقایه) ده.

د مسالو له رامنځته کولو څخه موخه اومقصد یوازي دونه وو چي خواړه لږ څه په خوند سره وخوړل سي او له بله پلوه پورتنۍ ګټې هم ترلاسه سي. خو د زماني په تېرېدوسره څنګه چي ژبي په زیات خوندورتوب روږدي سوې، د مسالو مقدار هم ورسره زیات سو. تردې چي هغه مسالې چي د ګټې لپاره رامنځته سوي وې، د تاوانونو سبب سوې؛ معدې اوکولموته یې د سوزش

ناروغۍ پیدا کړي؛ هاضمه یې خرابه کړه؛ کولمې یې کمزوري کړي؛ د پېچ، د ویني د سونګ او مواسیرو شکایتونه ځني رامنځته سوه.

د مسالو د مغزیانو پرته د هغو نور هیڅ توکی باید د بدن جز نه سي. ځکه لکه چي څرګنده ده مسالې درمل باله سي. او د درملو تعریف دادی چي هغه د بدن جز نه سي. بلکي خپل اغېز وښندي او له بدن څخه بهر سي. او د خوړو تعریف دادی چي ډېره برخه یې د بدن جز وګرځي.

نو څه چي تاسي خورئ په هغو کي باید ډېره برخه د خوړو وي او د درملو برخه یوازي د نامه لپاره پکښیکي وي. داسي خواړه به هرومرو څه بې خونده وي، خو د ګټو له پلوه به ډېر ښه وي. که تاسي په پورته ډول کړنه نه سئ کولا ی، نو یوه آسانه لار داده چي په خپلو خوړوکي د مسالو اندازه کرارکرار را لږکړئ څو ستاسي پر طبیعت باندي د دې بدلون سملاسي اغېز پرې نه وزي او په غیر محسوسه توګه مقصد ترلاسه سي.

په پای کي باید ووایو چي په مسالوکي عموماً مالګه، سره مرچ، تورمرچ، کورکومن، ګشنیز، لونګ، زیره، لوی هېل، زعفران، دارچیني، نعنا، اوري، خواږه ولني، شونړ، اونور لږلږ په کاریږي. خو د اوسمهال د درغلیو تاوده بازار ته چي ګورو د بازارونو پر میده، جوړو سوو او په قوطیوکي اچول سوو مسالو باندي اعتماد نه سي کېدلای. کېدای سي په دغو مسالو کي صحت ته مضر او غیر حلال اجزا ګډوي. لکه چي په پاکستان او نورو ځایونو کي زیاتره په دغسي مسالو او نورو شیانو د غیر حلالو توکو لکه مونو سوډیم ګلوټامیټ (Mono Sodium Glutamate) د ګډېدو آوازې خپرېږي چي ښایي بې څه نه وي.نو ښه داده چي د دغو مسالو غټ او نامیده سوي شیان له بازاره رانیسو او په کور کي د خپلي خوښي سره سمي مسالې ځني جوړي کړو او بېخي لږ استعمال کړو.

## د امریکایي او صهیونیستي مصنوعاتو تحریم

لکه څنګه چي پوهیږو د اسلام سره د بې دینو مادي پالو طاغوتي ځواکونو، نصاراوو، یهودو او هنودو له ډېر پخوا څخه دښمني پرته ده. په دې لړ کي

دغو اهریمني ځواکونو د تاریخ په اوږدو کي د مسلمانانو پر ضد بېل بېل زړه بوږنوونکي جنګونه او ډول ډول شیطاني توطئې او چلونه په لار اچولي دي.
اوسمهال که څه هم د یهودو او نصاراوو د دوسو (دسیسو) او توطئو جال د پخوا په پرتله ډېرپېچلی دی خو د هغو موخی او مقاصد بیا هم هماغه دي.
دوی په دې وروستیو کلونو کي داسي پلانونه تر لاس لاندي نیولي دي او د خپل ژوند او تجارت پالیسی یې داسي جوړي کړي او عیاري کړي دي چي ټوله نړۍ او د هغې اوسېدونکي د خپلو ځانو او د خپلو مذاهبو مریان او چوپړیان کړي.

اوس پر عراق او افغانستان باندي د امریکې ظالمانه یرغل او نورو اسلامي هیوادونو او تحریکونو ته د امریکا د شیطاني او طاغوتي حکومت ګواښونو، پر بې دفاع فلسطینیانو، لبنانیانو او نورو عربو باندي د اسرائیلو، پر کشمیریانو باندي د مشرکو هندوانو، پر چیچینیانو باندي د قطبي خرسانو (روسانو) او د نړۍ په نورو ډېرو ګوټونو کي د کفارو د ډول ډول مظالمو او نارواوو له امله په درسته نړۍ کي د مسلمانانو غم او غوسه را پارولې او په هر لوري رشتیاني مسلمانان په یو ډول نه یو ډول د امریکایانو او نورو کفري ځواکونو پر ضد احتجاجونه او اعتراضونه کوي او د دوی او د دوی د شرمېدلو ګوډاګیانو په وړاندي خپل له کرکي او نفرته ډك احساسات څرګندوي.

له بده مرغه اوس مهال ډول ډول کفري ځواکونو او د هغو لاسپوڅو په افغانستان کي ظلم او چور تالان داسي لوړي پوړۍ ته رسولی دی چي نه داچي زموږ دیني عالمان، پاڅون کوونکي او بې ګناه ملکي وګړي، ښځي، ماشومان او بوډاګان د القاعدې، طالب او نورو په نومونو شپه او ورځ پر له پسې په مړرنو الوتکو او وسلو په ډله ییزه توګه کشتاروي، بلکي د دولتي لوټمارو په همدستي لګیادي په پټه او ښکاره زموږ تر مځکه لاندي شتمنۍ، جواهرات، سره زر، قیمتي ډبري او نور ډول ډول کانونه را باسي او خپلو هیوادونو ته یې لېږدوي.

له دې امله دی چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې اسلامي پوهانو د خپلو مقالو، ويناوو، نصيحتونو او فتواوو په واسطه پټيلې ده او دا يې جوته کړې ده چې له امريکا او نورو ټولو کفري ځواکونو څخه د ژغورني يوازينۍ لاري دوې دي:

1- له کفري کلتور څخه په کلکه ډډه کول.

2- په ژوند او تجارت کې د کفري هيوادونو د شيانو تحريم او بايکاټ.

د دغو خبرو په درك سره او د اسلامي عالمانو د څرګندونو پر بنسټ اوسمهال په ټوله اسلامي نړۍ کې د کفري ملټي نيشنل تجارتي کمپنيو (هغه کمپنۍ چې په بېلا بېلو هيوادونو کې يې پانګې اچولي دي او تجارتي فعاليتونه کوي) په وړاندي د کرکي او نفرت څپې راپورته سوي دي. ځکه دا هغه کمپنۍ دي چې د امريکا او ګردي کفري نړۍ اقتصادي قوت جوړوي او دغه قوت بيا د دوی پوځي ځواك پياوړی کوي چې په پايله کې زموږ پر هيوادونو دغسي په سپين سترګۍ سره را دانګي، په مستقيمه توګه او د دوی د ګوډاګيانو په ذريعه زموږ پر ټولنيزو شئوناتو او دولتونو ولکه ټينګوي او بالاخره مو خپلو ځانو ته اړباسي او غلامان کوي مو.

له بده مرغه نن مهال موږ د دغو کفري هيوادونو ډېر داسي شيان زموږ په هر کور کې کاروو چې هم زموږ سپېڅلي دين ته تاوان باله سي. هم زموږ د هيواد لوړوملي ګټو ته دروند خطر راولاړي او هم مو روغتيا ته ضرر رسوي.

پر دې سر بېره دغه کمپنۍ موږ ته بل ستر تاوان هم رسوي چې هغه د دغو کمپنيو د مصنوعاتو د اعلانولو او اشتهارولو په پلمه زموږ د اخلاقو ورانول او زموږ له اصيل فرهنګ څخه زموږ د ځوانانو پردي کول دي. لکه چې پوهيږو د دغو هيوادونو حکومتونه، پانګوال او ملټي نېشنل کمپنۍ په اسلامي هيوادونو کې په سترو لګښتونو او پانګو سينماوي، ټلويزيونونه، ډش کېبلونه، ګېمونه، کلپونه، هوټلونه او داسي نور راباسي او شپه او ورځ، په تېره د مسلمانانو د عبادت او کار او د هغو د بچيانو د تعليم په وختونو کې د هغو د ډول ډول بې لاري کوونکو خپرونو او زموږ د فرهنګ خلاف اعلانونو له لاري په موږ کې فحش او لڅ کلتور خپروي او زموږ ځوانان په مشروباتو او نورو ناروا وو روږدوي.

له دې امله دی چي په دې وروستيو کلونو کي په عربي هيوادونو کي د امريکايي او يهودي مصنوعاتو تحريم ښه په زور او زوږ روان دی او په دې ډول ايماني غيرت يې د کفر اقتصاد ته ستره ضربه ورکړې ده. زموږ باور دی که چيري د نړۍ ټول مسلمانان په تېره د زموږ پر هيواد او اسلام مين او سر ورکوونکي وګړي د کفارو توليدات دغسي تحريم کړي، هغوته به سخته صدمه ورسيږي او اړ به سي چي د مسلمانانوپر هيوادونو له تېريو، د هغو د ګواښونو، عام وژني او سپکاوي څخه لاس په سر سي.

په دې وروستيو کي د اسلامي نړۍ ستر نامتو عالم او د ډېرو کتابونو ليکوال شيخ يوسف قرضاوي مدظله د الجزيرې په ټلويزيون کي د څرګندونو په ترڅ کي اعلان کړی دی چي: «د امريکا مصنوعات دي له پيپسي څخه نيولې تر پيمپر پوري تحريم سي». که زموږ مولويان او پوهان هم دغسي وکړي او د مسجدو نو، غونډو، انټر نيټ او نورو ډله ييزو رسنيو له لاري د دغو کفري توليداتو په اسلامي، هيوادنيو او روغتيايي تاوانونو زموږ خلك پوه کړي او د هغو تحريم او د مسلمانو هيوادونو د توليداتو کارولو ته يې وهڅوي بشپړ يقين دي چي د لوی څښتن‌ﷻ او د هغه د پاك رسولﷺ د خوشالۍ سبب به سي.

## د سرکوزي غوښي ولي حرامي دي؟

قال الله تعالی:

﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡمَيۡتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحۡمَ ٱلۡخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيۡرِ ٱللَّهِۖ﴾ [البقرة:۱۷۳].

ژباړه: «لوی څښتن پر تاسي باندي د مړه سوي څاروي (مردار سوي)، (بهېدونکي)ويني، د سرکوزي غوښي او هر هغه څه چي د الله له نامه پرته د نورو نوم پراخيستل سوی وي حرام کړي دي».

په تفاسيرو او نورو ډېرو کتابونو کي وايي چي: سرکوز ی نجس العين دی او د هغه ټول اجزا؛ غوښي، پوست، غوړزګي، نوکان، ورېښتان، هډوکي، پلې او نور ناپاك او نجس دي او له هغو څخه ګټه اخيستل او کارول يې حرام دي. د انسان او سرکوزي پوستونه په دباغت سره نه پاکيږي. البته د انسان دا د شرف له امله او د سرکوزي دا د نجاست له امله.

د سرکوزي د غوښو په هکله نوي ساينسي تجزيې او تجربې ډېري د عبرت وړ دي. راځئ وګورو چي د سرکوزي د غوښو استعمال په کومو لاملونو منع سوی دی. له تېرو څه د پاسه دېرشو کلونو څخه ساينس د قرآن کريم د دغه حکم په تائيد څو ډوله سببونه موندلي او په ګوته کړي دي. چي په دې توګه ساينس پوهان د لوی څښتن ﷻ دې څرګند حکم اريان کړي دي. اوس به د دغه نجس څاروي د جسم د هغو برخو په هکله رڼا واچوو چي انساني روغتيا ته ضررناکي دي. لومړی بايد دا ووايو چي ډاکټرانو جوته کړې ده چي په سر کوزي کي د يو ډول مشهورو طفيلي تاوان رسوونکو جراثيمو کڅوړې (Trichina Cyst) موجودي دي. په تېره د جرمني نامتو روغتيايي ساينس پوه هاينريك ريکوګ (HeinrichReckweg) د سرکوزي په غوښو کي د ستوکسين (Zootoxin) په نامه يو ډول عجبه زهرجن پروټين موندلي دي. چي د حساسيت څو ډوله ناروغۍ څني پيدا کيږي. په تېره دغه زهرجن پروټين د اګزيما او سالنډۍ لامل کيږي. که څه هم د ستوکسين کچه يا خوراك لږ هم

وي بیا هم کهالي او د بندونو درد ځني پیدا کیږي. دغه راز د سرکوزي په غوښو کي د میوکو پولایزیك چرایډ (Mucopolysac Charides) په نامه هم عنصر ډېر وي. نو څنګه چي په دغه عنصر کي (سلفر) تر ضرورت زیات وي له دې امله هم د بندونو ډېري ناروغۍ ځني پیدا کیږي. همدا شان ډاکټران وایي چي د سرکوزي د غوښو خوړونکي په خنازیرو (Scrofula)، کدو دانه (Tapeworm) یا د نس په چینجیانو او داسي نورو ناروغیو هم اخته کیږي. د نورو نوو څېړنو له مخي څنګه چي د سرکوزي غوښي د غوړځکیو او ناسمي غذا لرونکي دي او ژر نه هضمیږي له دې امله د هغو د پرله پسې استعمال څخه انسان د پوست، اینې، زړه، کولمو ګېډي اوسرطان په ناروغیو هم اخته کیدلای سي.

دغه راز د سرکوزي د غوښو له خوړلو څخه یو ډول چینجی پیدا کیږي چي د ډاکټرانو په ژبه «سولیم» ورته وایي. دغه چینجی له وینو او کولمو څخه تېریږي او دماغ ته رسیږي چي په پایله کي یې د مرګي ناروغي رامنځته کیږي. له بله پلوه څنګه چي د سرکوزي په غوښو کي غوړ بېخي ډېرزیات دي نو د هغه د غوښو له خوړلو څخه په وینه کي «کلیسټرول» (Cholesterol) هم بېخي ډېر زیاتیږي. چي له امله یې شریانونه تنګیږي او د ویني په جریان کي خنډونه رامنځته کیږي. چي لازمي او هرو مرو پایلي یې تر وخت د مخه زړښت، ضعف، د فلج حملې یا د زړه ناروغۍ (Diseases of the Heart) یعني د زړه دوره یا داسي نور وي. دغه شان د سرکوزي د دغو غوړو غوښو له خوړلو څخه په انساني جسم کي «ویټامین ای» (Vitamin-E) تر اړتیا زیات مصرفیږي او په پایله کي په ناڅرګنده توګه کمیږي. اوس ټول پوهیږي چي ویټامین ای ډېر په زړه پوري کار ورکوي. چي یوه یې پر جنسي غدودو باندي مهمه اغېزه ده. ډېر چاغ، په تېره د سرکوزي د غوښو خوړونکي د ویټامین ای د کمښت ښکار کیږي چي په نتیجه کي له جنسي پلوه سست او له جنسي مړاني څخه ولوېږي.

پر دې سربېره د سرکوزي په غوښو کي د «ټري کینا» (Trichina) په نامه یو ډول نري نري چینجیان وي. د دغو غوښو د خوړلو سره دغه چینجیان هم

انساني جسم ته درومي چي له کبله يې د «تري کينوسس» په نامه يو ډول ناروغي پيدا کيږي. د دغي ناروغۍ نخښي هيضه يا «سم الفار» وژونکي زهر غوندي وي. که دغه چينجيان عضلاتوته ولاړ سي نو شديد دردونه ځني پيدا کيږي او زياتره وختونه دغسي عضلې فلجيږي. البته که په وجود کي دغه چينجيان ډېرزيات سي نو د ناروغ مړينه تر ډېره حده يقيني کيږي.

دغه راز د سرکوزي د غوښو د خوړلو له امله پر پوست باندي يو ډول کوچنۍ دانې راخيژي چي بالاخره په ښېله جلدي ناروغي اوړي. د سرکوزي په غوښو کي يې يوه بله ناوړه ناروغي هم موندلې ده چي«شيپ وايرس» (Shape Virus) ورته وايي. دغه وايرس د انسان سږو ته تاوان رسوي. دغه وايرس د سرکوزي په سږو کي هم ډېر وي. ښايي له دې امله وي چي په ډېرو اروپايي هيوادونو کي يې د سرکوزي د سږو خوړل منع کړي دي.

پر دغو ناروغيو علاوه څو نوري ناروغۍ هم د دغه خبيث ځاروي د غوښو له خوړلو څخه پيدا کيږي.

ډېر مسلمان پوهان ادعا کوي چي سرکوزی ښځي ډېر بې غيرته، خبيث، بې حيا او د چټلو او ککړو شيانو د خوړلو ډېر شوقي او د ګنده عاداتو څښتن ځاروی دی. صرف سرکوزی يو داسي ځاروی دی چي پر خپله ماده (ښځه) باندي غيرت نه کوي. نو له دې امله د نړۍ د ډېرو بدو ځارويو د ليست په سرکي راځي. له همدې امله کوم کسان چي د سرکوزي غوښي زياتي خوري او يا د هغه له اجزاوو ګټه اخلي په هغو کي هم د سرکوزي دغه عادتونه په څرګنده ليدل کيږي. او له جنسي پلوه بې حسه او بې تعصبه وي.

درنو لوستونکو! دا خبري هسي خوشي بې معنا خبري نه دي. موږ وړاندي وويل چي د سرکوزي د غوښو د خوړلو له امله د ويټامين ای ډېر کمښت انسان له جنسي پلوه سستوي او له مردۍ څخه يې اچوي.پر دې خبرو د لوېديز د بې حيايۍ تهذيب ډېر ښه شاهد دی. په امريکا او برتانيه غوندي په ظاهره متمدنو هيوادونو کي چي د سرکوزي غوښي ډېري خوري د هغو د خلکو په بې حياييو اوس هرڅوك خبر دی. موږ به يې دلته څو کوچنۍ بېلګي درته ووايو. د لاهور د «جنګ» ورځپاڼي د ۱۹۸۴ع.کال د اګست د (۲۵)

نېټې د ګڼې او د لاهور د «نوای وقت» د ۱۹۸۱ع.کال د مارچ د (۲۲) نېټې د ګڼې او د«جنګ» ورځپاڼې د۱۹۸۴ع.کال د اکتوبر د (۲) نېټې د ګڼې د خبرونو پر بنسټ د امریکا او برتانیې اړوندو چارواکو په ډېر ویاړ سره ویلي دي چې په دغو هیوادونو کې هر درېیم زوکړی ارمونی دی، او د دغسي زوکړو شمېر ورځ په ورځ زیاتیږي. په سویزرلینډ کې حکومت په دې چاره کې لا دوه ګامه وړاندې تللی دی او پر اړوندو قوانینو باندې بیا ځلي کتني کوونکو ته یې ویلي دي او پټیلي یې ده چې نه یوازې نارینه وو ته د بازاري ښځو سره د اوسېدلو اجازه ده، بلکې که خور او ورور هم وغواړي چې جنسي اړیکي وساتي قانون یې ننګه او ملاتړ کوي. دغه راز وایي چې په امریکا کې د نشویلي اوسېدونکی ډېټې جېمز نومې د خپلې سکه مور سره واده کړی دی. چې هلته پر دې خبره هیڅا هم څه اریانتیا نه ده ښوولې.

وګورئ چې د بې غیرته ښاروي د غوښو خوړونکی قوم څخه د غیرت جنازه ګردسره وړل سوې ده که نه؟ په دې ډول مورږ ته پته لګیږي چې د لوېدیځ د کلتور په دکان کې د شرم او حیا هیڅ شی نسته؟!

په پای کې مورږ په زغرده او یقین سره ویلای سو او پوهیږو چې قرآن په دې فرمان سره چې: ﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ ٱلْمَيْتَةَ وَٱلدَّمَ وَلَحْمَ ٱلْخِنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ بِهِۦ لِغَيْرِ ٱللَّهِ﴾ هسې بې معنا خبرې نه دي کړي، بلکې دا د انساني صحت لپاره یوه لویه تحفه ده.

## هغه شیان چې د سرکوزي وازګې پکښې استعمال سوي دي

### کفار او د سرکوزي غوښي:

لکه چې څرګنده ده په ټوله اروپا، امریکا او د نړۍ په نورو برخو کې کفار د سرکوزي غوښي خوري. د اروپا، امریکا او لیري ختیځ په هیوادونو کې د سرکوزو د روزلو په لکونو فارمونه سته. یوازې د فرانسې په (٤٢) زرو غټو او کوچنیو فارمونو کې په لکونو سرکوزي تر روزنې لاندې نیول سوي دي. په دغو هیوادونو کې هر کال په ملیونونو سرکوزي روزل کیږي او کله چې خپل ټاکلي عمر ته ورسیږي د دوی پر طریقه یې وژني او غوښې یې بازارونو ته د

خرڅلاو لپاره وړاندي کوي. خلك د دغو سرکوزو غوښي خورا ډېري او په پېخر خوري خو د هغو سپيني هيڅ نه استعمالوي. په داسي حال کي چي د دغو سرکوزو سپيني د هر څاروي تر سپينو ډېري دي.

**د خوراک او څيښاک په شيانو کي د سرکوزي د غوړزڭيو کارول:**

تقريبا دوه سوه کاله پخوا يې د دغو سرکوزو سپيني سوځلې. بيا يې فکر وکړ چي دا بايد په هغو شيانو کي وکاروي چي غوړزڭيو ته اړتيا لري. نو هغه وو چي دا غوړزڭي يې د صابون په جوړولو کي وکارول. بيا دغه غوړي غوښي او وازڭي پروسيس او پيکينګ کېدلې او مارکېت ته عرضه کېدلې. ډول ډول کمپنيانو هغه رانيولې او د خورا ك او چيښا ك په ډول ډول شيانو کي به يې استعمالولې.

بيا د رواني پېړۍ په پيل کي د کواليټي کنټرول (Quality Control) د توليداتو د کيفيت او څرنګوالي د کتني، څېړني او څارني (سلسله رامنځته سوه. د اروپا بېلو بېلو هيوادونو د خورا ك، چيښا ك توکي، د ناروغانو درمل او نور په لابراتوارونو کي معاينه او تجزيه کول او ټولي کمپنۍ يې قانوناً اړ ايستلې چي پر خپلو مصنوعاتو باندي د هغو اجزا او اثرات وليکي. د دې سره کمپنيانو د خپلو توليداتو پر قوطيو او بوتلونو باندي د نورو اجزاوو سره د خوك د غوړزڭۍ په هکله ليکل: Fats of Pig يا s Fats Pig (د سرکوزي غوړزڭي). تر څه مهاله دغه کار دغسي پر مخ روان وو. خو کله چي دغه توليدات بهر او اسلامي هيوادونو ته ورسېدل نو مسلمانانو هغه بايکاټ (تحريم) کړل. بيا تر ډېرو سلامشورو وروسته اروپايي کمپنۍ او حکومتونه پر دې سلاسول چي د Fats of Pig يا s Fats Pig, پر ځای Animal Fats (د څارويو غوړزڭي) وليکي. خو بيا بله ربړه رامنځته سوه. لوېديزيان خو پسونه، غوايي او نور د مسلمانانو د ذبحي د طريقې په خلاف بل ډول او د ماشينونو په ذريعه وژني. څنګه چي د مسلمانانو په عقيده په غير شرعي طريقه د وژل سوي څاروي غوښي مرداري دي نو د هغه غوړي خو هم مردار دي. له دې امله اسلامي هيوادونو بيا دغه مصنوعات تحريم کړل.

دا هغه مهال وو چې دغو کمپنیو د بشپړو ملټي نیشنل تجارتي کمپنیو (هغه کمپنۍ چې په بېلا بېلو هیوادونو کې یې پانګې اچولې وي او تجارتي فعالیتونه کوي) بڼه خپله کړې وه او د دوی تولیدات د یوه هیواد له پولو تېر سوي او ټولو اوو لویو وچوته رسېدلي وه. دغه راز په اروپا کې هم د مسلمانانو شمېر زیات سوی وو. دغو کمپنیو له یوې خوا پر مسلمانانو باندي دونه ستره ګټه نه سوای پرېښوولای. له بله پلوه کمپنۍ دوني زیاتي سوي وې چې د حلالو ښارویو غوړزګي او نورو نباتاتو تېل یې نه سولای برابرولای. که یې له مسلمانو هیوادونو څخه د حلالو ښارویو غوړزګي یا د نباتاتو تېل رانیولای ګټه یې لږېده او د تولیداتو بیه یې لوړه تله. بل هم د اروپا د سرکوزو غوړ هدر پاته کېده. نو هغه وو چې د دغو کمپنیانو مالکانو او د دوی نورو سلاکارانو او مرستندویانو تر زیات غور او فکر وروسته دا سې حل لار را وایستل چې کمپنیو پر خپلو تولیداتو د غوړزګیو یادونه نه کول او د اړوندو قوانینو د احکامو په پام کې نیولو لپاره یې د غوړزګیو د نومونو او کچو لپاره څو کوډونه وټاکل، هغه یې د خپلو اړوندو هیوادونو اړوندو ادارو ته ولېږل او وروسته یې پر خپلو تولیداتو د غه کوډونه لیکل. د "ملټی نیشنل کمپنیون کی اسلام دشمنی" په (۱۹) مخ کې یې د دغو کوډونو بشړ فهرست راوړی دی چې یو څو یې په دې ډول دي: E100- E110- E120- E140- E141- E135- E210

دغه راز یې د دغه کتاب په ۱۳ مخ کې په فرانسه کې د دغو شیانو په هکله د یاسر محمد خان په نامه د یوه مسلمان د سترګو لیدلی حال لیکلی دی. هغه وایي چې زه فرانسې ته په سفر تللی وم او څو ورځې د جابر په نامه د خپل یوه پښتانه دوست سره چې له (۲۲) کالو راهیسې په فرانسه کې اوسېدی واوسېدلم. د بېرته راتلو پرمهال چې زه د جابر په ملګرتیا د څه شیانو د رانیولو لپاره مارکېټونو ته ولاړم، کله چې به ما څه شی راپورته کړ جابر به یې د اجزاوو ترکیب وکوت او زه به یې د هغه له رانیولو څخه منع کړم. بیا هغه زه خپل یوه دوست ته وروستلم چې جابر شیخ صاحب ورته ویل. دغه شیخ صاحب دمخه د فرانسې په یوه دولتي اداره کې کار کاوه. خو کله چې هغه اسلامي

کالي اغوستل پيل کړل، ډيره يې پرېښوول، حج يې وکړ او پنځه وخته لمونځ يې کاوه نو يې خپل دغه کار له لاسه ورکړ. ځکه نو هغه اړ سو چي د فرانسې په يوه ښار کي يو رستوران را وباسي. شيخ صاحب د جابر په غوښتنه را ته وويل چي ما د فرانسې په فوډ ډيپارټمنټ (د خوړو په يوه څانګه کي) لس کاله کار وکړ. زما کار د خوړو، د سينګار د سامانونو او د قوت د درملو راجسرول وو. کله چي به کومي کمپنۍ خپل يو توليد کړی شی بازار ته وړاندي کاوه نو لومړی به يې د هغه شي نمونه ماته راوړل. په پايله کي زه وپوهېدم چي د غاښو په کريمونو، د ږېري خريولو په کريمونو، ژاولو، چاکليټو، خوږو، بسکيټو، د خوړو په بندو دبليو، ځينو درملواو ملټي ويټامين ګوليو او داسي نورو کي دغه کمپنۍ د خنزير وازګي استعمالوي او د هغو پر قوطيو باندي د وازګي نوم نه، بلکي د وازګو د اقسامو کودونه ليکي.

په هغه خبر کي چي د پاکستان د لاهور د «نوائے وقت» ورځپاڼي د۱۹۸۸ ع.کال د اپريل د ۲۲مي نېټې په ګڼه کي خپور سوی دی او په دغه کال د ترجمان القرآن مياشتيزي هم له «اردو ډائجسټ» څخه اقتباس کړی دی وايي چي: د متحده عرب اماراتو حکومت د پروفيسر احمد صقر (بيروت) يوه مقاله خپره کړې او په هغې کي تر هر اړخيزي څېړني وروسته د اروپا او امريکا د هغو شيانو فهرست راغلی دی چي د خنزير د جسم يوه برخه لا نه يوه بر خه پکښي ګډه سوې ده. په دغو شيانو کي پر صابونونو، لبسيرينو او ډول ډول د سر، مخ او غاښو کريمونو سربېره د خوړك شيان لکه چاکليټ، بسکيټ، پوڅه، خواږه او کيکونه، پنډه ډوډۍ (ډبل روټي) او مشروبات هم شامل دي.

په دغه مقاله کي ليکي: د مسلمانانو ديني فريضه ده چي لاندي الفاظ يادانښت کړي او دکومو شيانو پر قوطيو او دبليو چي يې ويني بايد پوه سي چي په هغه کي د سرکوزي غوړزګي يا غوښي ګډي دي او هيڅ يې بايد ونه خوري. او کوم بل څوك چي يې استعمالوي هغه لا په پوه کړي چي دغه شيان سم نه دي. ان کوم دکاندار چي يې خرڅوي هغه هم پوه کړي چي د دغو شيانو له خرڅولو ډډه وکړي. د دغو شيانو فهرست په دې دول دی:

1- پګ هاك سواين (Pig-Hog, Swine) سرکوزي او د هغه غوښو ته وايي.

2- پورك (pork) سپارګل (Sporkle) هیم (Ham) بیکن (Bacon) او مالګین پورکر (Saltiest Porker) د خنزیر د غوښو بېل بېل نومونه دي

3- لارډ (Lard) د سرکوزي غوړزګیو ته وايي.

4- جلاټين (Gelatin) یوه سریښناکه ماده ده چې د څارویو (زیاتره د سرکوزو) د هډوکو، پوستونو، ښونګرو او نورو څخه لاسته راځي. (له شینلویعني نباتاتو څخه هم په لاس راځي).

5- پیپسین (Pepsin) یوډول درمل یا جوهر دي چي د سرکوزي وینه په ګډه ده. (پخپله پیپسین د معدوي عصارې یا دوو ډولو مهمو انزایمونو څخه د یوه نوم دی چي په معده کي رامنځته کیږي، په اسیډي چاپېریال کي فعالیت کوي او پروټین او کوچني کېمیاوي اجزاپه (Peptones) او (Proteoses) بدلوي.

٦- ایل شارټننګ یا اینیمل شارټننګ (L-Shortening) یا ( Animal Shortening) یوډول تېل (ویلي غوړي) دي چي په عامه توګه خواړه پکښي پخیږي. په دغو کي زیاتره د سرکوزي یا د داسي څارویو غوړزګي وي چي په غیر شرعي طریقه ذبح سوي وي.

## په پاکستان کي هم په ځینو شیانو کي د سرکوزي غوړ ګډوي

زموږ ګاونډی هیواد پاکستان د مسلمانانو ملك دی او د اسلام پر نامه جوړسوی دی. خو له بده مرغه لکه چي د «ملټي نیشنل کمپنیون کی اسلام دشمنی» کتاب له (۱۱۷) مخ څخه څرګندیږي د دغه هیواد د غاښو د کریمونو ځیني کمپنۍ هم د غاښو په کریمونو کي د سرکوزي غوړ استعمالوي. دغه کتاب د دې خبري د ثبوت لپاره د لاهور د «نوائے وقت» ورځپاڼي د ۱۹۸٦ع.کال د اګسټ د اوومي نېټې د «سر راهے» کالم اقتباسوي او د ضمیر پلورونکو د دې قبیح عمل په هکله لیکي:

«په دې ملك كي د سركوزي دغوړزګيو د راوړلو سوداګر هم سته. په يوه خبر كي ويل سوي دي چي تېركال د سركوزي د غوړزګيو پر واردولو باندي دري دېرش لكه روپۍ لګېدلي دي. كله چي په ورځپاڼو كي پر دې خبره حيرانتيا او خواشيني وښوول سول او دا يې د دغه ملك او قوم پر تندي يو تور داغ وباله نو په همدغه كال هم د څلورو لكو روپو په بيه د سركوزي غوړزګي وارده سول. پر دې سربېره د دغه هيواد ځينو نورو ادارو هم ويلي دي چي د غاښو په كريمو كي د سركوزي د غوړو استعمال نه سي نفي كېدلای». تفو بر تو ای چرخ ګدون تفو!

## د سينګار په شيانو كي جعلكاري:

د يادولو وړ ده چي د پروفيسر احمد صقر د پورتنۍ څېړني له مخي په لاندي كاسمتيكس يا ميك اپ (د سينګار سامانونو) Lard (د سركوزي غوړزګي) هرومرو ګډه ده با يد له رانيولو او استعمالولو څخه يې ډډه وسي:

1- Lux Soap.
2- Camy Soap.
3- Avery Soap.
4- Soap Lata.
5- Safe Guard.
6- Zict.
7- Bryl Cream.
8- Liscap.
9- د وربېښتانو ډول ډول كريمونه.
10- ډول ډول لبسرينونه.
11- د غاښو كريمونه.

پورتني شيان د كولګيټ (Colgate)، پام ليف (Palm leaf) كمپنۍ جوړوي.

## د غاښو په کريمو نوکي جعلکاري:

د دغو دوو کمپنيو د غاښو په کريمو کي هم د سرکوزي غوړزکي ګډه سوې ده:

1- کولګيټ (Colgate).

2- بروفن فوډ (Food Burpen).

## د ښځو په لب سرينونو کي جعلکاري:

ساينسي څېړنو جوته کړې ده چي د سرکوزي له غوړزګۍ پرته د بل هر ځاروي غوړزګي د انسان پر بدن باندي ويلي کيږي. نو له دې امله په لب سرينونو کي د سرکوزي غوړزګي ګډوي. (د لب سرين په هکله بشپړ تفصيلات د «لب سرين او نوي ساينسي څېړني» تر سر ليک لاندي مطالعه کړئ).

## د سينګار په سامانونو کي د ماشومانو د هډوکو کارول:

د سينګار په سامانونو کي د خنزير پر غوړزګيو سربېره هغه يو ډول کيمياوي مواد هم ګډوي چي د حمل د اسقاط له لاري يې د ضايع سوو کوچنيانو له هډوکو څخه په لاس راوړي. دا خبره د فرانسې د کاسمټيك (Cosmetic) د يوې مشهوري کمپنۍ د موټر د تلاښۍ په پايله کي څرګنده سوه.

په دغه موټر کي يې د مړو ماشومانو جسدونه وموندل او بيا جوته سوه چي د دغو کوچنيانو هډوکي په ډول ډول کريمونو کي استعمالول.

## په شيندونکو عطرونو (Perfume Spray) کي شراب ګډوي:

لکه چي پوهېږو زموږ په مذهب کي د عطرو او خوشبويۍ وهل نبوي سنت باله سي او په اسلامي رواياتو کي مسلمانان د هغو وهلو ته هڅول سوي هم دي. خو د اسلام په سپېڅلي دين کي د خنزير غوښې او شراب خوړل په ټينګه حرام بلل سوي دي. د روغتيايي پلوه هم د عطرو وهل غوره ګڼل سوي، مګر د خنزير د غوښو او شرابو خوړل د انسان صحت ته خورا مضر جوت سوي

دي. اما امريکا يان او اروپايان کوم چي ځانونو تـه متمـدن او ډېـر پـا ك خـواره وايي د خنزير دغه نجسي غوښي او مردار شراب په پېخر خوري.

دغه کفار د شرابو سره دونه مينه لري چي ببخي يې په عطرو او خوشـبوييو گډوي. لکه چي تقريباً د سپرې عطرو پـه ټولـو ډولونـو کـي شـراب گـډ دي. د بيلگې په توگه ما چي په دې هکله د معلوماتو په منظـور د لـومړي ځـل لپـاره د بـدبويي لیـري کولوسـپرې عطـرو يـوه قـوطۍ را واخيسـتل پـر هغـې د INGREDIETS (تـوکي يـا اجـزاوي) تـر سـرليك لانـدي لـومړی تـوکی SD ALCOHOL40-B. (ايس ډي الکحل - ۴۰ بي) ليکلی وو.

لکه چي موږ پوهيږو د لومړي ځل لپاره محمـد زکريـای رازي د شـرابو لـه تقطير څخه دغه ماده تر لاسه کړل او هغه يې الکحل وبلل. الکحـل لـه اصـله عربي لفظ دی کوم چي انگرېزان يې د شرابو په معنا استعمالوي.

نو که موږ دغه سپرې پر بدن او يا کاليو باندي ووهو څرگنده خبره ده چي ټول بدن او کالي مو مرداريږي او په مردار جسد او د مردارو کالو سـره لمـونځ او عبادت نه صحيح کيږي. د جسد او کالو طهارت او پـاکي د لمانځـه شـرط باله سي.

موږ هم عجب خلك يو په ټولو اسلامي هيوادونو کي، ان زموږ په همدغـه کندهار کي ډول ډول ښه عطر او خوشبويی جـوړيږي او د عطـرو پلورلـو ډېـر پخواني او سابقه لرونکي دکانونه سته، خو موږ د اسـلامي هيوادونـو او زمـوږ خپلو عطرونو ته په کمه سترگه گورو او د کفـري ملکونـو دغسـي نجـس عطـر چي هم زموږ تر عطرو گران او هم بي کيفيته دي رانيسو او پـه نـاپوهۍ او بـې خبرۍ سره هم زموږ ملي گټي وتې ته تاوان رسوو او هم مو لمونځ، عبادت او آخرت خرابوو. زمـوږ بـدمرغي داده چـي زمـوږ د وطـن شـيانو تـه ارزښـت نـه ورکوو. په تېره چي کوم شی ارزانه وي هغـه تـه خـو ببخي قـدر نـه ورکـوو. ان داسي لا هم کيږي چي ځيني خلـك چـي ځـانو تـه پوهـان او عالمـان وايـي پـه سپرې کي د الکحولو له شـراب بللـو څخـه انکـار کـوي او ادعـا کـوي چـي پـه سپرې عطرو گډ الکحل د الکحلو هغه ډول دی چي شراب نه بلل کيږي او پـه دې ډول د خپل وطن د عطرو پر ضد او د کفارو په گټه دلايل هم وايي.

**په کلونيا کي هم الکحل او يو بل ډول نجسه ماده ګډه ده:**

کلونيا (Cologne) چي (Eau De Cologne) هم ور ته وايي يو ډول معطر او خوشبويه محلول دی چي معمولاً د الکحلو او له دوو څخه تر شپږو فيصدو عطرو د يو ځای کېدو څخه جوړيږي. پخوا اصلي کلونيا د سيټروس د غوړيو (کوم چي د ليمبو يا نارنجو څخه په لاس راځي)، د شينشوبي غوندي يو ډول نبات او د نارنجو د ګلانو د غوړيو څخه جوړېدل. وګورئ:
CD Edition Deluxe ENCYCLOPAEDIA BRITANNICA, 2005.

د Cologne ماده. خو اوس پر الکحلو سر بېره يو ډول بله نجسه ماده هم په ګډوي. د فتاوٰی علماء مسجدالحرام له (۱۴۰) مخ څخه څرګندېږي چي په ځينو عربي هيوادونو کي په کلونيا کي د دغي مادې د ګډېدو له امله تشويش او جر او بحث رامنځته سوی وو. نو د سعودي عربستان ستر اسلامي عالم عبدالعزيز بن عبد الله بن باز فتوا ورکړه: «څنګه چي د ډاکټرانو په وينا په کلونيا کي د «السبرتو» په نامه يو ډول نشه کوونکې ماده ګډه ده نو بايد له استعمال څخه يې ډډه وسي او پر ځای يې نور سم عطر وکارول سي». د يادولو وړده چي عرب په عامه توګه الکحلو ته «السبرتو» وايي. (Spirituous) هغه ماده ده چي مخمر الکحل په افراط سره په ګډوي. (Dictionary The Standard English Urdu).

په پای کي بايد ووايو چي کېدای سي اوس د ډېرو چالاکيو په دودېدوسره د کفارو د ملټي نېشنل کمپنيو په توليداتو کي تر دې زياتي درغلۍ رامنځته سوي وي. لکه چي په دې وختونو کي مونږ ليدلي او اورېدلي دي چي امريکايانو او ځينو نورو په اصطلاح مرستندويو او خيراتي موسسو زمونږ په هيواد کي زياتره دغسي مواد د ښوونځيو زده کوونکو او نورو ته وېشلي او بازارونو ته يې وړاندي کړي چي زياتره تر وخت تېروي، ډېر بدخونده وي او ډېر بد بوی يې هم ځي. داچي له دغو توليداتو څخه د ځينو استعمال حلال دی که حرام دا بېل فقهي بحث دی. په اوسنيو شرايطو کي مونږ ته د مسلمانانو په توګه ښايي چي د امريکايانو او نورو کفري ملکونو دغسي مشکوك او مشبوه شيان هيڅ استعمال نه کړو. ځکه له يوې خوا د دغسي شيانو استعمالول د

اسلامي تقوا سره مخالف کار دی. بل دغسي شيان زمونږ روغتيا ته مضر او اقتصادته تاواني دي او د دغسي نجسو توکو استعمال زمونږ پر اخلاقو او کړو وړو هم ډېره بده اغېزه ښندي. تاسي کولای سئ له دغو شيانو څخه ځيني هيڅ استعمال نه کړئ. ځينو ته چي اړتيا لرئ پخپله يې په خپلو کورونو کي جوړ کړئ. يا يې پر ځای د هغو معادل او يا ځيني طبيعي او زمونږ دوديز توکي وکاروئ. يا د دغو شيانو پر ځای د اسلامي هيوادونو له دغسي توليداتو څخه چي اوس ښېخي ډېر دي او هر ځای موندل کېږي استفاده وکړئ. اوس الحمد لله موږ هيڅ اړ نه يو چي د کفري هيوادونو دغه ناولي او چټل او زمونږ روغتيا ته مضر توکي استعمال کړو.

البته موږ دا هم په غوڅه توګه نه سو ويلای چي د اسلامي هيوادونو په دغسي شيانو کي د سرکوزي غوړ يا پيپسين يا نور ناپاکه توکي نه دي ګډ. په دې هکله بايد هغه سوداګر چي دغسي شيان له اسلامي هيوادونو راوړي هلته له کمپنۍ والاوو څخه پوښتني او ګروېږني وکړي، خپل ډاډ تر لاسه کړي او د اړوندو کمپنيو فهرستونه او سندونه وګوري، د خپلو مالونو سره يو ځای يې راواخلي، زمونږ د حکومت اړوندو ادارو ته يې وښيي او په خبري رسنيو کي په دې هکله لازم وضاحتونه خپاره کړي.

# سينګار، سينګار ځای او د سينګار شيان

په هر مهال او هر ولس کي ښځي د ځان جوړولو او سينګار سره ځانګړې مينه لري. د اسلام مبارک دين هم د دې لطيف جنس دغه طبيعي ذوق او شوق له پامه نه دی غورځولی. زموږ پيغمبرﷺ په دې هکله هم څرګندي لارښووني کړي دي. په دې هکله د هغه دې حديث ته پام وکړئ:

«إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ» (صحيح مسلم او مسند احمد).

ژباړه: الله تبارک و تعالی پخپله ډېر ښکلی دی او ښکلا ډېره خوښوي.

معنا داچي زموږ پيغمبرﷺ غواړي چي موږ صاف ستره اوسو، د باطني پاکۍ او سپېڅلتيا ترڅنګ خپلي ظاهري بڼې، د سر او وربښتانو او د کالو پاکوالي او خواپاکۍ ته هم متوجه اوسو. قرآن کريم فرمايي:

﴿قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ﴾ [الأعراف: ٣٢].

ژباړه: «(ای پيغمبره!) دوی ته ووايه چي چا دالله هغه ښکلا حرامه کړې ده چي هغه دخپلو بندګانو لپاره را ايستلې ده او چا دخدای بخښل سوي پاک شيان منع کړل؟».

ښځي ته په حلالو شيانو او په هغو شيانو چي روغتيا ته ضرر نه لري سينګار جواز لري، خو چي د کور دننه وي. البته ښځه د کور دباندي هم آرايش کولای سي، خو چي په حجاب کي په بشپړه توګه پټ وي او داسي نه وي چي د نامحرمو خلکو د ورته کتلو يا کشش لامل سي.

کومي ښځي چي بې ستره له کوره دباندي وزي د هغو په هکله د رسول اللهﷺ دې حديث ته پام وکړئ:

«نِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مَائِلَاتٌ مُمِيلَاتٌ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَرِيحُهَا يُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ خَمْسِ مِائَةِ عَامٍ» (صحيح مسلم او نور).

ژباړه: داسي ښځي به وي چي د کالو اغوستلو سره سره به لڅي وي او داسي ښځي به وي چي خپله به هم بدو چارو ته مايلي وي او خلک به هم

ځان ته او ناوړو چارو مایل کوي. دغه ښځې نه جنت ته ننوتلای سي او نـه بـه يې خوشبويي ور ورسيږي. په داسي حال کي چي د جنـت خوشـبويي د پنځـو سوو کالو د سفر په ليري فاصله هم ځي.

## سينګار په کور کي د مېړه لپاره دی نه د باندي د خلکو لپاره:

سينګار او ښه کالي اغوستل هم د ښځي حـق دی او هـم پـر هغـې بانـدي د مېړه حق دی. خو تاسي ټولو ته معلومه ده چي اسـراف نـه دی ښـه. نـو داچـي زمونږ ځيني خوندي د هندي او غربي (يعني مشرکينو او کفارو) دموډ او فيشن په پيروي ډول ډول لباسونه په خورا ډېرو پيسو رانيسي او چي پـه يـوه واده کـي يې واغوستل بيا يې بل واده يا خوښۍ ته نه اغوندي، نو آيا دا اسراف نه دی؟ او آيا دا د هندوانو او کفارو پيروي او پيښې نه دي؟

دا د مېړه حق دی چي ښځه هغه ته ځان جوړ کړي او خپل حسـن او ښـکلا ورته څرګنده کړي. خو له بده مرغه په موږ کي دا دود اوس سر چپه سوی دی. زمونږ زياتي ښځې په کور کي د مېړه په مخ کي خيرني پيرني ګرځي، خو چي له کوره دباندي وزي نو ځان ښه جوړ او يو غوړپ کړي او هغـه څـه زر او زينـت او ښه جامې چي لري په ځان يې واغوندي. رسول الله ﷺ څه ښه ويلي دي:

«الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتْ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ» (رواه الترمذي).

ژباړه: ښځه د پټېدو شی دی، کله چي هغـه لـه کـور څخـه دبانـدي ووزي شيطان يې په پيڅه سي. (يعني د خلکو په نظر کي يې ښه وايسوي چي په بده ورته وګوري).

ښه خو داده چي که ښځه له کوره وتلو ته اړه سي، نو په ساده لباس کـي دي وزي.

په قرآن کريم کي د پردو په مخ کي د ښځي په سينګار سوي حالت کي وتلـو ته د «تبرج» لفظ استعمال سـوی دی. پـه صـحيح البخـاري کـي د تبـرج ژبـاړه داسي راغلې ده: «التَّبَرُّجُ أَنْ تُخْرِجَ مَحَاسِنَهَا» (تبرج دادی چي ښـځه خپـل د ښـکلا ځايونه څرګند کړي).

د ښځي تبرج او د حسن او جمال اظهار او لڅه او بې ستره پر بازار کېدل، لکه همدا اوس چي د امريکايانو او لوېديځوالو د تېري او نيواک سره زموږ په هيواد کي ډېر ليدل کيږي د کور نيو او ولسونو د تباهۍ او بربادي او خواری او ذلت لامل سوی دی. نو د ټولنيزي فتنې او فساد د مخنيوي لپاره بايد ښځي حيا او عفت خپل کړي.

## سينګار ځاي (آرايشګاه) او شرعي احکام:

د ښځي لپاره سينګار يو فطري عمل او روا کار دی، دغه راز د ښځي لخوا د ښځي سينګارول هم روا کار دی، خو چي په سينګار او د سيګاروونکي ښځي په کار کي ناروا او ناسمي چاري نه وي. که يوه ښځه بله ښځه وړيا يا په مناسبه اجوره جوړوي په دې کي څه خبره نسته، لکه چي په درالمختار کي وايي: «وَجَازَ إِجَارَةُ الْمَاشِطَةِ لِتُزَيِّنَ الْعَرُوسَ إِنْ ذُكِرَ الْعَمَلُ وَالْمُدَّةُ» «د ناوي د سينګار لپاره د آرايشګري اجاره چي کار او د کار موده ذکر سي جواز لري». خو که آرايشګره داسي چاري تر سره کوي چي د لوی څښتن ﷻ له طاعت او عبادته دا يا سينګار کوونکې ښځه په وزي، نو دا بيا ښه کار نه دی. يا حرام کارونه کوي، لکه چي د ښځي ورځي جوړوي يا يې د مخ لږ او عادي وريښتان اخلي يا يې د سر سپين وريښتان په تور رنګ رنګوي يا د ښځي سر د لوېديځ د کافرو او خدای ته ياغي ښځو په پېښو د اوښ د بوک غوندي جوړوي، يا يې سر د نارينه وو غوندي جوړوي، يا نور وريښتان پوري نښلوي يا د بدن وريښتان لکه د شرمځای يا داسي بل ځای وريښتان ليري کوي يا داسي کارونه کوي لکه چي په دې وروستيو کي د نورو کفري هيوادونو په سينګار ځايونوکي دود سوي دي، يا د سينګار خبره اسراف ته ورسيږي، (لکه په اوسمهال کي چي زموږ د هيواد په ګوټ ګوټ کي زياتي آرايشګراني ښځي ډېري پيسې اخلي) نو په دې صورت کي دا کار ناروادی.

دلته به يوه بله خبره هم ياده کړو او هغه دا ده چي له امام احمد رحمه الله څخه د هغه مهال يوې آرايشګري ښځي پوښتنه وکړه چي ما د ښځو په وريښتانو پوري د زياتي وريښمو غوندي توکو په نښلولو او د ښځو د سرونو په جوړولو

سره دغوني پيسې ګټلې دي چې حج ته په ولاړه سم، نو دا څنګه دی؟ هغه د نه! جواب ورکړ او د دې کسب يې مکروه وباله او ورته ويې ويل چې حج تر دې په حلالو پيسو وي. (احکام تجميل النساء (۳۸٦) مخ د المغني په حواله).

دغه راز په الفقه الاسلامي وادلته کتاب او کشاف القناع نومي کتاب کې وايي چې: «وَيُكْرَهُ كَسْبُ الْمَاشِطَةِ» يعني د سينګار کوونکي ښځې کسب مکروه دی.

په اوسنيو عالمانو کې د سعودي عربستان نامتو اسلامي پوهاند شيخ الفوزان هم د يوې فتوا په ترڅ کې ښځو ته لارښوونه کوي چې د سينګار لپاره دې سينګارځايونو ته نه ځي. ځکه چې له کور څخه سينګار ځای ته د دې په وتلو کې په فتنه او ناروا د اخته کېدلو امکان سته. او دغه راز په سينګار ځايونو کې يا هغه ښځې وي چې د اسلام په احکامو پابندي نه وي يا نارينه کار پکښې کوي چې هغو ته د ښځې د ورېښتانو ښکاره کول حرام دي.

دغه راز د سينګار ځای په هکله د شبکة الاسلامية د مرکز الفتوی د 1424هـ کال د جمادي الثاني (څلورمي خور) په يوه فتوا کې چې په المکتبة الشاملة کې راغلې ده داسې وايي:

د سينګار ځې په پرانيستلو کې کوم حرج نسته، خو په دې شرط چې د شرعي ضوابطو سره سم کار وکړي او له حرامو او منع سوو کارونو څخه خالي وي، په دې ډول: ۱. د سينګارځای کارکوونکی به مسلمانه ښځه وي. ۲. سينګارځای به متبرجي (د ښکلا د ځايونو څرګندوونکي، آزادي ښځې) نه سينګاروي، ځکه چې دا د هغو سره پر معصيت باندي مرسته ده او الله تعالی فرمايي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ﴾ [المائدة: ۲].

ژباړه: «کوم کارونه چې د نېکۍ او تقوا دي په هغو کې يو له بله مرسته وکړئ او د ګناه او تېري په چارو کې د چا ملاتړ مه کوئ».

د سيګاروونکي په کار کې به حرام کار شامل نه وي، لکه دا چې د ښځې ورېښتان داسې جوړ او لنډ کړي چې د کافرو يا فاجرو ښځو يا د نارينه وو سره

يې مشابهت او ورته والی وسي. يا يې ورځي جوړې کړي، ځکه چې رسول الله ﷺ پر ورځي جوړوونکي او پر هغې ښځې چې د بلې ښځې ورځې جوړوي لعنت ويلی دی. يا د ښځې عورت ته وګوري يا لاس په ووهي. او د ښځې عورت ښځې ته له نامه څخه تر زنګنو پوري دی. يا دا چې د سر سپين وريښتان يې په تور رنګ ور رنګ کړي.

## په بې حيا آرايشګرو ځان سينګارول:

په سينګار ځايونو کې چې کومې آرايشګرې ښځې کار کوي او ښځې جوړوي او سينګاروي زياتې يې بې لمانځه او لڅ مخې، آزادې او د خدای او رسول له احکامو څخه بې خبرې او ياغيانې وي. دا داسې ښځې وي چې مېړه له دوی څخه او دوی له مېړه څخه بېزاره وي او بالاخره يې دغه کارونه پسې را اخيستې وي. دوی نورې ښځې جوړوي، خو پخپله دوی خپل ځانونه خپلو مېړونو ته هيڅ نه جوړوي، نو آيا يوه سترمينه او حياناکه ښځه په دغسې بې حيا او ګنهکارو ښځو خپل ځانونه جوړوي؟ نه! هيڅکله نه! دغسې پاکخورې او باعفتې ښځې د دغسې ناولو ښځو لاسونه هيڅ وخت ځان ته نه پرېږدي.

## په نارينه سينګار کوونکو ځان جوړول حرام کار دی:

که په سينګار ځای کې کار کوونکی نارينه وي يا په دغسې ځای کې کوم ناينه د وظيفې له مخې وزې ننوزي، نو په دغسې ځای کې د ښځې د ځان جوړولو د حراموالي او پر هغې باندې د خدای د لعنت د اورېدو څه شبهه پاته کېږي؟

په دغسې ځايونو کې په ناولو، بې حيا او ګنهکارو بدنامو ښځو يا په نارينه وو ځان جوړول پاکې او مسلمانې ښځې ته هيڅ مناسب کار نه دی، بلکې ښځه په کور کې چې څه کېدای سي، په هغو بايد ځان سينګار او تيار کړي. په دې کې د هغې د دنيا او آخرت ښېګڼه او کاميابي ده.

## سينګار ځايونه او نوي سائنسي څېړني:

اوسمهالو سينګار ځايونو ته د ښځو تلل او د اسلام او وطن د دښمنو لوېديځوالو نوی رامنځ ته کړی فيشن غوره کول او د سينګارکوونکو لخوا ډول ډول مضر او د روا والي او نه روا والي له مخي معلوم او نامعلوم کېمياوي مواد استعمالول د مخ، جسم او ورېښتانو فطري او طبيعي ښکلا له منځه وړي او ډېر نور تاوانونه هم ځني رامنځ ته کيږي. په دې لړ کي د قاهرې د روغتيايي کالج پروفيسر ډاکټر عبدالمنعم ليکنه ډېره فکر پاروونکې ده، هغه ليکي:

«سينګارځايونو ته تلل او د سر د ورېښتانو ډول ډول جوړول او د اروپايي ښځو په پېښو د فېشن ډول ډول رنګونه په وهل، د هغو دصافولو او اړولو رااړولو لپاره بېلي بېلي غير فطري طريقې په کار اچول ورېښتانو ته ډېر ستر تاوان لري. له دغسي چارو څخه ورېښتان ژر تويږي او د هغو بېخونه کمزوري کيږي. دغه راز د ورېښتانو جوړولو ماشين استعمالول او په ورېښتانو ډول ډول کېمياوي دواوي وهل ورېښتانو ته سخت تاوان رسوي او ښځي بايد له دغسي زيب او زينت څخه په کلکه ډډه وکړي».

زموږ ډېرو خوندو ته دا هيڅ معلومه نه ده چي د هغو د سر د ورېښتانو چپه او راسته اړول څونه تاوانونه لري؟ د سر د ورېښتانو د هاخوا دې خوا اړولو پايله دا کيږي چي د هغو پر ريښو زور راځي او دويني هغه ځانګړی مقدار چي بايد ورېښتانو ته ورسيږي، نه ور رسيږي. چي له امله يې د ورېښتانو بېخونه کمزوري کيږي. او نتيجه يې دا کيږي چي د آرايش ځايونو په صالونونو کي د سينګار د ډول ډول چارو په تر سره کولو سره ښځه د څه مهال لپاره په ظاهره ډېره ښکلې ايسي، خو وروسته چي د سينګار د دغو چارو اثرات له منځه ځي، نو بيا پنځه ويشت کلنه ځوانه ښځه که پنځوس کلنه نه وي، څلوېښت کلنه خو هرو مرو ايسي او د دې ګناه اغېزه دا وي چي د مېړه په زړه کي د ميني او محبت پرځای کرکه او نفرت ورڅخه پيدا سي.

## سينګار ځايونه له ډول ډول خطرونو ډک دي (برتانوي څېړنه):

لکه څنګه چي په ښځو کي د ښکلا شوق زياتيږي همدغسي پر تجارتي بنسټونو ولاړو، د سينګار د مراکزو کار وبار هم پرمختګ کوي. ورځ په ورځ نوي سينګار ځايونه د نوو نوو سامانونو او د سينګار د توکو سره را وزي، او ډېر نارينه او ښځي په دې کار بوختي دي.

اوس د برتانيې د جلدي ناروغيو دوو ماهرو ډاکټرانو بروس پولاک او مارک ولکسن په خپل يوه رپوټ کي څرګنده کړې ده چي د نرسانو او په بېکريو (کلچه پزيو) کي د کارکوونکو غوندي په سينګارځايونو کي کار کوونکي او د وېښتانو جوړوونکي هم د جلد د پاړسوب يا التهاب دخطره سره مخامخ دي. دغه شکايت د آرايشګر پر لاس سربېره د هغه د بدن په هره هغه برخه کي کېدای سي چي د کار په دوران کي کېمياوي مواد پوري ښتلي.

د وربېښتانو جوړوونکو په لاسونو کي جلدي التهاب په ظاهره دوه لامله لري: زياتره په وربېښتانو له لاس وهلو څخه، په لاسونو کي يو ډول سوی پيدا کيږي او پر پوست باندي د کېمياوي مرکباتو له لګېدو څخه حساسيت رامنځ ته کيږي. ښايي دغه کېمياوي مواد د وربېښتانو د پرېوللو لپاره استعمال سي يا د وربېښتانو په نوي انداز د جوړولو يا د سپينو وربېښتانو د رنګولو لپاره وي.

د سينګار په مرکزونو کي کار کول هغو کسانو ته ډېر نامناسب دی چي له کوچني والي د يو ډول دانو يا بل ډول حساسيت په ناروغي اخته سوی وي. که دغسي څوک د سينګار په مرکز کي د خپل کار په بهير کي د پوست د پاړسوب په ناروغي اخته سي، نو له دې ناروغۍ څخه د ژغورني امکانات ډېر کم دي. البته د چا پوست چي لږ پړسېدلی وي او بيا په لاسونو شامپو او نور کېمياوي مواد ونه وهي، نو کېدای سي چي د حساسيت له دغي ناروغۍ څخه وژغورل سي.

## سينګار ځای او د سرطان ناروغي:

ډاکټر رت آرم او ډاکټر فرينک موروي وايي چي هغه کسان چي په سينګار ځای کي کار کوي، په هغو کي لس برابره دا امکان سته چي د سږو په سرطان

اخته سي. او عموماً له دغي ناروغۍ څخه د دوی مرګ وي. دغه څرګندونه د کاليفرونيا درو ډاکټرانو د ۱۹۷۵ع. کال په جولای کړې ده. دغه څېړنه يوازي د يوې سيمي د حسن او ښکلا پر ماهرينو سوې ده. ساينس پوهان وايي چي له دې څخه په ټول هيواد کي په دغه سبب د دغي ناروغۍ اندازه لګېدای سي.

که پر وربېښتانو باندي د استعمالوونکو رنګونو څېړنه وسي، نو معلومه به سي چي دغه وربېښتان هم د سرطان د پيدا کولو وړتيا لري. سوال دا دی چي دغه کېمياوي ماده د سږو پر ځای د جلد سرطان ولي نه پيدا کوي. د دې پوښتني جواب تر اوسه د چا سره نسته. خو دونه معلوميږي چي په سينګار ځايونو کي کار کوونکي ټوله ورځ په ککړ چاپېريال کي اوسي او ورسره د داسي توکو سره سروکار لري چي کېدای سي په يو ډول لا نه يو ډول دي سرطان پيدا کوونکي وي. يا داسي معلوميږي چي دغه ټول عناصر په مجموعي توګه سرطان پيدا کوونکي وي. پر وربېښتانو باندي استعمالېدونکي عناصر وته «ايروسول» وايي او هر وخت کېدای سي چي لاسونه په دغه ماده ککړ سي او چي ټول عمر دغه مواد استعمال سي نو دغه اغېزې ځني را منځ ته کيږي. اړتيا دې خبري ته ده چي په دې هکله پرېکنده او بشپړه مطالعه وسي. او رپوټ يې وړاندي سي، خو ډېره ښه مشوره داده چي ښځي دي هغه شيان استعمال کړي چي په درملتونونو کي پيدا کيږي او د سينګار هغه توکي دي نه رانيسي چي په نورو ځايونو کي خرڅيږي.

## د سينګار د سامانونو ناوړي اغېزې

موږ په مخکنيو مخونو کي د سينګار په ځينو شيانو کي د سرکوزي د غوړو او نورو مضرو توکو د استعمال او د هغو د ځينو نورو دنيوي او اخروي اضرارو له امله د هغو ځيني بدګڼي بيان کړې. له لويه سره په خپله آرايش او سينګار هم ډېري ناوړي پايلي لري.

د سينګار د شيانو کارول له ډېرو پخوا زمانو څخه رواج لري. د هومر د اوډيسي (ستري حماسي منظومې) د «پِنِي لوپ» په نامه د پاك لمني خو ډېري ښکلي ښځي چي د اوليس مېرمن او د تلماك مور ده د سينګار په ذکر کي د

هغې د باړخو ګانو د سینګار لپاره د یو ډول غوړیو، چې وایي د زیتون غوړي وه یادونه سوې ده. د مصر ښایستې ملکې کلوپاترا هم د سینګار لپاره د زیتون غوړي په مخ وهل. له دې څخه څرګندیږي چې له ډېرو پخوا مهالونو څخه ځیني ښکلا بخښونکي توکي د ښځو د مخونو د ښکلا لپاره کارېدل. د جزبیل په کیسه کي چې د تورات یوه برخه ده لولو چې هغه پر خپل مخ رنګ وواهه، د سر وربښتان یې سمبال کړل او له کړکۍ د باندي یې کتل. د فارسیانو نارینه وو هم په باړخو ګانو سرخي وهل. د دوی یوه پاچا چې استیاجز نومېدی او د ۵۸۹ قبل المیلاد په شاوخوا کي واکمن وو په خپلو سترګو رنګ واهه، په مخ یې سرخي او سپېده وهل او پر سر به یې مصنوعي وربښتان ایښوول. د لرغوني روم ښځو به خپل ډېر وخت د خپلو څېرو پر سینګار تېراوه. دغه مهال میناکارۍ ډېر رواج درلود. او د پاچا مېرمني د هغې سره ډېره مینه درلوده. اوس خو نو دادی موږ وینو چې زموږ د مهال ټولي ښځي په تېره زموږ موډرني او دفترونو او بهرنیو موسسو ته تلونکي ښځي خپل ډېر قېمتي وخت پر ځان جوړولو تېروي او داسي ډول ډول شیان پر مخونو وهي چې هم ممکن مردار وي او هم یې د مخونو طبیعې او خدای ورکړې ښکلا خرابه کړي او بالاخره یې په ډول ډول جلدي ناروغیو اخته کړي.

د ځان جوړولو دغه دود سره د دې چې د زرګونو کلونو راهیسي روان دی، په هیڅ ګون ښه کار نه دی جوت سوی. په نژدې تېرو سوو مهالونو کي چې کومي ښځي د خپل حسن او جمال له امله مشهوري سوي دي او د خلکو زړونه یې وړل هغو پر خپلو مخونو سرخۍ، سپېدې، پوډر یا کوم بل رنګ نه واهه.

سرخۍ او پوډر د پوست هغه مسامات بندوي کوم چې د هغو پرانیستي پرېښوول د جلد د روغتیا لپاره ډېر اړین دي. او لکه چې پوهیږو روغتیا او ښکلا یو له بله لازم او ملزوم دي. نو ټول هغه کسان په تېره زموږ خوندي چې د خپلي ښکلا قدر کوي باید دغه صابونونه، لبسیرین، سرخۍ او سپېدې او ډول ډول پوډرونه او د سر او مخ کریمونه او داسي نور د سینګار سامانونه هیڅ نه کړي استعمال. یو نامتو ډاکټر وایي: «ما ډېر ناروغان لیدلي دي چې پر

مخونو یې د بازارونو د خرڅېدونکو پوډرو او پر کېمیاوي توکو مشتمل کاسمټیك سامانونو د وهلو له امله توري لکې او دانې څرګندي سوي وي».

دغه راز نوو ځوانانو او پېغلو ته د جلدي ناروغیو د ماهرانو مشوره داده چي هغوی هیڅ میك اپ (سینګار) ونه کړي. خو دا ددې معنا نه لري چي دوی دي د خپل پوست د نرم او روغ ساتلو لپاره هیڅ ډول غوړ یا کریم نه استعمالوي. ځکه چي په کم عمری کي پوست د ناوړو اغېزو سره مخامخ کیږي. نو که د دغسي کسانو څېره د دغسي اغېزو څخه متاثره سوې وي هغوی باید د خپل جلد د صفایي، نرمۍ او ښکلا لپاره د زیتون غوړي استعمال کړي.

پر غیر روغتیایي شیانو مشتمل کاسمټیکس که څه هم د اوس لپاره پرتاسي بد نه دي لګېدلي خو امکان لري چي په راتلونکې کي ستاسي پر جلد بده اغېزه وکړي.

دغه راز د مخ ځیني هغه کریمونه او لوشنونه چي کېمیاوي توکي په ګډه وي ستاسي جلد سمدستي هرومرو صافوي او ښکلی کوي. خو دا هم ممکنه ده چي پر پوست باندي د دغسي کریمو نو په وهلو سره د پوست طبیعي غوړزګي له منځه یوسي او وروسته وروسته ستاسي پوست د وچي څرمني غوندي وایسي.

د سینګار سامان جوړولو ځیني کمپنۍ په خپلو مصنوعاتو کي د طبیعي نباتاتو توکي لکه شات، د زیتون غوړي، ګنی، نکریزي، کاکاو، د بادامو غوړي، د لیمبو او سنګترې ارغ او داسي نور شاملوي. البته د دغسي کاسمټیکسو استعمالول د هر چا لپاره ګټور او د هر پوست سره موافق دي.

نوکله چي د کاسمټیك سامان رانیسئ لیبلونه یې په ډېر پام سره لولئ که پر هغو باندي د طبیعي بوټو او توکو نومونه لیکلي وه او کمپنۍ هم کومه معتبره کمنۍ وه رانیسئ یې که نه تر تېرېږئ.

**لب سرین او نوي ساینسي څېړني**

آیا ښځي خبري دي چي کوم لب سرینونه چي دوی پر شونډانو وهي له څه شي څخه جوړ سوي دي؟ داخو پرېږده چي په ځینو لب سرینونو کي د

سرکوزي غوړي استعمال سوي دي، نور تول له داسي ډول ډول کېمیاوي موادو څخه جوړ سوي دي چي شونډانو ته خو تاون رسوي چي رسوي او که په خوله ننوزي او تېر سي روغتیا ته هم په جدي توګه ضررناک تمامیږي.او ان د ځینو طب پوهانو د څېړنو له مخي سرطان زېږوونکي هم دي.

لب سرین معمولاً له تېزابو، نباتي غوړیو، صابون، کسترآیل، د پټرولیمو له یو ډول مومو، خوشبویۍ، غذا ساتونکو کېمیاوي موادو، د کبانو له ځینو اجزاوو، نارنجي اسیدو او رنګونو څخه جوړوي، نو تاسي فکر وکړئ چي د بدن پر داسي حساس او نازک ځای لکه شونډانو باندي د دغسي کېمیاوي اجزاوو پرله پسې وهل به بالاخره څه نتیجه ولري؟

یوه بله د پام وړ خبره داده چي په ځینو لب سرینونو او د نوکانو په رنګ الکحول هم ګډوي. په داسي حال کي چي د الکحولو په حراموالي کي هیڅ شک او شبهه نسته. د «عورت کی اسلامی زندگی او جدید سائنسی تحقیقات» نومي کتاب لیکوال محمد بن اختر لیکي چي د لب سرین په حراموالي او ناپاک والي کي هیڅ شک مه کوئ، ځکه چي په هغو کي د خنزیر غوړي، الکحول او نور نجس مواد ګډوي.

د جان پرنس په نامه یو اروپایي څېړونکی وایي چي اروپایي ښځي سرخي پوډر او لب سرین خورا ډېر استعمالوي. له دې امله اوس روغتیا پالونوکو جوته کړې ده چي د لب سرینو له استعمالولو څخه به پر راتلونکي نسل باندي ناوړي اغېزي لوېږي. یوې بلي څېړونکي مسز میک کروکوډیل چي د برتانیې د «نیشنل ایسوسیشن فار هیلت» مشره ده اندېښنه ښکندوي چي په لب سرینو کي شامل کېمیاوي اجزا په بدن کي د مرغېریو د پیدا کېدو لامل کیږي.

دغه راز یوې برتانوي جریدې «نیو آیډیا» د ۱۹۸۳ع. کال په یوه ګڼه کي ویلي دي چي د څېړونکو تر پرله پسې څېړنو وروسته ښکنده سوه چي پر شونډانو باندي د لب سرین له وهلو څخه په معده کي کرار کرار سرطاني مرغېري پیدا کیږي چي په نتیجه کي یې هغه ښځي چي لب سرین وهي د ګېډي په سرطان اخته کیږي.

**روڼ اندې او په معنوي پسول ښکلې ښځه سینګار ته اړتیا نه لري**

په ښځو کې ډېر فرق سته. هغه ښځې چې ښوونځی او پوهنځی يې ويلی وي يا يې په کور کې د ځاني مطالعې له لارې ليك لوست زده کړی او خپل شخصيت يې په مطالعه او خپل زيار د علم او پوهې په تر لاسه کولو د يوې رشتيني مسلماني او افغاني په صفت جوړ کړی وي او په اند او ژوند کې يې رڼا او ځلا را غلې وي هغو ته خپل دغه ليك لوست، علم او پوهه او معنوي ښکلا هر څه وي. هغو د ټولني د منفي او ناسمو دودونو څخه ځانونه ژغورلي وي، نه دغسې دودونو ته څه ارزښت ورکوي او نه يې په نه تر سره کولو کې څه شرم او د چا د څه ويلو او پېغور پروا کوي، بلکې هر څه چې کوي د اسلامي اصولو او خپلې ټولني په وړاندې د مسؤوليت په احساس يې کوي.

اوسنۍ متمدنه، روڼ اندې او باسليقه مسلمانه ښځه پوهيږي چې د پردو هيوادونو پر ډېر بيو توکرانو او د هغو پر جوړولو پيسې ورکول هم د خپل هيواد د اقتصاد سره جفا ده او هم د خپلې کورنۍ د ګټې وټې بې ځايه لګول او خپل کور او په تېره د کور مشر د ستونزو سره مخامخ کول دي.په معنوي سينګار پسوللې ښځه پوهيږي چې د آرايش پر ډول ډول موادو پيسې ورکول او د هغو په مخ وهل هم د دې د کورنۍ ګټې ته تاوان دی او هم د دې صحت ته. دغسې ښځو په رشتيا درك کړې ده چې د وخت هره شېبه چې پر بې ګټې کارونو تېريږي نه بيا را ګرځېدونکې ده او نه جبيره کېدونکې. نو هغوی خپل قېمتي وخت پر دې نه تېرروي چې په ډول ډول ډېر بيو بربښندوکو کاليو اغوستلو او غليظ سينګار کولو له ځانه نانځکه جوړه کړي او د هوس بازو وګړو سترګو ته يې عرضه کړي. هغه پوهيږي چې په دې کار تر بوختېدو خو د خپل کور کار او د هغه د لوښو او اثاثيو اوډل او سمبالول يا د قرآن کريم تلاوت يا د کتاب مطالعه او ديني او علمي معلومات ترلاسه کول يا څه ليکل يا بل ټولنيز يا وټه ييز کار ډېر ښه دی. رشتيا داده چې دغسې ښځې څه د حقارت عقده هم نه لري او ښه ژوند يې په ساده ګې او پاکي کې موندلی وي. خو د دې په خلاف ناپوهي، نالوستي او چادياني ښځې يا په اصطلاح لوستي متجددې، لوېديځ خوښې او له دين او اسلامه بېزاري (باسوادې خو بې

شعوره) ښځي له هغه ځایه چي په ځانو کي معنوي ښکلا او پانګه نه ویني او له علم او پوهي څخه بې برخي دي یا یې ښوونځی او پوهنځی په یو ډول یا د واسطې او اعتبار په زور لوستی وي خو اوس د باسوادۍ له نامه او د شهادت نامې پرته بل څه په سینه کي نه لري نو دغسي ښځي د پوهو او لایقو ښځو په وړاندي د حقارت احساس کوي او بالاخره خپله دغه نیمګړتیا او عیب په مادي ښکلا، ډول او سینګار او زر او زېورو پټوي. دا نو بیا د دغسي ښځو د پلرونو او یا مېړونو په اقتصاد پوري هم اړه لري. که له دې پلوه څه شتمنه وه بیا نو دا د ناز مېرمن او په اصطلاح د لوی کور ښځه له ځانه د زرو او طلاوو ویترین یا مجسمه جوړوي او دونه رنګونه په مخ موږي چي ته به وایي د سرکس یا کومي کومېډي ډرامي لوبغاړي خپل ځا ن مکیاژ کړی دی. دغسي بې علمي او ناپوهي خوار کیاني غواړي په دې ډول خپل بې ارزښته او بې خاصیته او بې شخصیته وجود چي هیڅ معنا او بیه نه لري او مازي ډوډۍ خوري باله سي د پلار یا مېړه د پانګي په زور او د زرګرانو د هنر، د بهرنیو کمپنیو د صنعت او د خیاطانو د زیار او زحمت په برکت د معنوي ښکلو سره سم او برا بر وایسوي او ان کله نا کله لا هغو ته په پوسخند ووایي چي: «یُوْ خوري ستا د شیانو موډ خو او س ختم سوی دی؟!».

البته دغسي ښځي دا هم هیڅکله نه غواړي چي د دوی په مجلسونو کي بېله د زرینانو، کړو او بنګړو او فېشن او موډو او کله کله پر هندي فلمونو او د هغو د هلکانو په باب له تبصرو پرته د بل څه په تېره د اسلام، وطن، ټولني یا د علم او پوهي خبره را منځته سي. خو که کله کله دغسي خبري پېښکي رامنځته هم سي ووایي: «یُوْ خوري نن مآل دا د اوغانستان د آباتۍ او د خلګو د خذمت او دا مکتب، کتابونه، نمیشتې او سبکونه څه په کار دی؟ نن پیسه پیدا که بس هر څه یې. نه وینې چي پلانی مالم چي پاکولته یې ویلې ده هغه دی خوارکی زما د سړي مزدور دی او ماینه یې دغسي خواربوشکې ده او څنګه چي د موډ سره سم کالي او د آرایش سم شیان نه لري د شرمه ودونو ته نه سي تللای».

هو! دا موډونه او فېشن او په مصنوعي تجملي توکو پسولل د نامتمدنو ټولنو د ښځو لا څه چې د ځینو نارینه وو مرض ګرځېدلی دی. که څه هم دا یو تریخ حقیقت دی، خو حقیقت دی چې زمونږ هیواد په نړۍ کې یو وروسته پاته هیواد دی. تاسي وګورئ چې زمونږ د دې وروسته پاته هیواد ځوانان ان ځیني شیك پوشه او ځوان طبیعته زاړه د موډ او فېشن په سیالي کې د امریکا تر ځوانانو نه دي وړاندي سوي؟ له بده مرغه دا یو تریخ خو منلی حقیقت دی چې د وروسته پاتو ټولنو د دښمنانو او لوټونکو د نامرئي چلونو او د موډ او فېشن د تبلیغونو له امله د لوکس پالني او تجمل خوښوني ناروغي د دې ټولنو یوه ځانګړنه ګرځېدلې ده. تاسي وګورئ په افریقایي او آسیایي نجونو او هلکانو کې دونه ډېر او داسي وړاندي تللي موډکیان، سینګار خوښي او فېشنیان سته چې اروپایان او امریکا یان یې پېښې لا منې که وکړي. په دې هکله نور څه ووایم؟ بس دونه به ووایم چې دا مونږ ته ډېر د شرم ځای دی.

**د سینګار د شیانو استعمال له شرعي او اقتصادي پلوه**

نن مهال په نړۍ کې اقتصادي جنګ روان دی. اوسمهال د سترو صنعتي هیوادونو طاغوتي ځواکونو او ملټي نېشنل کمپنیو د ګلوبلایزېشن او آزاد تجارت او معیشت په نامه د یوه نوي ښکېلاکي او نیواکي نظام دسیسه په لار اچولې ده. دغه هر څه دسایس چې د نړۍ د سترو قدرتونو او د هغو د انډیوالانو او ګوډاګیانو لخوا د مسلمانانو او وروسته پاتو ولسونو په وړاندي په لار اچول سوي دي دا د هغو د شتمنیو د لوټولو او چورولو او د هغو د بې ځواکه کولو، خوارولو او د هري اسلامي ټولني د هر فرد د ژوندانه په ډول ډول بخولو اخته کولو او بالاخره د ټولو د مریي کولو لپاره دي؛ څوك زمونږ شته وړي د اسرایلو په ګټه یې په کار اچوي؛ څوك یې د خپلو هیوادونو، پوځي ځواکونو، دین او فرهنګ د ځواکمنتیا او د خپلو خلکو د لا شتمنۍ او د هغو د ژوندانه د لاسمون او داسي نورو چارو د پرمختیا لپاره په کار اچوي؛ څوك زمونږ شته پخپله زمونږ پر ضد او زمونږ د خوارولو لپاره کاروي. په دې لړ کي د اسلام دښمنانو زمونږ څخه د پیسو لوټولو لپاره یو چل دا په لار اچولی دی چې زښت زیات مضر او نا اړین شیان یې زمونږ د ژوندانه ضرورت جوړ کړي دي.

داسي ببخي ډېر جعلي، زموږ دين، روغتيا او اقتصاد ته مضر شيان دي چي زموږ مادي پال، سرابښ او بې بصيرته سوداګر يې د بهرنيو كمپنيو سره د جوړ جاړي په پايله کي راوړي او زموږ د بېوزلي هيواد په مليونونو پيسې پر وركوي. په داسي حال کي چي زموږ هيڅ نه دي په كار او موږ كولاى سو ببله هغو هم خپل ژوندانه ته په عادي او سمه توګه ادامه وركړو. موږ مسلمانان يو. موږ ته اسلامي شريعت په مختصر سامان د ژوند كولو لارښوونه كړې ده. رسولﷺ به بي بي عايشېؓ ته ويل: «اى عايشې! كه ته غواړې چي په آخرت كي زما سره يوځاى سې، نو تا ته د دنيوي ژوندانه د تېرولو لپاره دونه لږ او مختصر سامان په كار دى لكه مسافر چي يې د ځان سره وړي. د شتمنو سره مه اوسه او تر څو چي دي كاليو ته پينه نه وي وركړې زاړه يې مه بوله».

وګورئ د رسول اللهﷺ په دې وينا كي څونه لوى حكمت او نصيحت نغښتى دى. كه موږ د لوېديزو هيوادونو دغه په ظاهره ضروري خو له اصله بې ضرورته زيات شيان رانيسو يا به حرامو ته اړكيږو يا پور ته. نن مهال زموږ ځيني ځوانان او نجوني د لوېديزو هيوادونو د ړانده تقليد او د هغو د ډول ډول سامانونو د رانيولو دونه شوقيان سوي دي او دونه يې خرڅونه زيات سوي دي چي د كورنۍ ګټه يې هر څونه وي نه يې بسيږي او تل اړ او تر پورونو لاندي وي. دغسي وګړي تل په څرګنده خوشاله خو په زړونو خوابدي او پرېشانه وي. ګټه يې برابره او كافي وي خو ګذاره يې بيا هم سخته وي او تل په فكرونو او چورتونو كي ډوب وي. دا خو لا پرېږده ځيني دغسي نجوني چي د مېړونو كورونو ته ولاړې سي څنګه چي په درنو خرڅونو آموخته سوي وي، مېړونه چي يې هر څه ګټي تولي د موډ او فېشن پر نا اړينو شيانو او كاليو باندي وركوي. چي له دې امله د ډېرو دغسي نوو واده سوو تر منځ شخړې او جنجالونه رامنځته سوي او پاى په طلاق منجر سوي دي.

نو څنګه چي د دغو شيانو توليدوونكي يهود او نور كفار د مسلمانانو پر ضد پياوړي كوي، نو د مسلمانانو لخوا د دې شيانو راوړل او رانيول لويه ګناه او د مسلمانانو سره ستر ظلم دى. لوى څښتن فرمايي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٢﴾ [المائدة: ۲].

«کوم کارونه چي د نېکۍ او تقوا دي په هغو کي يو له بله مرسته وکړئ او د ګناه او تېري په چارو کي د چا ملاتړ مه کوئ. له لوی ښتن څخه وبېرېږي، ځکه چي د هغه نيونه ډېره سخته ده».

د اوسمهال په شرايطو کي ښايي د يهودو او نصاراوو د هيڅ شي رانيول جايز نه وي. کېدای سي دغسي د اړتياوړ شيان له اسلامي هيوادونو څخه برابر او رانيول سي. په دې هکله زموږ مشرو علماوو ډېر پخوا لا څونه پر ځای نظر ورکاوه. له حضرت مولانا اشرف علي تهانوي‌رحمه‌الله څخه چا پوښتنه وکړه چي د هندو له دکان څخه خوږې او داسي نور رانيول جايز دي که څنګه؟ هغه په جواب کي ورته وليکل: «که په څرګنده کوم نجاست نه وي رانيول يې جايز دي، خو که دغه شيان له خپل مسلمان ورور څخه رانيسې او ګټه وروروسوې نو دا ډېره ښه ده». وګورئ امداد الفتاوی ۳/ ۱۴۱ مخ.

په دې هکله په کويټ کي خپرېدونکي عربي اوونيزي «المجتمع» د ۲۰۰۲ع. کال د مې پر ۲۵مه د اسلامي نړۍ د نامتو ستر عالم ډاکټر يوسف قرضاوي وينا هم خپره کړې ده. هغه په دې وينا کي په زغرده ويلي دي چي د يهودو لخوا د جوړو سوو درملو او نورو شيانو رانيول جايز نه دي.که ښېخي ډېره اړتياوي نو د «الضرورة يقتدربقدرالضرورة» «يعني د هر هغه کار کول يا پرېښوول چي د اړتيا له مخي رخصت باله سي نو رخصت يا جواز يې د اړتيا په کچه وي او تر هغه زيات جواز نه لري». د قاعدې له مخي دي دغسي شيان هغه مهال له کفري هيوادونو څخه رانيول کيږي چي د اسلامي هيوادونو شيان کفايت نه کوي.

د لاهور د «آب حيات» مياشتيزي د ۲۰۰۲ع.کال د ستمبر په ګڼه کي ليکي: «ډاکټر قرضاوي څرګنده کړې ده چي د نړۍ خوړني په دې نوي پېر کي پر موږ فرض ده چي موږ د مسلمانو هيوادونو جوړو سوو شيانو ته کوم چي د ملټي نېشنل کمپنيو په خونړيو منګولو کي ښکېل دي، ترجيح ورکړو. زموږ د اسلامي هيوادونو مصنوعاتو ته د دغو ملټي نېشنل کمپنيو لخوا جدي ستونزي

او خطرې متوجه سوي دي». د معلوماتو له مخې پر ډاکټر قرضاوي سربېره نورو ډېرو اسلامي عالمانو هم د دغو کمپنیو پر خلاف فتواوي ورکړي دي او په عربي هیوادونو کې د هغو پر مصنوعاتو بندیزونه او تحریمونه لګېدلي دي.

اوس به موږ د موډ او فېشن او داسي نورو څو داسي شیانو مثالونه راوړو چي زموږ اقتصاد ته پر تاوان سر بېره کېدای سي زموږ دین، فرهنګ او آخرت ته هم تاوان ورسوي. موږ درېشی، نکټایي، کاسمټیکس او داسي نورو ته څه اړتیا لرو؟ آیا دا د پردي کفري فرهنګ ښکارندي نه دي؟ آیا دا زموږ د اسلامي افغاني فرهنګ مخالف توکي نه دي؟ آیا موږ له دې توکو پرته خپل ژوند ته ادامه نه سو ورکولای؟ د لوېدیز فرهنګ او فېشن د پیروۍ او تقلید له امله د ډېرو نورو سترو فسادونو او ورانیو تر څنګ زموږ د مسلمانو او پښتنو ښځو دا حال سو چي له کورونو لڅ مخونه او سرتور سرونه راوزي، په موټرونو او دفترونو کې د افغانانو او بهرنیانو سره یوازي ناستي وي. ډول ډول عطرونه یې وهلي وي. زموخته سینګارونه یې کړي وي، ډول ډول غیر اسلامي او غیر افغاني لباسونه اغوندي. ان ډېري مصنوعي پلاسټیکي وریښتان پر سرونو ږدي او...

په دې باب د شرعي د احکامو په هکله باید ووایو چي د حجاب خبره خو اوس د اسلامي عالمانو په وعظونو او کتابونو کې د لوی څښتن ﷻ د کلام او د هغه د ستر پیغمبر ﷺ د احادیثو په استناد دونه څرګنده سوې او تبلیغ سوې ده چي اوس هر څوك او هره ښځه په خبره ده او په پوهیږي. دلته په دې هکله څه ویلو ته اړتیا نه لیدل کیږي. خو بهرنیو کفري هیوادونو ته د مسلماني ښځي بېله محرمه تلل او هلته لڅ مخ ګرځېدل او د کفارو سره ناسته ولاړه تر اشدو اشده ګناه ده. رسول ﷺ به ویل: «إِنِّي لَا أُصَافِحُ النِّسَاءَ». (النسائي، کتاب البیعة، بیعة النساء) (زه د ښځو سره په لاس روغبړ نه کوم). حضرت بي بي عایشه رضي الله عنها وایي: رسول ﷺ هیڅ وخت د ښځي لاس ته لاس نه دی وروړی او د هغو سره به یې بیعت په خبرو کاوه. زموږ پیغمبر د ښځو سره د لاس روغبړ نه کاوه، خو زموږ ښځه د کفارو سره د لاس روغبړ لا څه چي ملکونو ته یې بې له محرمه سفرونه کوي.

په موټر او دفتر کي د نارينه وو سره د ښځي د تنها ناستي په هکله مو د رسولﷺ دې حديث ته پام را اړوم:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا وَخَرَجَتْ امْرَأَتِي حَاجَّةً. قَالَ اذْهَبْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ» (بخاري، كتاب الجهاد، باب من اكتتب (۳۰۰۶) حديث).

ژباړه: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما له رسولﷺ څخه واورېدل چي: نارينه دي د ښځي سره يوازي نه کښېني، او ښځه دي بېله محرمه سفر نه کوي. دغه مهال يو سړی ولاړ سو او ويې ويل: ای د لوی څښتن استازې! ما خپل نوم پلانی غزا ته د تللو لپاره ليکلی دی او مېرمن مي حج ته وتلې ده. رسولﷺ ورته وفرمايل: ولاړ سه د مېرمني سره دي حج وکړه.

د اسلامي احکامو له مخي ښځه حج ته لا بېله محرمه يوازي نه سي تللای. (له پورتني حديث څخه هم معلومه سوه) او سفر يې حرام او د رسولﷺ د لارښوونو مخالف کار باله سي، نو د کفارو ملك ته به يې تلل او بې محرمه سفر څنګه وي؟

# د ښځو د وروېښتانو او ځینو نورو په هکله ځیني احکام

د اسلام سپېڅلي دین د انسان وروېښتانو ته د نارینه وي که د ښځي ډېره پاملرنه کړې ده. په اسلامي احکامو کي، په تېره د فقهي په کتابونو کي د وروېښتانو د پاکولو، اصلاح کولو، ږمونځولو، منظم ساتلو، کوڅۍ کولو، روزلو، په غوړیو او خوشبویي وهلو په هکله ځانګړې لارښووني سته. صحیح حدیث دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ» (ابوداود، باب في اصلاح الشعر).

ژباړه: له حضرت ابو هریره﷛ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي وروېښتان لري، نو د هغو دي په تنظیف او تزئین او غوړو وهلو او ږمونځولو اکرام، ساتنه او پالنه وکړي.

په دې هکله په دې کتاب کي د (ځان او څېرې سمون او سمبالښت ته پاملرنه) تر سرلیک لاندي هم څرګندوني سوي دي

دلته د ښځو د وروېښتانو او ځینو نورو په هکله، ځینو څرګندونو او لارښوونو ته ستاسي پام را اړوو.

## د وروېښتانو رنګول:

که وروېښتان تور وي او سپین سوي نه وي یا یې رنګ داسي نه وي چي بد ایسي، نو په بل رنګ بدلون ورکول یا په داسي ډول رنګول چي د بهرنیو کافرو ښځو د سر سره ورته والی پکښي را سي نو دا حرام دی. اما د سپینو وروېښتانو رنګول له تور رنګ پرته په بل رنګ سنت بالـه سي او رسول الله ﷺ یې امر کړی دی، خو په خالص تور رنګ د وروېښتانو رنګول هم حرام کار دی. رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

«غَيِّرُوا الشَّيْبَ وَلَا تُقَرِّبُوهُ السَّوَادَ» (مسند احمد) يعني سپينو وربښتانو ته په بل رنګ ورکولو بدلون ورکړئ، خو تور رنګ مه ورنژدې کوئ.

دغه راز فرمايي:

«غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ» (مسلم) يعني دغه سپين وربښتان په يوه بل رنګ بدل کړئ، خو له تور رنګ ورکولو څخه ډډه وکړئ.

بل حديث دی:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَكُونُ قَوْمٌ يَخْضِبُونَ فِي آخِرِ الزَّمَانِ بِالسَّوَادِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ لَا يَرِيحُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ» (ابوداود او نسائي)

ژباړه: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: به آخره زمانه کې به داسې قوم وي چې په تور رنګ به خپل وربښتان د کوترو د تورو جچورو غوندې رنګوي، دوی به د جنت بوی، بوی نه کړي.

البته دغه حکم ښځې او نارينه دواړو ته دی. خو که د تور رنګ سره بل رنګ ګډ سي چې تور بخون وګرځي پروا نه کوي. اما د سر په وربښتانو د داسې شي له وهلو څخه دې په کلکه ډډه وسي چې دکافرو، زنا کارو او فاجرو ښځو د سر سره يې ورته والی راسي. ځکه چې دا حرام دی. (المكتبة الشاملة، د شيخ ابن عثيمين او شيخ فوزان فتواوي او نور).

## د ښځو لخوا د مصنوعي وربښتانو استعمالول:

د مصنوعي (جوړو سوو) وربښتانو د پر سر ايښوولو په هکله رسول ﷺ فرمايي:

«لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ» (رواه البخاري ومسلم)

يعني: د خدای لعنت دی پر هغه ښځه باندې چې د وربښتانو د لنډو يا اوږدو ايسېدو لپاره د بل نارينه يا ښځې وربښتان په خپلو وربښتانو يا د بل چا په وربښتانو پورې تړي. او پر هغه ښځه هم د خدای لعنت دی چې په ستنو خالونه وهي يا د ستنو په ذريعه دغه کار د نورو ښځو پر ځانو تر سره کوي. دغه راز په صحيح البخاري، کتاب اللباس، باب وصل الشعر (۵۹۳۲) حديث کې دي چې حضرت معاويه رضي الله عنه د حج پر مهال پر منبر باندې د وعظ په وخت

کي یوې اندازې وریښتانو ته چي یوه ساتونکي (سرتېري) په لاس کي نیولي وه اشاره وکړه او ویې ویل چي ستاسي علما چیري دي؟ ما له رسولﷺ څخه اورېدلي دي چي د زینت لپاره یې د دغسي وریښتانو له استعمالولو څخه منع کول او ویل یې: «إِنَّمَا هَلَكَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ حِينَ اتَّخَذَ هَذِهِ نِسَاؤُهُمْ» «اسرایل هله هلاك سول چي ښځو یې دغه وریښتان په خپلو وریښتانو پوري تړل».

## د ښځي د وریښتانو خریل:

ټول علما پر دې باندي یوه خوله دي چي ان په حج کي دي لا ښځه چي ځان له احرامه باسي د سر دریښتان نه خریي، بلکي د ګوتي د یوه بند یا څه زیات په اندازه دي د سر د وریښتانو څوکي لنډوي. په دې هکله د علماوو فتوا ده:

ويكره لها حلقه بالكلية، وذهب بعض أهل العلم إلى حرمة ذلك، ولذلك ينبغي لمن تعمل في هذا المجال ألا تحلق للنساء شعورهنَّ بالكلية إلا لضرورة، كمرض ونحو ذلك، وكذا لا تحلقه لهنَّ على هيئة التشبه بالكافرات والفاجرات، أو التشبه بالرجال. (فتاوى الشبكة الاسلامية، مركز الفتوى بإشراف د.عبدالله الفقيه، المكتبة الشاملة).

ښځي ته د سر د وریښتانو ګردسره خریل مکروه دي او ځیني یې حرام بولي. نو کومي ښځي چي په سینګار ځایونو کي کار کوي هغو ته لازمه ده چي بې له اړتیا د ښځو سرونه ونه خریي، خو که د ناروغۍ او داسي بل څه لپاره وي دا بیا بېله خبره ده، همدا راز دي سیګارونکي ښځي د ښځي سرونه په داسي ډول هم نه خریي چي د کافرو او فاجرو ښځو یا نارینه وو سره یې ورته والی او مشابهت راسي.

## د ښځي د وریښتانو لنډول:

د ښځي د وریښتانو د لنډولو په هکله صحیح حکمونه په دې ډول دي:

1- د ښځي بچه ګانه سر جوړول یا په داسي ډول د سر وریښتان کوچني کول چي د نارینه وو او کافرو ښځو د سر سره مشابهت او ورته والی پکښي راځي جواز نه لري او حرام دی. د ښځي په خوښه وي که یې د

مېږه په غوښتنه وي. د ښځو د نارینه وو سره د ورته والي یا د نارینه وو د ښځو سره د ورته والي په هکله حدیث دی:

عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ لَعَنَ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنْ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ وَالْمُتَشَبِّهِينَ مِنْ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ. (دغه حدیث بخاري او نورو روایت کړی دی).

ژباړه: حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وایي چي رسول الله پر هغو ښځو لعنت ووایه چي ځانونه د نارینه وو سره ورته کوي او همدا راز یې پر هغو نارینه وو لعنت ووایه چي ځانونه د ښځو سره مشابه کوي.

دغه راز فقهي حکم دی:

قَطَعَتْ شَعْرَ رَأْسِهَا أَثِمَتْ وَلُعِنَتْ زَادَ فِي الْبَزَّازِيَّةِ وَإِنْ بِإِذْنِ الزَّوْجِ لِأَنَّهُ لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ، وَلِذَا يَحْرُمُ عَلَى الرَّجُلِ قَطْعُ لِحْيَتِهِ، وَالْمَعْنَى الْمُؤَثِّرُ التَّشَبُّهُ بِالرِّجَالِ ا هـ. (د ردالمحتار د ٥/ ٢٨٨ مخ پر حاشیه باندي درالمختار).

د کفارو سره د مشابهت او ورته والي په هکله رسول الله ﷺ فرمایي:

«مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ» «دغه حدیث احمد او ابوداود روایت کړي دي او علامه الباني صحیح بللی دی».

ژباړه: څوک چي ځان د یوه قوم سره ورته او مشابه کوي، هغه له هغو څخه دی.

دغه راز حضرت رسول اکرم ﷺ فرمایي:

«لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى» «دغه حدیث ترمذي روایت کړی دی او د هغه اسناد یې ضعیف بللي دي، خو علامه الباني په السلسلة الصحیحة مختصرة او نورو کي ویلي دي چي دغه حدیث د هغه د شواهدو له مخي صحیح دی».

د حدیث ژباړه: څوک چي له موږ پرته د نورو سره ځان مشابه کړي، هغه زموږ څخه نه دی او د یهودو او عیسویانو سره ځانونه مه مشابه کوئ.

2- د ورېښتانو په یوه اندازه داسي لنډول او اخیستل چي د اوږو تر لاندنۍ برخي ورسیږي پروا نه کوي، خو چي د کفارو سره د مشابهت او ورته والي خبره نه وي. په دې هکله دغه فتوا ده.

أما قص الشعر للسيدة فليس هناك ما يمنعه شرعا، فقد كان أزواج النبى صلى الله عليه وسلم يأخذن من شعر رءوسهن حتى تكون كالوفرة، كما رواه مسلم. والوفرة ما قصر عن اللمة أو طال عنها، واللمة ما يلم من الشعر بالمنكبين كما قاله الأصمعى. [ هناك خلاف فى تحديد معنى الوفرة واللمة والجمة موجود فى «نيل الأوطار» ج ١ ص ١٣٧ وثلاثيات أحمد ج ٢ ص ٢٠٧ ] وقد قصر أزواج النبى صلى الله عليه وسلم من شعورهن بعد وفاته، لتركهن التزين واستغنائهن عن تطويل الشعر وتخفيفا لمئونة رءوسهن كما قاله القاضى عياض وغيره، ولم يكن ذلك فى حياته (فتاوى الازهر، مفتي عطيه صقر، المكتبة الشاملة).

د پورته مطلب لنډون دادی چي که ښځه د خپل سر ورېښتان دونه لنډ کړي چي تر اوږو پوري يې رسيږي پروا نه کوي، ځکه چي د حضرت رسول اللهﷺ مېرمنو د هغه تر وفات وروسته خپل ورېښتان په دغه اندازه لنډول.

3- د ځینو ورېښتانو لنډول او د ځینو ورېښتانو پرېښوول هم جواز نه لري.
او دې ته په عربي کي«القزع» وايي چي د منعي په هکله يې د رسول اللهﷺ صحيح حديث راغلی دی او حکم يې نارينه وو او ښځو ته عام دی. او د قزع په منع کي دليل او حکمت دادی چي ويل سوي دي چي دا د مشرکسنو او يهودو کار دی او يا دا چي يه دې سره د لوی ښښتن خلقت بد رنګه کيږي.

د قزع د منعي په هکله حديث دادی:

عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِّ صَلَّى اللهُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ الْقَزَعِ (صحيح البخاري).

ژباړه: حضرت عمرؓ وايي چي رسول الله د ځينو ورېښتانو لـه لنډولو يا خريلو او د ځينو د پرېښوولو څخه منع وفرمايل.

په دې هکله فقهي فتوا ده:

واما قصّ بعضه وترك بعضه فهذا لا يجوز، وهذا القزع الذي صح عنه النهي من النبي عليه الصلاة والسلام كما في صحيح البخاري وغيره (فتاوى الشيخ عبدالكريم، المكتبة الشاملة).

يعني د ځينو وروېښتانو لنډول او د ځينو پرېښوول جواز نه لري او دا د قزع په نامه هغه کار دی چي منع يې له رسولﷺ څخه په صحت رسېدلې ده. او په دې هکله په صحيح البخاري او نورو کي حديث راغی دی.

4- د ښځي د شا دخوا وروېښتان لنډول او د بغلو د خوا دا اوږده پرېښوول هم جواز نه لري، ځکه چي په دې کي بدرنګي راځي او عبث کار دی.

همدا شان په دې کي د کافرانو سره مشابهت هم دی او په سر کي د نر وي که د ښځي د کافرانو سره مشابهت حرام دی. په دې هکله د د سعودي عربستان د نامتو عالم شيخ الفوزان فتوا په دې ډول ده:

لا يجوز للمرأة أن تقص شعر رأسها من الخلف وتترك جوانبه أطول؛ لأن هذا فيه تشويه وعبث بشعرها الذي هو من جمالها، وفيه أيضًا تشبه بالكافرات، وكذا قصه على أشكال مختلفة وبأسماء كافرات أو حيوانات؛ كقصة (ديانا) اسم لامرأة كافرة، أو قصة (الأسد)، أو (الفأر)؛ لأنه يحرم التشبه بالكفار والتشبه بالحيوانات، ولما في ذلك من العبث بشعر المرأة الذي هو من جمالها.

يعني ښځي ته روا نه ده چي د خپل سر وروېښتان د شا لخوا لنډ کړي او د دواړو بغلو لخوا يې تر هغو اوږده پرېږدي، ځکه چي په دې کي د ښايست بد رنګي راځي او خوشي عبث کار دی. دغه راز په دې کي د کافرو ښځو سره ورته والی هم راځي. همدا شان په بېلو بېلو بڼو د سر وروېښتان لنډول او د کافرو ښځو، لکه د مشهوري کافري ډيا نا د سر په تقليد د سر د وروېښتانو لنډول يا يې په هغه ډول لنډول چي د زمري او موږک په نامه يادېږي هم جواز نه لري.ځکه چي د کفارو او څارويو سره ورته والی حرام دی

5- «تېري نام» د يوه هندي فلم د هلک يا د «ډيانا» نومي مشهوري کافري ښځي غوندي سر لنډول او جوړول د کفارو پېښې او د هغو سره ورته والی دی چي حرام بلل سوی دی. (په دې هکله پورته فتوا وګورئ).

6- که ضرورت وي لکه چي په سر کي ټپ وي او د هغه د درملني لپاره د ښځي د سر د وروېښتانو لنډولو يا خريلو ته اړتيا وي، نو د حاجت په

اندازه يې لنډول يا خريل جواز لري. په دې هکله لاندې فتوا ته پام وکړئ:

هل يجوز للمرأة شرعا أن تقص شعرها؟

فأجابت اللجنة: لا يجوز لها أن تقص أو تحلق شعر حواجبها أو شعر رأسها إلا لضرورة تدعو إلى ذلك كعلاج جروح بالرأس أو الحاجب يتوقف علاجها على قص الشعر أو بعضه فيجوز ذلك بقدر الحاجة. اهـ وقال الأثرم: سمعت أبا عبد الله [أحمد بن حنبل ] يُسأل عن المرأة تعجز عن شعرها وعن معالجته أتأخذ على حديث ميمونة؟ قال: لأي شيء تأخذه؟ قيل له: لا تقدر على الدَّهْنِ وَمَا يُصْلِحُهُ وتقع فيه الدواب. قال: إن كان لضرورة فأرجو ألا يكون به بأس.

وقال شيخنا الشيخ ابن عثيمين رحمه الله: المشروع أن المرأة تبقي رأسها على ما كان عليه، ولا تخرج عن عادة أهل بلدها.

وإذا أمَر الزوج بِترك الشعر وعدم قصِّه فليس للمرأة أن تُخالِفه ؛ لأن له حقّ في ذلك (الفتاوى العامة للشيخ عبدالرحمن السحيم المكتبة الشاملة).

د پورته مطلب خلاصه داده: که د ښځې په سر يا ورځو کې ټپونه وي، او د هغو علاج د ټولو ورېښتانو يا ځينو په پرې کولو يا خريلو کيږي نو دا کار د ضرورت په اندازه روا دی. او د سعودي عربستان نامتو عالم شيخ ابن عثيمين ويلي دي چې مشروع داده چې ښځه د خپل سر ورېښتان لکه څنګه چې دي هغسې پرېږدي او د خپلې سيمې د دود سره مخالفت ونه کړي. او که خاوند خپلې مېرمنې ته د ورېښتانو د پرېښوولو او نه لنډولو امر وکړي نو ښځه يې د مخالفت حق نه لري.

دغه راز په عالمګيري کې وايي:

وَلَوْ حَلَقَتْ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا فَإِنْ فَعَلَتْ لِوَجَعٍ أَصَابَهَا لَا بَأْسَ بِهِ وَإِنْ فَعَلَتْ ذلك تَشَبُّهًا بِالرَّجُلِ فَهُوَ مَكْرُوهٌ كَذَا في الْكُبْرَى.

يعني: که ښځه خپل سر د کوم درد له امله وخريي پروا نه کوي او که دا کار د نارينه سره د ورته والي له امله وکړي، نو دا مکروه دی.

7- د ښځي د پېکي وربښتان اوږدول یا لنډولو او جوړول که د کافرو او ملحدو ښځو سره د ورته والي لپاره وي حرام دي، که نه پروا نه کوي. په دې هکله لاندي فتوا ته پام وکړئ:

ما حكم القصة التي يستعملها بعض النساء وهي قص الشعر من فوق الجبهة وجعل خصلات منه تتدلى عليها؟

الجواب: الحمد لله.إذا كان الغرض من القصة التشبه بنساء الكافرين والملحدين فهي حرام ؛ لأن التشبه بغير المسلمين حرام لقوله صلى الله عليه وسلم: (من تشبه بقوم فهو منهم) وأما إذا لم يكن القصد منها التشبه وإنما هي عادة من العادات المستحدثة بين النساء فإذا كان فيها ما يعتبر زينة يمكن أن تتزين بها لزوجها وتظهر بها أمام أترابها في مظهر يرفع من قدرها عندهن فلا يظهر لنا باس بها (فتاوى اللجنة الدائمة للإفتاء ج/3 ص 881 المكتبة الشاملة).

مطلب دا چي که د ښځي د مخ د پېکي د وربښتانو لنډول د کافرو او ملحدو ښځو د مشابهت په موخه نه وي او د خپل مېړه او د خپلو همزولو په مخ کي د ښه ایسېدو لپاره وي روا باله سي.

## د ښځي د سر د وربښتانو توني کول:

د ښځي سر توني کول که د کفارو سره د مشابهت خبره پکښي نه وي او نامحرمو نارینه وو ته یې نه ښکاره کوي مباح کار دی. د لږي مودې لپاره یې توني کوي که د ډېري مودې لپاره. په دې هکله د سعودي عربستان د نامتو عالم شیخ الفوزان فتوا په دې ډول ده:

يباح للمرأة تجعيد شعرها على وجه ليس فيه تشبه بالكافرات، ولا تظهره للرجال غير المحارم. یعني ښځي ته د سر د وربښتانو توني کول په داسي توګه چي د کافرو ښځو سره مشابهت پکښي نه او نامحرمو نارینه وو ته یې ښکاره نه کړي روا دی.

## له تورو وریښتانو څخه د سپینو وریښتانو ایسته کول:

د نارینه او ښځي د سر، ږیري، بریتونو، ورځو او باڼخو له تورو وریښتانو څخه د سپینو وریښتانو اخیستل او ایسته کول چي د جهاد او دښمن د بېرولو لپاره نه وي، مکروه دي. په دې هکله صحیح حدیث دی:

أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ نَتْفِ الشَّيْبِ وَقَالَ: «إِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ» (سنن الترمذي). یعني پیغمبرﷺ له تورو وریښتانو څخه د سپینو وریښتانو له ایسته کولو څخه منع کړې ده او ویلي یې دي چي سپین وریتان د مسلمان نور دی.

بل صحیح حدیث دی:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَنْتِفُوا الشَّيْبَ فَإِنَّهُ نُورُ الْمُسْلِمِ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشِيبُ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ إِلَّا كُتِبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةٌ وَرُفِعَ بِهَا دَرَجَةً أَوْ حُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ» (دغه حدیث احمد او ابو داود روایت کړی دی او الباني حسن بللی دی).

ژباړه: له تورو وریښتانو څخه سپین وریښتان مه ایسته کوئ، ځکه چي دا د مسلمان نور باله سي. څوک چي په اسلام کي سپین ږیری سي لوی څښتن د هغه په سبب نېکي ورته لیکي، درجه یې لوړه کړي او یا یې خطا ور وبخښي.

امام نووي وایي چي که وویل سي چي له تورو وریښتانو څخه د سپینو وریښتانو اخیستل د رسول اللهﷺ د صریح منعي له امله حرام دي څه لیري خبره نه ده. ابن عربي وایي چي دغه منع د دې لپاره ده چي د خدای په خلقت کي تغیر او بدلون راځي.

پر مراقي الفلاح باندي د طحطاوي په حاشیه کي وایي چي امام ابوحنیفه رحمه الله د سپینو وریښتانو ایسته کول چي د تزئین لپاره نه وي، مکروه نه ګڼل.خو دا ښایي چي د لږو وریښتانو په هکله به وه. اما د ډېرو ایسته کول (د پورته یاد سوي حدیث) په سبب مکروه دی. په (الدین الخالص او ارشاد) نومي کتاب کي وایي: «نتف الشیب: هو مکروه عند الأئمة الأربعة والجمهور».

(وګورئ الفقه الاسلامي وادلته، فتاوی الهندیه، حاشیة الطحطاوي علی مراقي الفلاح او الاسئلة واجوبة الفقهیة کتاب، المکتبة الشاملة).

**د ښځي د سر د ورېښتانو په ډول ډول ډېزانونو جوړول:**

که ښځه د سر ورېښتان پرې نه کړي او په مختلفو ډېزاينونو او فېشن سره يې جوړ کړي پروا نه کوي. البته په دې کي دې خبرو ته پاملرنه په هر حال ضروري ده:

په دې کي بايد د کافرو او فاسقو ښځو سره د مشابهت خبره نه وي.

يوازي د ځان يا د مېړه د زړه د خوشالولو لپاره وي.

دونه وخت پر ضايع نه سي چي په نورو ضروري چارو کي ځنډ راسي.

(خواتین کے لئے جدید مسائل ۸۵ مخ)

**د ورېښتانو د ودي او زياتوب لپاره د هغو څوکي پرې کول:**

د ځينو ښځو د ورېښتانو څوکي پر دوو درو برخو چاودلي وي چي له امله يې د ورېښتانو وده ودريږي. که د دغو ورېښتانو سرونه پرې سي، نو ورېښتان بېرته وده کوي او اوږديږي. نو په دې صورت کي د ورېښتانو د سمون او ودي لپاره د هغو د سرونو معمولي پرې کول بې له څه شبهې جواز لري. خو که په پوره توګه ورېښتان اوږده سوي وي، نو د زياتو اوږدېدو لپاره يې د پرې کولو اجازه نسته.

(خواتین کے لئے جدید مسائل ۸۵ مخ، د فتاوی رحیمیه د ۱۲۰/۱۰ مخ په حواله)

**د ښځي سر عورت دی:**

د ښځي سر او د سر ورېښتان عورت دي او د ورېښتانو پټول او ستر يې واجب باله سي. داچي نن مهال په اسلامي هيوادونو کي، په تېره پر ګران هيواد افغانستان باندي د نړۍ د منفور قدرت امريکې او نورو د اشغال سره افغاني ښځي بې ستره لڅ مخونه او سر تور سرونه په بازارونو او نورو ځايونو کي ليدل کيږي دا له ډېرو بدو کارونو څخه باله سي. په دې هکله د رسول اللهﷺ حديث دی:

«نِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مَائِلَاتٌ مُمِيلَاتٌ لَا يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدْنَ رِيحَهَا وَرِيحُهَا يُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ خَمْسِ مِائَةِ عَامٍ» (صحيح مسلم او نور).

ژباړه: داسي ښځي به وي چي د کالو اغوستلو سره سره به لڅي وي او داسي ښځي به وي چي خپله به هم بدو چارو ته مايلي وي او خلک به هم ځان ته او ناوړو چارو ته مايل کوي. دغه ښځي نه جنت ته ننوتلای سي او نه به یې خوشبويي ور ورسیږي. په داسي حال کي چي د جنت خوشبويي د پنځو سوو کالو د سفر په لیري فاصله هم ځي.

## د ورځو جوړول او د مخ او لاسونو او پنډیو وریښتان ایسته کول:

د ورځو د وریښتانو اخیستل او د هغو نرۍ کول او جوړول په هره وسیله چي وي حرام کار او کبیره ګناه ده، ځکه چي په دې کي د لوی څښتن د خلقت بدلون راځي او څوک چي د لوی څښتن په خلقت کي بدلون راولي د شیطان په خوله کوي. او پر ترسره کوونکي یې او پر هغه چا چي د بلي ښځي ورځي جوړوي د رسول اللهﷺ لخوا لعنت ویل سوی دی.

په دي هکله قرآن کریم د شیطان خبره داسي راوړي:

﴿وَلَآمُرَنَّهُمۡ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلۡقَ ٱللَّهِۚ﴾ [النساء: ۱۱۹].

ژباړه: «او زه به هغو ته امر وکړم او هغوی به زما په امر د خدای په خلقت او پیدایښت کي بدلون راولي».

د یادولو وړ ده چي که د ښځي پر مخ باندي د ږیري او بریتو پر ځای دونه وریښتان راغلي وي چي د ښځي مخ بد ایسوي، یا یې پر پنډیو او لاسونو باندي وریښتان راغلي وي ښځي ته یې ایسته کول روا، بلکي مستحب دي.خو د مخ د لږو او عادي وریښتانو ایسته کول جواز نه لري. (وګورئ په المکتبة الشاملة کي د شیخ ابن باز او شیخ فوزان او د فتوا لپاره د دایمي ټولني فتواوي)

## شنه خالونه د بدن پر بېلو بېلو ځایونو وهل:

زموږ د هیواد په ځینو اطرافي سیمو کي په تېره په کوچیانو کي له ډېر پخوا څخه د ښځي پر تندي، زنه او باړخو ګانو او د بدن پر نورو برخو او د نارینه وو پر لاسونو او د پښو پر ځینو برخو باندي شنه خالونه وهي. د دې خالونو د

وهلو ترتيب داسي دی چي د بدن پر هغه ځای باندي چي خال وهي ستني ووهي او ويني په راوباسي. بيا پر دغه ټپ باندي رانجه يا اهاک واچوي او کله چي جوړ سي، نو شين خال وګرځي. خو له څه مودې څخه بيا خبره داسي سوې ده چي ځينو کسانو چي دغه خالونه په کوچني والي يا په پخوا وختونو کي وهلي وي اوس په شرميږي او په ډول ډول لارو چارو يې بېرته ايسته کوي.

له شرعي پلوه د دغو خالونو وهل ښځي او نارينه دواړو ته حرام او کبيره ګناه ده او رسول اللهﷺ يې پر وهونکي او پر هغه چا چي دغه خالونه د بل چا پر بدن وهي لعنت ويلي دی، لکه چي حديث دی:

عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: لَعَنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَاصِلَةَ وَالْمُسْتَوْصِلَةَ وَالْوَاشِمَةَ وَالْمُسْتَوْشِمَةَ (صحيح البخاري).

ژباړه: حضرت عبدالله بن عمررضي الله عنهما وايي چي پيغمبرﷺ په سر باندي د وربېښتانو د نښلوونکي ښځي او پر هغي ښځي باندي چي د بلي ښځي په سر پوري وربېښتان نښلوي او پر هغي ښځي چي پر بدن خالونه وهي او پر هغي چي د بلي ښځي پر بدن خالونه وهي لعنت ويلی دی.

دا ځکه چي په دې سره د لوی څښتن په خلقت کي بدلون راځي او د خال پر ځای باندي د نجسي ويني د درېدو له امله د خال ځای نجس کيږي. نو که کوم نارينه يا ښځي دغسي خالونه وهلي وي او ايسته کېده يې بې له ضرره او بې له زياته عيبه ممکن وي استه دې کړې او توبه دي پر وکاږي خو که يې مخ يا بل ځای ته ډېر ضرر رسوي استه کېده يې واجب نه دي. په دې هکله د فقهي حکم دادی:

والوشم والنمص والتفليج حرام على الرجال والنساء، الفاعل والمفعول به، لورود اللعن عليه، مما يدل على تحريمه. ويصبح موضع الوشم متنجساً لانحباس الدم فيه، فإن أمكن إزالته بالعلاج وجب، وإن لم يمكن إلا بالجرح، فإن خيف منه الضرر أو العيب الفاحش في عضو ظاهر كالوجه والكفين، لم تجب إزالته، وتجب التوبة منه، وإن لم يكن ضرر، لزم إزالته. (الفقه الاسلامي وادلته)

ژباړه: خالونه وهل، د ورځو او د مخ ورېښتان کښل او د غاښونو نري کول پر نارينه وو او ښځو دواړو حرام دي او پر هغو هم حرام دي چي نورو تـه يـې تر سره کوي. ځکه چي د دې کارونو پر ترسره کوونکو باندي لعنت ويل سـوی دی. او دخال ځای د نجسيويني له امله نجس سي که يـې پـه عـلاج سـره لـه منځه تله کېدای سي، له منځه وړل يې واجب باله سي او که د بدن په ظـاهري غړي کي لکه په مخ او لاسونو کي د ضرر يـا فـاحش عيـب بېره وي لـه منځـه وړل يې نه لازمېږي. بلکي پر دې کار باندي دي توبه وکاږي.

## د غاښونو کوچني کول او داسي جوړول چي سره جلا جلا سي:

ځيني ښځي او نارينه د ښکلا د زيـاتوب لپـاره او ځينـي زړې ښـځي او زاړه نارينه د دې لپاره چي ځوان وايسي خپـل ځينـي غاښـونه د غاښـو پـه ډاکټرانـو نري او کوچني کوي او يا يې د ښه ايسېدو لپاره په يـوه انـدازه داسـي جـوړوي چي سره جلا جلا سي چي دا کار هم د غاښو خاوند ته او هم ډاکټـر تـه حـرام دی: ځکه چي دا عبث کار دی او په دې سره د لوی ښښتن په خلقت کي تغيـر او بدلون راځي. په دې هکله صحيح حديث دی:

عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْعَنُ الْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ وَالْمُوتَشِمَاتِ اللَّاتِي يُغَيِّرْنَ خَلْقَ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ (سنن النسائي).

ژباړه: حضرت عبدالله بن مسعودرضي الله عنه ويلي دي چي ما له رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چي پر هغو ښځو يـې لعنـت وايـه چي د ورځـو او مـخ ورېښـتان ايسته کوي او خپل غاښونه د ښايست لپاره داسي جوړوي چي سـره جـلا جـلا سي او پر بدن خالونه وهي او د خدای خلقت ته تغير ورکوي.

اما که په غاښونو کي علت او ضرر وي او بد ايسي او اصـلاح او عـلاج تـه يې اړتيا وي يا خواږه سم نه سي په خوړلای، نو علاج يې پروا نـه کـوي. دغـه راز که د غاښو سره اضافي غاښ را شين سوی وی يا کوم غاښ دونه اوږد وي چي د خورک په وخت کي اذيت کوي، نو کښل يې پروا نه کوي. په دې هکلـه فقهي فتواوي په دې ډول دي:

سئل الشيخ صالح الفوزان عن تقويم الأسنان فقال: إذا احتيج إلى هذا كأن يكون في الأسنان تشويه واحتيج إلى إصلاحها فهذا لا بأس به، أما إذا لم يُحتج إلى هذا فهو لا يجوز، بل جاء النهي عن وشر الأسنان وتفليجها للحسن وجاء الوعيد على ذلك لأن هذا من العبث ومن تغيير خلق الله.ولا يجوز التفليج ولا الوشر للنهي عنه.

أما إذا كان هذا لعلاج مثلاً أو لإزالة تشويه أولحاجة لذلك كأن لا يتمكن الإنسان من الأكل إلا بإصلاح الأسنان وتعديلها فلا بأس بذلك.أما إزالة الأسنان الزائدة فقال الشيخ ابن جبرين: لا بأس بخلع السن الزائد لأنه يشوه المنظر ويضيق منه الإنسان...، ولا يجوز التفليج ولا الوشر للنهي عنه.

انظر كتاب فتاوى المرأة المسلمة ج/1 ص/477.

## غاښونو ته د سرو يا سپينو زرو پوښ ورکول:

د ځينو خلکو غاښونه ښوري او يا ووزي. بيا د هغو ښورېدونکو غاښونو ته ډاکټران د سرو يا سپينو زرو يا نورو موادو پوښونه ورکوي او د وتلو غاښونو پرځای د سرو يا سپينو زرو غاښونه ور ايږدي او د ځينو خلکو غاښونه د سرو زرو په سيم ور تړي. څنګه چي دا ضرورت دی، نو شرعاً ښځي او نارينه دواړو ته روا کار دی، اما بې له اړتيا د نارينه وو غاښونو ته د سرو زرو پوښ ورکول يا د سرو زرو غاښونه ايښوول چي د ښکلا او وياړ او داسي نورو لپاره وي جواز نه لري. ځکه چي نارينه د سرو زرو له استعمال څخه منع سوي دي. او څنګه چي د اوداسه پر مهال د دغسي غاښونو په ايسته کولو کي حرج دی، نو حرج شرعاً مدفوع دی. له دې امله د هغو له ايسته کولو پرته اودس او غسل صحيح دی. (خواتين کے لئے جديد مسائل، ۹۷ مخ د امداد المفتيين په حواله او نور).

په دې هکله د فتاواوو عبارتونه په دې ډول دي:

فلا حرج في تركيب أسنان صناعية للضرورة، والحاجة الصحية، كمن سقطت أو تلفت أسنانه أو بعضها؛ لأن ذلك من باب العلاج وإزالة العيب المأذون فيه شرعاً، إذا لم يترتب عليه ضرر.

ولا خلاف - فيما نعلم - في جواز اتخاذ السن من أي مادة كانت، وإنما اختلف العلماء في اتخاذ السن من الذهب؛ فأجازه الجمهور؛ قياساً على الأنف واحتجوا بحديث عَرْفَجَة بن أسعد - رضي الله عنه - قال: «أصيب أنفي يوم الكُلَاب في الجاهلية، فاتخذتُ أنفًا من وَرِقٍ، فأنتن عليَّ، فأمرني رسول الله - صلى الله عليه وسلم - أن أتخذ أنفًا من ذهب» ؛ رواه الترمذي والنسائي وأبو داود، والسن في معنى الأنف.

قال الكاساني في «بدائع الصنائع» : «وأما شد السن المتحرك بالذهب، فقد ذكر الكرخي - رحمه الله - أنه يجوز، ولم يذكر خلافاً.

وذُكر في الجامع الصغير أنه يكره عند أبي حنيفة، وعند محمد لا يُكره، ولو شدها بالفضة، لا يُكره بالإجماع» (فتاوى الموقع الالوكة، المكتبة الشاملة).

يجوز اتّخاذ السّنّ من الذّهب عند الجمهور قياساً على الأنف، لأنّ «عرفجة بن أسعد قطع أنفه يوم وقعة كلابٍ فاتّخذ أنفاً من فضّةٍ فأنتن فأمره النّبيّ صلى الله عليه وسلم باتّخاذ أنفٍ من ذهبٍ...» فعلم أنّ كلّ ما دعت إليه الضّرورة يجوز استعماله من الذّهب، وإلى ذلك ذهب المالكيّة والحنابلة. وقال الشّافعيّة: يجوز وإن أمكن اتّخاذه من فضّةٍ.

وذهب أبو حنيفة إلى المنع وقال: إنّ الأصل في الذّهب تحريمه على الرّجال والإباحة للضّرورة، وقد اندفعت بالفضّة وهي الأدنى فيبقى الذّهب على التّحريم. غير أنّ محمّد بن الحسن من الحنفيّة وافق الجمهور وكذلك أبو يوسف في قولٍ.

(موسوعة فقه العبادات، المكتبة الشاملة).

## د نوکانو اوږدول او رنګول:

د احاديثو په کتابونو کي د رسولﷺ مشهور حديث دی چي د نوکانو اخيستل د اسلامي فطرت له سننو څخه دی. يعني دا له هغو سننو څخه يو لرغوني سنت دی چي لوی څښتنﷻ د انبياووعليهم‌السلام لپاره غوره کړي، ټول شرايع پر هغو متفق وه او موږ ته يې د هغو په ترسره کولو کي په هغو پسي د اقتدا امر کړی دی. نو له دې امله د نوکانو اوږدول د سنتو خلاف کار باله سي. په هره اوونۍ کي يوه پلا د نوکانو پرې کول او د بغل او تر نامه لاندي وريښتانو اخيستل مستحب دي. د جمعې ورځ د دې کارونو لپاره افضله ده. په پنځلسو ورځو کي هم جايز دي، خو تر څلويښتو شپو زيات پريښوول يې مکروه تحريمي دي. (عمدة المناسك ۲۰۴ مخ د درمختار د ۵/ ۲۸۸ مخ په حواله). د فتاوی علماء البلد الحرام په ۵۸۸ مخ کي وايي چي د نوکانو اوږدول د ځارويو او ځينو کفارو سره مشابهت او ورته والی دی.

نوکان د انسان د وجود ډېر مهم جز باله سي.په ډېرو مواردو کي کار ځني اخيستل کيږي او د انسان په تېره د ښځينه وو د ښکلا يوه غوره ذريعه ده. له دې امله بايد د هغو ډېره ښه ساتنه وسي. ځکه د نوکانو ناجوړي د بدن د عمومي روغتيا د خرابۍ لامل جوړېدای سي. نوکان بايد له زخمي کولو او ګرړلو څخه په ټينګه وساتئ. که کوم کېمياوي مواد استعمالوئ يا کالي يا لوښي مينځئ نو بايد ربړي دسکلې په لاس کړئ. که مو نوکان ګرړل سوي يا کمزوري سوي وي د زيتونو او شړشمو غوړي سره ګډ کړئ، څه هوړه ور واچوئ پاخه يې کړئ. بيا چي ساړه سول بوتل ته يې واچوئ، له کاره تر وزګارېدو وروسته لاسونه ښه پريولئ او لاسونه او نوکان دواړه ښه په وموږئ او دا کار څو واره تر سره کړئ. نوکان د ښکلا لپاره په توږلو او شيپ ورکولو مه کمزوري کوئ. د نوکانو درنګ (Nail Polish) يا (Enamel) استعمال د نوکانو سطح وچوي او رنګ جذبوي چي له دې امله بيا د هغو طبيعي رنګ خراب سي او يو ډول پيکه ښکاري. د رنګ د پاکولو تېز کېمياوي مواد (Remover) خو يې بيا بېخي خرابوي.

وایي چي پر نوکانو د رنګونو وهلو دود هم لومړی مصریانو رامنځته کړ. د مصر په ډېر ښایست نامتو ملکې کلوپاترا او د هغې مینځو به ساده او بې ضرره رنګونه استعمالول. خو نن مهال فیشني ښځي خپل نوکان په ډول ډول کېمیاوي رنګونو ښکلي کوي. په دې رنګونو کي ځیني داسي تېز کېمیاوي مواد ګډ وي چي پر حساس جلد ډېر بد لګیږي.

له دیني نظره یې د فتاواوو په کتابونو کي د نوکانو نه رنګول اولٰی یعني ښه کار بللی دی او ویلي یې دي چي د اوداسه تازه کولو پر مهال یې ایسته کول او زایلول لازم دي. ځکه دغه رنګ نوك ته د اوبو له رسېدو څخه ممانعت کوي او په اوداسه کي نوکانو ته د اوبو رسول اړین دي. د اوداسه پر غړو له رشتیانی اړتیا پرته د داسي شي نښلول او لګول چي اوبه ورپرې نه ږدي د اوداسه د صحت مخه نیسي. او لکه چي پوهیږو د ښځو لخوا پر نوکانو رنګ وهل د اړتیا لپاره نه بلکي د ښکلا لپاره دي. نو له درنو خوندو څخه هیله کیږي چي د نوکانو له اوږدولو او رنګولو څخه تېري سي. په دې هکله په فتاوی عالمګیري (۴) مخ، او جدید فقهي مسائل ۱/ ۲۳ مخ کي هم څرګندوني سوي دي

## د ښځو لخوا عطرونه وهل:

د ښځو د عطرونو وهلو په هکله رسولﷺ فرمایي:

«كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ وَالْمَرْأَةُ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ فَهِيَ كَذَا وَكَذَا يَعْنِي زَانِيَةً» (رواه ابوداود والترمذي وقال حديث صحيح). یعني: په بدو کتونکې هره سترګه زنا کاره ده. او کومه ښځه چي عطر ووهي او (د نارینه وو) مجلس ته نژدې تېره سي داسي او داسي ده، یعني زنا کاره ده.

↔ ↔ ↔

د پورتنیو خبرو په پای کي باید ووایو چي د ښځو د وریښتانو او د هغې د بدن د نورو غړو د سینګار په هکله مسایل خورا ډېر دي، خو دغه کتاب پر هغو ټولو باندي د بحث کولو حوصله نه لري، ځکه نو موږ په دې هکله خپلي خبري همدلته پای ته رسوو. خو نارینه وو، ښځو، ډاکټرانو او په سینګار ځایونو کي بوختو ښځو ته توصیه کوو چي د سینګار او د سینګار د شیانو د

استعمال او په سینګار پوري د اړوندو ځینو کارونو په هکله له جیدو اسلامي عالمانو څخه وخت په وخت پوښتني وکړي، په دې هکله شرعي احکام ځان ته معلوم کړي او له هغو کارونو څخه چي کتاب او شریعت یې د تر سره کولو اجازه نه ورکوي، له تر سره کولو څخه ډډه وکړي. دغه راز زمونږ سوداګرو ته توصیه کوو چي روغتیا ته ضرري شیان او هغه شیان چي استعمال یې د شریعت له مخي ښه نه دی هیواد ته وارد نه کړي او حکومت هم په دې هکله وخت په وخت څارنه وکړي او متخلفینو ته شرعي جزاوي ورکړي.

## له امریکا او نورو کفري هیوادونو څخه راوړل سوي غوښي

لکه چي څرګنده ده اوسمهال د افغانستان په بازارونو کي له امریکا او نورو کفري هیوادونو څخه د چرګانو، غویو او پسونو راوړل سوي غوښي او همدارنګه په بندو دبلیو کي ډول ډول پخې غوښي خرڅیږي.

دغه غوښي له شرعي پلوه:

د اسلامي شریعت له مخي د لاندي کسانو ذبیحه حرامه ده باید ونه خوړل سي: د مشرك او وثني (بت پالونکي). د ملحد چي په هیڅ دین نه وي. د مرتد که څه هم د اهل کتابو په دین سوی وي او د زندیق (څوك چي په باطن کي کافر وي خو په ایمان تظاهر کوي).

پر دې بنسټ د جاپانیانو، کمونیستانو او هندوانو ذبیحې حلالي نه دي. (الفقه الاسلامي وادلته۳/ ۶۴۹مخ.

یهود او نصارا د اسلامي شریعت له مخي اهل کتاب دي. د یهودو او نصاراوو ذبح سوی څاروی هله حلال باله سي چي د ذبحي لپاره یې هغه طریقه کارول سوې وي چي اسلام ویلې ده. بل دا چي پر هغه یې په رشتیا د «الله»ﷻ نوم اخیستی وي او د بل چا یا حضرت عزیرعليه السلام یا حضرت مسیحعليه السلام نوم یې نه وي پر اخیستی او اهل کتاب په رشتیا اهل کتاب وي.

خو اوس لکه چي لیدل کیږي د امریکا او نورو کفري هیوادونو زیاتره خلك کوم چي له لویه سره اهل کتاب اورسماً یهود یا نصرانیان بلل کیږي ملحدان، دهریان او بې دینه سوي دي او مذهب او وحي او آخرت هیڅ نه مني. بلکي په دغسي عقایدو ملنډې وهي. نو د دغسي کسانو د لاس ذبیحه حلاله نه ګڼل کیږي او چي په یقیني توګه جوته نه سي چي ذبیحه د معتقد کتابي په لاس د الله د نامه په اخیستلو او د اسلامي شریعت سره سمه ذبح سوې ده له دغسي ذبایحو څخه احتراز واجب دی.که ووایو چي دغه څاروي به د دوی دغسي معتقدو مذهبي وګړو ذبح کړي وي نو څنګه چي یهود د عزیرعليه السلام د الوهیت (خدایی) او نصارا د عیسیٰعليه السلام د الوهیت قایل دي نو قوي اندیښنه ده چي

دوی به د ذبحي پر مهال د خدای د نامه سره د عزیر یا مسیح نومونه هم اخیستي وي چي بیا هم ښایي د دغسي غوښو له خوړلو څخه د احتیاط له مخي ډډه وسي. (دامداد الفتاوٰی د ۳/ ۵۴۴مخ او جدید فقهي مسائل د ۱/ ۱۳۲مخ څخه په استفاده).

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانويؒ د امداد الفتاوٰی په ۳/ ۵۴۳ مخ کي فرمايي: «د هندو لخوا خرڅه سوې ذبیحه حلاله نه ده که څه هم هغه ووايي چي دا مسلمان ذبح کړې ده. ځکه چي د کافر خبره په دیاناتو کي د منلو وړ نه ده».

په دیاناتو لکه حل او حرمت او طهارت او نجاست کي د کافر او د مستور او نامعلوم سړي قول د منلو نه دی (فتاوٰی عالمګیري (۵/ ۳۰۷) مخ).

مولانا خالد سیف الله رحماني د جدید فقهي مسائل په ۱/ ۱۳۳مخ کي وايي: «له اروپا څخه چي کومي غوښي راځي او پر لیکلي وي چي: (په شرعي طریقه حلال سوی دی) د دغسي غوښو د خوړلو ګنجایش سته. البته که په نورو قراینو او ذرایعو غالب ګومان داوي چي دا یې هسي لیکلي دي خو په حقیقي معنا یې د هغه په حلالولو کي شرعي طریقه نه ده رعایت کړې نو بیا د دغسي غوښو خوړل درست نه دي».

اوس به وګورو چي له امریکا او نورو کفري هیوادونو څخه راوړل سوي غوښي معمولاً څنګه حلالي سوي دي. لکه چي څرګنده ده په اروپايي هیوادونو کي یې له ډېرو پخوا زمانو څخه د ځاروي سر غوڅ ور پرې کاوه. بیا یې دې چاري ته نوې بڼه ورکړه او د ګلوټین یا ګیوټین (Guillotine) په نامه د سر پرې کولو مشین یې اختراع کړ. ځاروی به یې ودراوه او له پاسه به یې یوه غټه چاړه پر را کش کړه او د ځاروي سر به یې له تنه بېل کړ. بیا یې د ځارویو د ذبح کولو بله طریقه رامنځته کړه. د دې طریقې سره سم ځاروی پر سر باندي په یوه درانه شي وهي یا پر سر باندي د برېښنا کرنټ ورکوي. کله چي ځاروی بې سده سي په زنځیرونو یې تړي او د مشین له تېرې چړې څخه یې تېروي او نیمه غاړه یې ورپرې کوي. د «امت مسلمه پر کفار کی مظالم کی دلخراش حالات» په ۱۳۸ مخ کي لیکي: «د جرمني د میونیخ د ښار یوې

سیمه ییزي محکمې هلته پر مسلمانو اوسېدونکو باندي په اسلامي طریقه د څارویو د حلالولو په هکه بندیز لګولی دی او حکم یې کړی چي مسلمانان هم باید هرو مرو څاروی د برېښنا په کرنټ بې سده کړي».

نو اوس د کفري ملکونو له عمومي حالت څخه دا خبره جوته ده چي په امریکا، اروپا او نورو کفري هیوادونو کي د غوښو د تجارت شرکتونه او موسسې زیاتره څاروي په دغه ډول ذبح کوي. چي دا بېخي غیر اسلامي طریقه ده او د دغسي ذبح سوو څارویو غوښې روغتیاته هم مضري دي.

د دغي طریقې له مخي چي د څاروي د بې سده کولو لپاره دماغي ضربه یا د برېښنا جټکه ورکوي په هغه کي د دغي جسماني صدمې له امله د هستامین (Histamine) د پیدا کېدو لامل ګرځي چي په دې سبب د څاروي غوښې ډېري بدرنګه او بد خونده کیږي. لنډه دا چي اوس په امریکا، اروپا او نورو کفري هیوادونو کي د غوښو د کاروبار کمپنۍ څاروي په ماشینانو وژني چي ګردسره د اسلامي شریعت مطابق نه وي. نو تاسي فکر وکړئ چي د دغسي غوښو پرکارټنانو او کڅوړو باندي چي لیکلي وي: «مذبوح حلال حسب الشریعة السلامیة» (په شرعي طریقه حلالي سوي دي) رښتیا به وي؟ هغه هم د داسي امریکایي او اروپایي کفارو لخوا چي نه خپل دین مني او نه د اسلام دین.

قا ل الله تعالیٰ:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن جَآءَكُمْ فَاسِقُۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓاْ﴾ [الحجرات: ٦].

ژباړه: «ای مومنانو! که کوم فاسق تاسي ته کوم خبر ووایي نو تاسي د هغه په هکله ښه څېړنه او تحقیق وکړئ».

په پورتني آیت کي په فردي او ټولیزه توګه یو ډېر مهم اصل بیان سوی دی او هغه دادی چي د هر فرد او هر حکومت دا دنده ده چي هغه ته چي کوم خبر یا اطلاع ورسیږي، په تېره د بدو فاسقو او مفسدو وګړو له لوري، نو لومړی باید هغه ښه وڅېړي.

نوپه دې هکله چي هر څوني څېړني سوي دي یا وسي پایله یې د تفسیر مظهري دا قول دی: «ولاشك ان النصاری في هذا الزمان لایذبحون بل یقتلون بالوقد

غالباً فلايحل طعامهم» (تفسير مظهري ۳/ ۴۰ مخ). يعني دا حقيقت دی چې د دې مهال عېسويان څاروي نه ذبح کوي بلکې په برېښنايي مشين يې وژني. له دې امله د دوی ذبيحه حلاله نه ده.

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَا تَأْكُلُواْ مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ ٱسْمُ ٱللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُۥ لَفِسْقٌ ۗ وَإِنَّ ٱلشَّيَـٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوْلِيَآئِهِمْ لِيُجَـٰدِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿١٢١﴾﴾ [الأنعام: ١٢١].

ژباړه: «او کو م څاروی چې د لوی څښتن په نامه نه وي ذبح سوی د هغه غوښې مه خورئ، دا کار فسق دی. شيطانان د خپلو ملګرو په زړونو کې شکونه او اعتراضونه اچوي، څو هغوی ستاسې سره شخړه وکړي. خو که تاسې د هغو اطاعت مانه تاسې به هرومرو مشرکان ياست».

په ماشين باندې د دې دونو چرګانو او څارويو د ذبح کولو پر مهال د دې کفارو لخوا د لوی څښتن د نامه يادول کله امکان لري او کله يې يادوي؟

نوښه داده چې د دغسې غوښو له رانيولو او خوړلو څخه احتراز وسي او پر ځای يې زموږ د خپل هيواد يا د اسلامي هيوادونو د چرګانو، پسو او غويو غوښې استعمال سي. البته که دولت په رښتيا د خلکو خدمت کوي نو خلك دې د امريکايانو د غير صحي او بې کيفيته غوښو له اړتيا څخه وژغوري او د چرګانو د فارمونو زياتولو او دودولو او د نورو غوښو د محصولاتو ډېرولو ته دې رشتيانی توجه وکړي.

## د بهر نيو په اصطلاح ذبح سوو چرګانو د غوښو په هکله څه نوري خبري

د کراچې د اووه ورځنۍ مجلې «اخبار جهان» د ۲۰۰۰ع.کال د د سمبر د ۴ ـ ۱۰ ګڼې په۶۴ مخ کې د «ککړو خوړو څخه خپرېدونکې مکروبي ناروغۍ» تر سرليك لاندې ليکې:

«بازاري خورکونه زياتره په ځانګړې توګه په مکروبونو ککړ وي. څېړنو جوته کړې ده چې ککړ خواړه د ډول ډول ناروغيو لامل کيږي. په امريکا کې هرکال درې لکه تنه د خورك له امله ناروغه کيږي چې روغتونونو ته داخليږي او بيا له هغو څخه پنځه زره تنه مري. د چرګانو په شمول د نورو الوتنکو

غوښې زیاتره په بکتریاوو ککړې وي. د امریکا د چرګانو پر غوښو تازه څېړنو جوته کړې ده چې د دغه ځای د چرګانو شپېته فیصده غوښې مکروبې دي. ستونزه داده چې که خواړه د خوني د تودوښې په درجه کې کښېښوول سي نو بکتریاوې په ډېره تېزۍ پر راټولېږي. دا هم جوته سوې ده چې که خواړه په یخچال کې وساتل سي هم مکروبونه اخلي.دغوښو ساتلو ګودامونه (stacks) له دې پلوه نور هم زیات خطرناك وي. ځکه چې د ګودامونو ورونه ډېر خلاصیږي او بندیږي او له دې امله زیات جراثیم ور دننه کیږي».

له پورتنیو څرګندونو څخه موږ اټکلولای سو چې د کومو په اصطلاح ذبح سوو چرګانو غوښې چې دسمندرونو له هاخوا څخه ترموږ پوري را رسیږي د اوږده واټن نقل وانتقال او د ډېر عمر پر تېرېدو له امله هرو مرو په ډول ډول مکروبونو ککړیږي؛ له خپله اصلي حالته وزي او خامخا خوسا او خرابیږي. چې کېدای سي خوړل یې موږ په ډول ډول مکروبي ناروغیو اخته کړي.

له بله پلوه لکه چې پوهیږو په دې وروستیو کلونو کې په پر له پسې توګه د چرګانو او الوتونکو د تیغك یا وبایي والګي (سارس یا انفلونزا) د خپرېدو په هکله خبرونه خپریږي. همدا اوس هم چې د ۱۳۸۵ل.کال د کب میاشت ده د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ان زموږ د هیواد په پلازمېنه (مرکز) او څو نورو سیمو کې دغه ناروغي په چرګانو کې لیدل سوې ده. څنګه چې دغه ناروغي د چرګانو، مرغانو او د هغو له غوښو او هګیو څخه په انسانانو هم پوري کیږي او د هغه د مړیني لامل ګرځي، نو له دې امله زموږ د حکومت په شمول ډېرو حکومتونو د چرګانو پر غوښو او هګیو واردولو او د هوا د مرغانو پر ښکار او نیولو بندیزونه لګولي دي. نو د دې لپاره چې خدای مه کړه د دغسې مشبوهو، ککړو او غیر صحي غوښو د خوړلو له امله په روغتیایي ستونزو اخته نه سو لازمه ده چې پر هغو خپلې حلالې پیسې ور نه کړو او تر خوړلو یې تېر سو.

## د ګامېښو او غويو د غوښو روغتيايي تاوانونه

**غوښې له روغتيا يي پلوه**:

ډاکټران وايي چي غوښې د غذائيت، خوند او جسماني ودي له پلوه په ټولو خوړو کي ځانګړی ځای لري. د ځينو طبيبانو په اند په ځينو ناروغيو او کمزوريو کي د غوښو خوړل طاقت ورکوي. نو هغه ناروغان چي د غوښو خوړلوته ضرورت لري بايد غوښې وخوري اما د ځينو ناروغانو طبيعتونه چي د غوښو خلاف دي پر هغو باندي لومړۍ بايد غوښې بندي سي او بيا يې علاج وسي.

لويو لويو ډاکټرانو او حکيمانو په خپلو مستندو کتابونو کي ويلي دي چي غوښې باد ليري کوي، ډېر ژر طاقت ورکوي. د توليد ماده، وينه او وازګه ډېروي. شهوت زياتوي، د احتلام باعث کيږي او بدن چاغوي. خو د دې تر څنګ هغو دا هم ويلي دي چي د غوښو خورک پر دماغ بده اغېزه کوي او خرابوي يې. ځيني طبيبان وايي: د هغو هيوادونو وګړي چي غوښې ډېري خوري جګړه مار او ويني بهوونکي وي، خو دماغي څرنګوالی يې صفر وي. ان يو هندی مسلمان طبيب ادعا کوي: څنګه چي افغانان د نورو هيوادونو تر خلکو ډېري غوښې خوري نو ډېر جګړه مار او بهادران دي او پر ډېره کوچنۍ خبره مشتعل کيږي. يو بل ډاکټر په خپل کتاب کي وايي: هغه څوک چي غوښې ډېري خوري د هغه ميلان د حيواني جذباتو خواته وي او له روحاني برکت څخه لږ برخه ور رسيږي چي په نتيجه کي د هغه پر ځېره باندي د نرمۍ او لطافت نوم او نښان نه ليدل کيږي. د اسلام نامتو عالم امام غزالي‍ؒ په احياء العلوم کي وايي چي د غوښو پر خوړلو باندي مداومت د زړه قساوت رامنځته کوي.

په يوه بل کتاب کي د غوښو په باره کي داسي ويل سوي دي: عموما د غوښو هر ډول خواړه چي وي د هغو د هضم کولو لپاره لويي معدې او ځګر ته ضرورت پيدا کيږي. دا ډول غوښن خواړه په ډېر مشکل سره هضم کيږي. دغه ډول که د نس خوږ (د معدې زخم) وجود هم ونه لري ورو ورو په کولمو کي د ننه سفر کوي او په دې ډول د کولمو د ننه سفر سست او نيمګړی کړي

او د هغو د وران هم کمزوری سي، چي د دغو خوړو د هضمولو لپاره په معده کي زیاتو تیزابوته ضرورت وي چي په دې ډول د تیزابي مادې د ترشح څخه په معده کي یو ډول درد پیدا کیږي او دا ډول غوښن خواړه تر دوو درو اوونیو پوري په نس کي دننه پاته کیږي او اغیزه یې جاري وي.

په یوه بل کتاب کي وایې: هغه څوک چي د معدې یا کولمو په ټپ اخته وي هغه باید لومړی د غوښو د خوړلو څخه پرهیز وکړي.

په بل کتاب کي وایي: د غوښو خوړل د احتلام شکایت رامنځته کوي او د جریان او سرعت انزال ناروغیوته ډېري ضررناکي دي. غوښي د سبو او نورو غوندي په آسانه نه هضمیږي. بلکي د غوښو پروټین او غوړزګي د هضمولو پر غړو باندي ډېر فشار راوړي. د غوښو د خوړلو له امله په پوښتورګو کي یو ډول تیزابي ماده چي یورك اسیډ (Uric Acid) نومیږي زیاتیږي. چي بیا یې پښتورګي په آسانۍ نه سي خارجولای. دغه راز غوښي په بدن کي صفرا هم زیاتوي. د غوښو له ډېرو خوړلو څخه د مثاني او پښتورګو ناروغۍ رامنځته کیږي او د اینې، پښتورګو، زړه او د بدن د نورو غړو په کار کي نقص رامنځته کیږي. له دې امله باید غوښي لږ وخوړل سي. په تېره د غټ څاروي غوښي باید ډېري لږ وخوړل سي ځکه چي دغسي غوښي روغتیاته ډېري تاواني دي.

**د غوا او ګامیښي غوښي:**

د ګامیښي او غوایي غوښي د خپل تاثیر له پلوه په ډېرو قوي خوړو کي نه راځي. په دې چي هغه پروټین چي په زیاته اندازه د سېرلي، پسه، چرګ او کبانو په غوښو کي سته د غوایي په غوښو کي نسته. او هغه خوند چي په هغو غوښو کي سته په دې غوښو کي نسته.

د غوایي غوښي وچي او ګرمي دي. او ځیني تاوانونه یې په لاندي ډول دي:

خرابه وینه په بدن کي پیداکوي. سودایې ناروغۍ رامنځته کوي. نس غټوي، د مرغېړیو او نورو د درد لپاره تاواني دي. په دماغ کي زهر جن مواد ډېروي. د ډېرو خوړو څخه یې ورۍ خرابیږي. په ډېر عمر هضمیږي. په دې ډول د غوایي غوښي د روغتیا لپاره ډېري مضري دي.

خو ځیني خلک چې د غوایي غوښې خوري کوښښ دې وکړي چې د کوچني ګیلګي غوښې واخلي او هغه دې یوازې نه پخوي، بلکې یو بل سابه دې ضرور ورسره اچوي. خو ګرمه مساله او مرچک دې ډېر نه وراچوي. په دې چې دغه غوښې پخپله ګرمې دي.

د غوایي د سر او پښو یخني ښوروا ګټوره ده. البته چې په ژمي کې یې په مناسبه اندازه وخورئ. دا د بدن حرارت نورمال ساتي او د نارینتوب ځواک پیاوړی کوي. طبیبان وایي: «مرق البقر دواءٌ ولحمه داءٌ» یعنې د غوایي د غوښو ښوروا درمل دي خو غوښې یې ناروغي ده.

د ګامیښې غوښې هم ډېرې ګرمې او وچې او د غوایي د غوښو په څېر دي. د نازک طبعو، په تېره د علمي، ادبي او ذهني کار کوونکو لپاره تاواني دي. خو د ګامیښې د کټې غوښې دونه تاواني نه دي.

**له بهرنیو هیوادونو څخه د غوایي راوړل سوي غوښې:**

یوه ډېره بده بدمرغي چې تر ایډز را وروسته د اروپایانو په پېښه سوې ده د غویو لېونتوب دی. دغه مصیبت په ځانګړي ډول په انګلستان کې ډېر رامنځته سوی دی. دې ناروغۍ ته په انګرېزي Mad Cow Disease (د لېوني غوایي ناروغي) وایي. د Foot & Mouth Disease (د ښونګري او خولې ناروغي) یې هم بولي. خو دا وروستۍ ناروغي څه نوې نه ده. دا یوه بېله او لرغونې ناروغي ده چې په څارویو کې د یو ډول وایرس له تیتېدو څخه رامنځته کېږي. لومړی د څارویو پر پښو او خوله دانې راوخېژي بیا تپ سي او له دې امله یې شیدې ډېرې لږ سي. د دې ناروغۍ درملنه شونې ده. خو د Mad Cow ناروغي بالکل نوې ده، په پخوا وختونو کې هیڅ نه ده لیدل سوې او درملنه یې هیڅ شونې نه ده. د دې ناروغۍ له امله غویی ګردسره لېونی سي. د دېوالونو سره سر وهي. ګردچاپېره ګرځي را ګرځي اوپرانسانانو او څارویو بریدونه کوي. دغه ناروغي له څارویو څخه انسانانو ته هم لېږدول کېږي. د University of Illinois at Urbana Champaign په اسنادو کې یې د دې ناروغۍ نوم په میډکل ژبه ( Bovine Spongiform

(Encephalopathy BSE) ایښی دی. په دغو اسنادو کي په څرګنده توګه لیکل سوي دي: بواین سپانجي فارم د څارویو یوه وژونکې ناروغي ده. دا له کومي باکټریا یا وایرس څخه نه بلکي د یوډول خپل په خپله پیدا کېدونکي مضر پروټین څخه چي پري اونز (Prions) ورته وایي، پیدا کیږي.

وایي چي دغه ناروغي لومړی په ۱۹۸۵ع.کال څرګنده سوه. تر ۱۹۹۰ع.کال وروسته په برتانیه کي د دغي ناروغۍ یولك دري اتیا زره پېښي په ګوته سوې. دغه وبا په ۹۳ - ۱۹۹۲ع.کلونو کي خپل اوج ته ورسېدل او په هره اوونۍ کي د دغسي کېسونو شمېر تر زرو پوري ورسېد. اوس هم د ټولو تدابیرو سره سره په هره اوونۍ کي د دغسي نژدې سلو پېښو راپور ورکول کیږي.

دا ناروغي یوازي په برطانیه کي نه ده رامنځته سوې، بلکي د اروپا په زیاترو هیوادونو کي تیته سوې ده. په آیرلېنډ کي د دغي ناروغۍ ۳۳۷پېښي، په فرانسه کي ۵۱پېښي، په پرتګال کي ۱۹۵پېښي او په سویزرلېنډ کي ۲۸۳ پېښي ثبت سوي دي.

په څارویو کي د Foot & Mouth Disease او Mad Cow Disease دواړي ناروغۍ یوځای هم رامنځته سوي دي. خو د Mad Cow ناروغي ځکه خطرناکه ده چي د هغو د غوښو له خوړلو څخه انسانانو ته لېږدول کیږي. په انسانانو کي یې دغه ناروغي ( CJD Jakob disease Creuztfeldt) بللې ده. په برتانیه کي له ۱۹۹۵ع.کاله تر اوسه د لېونیو غویو د غوښو د خوړلو له امله د مړوسوو انسانانو په شمېر کي ورځ تر بلي ډېرښت را ځي. له دې امله د دغه هیواد دغوښو کاروبار ډېر خراب سوی دی او له دې امله د دې هیواد اقتصاد ته دروند تاوان اوښتی دی.

د یوه تازه ر پوټ سره سم د دغي ناروغۍ له امله د دماغ د پاړسوب پېښي د کاله ۲۳ فیصده زیاتیږي او دا ناروغي د هلکانو په پرتله په نجونو کي زیاته لیدل سوې ده.

لویه ستونزه داده چي ډاکټران په دماغ کي د دغي ناروغۍ د پاته کېدو موده نه سي اټکلولای. دا ناروغي په ځینو حالتونو کي تر شلو کالو په دماغ کي

پروربښت کوي. له دې امله د دې ناروغۍ علامې تشخیصول ډېر ستونزمن کار ګرځېدلی دی.

د لېونیو غویو د دغې خطرناکي ناروغۍ له امله د نړۍ ډېرو هیوادونو د انګرېزانو د غوښو پر واردولو بندیزونه ولګول. ځکه نو انګرېزانو په لکونو غوایي بېله دې چې لومړی یې په یو ډول ووژني په ډېره بې رحمانه توګه ژوندي وسوځول. خو لکه چې ښکاري تر اوسه هم دغه ناروغي ورکه سوې نه ده. اوس هم د ځینو هیوادونو چارواکي د نورو هیوادونو د غوايي د غوښو د ناسم کیفیت او داسي نورو خبرو له امله د هغه دصادروونکو سره په شخړو اخته وي.

غوايي زموږ په هیواد کي بېخي ډېر روزل کیږي او که یې د دولت لخوا د لازیا ت روزلو لپاره پاملرنه وسي کېدای سي چې د غویو غوښي زموږ له هیواده بهر ته صادري سي. همدا اوس هم زموږ په هیواد کي د قصابانو لخوا د حلالو سوو غویو او ګامېښو تازه غوښي په پېخر خرڅیږي. خو د تعجب ځای دی چي د دې سره سره زموږ هیواد ته له ډېري مودې له بهر څخه هم د غوايي غوښي راوړل کیږي. له بده مرغه دلته هیڅ یوه اداره هم نسته چي د دغسي او نورو ډول دول غوښو لابراتواري معاینات وکړي.

بله دا چي زموږ د وطن د غویو غوښي بايد له بهر څخه تر راوړلو سوو غوښو ډېري ارزانه وای. ځکه نه له بهر څخه تر دې ځایه د انتقال لګښت پر لوېږي نه کوم محصول. خو بیا هم په حیرانتیا سره دغه د بهر څخه راوړل سوي غوښي زموږ د غویو تر غوښو ډېري ارزانه دي. نو دا ولې؟ دا څنګه غوښي دي چي زموږ په وطن کي تر حلالو سوو غوښو یې ارزانه ورکوي؟ هرومرو په دې غوښو کي څه خرابي سته. که نه نو داسي ارزانه به نه وای.

په پای کي زموږ هیوادوالو ته زموږ سپارښتنه دا ده چي لومړی د روغتیايي وجوهاتو له مخي ګردسره غوښي ډېري ونه خوري او څه لږ غوښي چي خوري زموږ د وطن د ماهیانو، چرګانو، پسو او سېرلیانو، غویو او ګامېښو تازه حلالي سوي غوښي دي خوري. اما له بهره راوړل سوي غوښي خو د پورتنیو مطالبو په پام کي نیولوسره او له دې امله چي ممکن په ماشینانو ذبح سوي وي بايد

هیڅ ونه خورو. څو خدای مه کړه له دې پلوه په کوم تکلیف اخته نه سو. په هغه صورت کي به یې درملنه راته ګرانه وي او پښېماني به هم ګټه نه کوي.

بله خبره دا ده چي په دې وروستیو کي زموږ په ځینو رستورانونو او خوړنځایونو کي د برګر او داسي نورو په نومونو غوښي خرڅیږي. لکه چي په بهرنیو هیوادونو کي لیدل سوي دي Burger د سرکوزي له ورانه څخه جوړیږي او دغوایي غوښي هم پکښي استعمالیږي. خدای دي وکړي چي دغه برګر هماغه د بهرنیو هیوادونو برګر نه وي. په دې هکله اړوند چارواکي باید څېړنه او پلټنه وکړي. که یې غوښي د سرکوزي یا په غیر شرعي طریقه د ذبح سوو غویو وي باید په کلکه یې د خرڅولو مخه ونیول سي.

## کوکاکولا، پیپسي، فانټا او دغسي نور مشروبات (خواږه زهر)

لکه چي پوهېږو کوکاکولا، پیپسي او داسي ډېر نور د چیښلو شربتونه د نړۍ په ډېرو هیوادونوکي په تېره زموږ په دې وروسته پاته او په اقتصادي لحاظ لـه پښو لوېدلي هیواد کي په پېخر چیښل کیږي او اړوندي کمپنۍ یې له دې درکـه د ورځي په میلیونونو ډالر ترلاسه کوي. موږ په دې مضمون کي د کولاکـولا او پیپسي کمپنیو پر رامنځته کېدو، اسرایلو ته د دغو شربتو له ګټي څخـه د برخـي ورکولو، د هغو پر ترکیب او روغتیا ته د هغو پر ضررونو رڼا غوړوو.

### کوکا کولا:

کوکاکولا یوه امریکایي کمپنۍ ده چي د اټلانټا د یـوه فارمیسیسـټ (درمـل جوړوونکي) جان ایس. (۱۸۳۱ـ ۸۸) لخوا په ۱۸۸۶ع.کـال پـه ابتـدایي ډول رامنځته سوه او په ۱۸۹۲ع.کال پـه امریکـا کـي رسـماً پرانیسـتل سـوه. اوس د دغي کمپنۍ لوی او نړیـوال منځـی (مرکـز) پـه اټلانټـا کـي دی. د معلومـاتو لـه مخي اوس دغه کمپنۍ دغه توکي جوړوي:

کوکاکولا Coca Cola

فانټا Fanta

فروټوپیا Fruitopia

کیا اورا Kiaora

للټ Lilt

سپرایټ Sprite

سن کټ Sunkit

سکوپس Schwoppes

دغــي کمپنــۍ پــه ۱۹۶۶ع.کــال د اســرائیلو د حکومــت د یــوې ســتري مرستندویي کمپنۍ په توکه تبارز وکړ. په ۱۹۹۷ع.کال د اسرائیلو حکومـت لـه دې امله چي دغي کمپنۍ د هغو سره زښـت زیـات کومکونـه کـړي وه هغـې تـه

ټریډ ایوارډ (تجارتي مډال) ورکړ. په ۲۰۰۱ع.کال د امریکا او اسرائیلو د سوداګرۍ اتاق لخوا د کوکاکولا په نړیوال ستر مرکز کي د اسرائیلو سره د کوکاکولا د ستر مرستندوی په صفت د «ګالا ایوارډ» په نامه مډال ورکړ.

دا هم جوته سوې ده چي «د اسرائیلو سره د مرستي» تر پروګرام لاندي کوکاکولا کمپنۍ خپلو کارکوونکو ته د اسرائیلو او عربو د جګړې په اړه ځانګړې روزنه ورکوي. د دغي روزني ځانګړی نصاب یوې کمپنۍ جوړ کړی او مالي مرستي د «جیوش ایجنسۍ» (یهودي ټولني یا ادارې) او د اسرائیلو د حکومت لخوا ورته برابریږي. دغه وګړي د یهودو لخوا په لاندي سوو سیمو کي له هغو کسانو څخه استخدامیږي چي له پخواني شوروي اتحاد څخه ورغلي وي. په دغه تربیتي پروګرام کي د اسرائیلو او عربو د منازعې په اړه ځانګړی مضمون تدریسیږي او هغو ته دا ویل کیږي چي فلسطین د یهودو پلرنی ټاټوبی دی او د مسجد اقصیٰ پر ځای دمخه سلیماني هیکل موجود وو، اوس موږ غواړو د هغه پر ځای بیرته سلیماني هیکل ودان کړو. دغه راز دغو کسانو ته د کوکاکولا د بازار موندلو د لارو چارو او د هغو له ګټي څخه اسرائیلو ته د مرستو په باب هم لکچر ورکول کیږي. دا هم ورته تدریسیږي چي د عربو په خلاف او د اسرائیلو په ملاتړ څنګه پروپاګنډ په لارواچول سي.

د ۲۰۰۲ع.کال په فبروري کي کوکاکولا کمپنۍ د اسرائیلو سره د مرستو د کچي د لا زیاتو لوړولو او د دوی په ګټه د مرستو د ټولولو په موخه د «فرینډز آف اسرائیل» او «نېشنل هیلي» دوو صهیوني کمپنیو سره یوځای د ګډ لکچر ورکولو پروګرام په لار واچاوه چي په هغه کي د منیسوټا د پوهنتون یوه یهودي استازي لنډا ګریډسټین لکچر ورکړ. دغه سړی د صهیوني ټولنو او تنظیمونو څخه تنخوا خوري خو دی وایي چي د نیشنل پبلك راډیو (NPR) د منځني ختیځ استازی دی. د ۲۰۰۱ع.کال د سپټمبر پر لسمه د مصر «الاهرام» ورځپاڼي د کوکاکولا یو اعلان خپور کړ. په دې اعلان کي د کوکاکولا کمپنۍ په ځرګندو الفاظو خپلو رانیوونکو ته ویلي وه چي: «کوکاکولا رانیسئ او د اسرائیلو سره مرسته وکړئ».

کوکاکولا کمپنۍ اعلان کړی دی چي هر کال د خپلي ګټې لس فیصده د اسرائیلو یهودي غورځنګ ته ورکوي.

پر دې سربېره کوکاکولا کمپنۍ څه مهال دمخه په اسرائیلو کي ستره پانګه په کار واچول او د اسرائیلو لخوا د فلسطینیانو پر غصب سوې مځکه یې د تصفیه سوو معدني اوبو (منرل واټر) یوه کمپنۍ په شلو ملیونو ډالرو رانیول. د دې کمپنۍ په جوړولو سره نه داچي اسرائیلو ته ګټه رسیږي، بلکي د هغو اووسوونو ته د کار زمینه هم مساعدیږي. په اسرائیلو کي د کوکاکولا لخوا د دغسي ستري پانګي اچوني او یهود پالني له امله اسرائیلو کوکاکولا ته هلته د هر څه زیاتو تولیداتو د جوړولو حق ورکړ.

## پیپسي کولا:

پیپسي کولا هم د خوړو او مشروباتو یوه امریکایي کمپنۍ ده او دغه نوم یې په 1965ع.کال هغه مهال ځان ته غوره کړ چي د Frito-Lay, Inc. په نامهیوې بلي کمپنۍ سره یوځای سوه. د دغي کمپنۍ مرکزي دفتر په نیویارك کي دی. د لومړی پیپسي کمپنۍ بنسټ په 1898ع.کال د یوه امریکایي فارمسیست) Caleb D. Bradham ۱۸۶۶ــ ۱۹۳۴) لخوا کښېښوول سو. بیا په 1931ع.کال بل امریکایي فارمسیسټ ) Guth G. Charles ۱۸۷۶— 1948) د بلي نوي پیپسي کمپنۍ تجارتي نخښه او سامانونه رامنځته کړه او د یوې نوي پیپسي کمپنۍ بنسټ یې کښېښود. څنګه چي دغه پانګوال د Loft, Incorporated کمپنۍ مشر هم وو نو بیا دغه دواړي کمپنۍ سره یو ځای سوې او Pepsi-Cola Company هم په Loft, Incorporated. ونومول سوه. بیا دغه کمپنۍ د نورو کمپنیو سره هم یو ځای سوه او یو لړ بدلونونه پکښي راغله.

د دغي کمپنۍ په هکله باید وویل سي چي په ۱۹۹۲ع.کال کله چي د عربو ټولني د کوکاکولا مشروبات تحریم کړل پیپسي د عربو او اسرائیلو په بازارونو کي خپل مشروبات په ډېره چټکۍ سره پلور ته وړاندي کړل او ښه غوښنه ګټه یې ترلاسه کړه. چي بیا پیپسي مشروبات هم د عربي ټولني په تور لیست کي

راغله. په دغو ورځو کي پیپسي کمپنۍ د دې لپاره چي د عربي ټولني لـه تـور لیست څخه ځان وژغوري د لنډ مهال لپاره یې له اسرائیلو څخه ځان ګوښه کړ. خو له دې امله په امریکا کي پر هغې باندي پرلـه پسې نیوکي کېدلې او د پیپسي دغه کار یې له سیاسي پلوه ناسم باله. د امریکا یـوه تنظیم د پیپسي پـر خلاف دعوه دایره کړه او تور یې پر ولګاوه چي پیپسي پر اسرائیلو باندي د تحریم په چاره کي برخه اخلي. که څه هم د امریکا قوانینو امریکایي کمپنۍ په دغه تحریم کي له برخي اخیستلو څخه منع کولې خو دغه قوانین ښه څرګند نه وه. بیا د محکمو د تحقیقاتو په نتیجه کي څرګنده سوه چي پیپسي کمپنۍ په دغه تحریم کي نه ده شامله، بلکي د پردې ترشا اسرائیلو ته مرستي ورکوي. لـه دې امله پر دې خبرو خوله پټه سوه.

تاسي پوهېږئ چي د پیپسي معنا څه ده؟ په (ملټی نیشنل کمپنیون کی اسلام دشمنی) کتاب کي وایي چي د Pepsi توري د دغو الفاظو مخففات دي: Pay each penny to save Israel یعني یوه یوه روپۍ واچوئ او اسرائیل په ځواکمن کړئ. پر همدې بنسټ پیپسي کمپنۍ اسرائیلو ته د کاله لس ارب ډالره کومك ورکوي. د یادوني وړ ده چي د مرنډا (MIRINDA) توري د دغو الفاظو مخففات دي: Muslim & Islam Ruined Intensively Never Dawn Again. یعني مسلمان او اسلام دي په ډېره بده توګه پوپنا سي او هیڅکه دي لوړتیا او عروج ته نه رسیږي. د سپرایټ (SPRITE) توري د دغو الفاظو مخففات دي: Supper Power Remained Israel Till End یعني اسرائیل دي تر پایه د ستر ځواك په توګه پاته وي. د ټیم (TEEM) توري د دغو الفاظو مخففات دي: Tease Each & Every Muslim. یعني هر مسلمان ته ازار ورسوئ.

په لومړیو وختونو کي دا خبره ښه جوته نه وه چي دغه تجارتي کمپنۍ په رشتیا د یهودو ملاتړي دي او د هغو د ګټو ستره برخه اسرائیلو ته رسیږي، خو اوس په عامه توګه داسي شواهد سته چي د هغو له مخي له دې ترخه اوبېروونکي حقیقت څخه انکار نه سي کېدای. اوس په رشتیا جوته سوې ده چي دغه کمپنۍ د فلسطینیانو، عربو او نورو مظلومانو او بې وزلو وژونکي دي.

د دوی په دغو پیسو وژونکي وسلې برابرېږي، د اسرائیلو پوځ په پیاوړی کېږي او د اسرائیلو لخوا د اسلام پر ضد ډول ډول دسیسې په لاراچول کېږي او د اسلام بېخ په کښل کېږي.

له بله پلوه دغو او دغسي نورو یهودي او عېسوي کمپنیو د ټولي نړۍ پر مارکېټ خپله منحوسه ولکه لګولې او په ځانګړې توګه یې د اسلامي هیوادونو سیمه ییزي کمپنۍ د ګواښ او ناکامۍ سره مخامخ کړي دي. د دې سترو او توطئه ګرو کمپنیو د پانګې، تبلیغاتو، چلونو او د زبرځواکو دولتونو د ملاتړ له امله د اسلامي هیوادونو کوچنۍ او سیمه ییزي کمپنۍ بې وسه سوي چي په پایله کي د دغو اسلامي هیوادونو شته او پانګه دغه ستري کمپنۍ لوټوي او اسرائیل په ځواکمن کوي.

بله د خواشینۍ خبره لا داده چي دغه کمپنۍ د اعلانونو په نامه په نورو هیوادونو په تېره په اسلامي هیوادونو کي د یهودو، هنودو او صلیبي عېسویانو د فرهنګي تېریو سره غوښنه مرسته کوي او په دغو هیوادونو کي فحاشۍ او لوڅ فرهنګ ته وده او پرمختیا ور بخښي. د کوکاکولا او پیپسي کمپنۍ په اسلامي هیوادونو کي پر اعلانونو باندي په ملیونونو ډالره لګوي. څرګنده ده چي پر دغو اعلانونو باندي دغه لګېدلي پیسې هم دغه کمپنۍ د هغو د رانیوونکو له جېبو نو څخه پوره کوي.

ښه نو ای درنو او عزتمنو لوستونکو! تاسي فکر وکړئ چي د دغو شربتو رانیوونکي او چیښونکي څه کوي او څه چیښي؟ آیا دا شربتونه همدغه خوږې اوبه دي او که زمونږ د مسلمانو فلسطیني او نورو عربو وروڼوویني؟

آیا موږ کله دا فکر کړی دی چي پر فلسطیني مسلمانانو باندي دغه بده ورځ او دا میزایل، بمونه او راکټونه اورېدل پر دغو مشروباتو باندي زمونږ د پیسو په ورکولو سره تر سره کېږي؟ آیا موږ کله دا فکر کړی دی چي د حرمینو شریفینو شاوخوا چي د یهودو او نصاراوو پوځیانو محاصره کړې ده پر کوکاکولا، پیسي او داسي نورو یهودي او عېسوي مصنوعاتو باندي زمونږ د پیسو د ورکولو او زمونږ د تېلو او داسي نورو شتو د غصبولو په سبب ده؟

که موږ هر يو د زړه له صدقه او په اسلامي او افغاني هوډ تصميم ونيسو چې نور به زموږ د مسلمانو ورونوويني يعنې دغه کوکاکولا او نور يهودي او عېسوي خواږه او مشروبات نه خورو نو باور ولرئ چې د اسلاميت دښمنان به مو په کلکه د ناکامۍ سره مخامخ کړي وي. که موږ په رشتيا د فلسطين، عراق، افغانستان او نورو مظلومو مسلمانانو سره خواخوږي لرو نو بايد لږ تر لږه خو دغه کوکاکولا او دغسي نور مشروبات تحريم کړو او په ټينګه ژمنه وکړو چې نور به دغه ګنده شربتونه ګردسره نه چيښو. موږ بايد د دې ناولو مشروباتو له چيښلو څخه داسي ډډه وکړو لکه د شرابو له چيښلو څخه. بلکي که ووايو چې شراب يوازي يوه سړی ته تاوان رسوي خو کوك او پيپسي تر شرابو ډېر مضر او خطرناکه دي دا به ډېره مناسبه خبره وي. ځکه چې دا ټول امت ته تاوان پېښوي. د کوکاکولا او پيسي چيښونکی نه يوازي د خپل ضمير مجرم دی، بلکي دا د بشپړ اسلامي امت مجرم دی. دا د فلسطينيانو دښمن، د عراقيانو دښمن، د افغانانو دښمن او بالاخره د حضرت محمد مصطفیٰﷺ دښمن دی. ځکه چې د ده په پيسو اسرائيل او نور کفار خپل پوځي ځواکونه پياوړي کوي، زموږ پر لومړی کعبه بيت المقدس يې منګولي نوري هم ښخيږي او د کعبې شريفي او مدينې منورې نيولو ته يې هم لار اواريږي.

نو درنو لوستونکو! د لوی څښتنﷻ لپاره که د يهودو او هنودو په وړاندي د ځپلو مظلومو مسلمانانو سره په خپلو ځانو او وسلو مرسته نه سئ کولای، د هغو د شيانو سره خو شلوون (بايکاټ) کولای سئ؟ او که موږ دغونه هم نه سو کولای نو د لوټ سوو عصمتونو، معصومو کوچنيانو د شهادت او پر بې ګناه مسلمانانو باندي د ډول ډول زړه دردونکو مظالمو پر ليدو باندي به د خپلو بې حسيو او بې پروايو جواب خپل ربﷻ ته په کومه خوله ورکوو؟

## د کوکاکولا او پيپسي کېمياوي مواد:

اوس را ځئ وګورو چې په دغو شربتونو کي چې موږ يې داسي په خوند خوند چيښو او خپلو ګرانو مېلمنو ته يې هم د هغو د عزت لپاره ورکوو او که يې ورنه کړو د پزې پرې کېده يې بولو کوم توکي ګډ دي.

۱- سیکلمیټ (Cyclamate): دا یو بې بویه، سپین، شفاف پوډر دي چې معمولاً Sodium Cyclamate یاCyclamate Calcium ورته وايي. دغه پوډر د لومړي ځل لپاره په ۱۹۳۷ع.کال د Michael Sveda نومي لخوا کشف سول. دغه مصنوعي قند بېل بېل ډولونه لري او د خوړولو ځانګړنه يې تر معمولي قندو او بورې له (۳۰۰) څخه تر (٦٥٠) واره ډېره ده. دغه ماده زياتره د يوې بلې له روغتيا يي پلوه مضرې مادې سره چې سکرین (Saccharin) یا مثقال ورته وايي هم ګډوي. سکرین بورې غوندې ماده ده چې له کوئیلې (سکرو) څخه يې را باسي.

له بله پلوه د دغو مصنوعي خوږو بيه د جغندرو د بورې په نسبت ډېره لږ او ارزانه ده. له دې امله په ډېرو هيوادوکي د غيرالکلي مشروباتو او نورو په خوږولو کي د بورې پر ځای ګټه ځني اخلي. د دغو قندو د روغتيايي ضررونو په هکله د نړۍ مطبوعاتو او روغتيايي سازمانونو ډېري څرګندوني کړي او په ټينګار سره يې ويلي دي چې دغه پوډر له روغتيايي پلوه د انسان کولمې د ډول دول باکټرياوو بريدونو ته چمتو کوي او سرطان زېږوونکی دی.

۲- کاربن ډای اکسایډ (CO2): دا له يو ډول زهرجنو ګازو څخه تېري سوي عامي ساده اوبه دي (چې دپاك بللو هيڅ ګرنټي يې نسته).

قدرت دغه زهرجن ګاز چې د وينو د فضلې غوندي دی دسا ايستلو په ذريعه له سږو څخه دباندي را باسي. خو د کوکاکولا او پيپسي په اوبو کي دغه ګاز ګډوي او جذبوي چې د دغو مشروباتو د بوتلونو او دبليو يوه ډېره مهمه برخه جوړوي او بالاخره له دې عمليې څخه د مشروباتو د تېزابيت درجه ۳، ۴ کيږي. دغه ګاز د مشروب پر خوند اغېز ښندي، په شربتو کي يو ډول کوبۍ جوړوي چې د چيښونکي خوله تخنوي او د خوند او يخوالي احساس يې ډېروي. د مشروباتو کمپنيو ته کاربن ډای اکسايډ له دې امله هم مهم او ړين دی چې د بوتل اوبه تر ډېره مهاله نه خرابيږي. نو څنګه چې موږ دغه ګاز د دغسي مشروباتو په چيښلو سره بيرته ګېډې او جسم ته ننباسو او له امله يې د انساني جسم تېزابيت تر عادي تېزابيت درې يا څلور واره تېزيږي. زموږ

هډوکو او غاښونو ته تاوان رسوي او د بدن روغتيا ته هم خطرناك تماميږي. له بله پلوه څنګه چي دغه مشروبات ډېر يخ وي زموږ پر جسماني نظام او ګېډه باندي دوه چنده بوج اچوي: يو د تېزابيت له امله او بل د مشروب د حرارت د درجي له امله چي عموماً صفر سانتي ګراډ وي. په داسي حال کي چي د جسم د حرارت درجه ۳۷سانتي ګراډه وي. چي د دې توپير د له منځه وړلو لپاره ګېډه بايد زيات کار وکړي. د خوړلو پر مهال د دغو مشروباتو له چيښلو څخه د هاضمې مرستندويه کېمياوي ماده (Digestive Enzymes) تحليليږي، پر ګېډه زيات بوج اچوي چي له امله يې په ګېډه کي ګازونه او نور زهرجن مواد رامنځته کيږي. کوم چي په کولمو کي جذبيږي او جسم تر خپل وخت دمخه بوډاکوي.

3- فاسپوريك اسيډ (Phosphoric Acid): دغه تېزابي ماده زموږ د بدن د هډوکو او غاښونو د کلسيمو ماده اخراجوي. له پرله پسې استعمال څخه يې د هډوکو د کمزورۍ له امله د هډوکو درد او ملا درد پيدا کيږي او کله ناکله هم له معمولي ضربې څخه هډوکی ماتيږي. چي دې ناروغۍ ته «Osteoporosis» يعني د هډوکو کمزوري وايي.

4- کافئين (Caffeine): دا عصبي نظام ته تحريك ورکوونکي او نشه راوړونکي درمل دي چي له استعمال څخه يې سړی د يو څه مهال لپاره تکړه او تازه دمه وي او خوښي احساسوي. خو پنځه شپږ ساعته وروسته چي يې اغېزه له منځه ولاړه سي کمزوري، سستي، کهالي او خوابدي محسوسه کړي. د کافئين له ډېر استعمال څخه کېدای سي په انسان کي ناکراري، د ځينو غړو رېږدېده، د زړه ټکان او داسي نور رامنځته سي. پردې سربېره کېدای سي د سر درد او سرپرله ګرځېده هم ورپېښ سي. (د کافئينو په هکله څه مطالب د قهوې او چايو تر سرليك لاندي هم وويل سول.). کافئين د مشروباتو په عامو بوتلونو کي له ۳۵ څخه تر ۵۰ ملي ګرامو پوري وي چي په دې حساب بايد په نيم لېتر کي ۲۰۰ ملي ګرامه وي.

5- سوډيم بينزويټ (Sodium Benzoate) : دا يوه مشهوره د يخ ضد کېمياوي ماده ده، چې د موټرانو ليلېټرونو ته يې د دې لپاره اچوي چې اوبه يې يخې نه سي. دا «سم الفار» ته ورته يو ډول زهر دي چې کرار کرار اغېز کوي. که څوك په يوه ساعت کې کوکاکولا څلور لېټره وچيښي کېدای سي چې د دغو زهرو له امله د مرګ تر پولي ورسيږي. د مشروباتو کمپنۍ يې د مشروباتو سره د دې لپاره ګډوي چې د بوتلونو د خرابۍ مخه ونيسي. (د خلکو په ګېډو چې هرڅه کيږي ودي سي).

6- رنګ لرونکي توکي ياکېمياوي رنګونه (Food Coloring) : ټول کېمياوي رنګونه په تېره سور امارنت (Amaranth Red No.) او بور بورډيکس (Bordeaux) د ځېږنو له مخې د سرطان د ناروغۍ قوي لامل ګرځي او د انسان روغتيا ته ناوړي پايلي لري.

7- کنين: يو نشه کوونکی مرکب دی چې په دغو مشروباتو کې يې له دې امله ګډوي چې خلك د دغو مشروباتو معتاد سي.

8- ايملسي فاير: Emulsifier: يو ډول کيمياوي ماده ده چې د انسان روغتيا ته مضره تماميږي. په ځينو مشروباتو کې يې د هغو د بېلو بېلو توکو د سره يوځای کولو لپاره کاروي.

۹- نور داسي ناڅرګند طبيعي خوندور توکي چې ښايي په قصد سره يې د مشروباتو پر بوتلونو نه وي ليکلي.

دلته د کوکا کولا د مشروباتو د يوې مشهوري اداري د يوه ليك د يوې برخي وړاندي کول له ګټي خالي نه دي. د دغي اداري په ليك کي وايي: «زموږ د مشروباتو د طبيعي اجزاوو فارموله پټه ده اوزموږ د کمپنۍ د ستر دفتر له څو تنوپرته بل څوك نه دي په خبر».

## د کوکاکولا، پيپسي او داسي نورو روغتيايي تاوانونه:

لکه چې پوهيږو نن مهال زموږ په بازارونو کي کوکاکولا، فانتا، ټيم، انرژۍ، سپرايټ، مرنډا او نورو ډول ډول شربتونه په پېڅر خرڅيږي او زموږ خلک يې ښېخي ډېر مصرفوي، د غټو اوکوچنيو مېلمستيا وو سترخانونه په

ښکلي کېږي او په ښاديو او ودونو کي ساده اوبه يا سکنجبين يا د داسي نورو شيانو ورکول د پزي پرې کېدل ګڼي. خو په ځينوکتابونواونشرياتوکي د همدغو غيرالکلي مشروباتو او ډول ډول کولاوو په هکله ويل سوي دي چي دغه مشروبات روغتياته له ډول ډول مضرو توکو او مصنوعي قندو څخه جوړيږي او په وګړو کي د سرطان او نورو ډول ډول ناروغيو سبب کيږي.

د ډاکټر انعام الله په نامه يو ډاکټر په خپله يوه ليکنه کي پر صحت باندي د دغو مشروباتو د ناوړو اثراتو په هکله داسي ليکي:

پيپسي او کوکاکولا د کوچنيانو پر ذهني روغتيا باندي د بدي اغېزې له امله په هغو کي ناارامي، هيجان او سرکښي رامنځته کوي او کوچني ضدي جوړوي. په هغو کوچنيانو کي چي کوکاکولا ډېره چيښي د مور او پلار د په عذابولو او يو له بله د جنګ جګړو کولو تمايلات زيات وي او په ذهانت کي يې کمښت ليدل کيږي.

کوکاکولا د کوچنيانو پر جسماني روغتيا باندي داسي بد اغېز ښندي چي په ظاهره چاغ ښکاري خو دننه کمزوری او سست وي. ژړ او ډنګر وي سترګو يې توري الغې وهلي وي او څېره يې مړاوې ښکاري.

د دې مشروباتو ډېر چيښل د اينې د ناروغيو (Liver Cirrhosis) لامل ګرځي. البته د دغي ناروغۍ لومړی لامل د الکحلي مشروباتو استعمال دی او تر هغه وروسته يې لويه وجه د کوکاکولا، پيپسي او داسي نورو چيښل دي.

د کوکاکولا او داسي نورو له زيات چيښلو څخه ذهني کمزوري، د سر درد، په تېره د ټپکو درد، د رويې او برخورد بدلون او د ذهني وړتيا کمښت رامنځته کيږي. ډېر استعمال يې د ګېډې او مثانې د سرطان لامل کېداى سي. که يې اميندواري ښځي وچيښي د ماشوم د ښې د خرابۍ او يا د عيبي پيدا کېدو سبب کېداى سي.

امريکايي او اروپايي ډاکټرانو د پورتنيو ناروغيو لاملونه د کوکاکولا او داسي نورو چيښل ګڼلي دي. هغو خلکو ته خبرداری ورکړی دی چي که په خپل خوراك او چيښاك کي بدلون را نه ولي په راتلونکو شلو کالو کي د بدو پايلو سره مخامخ کېدلاسي.

د غه راز د ملتي نيشنل کمپنيون کی اسلام دشمنی په (۸۹) مخ کي ليکي: «د روغتيا د ماهرانو د څېړنو سره سم پيپسي، کوکاکولا، سيون اپ، مرنډا، سپرايټ چيښل هيپاټايټس بي او سي (Hepatitis) د اينی مهلکي ناروغی رامنځته کوي. دغه راز د کوکاکولا او پيپسي له چيښلو څخه د شکري د ناروغی امکانات هم۵۰ فيصده زياتيږي». (د کولاکولا د ضررونو په هکله د دې کتاب په (۷۹) مخ کي د دووانګرېزي ډاکټرانو څرګندوني هم وړاندي سوې).

له دې امله دی چي په امريکا، سکانديناوي هيوادونو، لوېديزه اروپا او نورو هيوادونو کي د روغتيا وزارتونو خلکو ته اعلام کړې ده چي دغه خوړې غير الکلي اوبه چي له ډول ډول کولا وو او د هغوله متفرعاتو او متشابهاتو څخه عبارت دي. او له مصنوعي قندو څخه جوړيږي د سرطان او ډېرو نورو ناروغيو زيږوونکي دي. په ځينو هيوادونو لکه ډنمارک او نوروکي د دغو شربتونو خرڅلا و د دولت لخوا منع سوی دی او خلکو ته اعلام سوې چي دغه شربتونه رانه نيسي او ويې نه خوري.

له بده مرغه دغه مشروبات چي نن مهال زموږ هيوادته له باندنيو هيوادونو څخه په ډول ډول نومونو او خورا ډېر راځي، د اسلامي او مذهبي پلوه خو دولت هيڅ هم نه پر وايي. د روغتيايي لحاظه هم زموږ د عامي روغتيا د وزارت د مسئولينو لخوا نه څېړل کيږي. نو څنګه چي دغه مواد زموږ ډېر خلک شپه او ورځ په خورا ډېره اندازه مصرفوي بايد په دې هکله زموږ د دولت د اسلامي او اقتصادي چارو مسئولين او د عامي روغتيا وزارت جدي څېړنه وکړي. هغه مشروبات او نور خوراکي توکي چي راوړل او مصرفول يې زموږ دين او ديني ورونو، زموږ آخرت او زموږ وطني اقتصاد او د شربتو دوديزو داخلي توليداتو ته تاوان وي او زموږ صحت را خرا بوي په کلکه منع کړي، د واردولو مخه يې ونيسي او د هغو ديني، اقتصادي، سياسي او اخروي ضررونه رسماً تائيد او په ګوته کړي او خلک وپوهوي چي نور د هغو له خوړلو څخه ډډه وکړي. البته د هغو مشروباتو په هکله چي زموږ ديني امورو، روغتيا

او اقتصاد ته مضر نه وي، اعلان وکړي چي زموږ سوداګر يې وارد کړي او خلک يې بېله کومي اندېښنې مصر ف کړي.

بله د پام وړ خبره داده چي په دې وروستيو کي زموږ په هيواد کي هم د ځينو شربتو او منرل واټر د توليد کمپنۍ را وتلي دي چي دا د ډېري خوښۍ خبره ده. لوی څښتن ﷻ دي زموږ په ګران اسلامي هيواد کي هر څه ژر رشتيانۍ سوله او کراري راولي چي زموږ دا د تمدن اوپرمختګ له کاروانه وروسته پاته ټاټوبي پر خپلو پښو ودرېږي او هر څه له خپله توله ولري. په دې هکله لومړی بايد د دغو کمپنيو څښتنان داسي توکي توليد نه کړي چي خدای مه کړه زموږ دين او صحت ته تاوان وي او د دوي غاړي بندي وي او يا يې زموږ پر بې وزلو خلکو په ډېره ګرانه بيه وپلوري. البته اړوند مسئولين هم بايد د دغو کمپنيو د توليداتو په هکله څېړني وکړي او د ناسمو شيانو د توليد او بازار ته د هغو د وړاندي کولو مخه په کلکه ونيسي.

## سوډا واټر او لېمونېډ:

که څه هم نن سبا سوډا واټر لږ مصرفيږي اما لېمونېډ (د لېمبو خوږې اوبه يا شربت) بيا هم نسبتاً ډېر چيښل کيږي. نو بده نه ده چي دلته د دغو اوبو په هکله هم څه رڼا واچوو څو که يې څوك چيښي د هغو په خواصو هم څه پوه وي.

د بد هضمۍ په حالت کي چي خواړه نه هضميږي يا نس پاړسوب کړی وي، يا ټېغ بندوي، يا په کولمو کي رطوبت لږ وي، په دغسي حالتونو کي که سوډا واټر وخورئ ښه دي. يعني د درملو په ډول يې د هاضمې لپاره استعمال کړئ. خو بېله کوم ضرورته سوډا او لېمونېډ استعمالول هم ډېر تاوان لري. د هغو د ډېرو خوړو څخه معده کمزورې کيږي، په بدن کي رطوبت ډېريږي، قوت کميږي، ستونی خرابيږي، خوب لږيږي او بيا بېله هغو خواړه نه هضميږي. ټېغ نه راوځي، د هغو سره د يخي استعمالول خو بېخي تاواني دی. که په يخي کي بوتل ايښی وي هغه هم دونه ګټه نه کوي.

## د کوکاکولا او داسي نورو پر ځای بايد څه شي وچيښو؟

موږ د خپل هیواد په ګوټ ګوټ کي په تېره زموږ په تاریخي ولایت کندهار کي د ډول ډول ښو، خوشبویو او خوږو شربتو ډېر سابقه لرونکي شربت جوړوونکي لرو. همدا اوس زموږ د کندهار په ښار کي د شربتو خرڅولو داسي دکانونه سته چي اویا کلنه سابقه لري او ډېر ښه شربت لکه د انارو، غورې، انګورو، نارنجو، لیمبو، سکنجبین او داسي نور شربتونه جوړوي او خرڅوي یې. چي هم خوندور دي، هم د ځینو ناروغیو درمل او هم ډېر ارزانه دي. خو له بده مرغه چي موږ خپل نه منو لیکن د بل دا هر څه منو!

د بهرنیو اسلامي هیوادونو له شربتونو څخه هم دلته ډېر ښه او زموږ روغتیا ته ګټور شربتونه موندل کیږي. لکه روح افزا، نور، جام شیرین، قرشي او د ډول ډول مېوو صحي جوسونه.

دغه راز موږ کولای سو په ډېره آساني سره په خپلو کورونو کي ډېر ښه او تازه شربتونه، جوسونه، شیریخ، آیس کریمونه او د شیدو ډول ډول مشروبات جوړ کړو. چي هم پاك او ستره وي، هم تازه او هم ارزانه. موږ په دې هکله یو کتاب هم لیکلی دی ان شاء الله د دې کتاب د خپرېدو سره به یو ځای خپور سي. تاسي کولای سئ د هغه له مخي په ډېره آساني او په ډېر لږ لګښت ډېر ښه، خوندور او روغتیا ته ګټور شربتونه جوړ کړئ، چي هم یې پخپله وچیښئ او هم یې خپلو درنو مېلمنو ته ورکړئ.

## د کوکاکولا او پیپسي په هکله ځیني عجیبي تجربې

۱- په «**ملٹی نیشنل کمپنیون کی اسلام دشمنی**» کتاب کي د ډاکټر انعام الله د تجربې په هکله داسي لیکي: د کوکاکولا او پیپسي په بوتلونو کي کښل سوی غاښ یا نوك واچوئ، تاسي به ووینئ چي هغه به په دوو ورځو کي ویلي سي او په دوو اوونیو کي به بېخي حل سي. په داسي حال کي چي دغه غاښونه، هډوکي او نوکان د انسان تر مړیني وروسته په زرګونو کلونه خوندي پاته کیږي او نه خرابیږي.

۲- که ستاسي د تشناب کوم پیپ بند سي، نو د شپې د پیپسي یا کوکاکولا یو یا یونیم لیټر بوتل پکښي واچوئ، سهار یې پمپ کړئ نو پیپ به دستي خلاص سي.

د پیپسي یخ بوتل واخلئ، د غوښو یوه کوچنۍ ټوټه پکښي واچوئ. پنځلس دقیقې وروسته به د غوښو ټوټه په بوتل کي وشوړیږي او لږ وروسته به په بوتل کي یوډول چینجي غوندي شیان څرګند سي. نو تاسي فکر وکړئ چي د غوښي د ټوټې دا حال وي، نو زموږ د ګېډې او اینې به څه حال وي؟ آیا موږ د دغو مشروباتو په چیښلو سره خپل ځانونه د مرګ خولې ته نه ورکوو؟

## معدني اوبه (منرل واټر Mineral Water)

له بده مرغه زموږ پر هیواد باندي زموږ د ډول ډول بهرنیو او کورنیو دښمنانو د شومي ولکې او د خپل چاروکو، نا اهلو چارواکو د واکمنۍ او خیانتونو له امله په دې یوویشتمه پیړۍ کي زموږ د ګران هیواد زیاتره خلك د چیښاك له روغتیایي اوبو څخه بې برخي دي. په داسي حال کي چي اوبه د انسانانو، حیوانانو اونباتاتو ټولو لپاره یوه حیاتي اړینه ماده ده. د انسان په بدن کي نژدې اویا فیصده اوبه وي. لوی څښتن ﷻ اوبه د ژوند سبب او بنسټ ګرځولی دی. له دې امله په خپل سپېڅلي کلام کي د اوبو په هکله داسي فرمایي:

﴿وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ﴾ [الأنبیاء: ٣٠].

«او موږ هر ژوندی شی له اوبو څخه پیدا کړ». بل ځای فر مایي:

﴿وَٱللَّهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٖ مِّن مَّآءٖۖ﴾ [النور: ٤٥].

«او لوی څښتن هر ساکښ له اوبو څخه پیدا کړ».

تاسي پوهیږئ چي د ککړو او غیر صحي اوبو له چیښلو څخه انسانان په ډول ډول ناروغیو اخته کیږي او لکه چي څرګندیږي د کندهار د ښار تر مځکه لاندي اوبه هیڅ د چیښلو وړ نه دي خو ټول خلك یې له مجبوریته چیښي.

دا څو کاله کیږ: ي چي د کندهار د اوبو رسولو چارواکي دلته او هلته د اوبو د نلونو د غځولو په کار اخته دي خو د کار د نتایجو درك یې نسته او خلك تر اوسه لاهم د غیر صحي اوبو چیښلو ته اړ دي.

څنګه چي د انسان بدن څه معدني تو کو ته هم ضرورت لري نوپه نوره نړۍ کي له ښایسته ډېره مهاله خلك کاني یا منرالي اوبه چیښي.

دلته بده نه ده چي لومړي د معدني یا منرالي اوبو په هکله څه رڼا واچوو:

په ENCYCLOPAEDIA BRITANNICA,2005.DeluxeEditionCD کي د Mineral Water (معدني اوبه) تر سر لیك لاندي لیکي:

«معدني اوبه هغه اوبه دي چي پر زيات مقدار تجزيه سوو منرالونو يا ګازو مشتملي وي. هغه معدني اوبه چي په طبيعي توګه له ځينو چينو څخه په لاس راځي معمولاً زيات مقدار کلسيم کاربونايټ، مګنېشيم سلفر، پوټاشيم او سوډيم سلفاټ لري. دغسي اوبه بايد د کاربن ډای اوکسايډ يا هايډروجن سلفايډ ګازونو له پلوه هم غني او مشبوع وي. دغه راز منرل واټر مقطرو يا کاربن ډای اوکسايډ ګاز ورکړل سوو اوبوته په مصنوعي او غير طبيعي توګه د ځينو مالګو په وراچولو سره لاسته راوړل کيږي.

د دواړو مصنوعي او طبيعي معدني اوبو منرالونه پر زياتو او بېلو بېلو منرالونو مشتمل دي. خو په ځينو مواردو کي کېدای سي دغه منرالونه د عادي اوبو په پرتله هم لږ وي.

له ډېرو لرغونو زمانو څخه خلك د منرال لرونکو اوبو په چينو کي په تېره په تودو چينو کي لمبيږي.دا ځکه چي د دوی په اند دغه اوبه د روماتيزوم، د بندو د درد او پاړسوب، د جلدي ناروغيو او داسي نورو په وړاندي معالجوي ارزښت لري. رشتيا هم ډېري دغسي چينې د ناروغيو د ليري کېدو او معالجې ډېر ښه او مرستندوی ځايونه جوت سوي دي. په ځينو هيوادونو لکه انګلستان، جرمني، امريکا او نورو کي يې پر دغسي چينو ډېري ستري او مشهوري ودانۍ جوړي کړي دي. د ۱۹۷۰ع.کلونو له نيمايي را په دې خوا معدني اوبه د چيښاك د اوبو په توګه ورځ تر بلي زياتي استعماليږي.د فرانسې، ايټاليې او نورو اروپايي هيوادونو د منرالي اوبو له چينو څخه هرکال زيات مقدار بوتلونه بهر ته صادريږي».

زموږ د هيواد په خورا ډېرو برخو کي هم معدني اوبه په زياته پيمانه سته چي هم روغتيايي او هم تجارتي ارزښت لري. خو له بده مرغه ګټه نه ځيني اخيستل کيږي. له څه مهاله له بهرنيو هيوادونو څخه د منرل واټر په نامه اوبه په بوتلونو کي خورا ډېري راوړل کيږي چي يو غټ بوتل يې په شل، پنځه ويشت افغانۍ دی او زياتره يې په دولتي او د شتمنو وګړو په مېلمستياوو، عصري هوټلونو او د ودونو په صالونونو کي چيښي. چي زياتي يې هماغه اوبه دي کومي چي موږ يې په کورونو کي په ايشولو سره د چيښلو وړ ګرځوو. خو

زه ګومان نه کوم چي تر اوسه دي چا پوښتنه کړې وي چي دا کله معدني اوبه دي او ولي دونه ګراني دي؟

په دې وروستيو کي زمونږ د هيواد ځينو تجارانو هم دغسي اوبه را ايستلي دي. چي که په رشتيا معدني اوبه وي نو د شکر ځای دی. خدای دي وکړي چي زمونږ دولتي چارواکي او نور ملي سوداګر هم وهڅيږي او زمونږ د هيواد له دغسي اوبو څخه په زياته پيمانه د درملني او چيښلو لپاره ګټه واخلي. البته دولت بايد دا نوري بهرنۍ اوبه ګردسره بندي کړي. زمونږ سوداګر هم بايد دغه اوبه دوني ګراني ونه پلوري. بلکي بوتلونه دې په ښه صحي توګه چمتو کړي، ښه او ښايسته ليبلونه دي پر ونښلوي. د هغو د محتوياتو په هکله دي د روغتيايي مراجعو تصديقونه واخلي او د دغو اوبو د نورو اوصافو، ترکيب، روغتيايي ځانګړنو او ګټو سره يو ځای دې پر ليبلونو چاپ کړي، بوتلونه دي ښه بسته بندي کړي او کورنيو او بهرنيو بازارونو ته دې د خرڅلاو لپاره وړاندي کړي. څو هم خپلو خلکو او نورو وګړو ته له دې لاري روغتيايي خدمت وکړي او هم خپلو ځانو او هيواد ته ګټه ورسوي.

دغه راز که دولت يا ملي سوداګر يا نور پانګوال د تودو معدني روغتيايي اوبو چينو ته پخې لاري وباسي او دغو چينو ته نژدې هوسنځايونه (سناتوريمونه)، د دغو چينو په اوبو کي د ځان مينځلو ځايونه او نوري اړوندي ودانۍ جوړي کړي هم به د خلکو د ځينو جلدي او نورو ناروغيو په ښه کولو کي مرسته وکړي او هم به خپل او د هيواد اقتصاد ته غوښنه ګټه ورسوي.

د معدني اوبو په هکله په پښتو ژبه دوه مغتنم کتابونه خپاره سوي دي چي يو يې «د افغانستان تر ځمکي لاندي او کاني اوبه» نوميږي او پوهاند غلام جيلاني عارض ليکلی دی او بل يې «په افغانستان کې د منرالي اوبو چينې» نوميږي او محقق ديپلوم انجنير ستانه مير زهير او محقق ديپلوم انجنير شېرشاه رشاد په دواړو ليکلی دی. که څوك د هيواد د کاني اوبو په هکله مطالعه کوي له دغو کتابونو څخه ښه استفاده کولای سي.

## د شربتو د پوډرو پوړۍ

له ډېره مهاله زموږ د هیواد د بازارونو په ځینو د کانونو کې د ډول ډول شربتو د پوډرو په نومونو یو ډول کوچنۍ کاغذي پوړۍ (ساشۍ Sachet) پلورل کیږي چې ډول ډول نومونه یې پر چاپ کړي وي، لکه: Mvit-C: Neda, Jivan's, Tang, او داسې نور. پر دغو پوړیو باندي د ځینو د جوړېدو ځایونه د امریکا د Kraft Foods Inc کمپنۍ، د ځینو دا ترکیه د ځینو دا دبی او د ځینو دا پاکستان لیکلي دي.

د دغو پوړیو د رنګونو او لیکنو څخه له ورایه څرګندیږي چې دا ګردسره جعلي توکي دي. ځکه یو خو یې د دغو پوډرو د ځینو محتویاتو د انګرېزي نومونو Spellings سم نه دي پر لیکلي. د بېلګې په توګه سوډیم سیکلمېټ Sodium Cyclamate یې د Jivan's پر دوه ډوله پوړیو باندي Sodyum Siklamat لیکلي دي. دغه راز یې د سکرین (Saccharin) نوم Sakkarin لیکلی دی.

بل د دغو پوړیو د پوډرو د محتویاتو په ترکیب کې ځیني هغه کوډونه لیکلي دي چې د سرکوزي د غوړګیو لپاره یې کاروي. پر دې سربېره د دغو پوډرو په ترکیب کې د سکرین او سوډیم سیکلمېټ نومونه هم تر سترګو کیږي. چې دا توکي لکه چې وړاندي مو اوږدې خبري پر وکړې روغتیا ته ډېر مضر دي.د انسان کولمې د ډول دول باکتېریاوو بریدونو ته چمتو کوي او سرطان زېږوونکی هم ګڼل سوي دي.

پر دغو پوړیو یې لیکلي دي چې د دې پوړۍ پوډر په دوو یا یو نیم لیټرو یخو اوبو کې واچوئ او ویې چیښئ. د تعجب وړ خبره ده چې له دغونه ارزانو او لږو پوډرو څخه یو نیم یا دوه لیټره خواږه شربت جوړیږي. نو تر هغه ځایه چې عقل حکم کوي دا شربت نه، بلکې د چالاکو او حرامخورو ساکښانو لخوا د ځینو ناپوهو وګړو له جیبونو څخه یو ډول غلا او کیسه بري ده. سمه خبره خو داده چې دا ګردسره شربت نه، بلکې د ډول ډول ناروغیو تومني او زهرجن توکي دي چې له را نیولو او چیښلو څخه یې په کلکه باید ډډه وسي. د

دغو پوړيو پيسې او ګټه دي لوی څښتنﷻ د هغو د جوړوونکو، زمونږ هيواد ته د را پرېښوونکو او خرڅوونکو د اولادونو په دواوو ور خرڅي کړي.

# شیدې، د قوطیو شیدې، وچې شیدې او د مور شیدې

لوی څښتنﷻ په قرآن کریم کې د جنت پر شیدو یادولو سربېره د څارویو د احوالو په عجایبو باندې د استدلال په هکله د څارویو د شیدو په باب داسې فرمایي:

﴿وَإِنَّ لَكُمۡ فِي ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةٗۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِي بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٖ وَدَمٖ لَّبَنًا خَالِصٗا سَآئِغٗا لِّلشَّٰرِبِينَ ٦٦﴾ [النحل: ٦٦].

ژباړه: «او ستاسې لپاره په څارویو کې یو عبرت او درس هم پروت دی. د هغو له نسونو د خوشیو او وینې تر منځ موږ خالصې شیدې په تاسې څښو چې د څښونکو له ستوني په آسانۍ تېرېدونکې او خوندورې دي».

د حضرت رسولﷺ د معراج پر مهال، د بیت المقدس په اقصٰی جومات کې تر دوه رکعته لمانځه وروسته کله چې له جوماته بهر راووتی جبرایلعلیه السلام د شرابو او شیدو دوېګ پیالېګ ورته ونیولېګ. چې هغه مبارك د شیدو پیاله حګنې واخیسته. جبرایلعلیه السلام ورته وویل چې تا فطرت غوره کړ، که دې د شرابو پیاله اخیستېګ وای امت به دې بېګ لارې سوی وای.

بیا چې یې د جبرایلعلیه السلام سره یو حګای آسمانو ته تشریف یووړ، سدرة المنتهٰی ته په رسېګدو او د بیت المعمور په ور شګوولو سره بیا د شرابو، شیدو او عسلو پیالېګ ورته راوړه سوېګ، چې له هغو خګخه یېګ بیا د شیدو پیاله واخیسته او وییګ خوړلیګ. بیا جبرایل ورته وویل چې تا فطرت غوره کړ، له دیګ امله به ته او ستا امت پرفطرت ولاړ یاست. دغه راز له حضرت ابن عباسرضي الله عنهما څخه روایت دی چې د رسولﷺ د څښلو په شیانو کې شیدې تر تولو ډېرې خوښېدلې. چې له دې څخه د شیدو ستر ارزښت په ښه توګه څرګندیږي.

د شیدو د ګټورتیا په هکله هیڅ شك نسته. لوی څښتنﷻ چې انسان ته هر څه نعمتونه ورکړي دي په هغو کې شیدې ځانګړی ځای لري. د بزې، مېږې،

غـوا، ګامېښـي او اوښـي شـيدې هـر يـو ځانتـه بېـل بېـل خاصـيتونه لـري. خـو ډاکټرانو په ټولو کي د بزې شيدې ښې بللي دي. زمـوږ هيـواد داسـي يـو ځـای دی چي بايد شيدې ورکوونکي څاروي بېخي پکښي ډېر وای او موږ شـيدې او له هغو څخه تر لاسه کېدونکي شيان لکه کوچي، غوړي، پېروی، پوڅه، مستې او داسي نور بېخي ډېر درلودلای. خو له بده مرغه زموږ د ګران هيواد په چارو کي د پردو غليمانو ډول ډول مداخلې او د هغو د ګوډاګيانو خيانتونه او زموږ بې اتفاقی او ناپامی زموږ په هيواد کي د لبنياتو د ډېرښت او پر مختيا پـه مـخ کي ستر خنډونه ګرځېدلي دي. دلته د دې پر ځای چي د کوچيانو او مالـدارانو د وضعي ښه کېدو ته پام وسي او مرستي ورسره وسي په ډېـره بـده توګـه ځپـل سوي او د ډول ډول کړاوونو سـره مخـامخ سـوي دي. کـه ځينـو نوروکسـانو د غواوو يا ګامېښو ځيني فارمونه را ايستلي دي، څنګه چي په تاوان کي وه بېرتـه يې پرې ايښي دي. صرف د کنـدهار د ښـار د کابـل دروازې د بانـدي يـوه ډېـر شـتمن سـوداګر دغـواوو يـو فـارم را ايسـتلی دی، چـي کورونـو او د اسـتوګني ځايونو ته د نژدې والي لـه املـه يـې بـد بـوي خلـك ډېـر پـه عـذاب کـړي او د روغتيايي ستونزو سره مخامخ کړي دي. خو شيدې يې هر چا ته نـه رسـيږي، بلکي د ځينو رشوتخورو او معتبرو وګړو کورونو ته يې لېږي او کله ناکله چي څه لږ قدري پاته سي هغه هم هغه چا ته په بيه ورکوي چي زړه يې غواړي. لـه دې امله دی چي عام خلك د لوی څښتن له دې ستر نعمت څخـه يـا ډېـره لـږ ګټه اخلي يا د بازار هغه شيدي او مستي خوري چي اوبه وراچول سوي وي او له روغتيايي پلوه هم ښې نه وي. اما ډېر خلك د بهرنيو هيوادونو څخـه راوړل سوي د قوطيو يا وچي شيدې ډېري استعمالوي.

### د قوطيو مايع شيدې:

که څه هم د کاغذي قوطيو او پلاسټيکي بوتلانو د شيدو څښتنان ادعـا وي او تبليغات کوي چي د دوی شيدې د فارمونو تر شيدو ښـې، پـاکي او معيـاري دي، خو د دغو شيدو د ډېرمهال ساتلو لپاره هغوی ډول ډول روغتيا تـه مضـر کېمياوي مواد ور اچوي.

د بېلګې په توګه دغو قوطيو ته د شيدو د ډېر مهال لپاره د ساتلو او نه خرابېدو په خاطر يو ډول کېمياوي مواد ور اچوي چې فارمل ډي هايډ (Formal Deyhde) نوميږي. کوم چې ډېر خطرناك دي او له استعمال څخه يې د سرطان د خطرناکي ناروغۍ د پيدا کېدو احتمال سته. په پاکستان کې د (PCSIR) په نامه يوه نامتو لابراتوار څه موده د مخه له بازارونو څخه د دغو شيدو څو قوطۍ ټولي کړې او د هغو د معاينې په پايله کې يې فارملين کېمياوي مواد پکښې وموندل. له دې امله زموږ حکومت ته لازمه ده چې د دغسې غير صحي شيدو د واردولو مخه ونسي او که حکومت دا کار نه کوي خلك دې د دغو مضرو شيدو له خوړلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

## د نيسټلې د شيدو په قوطۍ کې شرموښکۍ؟!

دغه زړه بدوونکی او خواګرځوونکی خبر په ۱۹۹۹ع.کال د «ډان» ورځپاڼې د سپټمر د ۲۱ مې نېټې په ګڼه کې خپور کړ. د ايوب ملك په نامه يوه سړي دغې ورځپاڼې ته يو ليك لېږلی وو چې لنډيز يې په دې ډول دی: «ما د ۱۹۹۹ع.کال د سپټمبر پر ۱۳مه د نيسټلې د قوطيو د مايع شيدو يو کارټن رانيوی. چې څو ورځې مو دغه شيدې استعمالولې. يو مهال زما مېرمنې د دغه کارټن له قوطيو څخه يوه دانه پرې کړه يو څه شيدې يې خپل ماشوم ته ځنې ورکړې او نورې يې په يخچال کې کښېښوولې. بيا کله چې زما مېرمنې د دغې قوطۍ پاته شيدې په کوم لوښي کې اچولې نو ناڅاپه له قوطۍ څخه مړه شرموښکۍ را ولوېدل. د دې حالت په ليدو سره زما مېرمن ډېره وبېرېدل او سمدستي يې دغه شيدې ايسته توی کړې. څه مهال وروسته زما زوی هم په قيونو سو. بيا مو هغه روغتون ته يووړ، چې څو ساعته وروسته يې طبيعت سم سو. له دې امله موږ د دغو شيدو نور ټول کارټن ايسته وغورځاوه او پرېکړه مې وکړه چې بيا به د دغو شيدو پر ځای د بازار پرانيستې شيدې رانيسم».

دغه راز يوه ايراني ويب سايټ د نيسټلې په کمپنۍ پورې اړوند په يوه کاريکاتور کې داسې انځور کښلی وو چې دغه کمپنۍ په يهودانو پورې متعلق ګڼي.

وګورئ موږ زیاتره پر دغسي په قوطیو کي پټو شیانو باندي پیسې ورکوو او ناسنجیده او نالیدلي یې خورو او چیښو! باید هرشی چي رانیسو محتویات یې ښه ځانته معلوم کړو او که یې نه سو معلوملای په دې د چلونو په بازار کي پر هر شی خپلي په زیار او خواري ګټلي پیسې ور نه کړو او داسي شیان رانیسو چي په یقیني توګه پاك او صحي وي او د هیڅ ناوړتیا احتمال پکښي نه وي.

## وچي شیدې او د سرکوزي غوړزګي:

د ۱۹۸۵ع.کال د اپریل پر ۱۳مه د پاکستان د لاهور د «جنګ ورځپاڼي» په دوهم مخ (۶) کالم کي یو خبر خپور سوی وو چي پکښي ویل سوي وه چي: «له جاپان او نورو لوېدیزو هیوادونو څخه په راوړلو سوو د کوچنیانو او لویانو د خوړلو په وچو شیدو کي د سرکوزي غوړزګي ګډه ده. د سینګاپور د مسلمانانو د ټولني د جریدې «وایس اف اسلام» د خپاره سوي راپور سره سم دغه خبره د مالیزیا د مصرف کوونکو ټولني کړې ده. کوم چي د دغو تورونو څېړنه یې کړې ده. د دې خبري تائید د ایم، ټی ګلیز په لیکلي کتاب کي هم سوی دی. په دغه کتاب کي ویل سوي دي چي: په ۸۸۰ ګرامو وچوشیدو کي ۱۲۰ ګرامه د خرس غوړي وي. په دې هکله د مالیزیا ټولني د سویډن د اړوندو ادارو سره اړیکي ټینګي کړې. هغو هم تر څېړنو وروسته دا خبره تصدیق کړه. د سویډن د مسلمانانو د ټولني مشر محمود الدیبي وویل: که تاسو خپلو ماشومانو ته د وچو شیدو په لټه کي یاست نو تاسي ته داسي شیدې نه پیدا کیږي چي د سرکوزي غوړي په ګډ نه وي. د جاپان د مصرف کوونکو اتحادیې هم دغه خبره تصدیق کړې ده».

د دې خبر په خپرېدو سره په پاکستان کي په خلکو کي تشویشونه رامنځته سول. ځکه چي زیاتره وګړي خپلو کوچنیانو ته د دبلیو وچي شیدې ورکوي. پر دې سر بېره ډېر خلك له دغسي وچو شیدو څخه مستې جوړوي، شیرچای هم ځني جوړوي او په ډېرو نورو شیانو کي، لکه په ځینو خوږو، آیس کریمونو، ډوډیو او نورو کي یې هم خورا زیاتي کاروي. له دې امله مختلفو افرادو د پاکستان له دولت څخه د دې خبري د تحقیق او څېړني غوښتنه

وکړه. شپاړس میاشتي وروسته د ۱۹۸۶ع.کال د اګست پر دوهمه د پاکستان د وفاقي محتسب له خولې په ورځپاڼو کې دا خبر خپور سو چې: «د لوېديزو هيوادونو څخه په راوړلو سوو وچو شيدو کي د سرکوزي غوړي نسته. په هغو هيوادونو کي چي دغه شيدې ځني راوړل کيږي د پاکستان د سفارتونو له لاري د دغو شيدو له جوړوونکو څخه وضاحت وغوښتل سو، هغو وويل چي د دوی لخوا په جوړو سوو وچو شيدو کي د سرکوزي د غوړو کومه برخه نه ده ګډه. د پاکستان د سوداګری وزارت هم د دغو شيدو له توليدوونکو څخه د هغو فارمولې وغوښتلې. له هغو څخه هم جوته نه سوه چي په دغو وچو شيدو کي د خرس غوړي ګډوي. د پاکستان د شيدو د توليداتو ټولني هم تصديق کړه چي په وچو شيدو جوړولو کي د سرکوزي د غوړو«لارډ» استعمالولو ته هيڅ اړتيا نسته». اما د پاکستان د لاهور د (PCSIR) په نامه يوه نامتو لابراتوار چي د وارداتي وچو شيدو پر نمونو لابراتواري تجزيه او معاينات تر سره کړه. هغو وويل چي په دغو نمونو کي د ځينو څارويو د غوړو پته ولګېدل. خو دايې جوته نه کړلای سوه چي دا د سرکوزي غوړي دي که د کوم بل څاروي؟ له دې امله د (PCSIR) لابراتوار راپور د غور وړ دی. که د غه غوړي د خرس نه بلکي د بل څاروي هم وي بيا هم هغه په کفري هيوادونو کي په شرعي طريقه نه حلاليږي، بلکي مردار بلل کيږي او د هغو غوښي او غوړي هم شرعاًښه نه بلل کيږي. البته کېدای سي په دغو وچو شيدو کي دغه غوړي د همدغو غواوو وي خو د پورتنيو خبرو او معتبرو اسلامي ارګانونو د څرګندونو په پام کي نيولو او زموږ ديني معتقداتو ته د توليدوونکو د نه درناوي او د اوس مهال سرابنيو، غولونو او چالاکيو ته په پام او کتنه سره تر څو په يقيني توګه جوته نه سي چي په دغو شيدوکي کوم غوړي ګډ دی، د دغسي وچو شيدو په استعمال کي هم د ديني تاوانونو او هم د روغتيايي تاوانونو احتمال سته. نو ښه به دا وي چي د دغسي شيدو تر خوړلو چي دوني ارزانه هم نه دي او ځيني روغتيايي ستونزي هم رامنځته کوي تېرسو او د خپل وطن د غواوو او نورو څارويو پاکي شيدې وخورو. او لوی څښتن ﷻ ته په عاجزي دعاوي وکوړو چي ای لويه ربه! زموږ پر حال ورحمېږه او موږ او

زموږ دولت لکه څنګه چي ښايي هغسي جوړ کړي او دا ډېري ناسمي مو ته په خپله خدايي را سمي کړي. آمين.

## د مور شيدې که د دبليانو او نورو وچي شيدې؟

ډېري کمپنۍ ادعا کوي چي د دوی جوړي کړي شيدې او نور خواړه د مور د شيدو نعم البدل (ښه عوض) دي. ليکن دا ټولي له مبالغې ډکي خبري دي. اصلاً دا خبره جوته سوې ده چي بل هيڅ خواړه او يا شيدې د مور تر شيدو ښه نه دي.

خپل کوچني ته له ځيګر څخه شيدي ورکول آسانه او ارزانه دي. د دې لپاره هيڅ بوتل يا چوشك ته ضرورت نسته. ډېر وخت هم نه نيسي او د دې د حرارت درجه هم تر عامو تودو سوو شيدو ښه ده. وچي شيدې هيڅکله هم کوچنيانو ته مه ورکوئ. څکه کوچني ته د وچو شيدو ورکول د کوچني پر روحيه، وده، اند دود او روزنه او اخلاقو باندي ډېره بده اغېزه کوي او له بله پلوه هم که تاسي د مور د شيدو په مقابل کي وچي شيدي استعمال کړئ، نو له دې امله به تاسي په بله لويه ستونزه هم اخته سئ. څکه لوښي د جراثيمو او مکروبونو څخه د پاکولو لپاره په پلاوو پلاوو پرېولل او د ورځي لږ تر لږه دوه واره ايشول غواړي. بيا که شيدې ډېري تودې وي د کوچني د ستوني د سوځلو او خرابيدو خطر هم ورسره وي. ځيني هغه شيدې چي ژر جوړيږي هغه پر کوچني باندي ښه نه لګيږي. له تيو څخه کوچني ته شيدې ورکول د قدرتي فارمولې طريقه ده. نو کوچني ته تر ټولو ښه او طبعي د مور د خپل ځيګر شيدې دي. چي د دې خبري له اهميت څخه هيڅ انکار نه سي کېدلای.

که چيري کوچني ته د غوا شيدې ورکوئ په دې شيدو کي مالګه د انسان د شيدو په پرتله درې برابره ډېره ده او پروټين يې دوه برابره دي. نو د غوا د شيدو د رودلو څخه د کوچنيانو پر وينه نفوذي فشار (Osmotic Pressure) او پر پښتورګو باندي غير ضروري بوج لوېږي. د غوا په شيدو کي کالورۍ ډېري وي په دې خاطر د هغوکوچنيانو په پرتله چي د مور شيدې روي د هغو ماشومانو وزن چي د غوا شيدې په چوشك کي روي تر معياري وزن ډېر وي

او د هغو څخه د ٪۸۰ ماشومانو چي عمر يې ډېر سي د چاغيدو د ناروغۍ امکانات ډېر سته.

د کوچنيانو د شيدو جوړوونکي ډېري اداري ادعا کوي چي د دوي جوړي سوي شيدې د کوچنيانو هډوکي کلکوي. خو د دې برعکس ويل کېداى سي چي په مصنوعي شيدو روزل سوي کوچنيان د چاغښت له امله تر خپل طبيعي وخت د مخه بلوغ ته رسيږي.

د هغو کوچنيانو چي په چوشك کي شيدې روي د غوا په شيدو کي د بهرني پروټين (Proteins) له امله د حساسيت په ناروغيو لکه (Eczema) او سالنډۍ (Asthma) په اخته کېدو ډېر امکانات سته او کله چي د چوشك سر خلاص ورپرېږدئ د هغه چوشك په ربړونو باندي مکروبونه ننبلي چي له امله يې د ګېډې د پاړسوب شکايت را منځته کيږي.

د مور د شيدو له ډېرو ګټو څخه يوه ګټه دا هم ده چي په کوچنيانو کي د ټپ څخه د ژغورلو لپاره (Antibodies) برابر وي او د دغسي ناروغيو په وړاندي د مور له لومړنيو شيدوڅخه چي (کانډيات) (Colostrums) ورته وايي دسپينو کروياتو لومړنۍ دفاع کوونکي مرستي موندل کيږي. هغه کوچنيان چي چوشك روي هغه د غوا د شيدو د کيمياوي ترکيب څخه هم ناروغه کيږي او د غوا شيدې په مخفي ډول د ګېډې د درد د ناروغۍ منځته راوړونکو بکټرياوو د زياتېدو لامل ګرځي. په داسي حال کي چي د مور شيدي بي ضرره ليکټيك اسيډ بکټريا ته (Lactic Acid Bacteria) ځواك وربخښي.

کله چي مور خپل کوچني ته شيدي ورکوي، مور او کوچنی دواړه ډاډ او تسليت محسوسوي او د دواړو تر منځ ښې اړيکي پيدا کيږي.

کوچني ته د شيدو ورکولو څخه ژر د ښځو رحم خپل اصلي حالت ته راګرځي او هغه ميندي چي خپلو ماشومانو ته د خپل ځيګر شيدي ورکوي په هغو کي د ځيګر (تي) د سرطان امکانات ډېر لږ وي. خو هغه ښځې چي د شيدو ورکولو عمل د ايسټروجن درملو په استعمال باندي دروي او خپلې شيدې وچوي هغوی د ويني په لخته کېدو اخته کيږي چي د دغه ډول وچولو څخه د ځيګر د سرطان امکانات ډېريږي. د خپل ځيګر څخه کوچني ته شيدي

ورکول بله دا ګټه هم لري چي که ناروغه کوچني ته په کوم سبب د مور شيدي مونده نه سي نو هغه په کوم روغتون کي د دايي (Donor mother) څخه شيدي رودلای سي. په يوه زمانه کي دغه دود عام وو چي که به مور ناروغه وه يوه دايي ښځه به يې چي د شيدو ورکولو وړ به وه په خپل کور کي ساتل چي کوچني ته خپلي شيدي ورکړي. تاسي به د رضاعي ورور او رضاعي خورپه هکله ډېر اورېدلي وي د دې معنا دا ده چي دغه هلك يا انجلۍ د يوي مور څخه شيدي رودلي دي. په اسلام کي کوچني ته د مور د شيدو ورکول دونه مهم دي چي په قرآن کريم او د فقهي په کتابونو کي د «رضاع» تر سر ليکونو لاندي مفصلي خبري او شرعي مسئلې راغلي دي. پر ميندو باندي د قرآن کريم حکم دی چي خپل اولاد ته تر دوو کالو خپلي شيدې ورکړي دا ځکه چي د مور شيدې د ماشوم لپاره تر نورو شيدو ډېري غوره او مناسبي دي.

ډېري ښځي داسي فکر کوي چي زه کوچني ته شيدي نه سم برابرولای خو داخبري بېخي بې بنسټه دي. يوه مور زياتره هغه وخت دغه خبري کوي چي د دې د کوچني وزن سمدستي نه زياتيږي. هغه ښايي دا فکر کوي چي د دې ماشوم ته پوره خواړه نه ور رسيږي. په داسي حال کي چي په حقيقت کي د کوچني د پيداکېدو څخه دوې ورځي وروسته دهغه ٪۱۰ وزن کميږي او بيا کوچنی د مور د شيدو د رودلو په صورت کي په تقريبا ۱۵ ورځوکي د خپل پيداکېدو د وخت وزن بيرته لاس ته راوړي. خو که د غوا شيدې يا نوري وچي شيدې روي د کوچني د زوکړي د لومړي وزن دبيرته لاس ته راوړلولپاره ډېر وخت تيريږي. د دې پلوه هم د مور شيدي ډېر ښه خواړه دي او واقعا چي د دې هيڅ نعم البدل (ښه عوض) نسته.

که څه هم د مختلفو ښځو د شيدو د توليد په اندازه او د ځيګر په کچه کي توپير وي خو بيا هم د ځيګر کچه د شيدو د توليدولو سره څه اړه نه لري.

يوه ښځه د اوو کوچنيانو د غذائي اړتياوو د بشپړولو وړتيا لرلای سي. په نوي طبابت کي د مور د شيدو د ډېرېدو لپاره ډول ډول ګولۍ او کېمياوي ترکيبات سته چي شيدې د يو څه مهال لپاره زياتوي خو د دغسي شيانو استعمال د سر درد او د سر پرله ګرځېده او نور تکليفونه رامنځته کوي. له دې

امله د شیدو د ډېرېدو لپاره باید دغسي ګولۍ ونه خوړل سي. د دې ګولیو او ترکیباتو پر ځای تاسي کولای سئ د نورو دوديزو درملو په مرسته خپلې شیدې ډېري کړئ. پر دوديزو درملو سربیره پر شیدو رودنکي باندي د مور توجه د شیدو د زیاتوب لپاره ډېره ښه نسخه باله سي. کله چي کوچنی د خپلي مور تی نیسي د هغه د نیولو څخه شیدې راویښیږي او ډېري رابهیږي او د کوچني د رودلو څخه شیدې هم ډېریږي. کله چي کوچني ته ضمني خواړه هم ورکوئ نو څنګه چي کوچنی ډېر وږي نه وي او تی ښه په زوره نه روي له دې امله په شیدو کي هم کمی راځي. البته اروايي مسایل هم د شیدو د ډېرېدو مخه نیسي. پریشاني، کورنۍ ربړي اوپه احساساتو کي سړه وضع هم د شیدو په مقدار کي کمښت راولي. د درملو د ډېر استعمال څخه، په ځانګړي ډول د حمل اخیستلو د مخنیوي د درملو، اینټي هیسټامین (Antihistamine) انټي بیوټیک له استعمال څخه او د متیازي راوړونکو درملو له خوړلو څخه هم شیدي کمیږي. نو هغه میندي چي کوچني ته شیدي ورکوي باید د دغسي درملو څخه ډډه وکړي. پدې چي د دغسي درملو اثر زیاتره د مور په شیدو کي شاملیږي او د کوچني پر روغتیا باندي ډېري بدي اغېزي ښندي. نو له دې امله دغه ډول درمل د ډاکټر له مشوري پرته مه استعمالوئ.

د شیدو ورکولو پر مهال چي کوم عام مسایل پیدا کیږي هغه د تیانو د سرو پاړسوب او د ځیګر درد دی چي په دوو تر څلورو ورځو کي بیرته سمیږي. شیدې ورکونکي میندي باید خپل ځیګر پاك وساتي لیکن د دې لپاره د صابون استعمال ښه نه دی. پدې چي د صابون له پرېولو څخه د پوست مثبته غوړزګي له منځه ځي او د ځیګر پوست و چیږي او پوستکی یې خوروکي خوروکي کیږي او چوی چي د دې څخه د ځیګر درد پیل کیږي. د درد څخه د ځان ساتلو لپاره یو احتیاط په کار دي او هغه دا چي د شیدو رودلو پر مهال تی باید د کوچني په خوله کي سم ورکړئ او کله چي کوچنی تی وروي، تی هغه مهال ځني لیري کړئ چي هغه خوله ټینګه نه وي نیولې تر څو تی د کوچني د خولې څخه په آساني سره راووځي. د کوچني چي تی په خوله کي وي یو دم یې مه ځني را ایسته کوئ چي د دې څخه د تی د سر د ټپي کیدو خطره ډېره ده. د

ځيګر درد اکثره د تيو له ډکېدو څخه د کلکېدو له امله پيداکيږي او دغه کلك والى هغه مهال له منځه ځي چې کوچنى د شيدو په رودلو پيل وکړي. کله چې په تيانو کې غټى ښکاري د هغه سره تبه هم وي چې په دې صورت کې بايد معالج ډاکټر ته مراجعه وکړئ يا ممکن دغه پاړسوب د تيانو د (Mastitis) نخښه وي. په دغه حالت کې د هغو د له منځه وړلو لپاره اکثره له اينټي بيوټيك درملو څخه ګټه اخلئ.

# غوړي

داچي په ځينو ځايونو کي دغوړيو پاکوالی او روغتيا يي مسايل څونه په پام کي نيسي تر دې پوري به خپل د سترګو ليدلی حال در ته ووايم. په هند کي د ملګرو ملتونو د مهاجرو د څانګي يوه هندۍ ډاکټره وه. هغې به تل خپلو افغانو ناروغانو ته توصيه کول چي د بازار شيان مه خورئ. په لومړي سر کي موږ ته د دغي ډاکټري خبري بې ارزښته ايسېدلې. خو ورسته يوه سولو چي دا ډېر ښه وايي. يو مهال مي د نوي ډيلي په يوه سيمه کي پر پاخه سړك د لمر ګلي يا کاپر ګل (آفتاب ګردان) ښځي ډېري داني اواري ولېدلې. کله چي ورنژدې سوم ومي ليدل چي په دغو دانو کي بې حسابه توري شپږۍ ګرځي او يو سړی دغه دانې او شپږۍ په بېلچه کي اخلي او په يوه لغوړنه کوټه کي يې د يوه ماشين د ژرندي د جلتي غوندي ځای ته اچوي او وروسته د دغو دانو غوړي بېل او کنجاره بېله راوزي. په دې توګه يې زما د بازار له شيانو څخه څه چي د غوړو له استعمالولو څخه يې لازړه راتور کړ. د غوړو په هکله ترڅو کېدای سي د زيتونو يا د شړشمو غوړي (تېل) يا د غواوو او مېږو غوړي يا د خپل وطن يا د عربي هيوادونو د با اعتمادو کمپنيو ويلي غوړي چي کلسټرول ونه لري رانسئ او په خوړو کي يې ښځي لږ کاروئ.

زيات آشپزان د خوړو په پخلي کي کوچي استعمالوي. دا ځکه چي د کوچو ويټامينونه نسبتاً ډېر او غوړزګي يې لږ وي. خو ځيني خلك د کوچو او مارجرين (Margrine) تر منځ توپير نه سي کولای. د کوچو د رانيولو پرمهال مو پام وي چي د کوچو پر ځای مارجرين را نه نيسئ. مارجرين د ۱۸۶۰ع. کلونو په وروستيو کي يوه فرانسوي درمل جوړوونکي H. Mège-Mouriès ايجاد کړل.دغه مهال په فرانسه کي کوچي لږ وه. مارجرين د يوه يا څو ډولو نباتاتو، د پسونو له وازګو يا ځينو نورو څارويو له غوړيو يا تېلو څخه په لاس راځي چي د کوچو په پرتله يې بيه لږ ده. په ۱۹۲۸ع.کال په انګلستان کي يو قانون را ووتی چي د مارجرين پر هر پاکټ دي د هغو نوم په څرګنده توګه

وليکل سي. په دې توګه مارجرين او کوچي سره بېل سول او د هر يوه بيه هم بېله بېله وټاکل سول.

**دغوړو روغتيايي ضررونه:**

غوړي يوازي د چاغښت او زړه ناروغۍ نه رامنځته کوي، بلکي د طب پوهانو د څېړنو له مخي له هغو څخه هډوکي هم نري او نازك کيږي. د غوړو له امله دويني لوړ فشار، د کلسټرولو لوړوالی او په پايله کي د زړه د ناروغيو علامې ځيني وختونه ناجوتي وي. څنګه چي د زړه د زياتو ناروغيو پته پر وخت نه لګيږي نو عام وګړي له هغو څخه د ژغورني لپاره تر هغه مهاله پرهېز نه کوي څو د زړه ناروغي په پشپړه توګه ورپېښه نه سي.

د زړه پر سطحه داسي يو ډول رګونه سته چي زړه ته اکسيجن رسوي. نو کله چي دا رګونه بند سي کوم چي سبب يې غوړ مواد کيږي نو زړه اکسيجن نه سي تر لاسه کولای او له دې امله نور غذايي توکي هم نه ور رسيږي. له دغو رګونو څخه که کوم يو نابېره په پشپړه توګه بند سي نو له هغه څخه يو ډول تکليف چي «هارټ اټيك» (د زړه حمله) ورته وايي پيدا کيږي. پر دې بنسټ چي کوم کسان غوړ خواړه خوري په حقيقت کي خپل زړه وږی ساتي.

ځوان او په ښکاره روغ وګړي عموماً فکر کوي چي هغوی د زړه له ناروغيو څخه خوندي پاته سوي دي او دا د بوډاګانو ناروغي بولي. خو دا ډېره خطرناکه غلط فهمي ده. زيات شمېر داسي ځوانان سته چي د زړه په ناروغيو اخته دي. دوی د زړه د ناروغيو ځينو لومړنيو نخښو ته پام نه کوي او په دې توګه د مړيني کومي ته ځانونه ور اچوي. په دوی کي د بد احتياطۍ له امله د زړه ناروغۍ ورځ تربلې زياتيږي. د دوی خوراك، چيښاك او عادات د روغتيايي اصولو سره سم نه دي او له دې امله په اوسني ژوندانه کي هغو ته تکړه او فعال اوسېدل مشکل سوي دي.

په دې برخه کي يوه ګټوره څېړنه سوې ده. له هغې څخه څرګنديږي چي آسيايي وګړو چي لوېديز تهذيب او هڅوب (کلتور) خپل کړی دی د خپل

ژوندانه د خوراك، چيښناك صحي او سمي لاري چاري يې پرې ايښي او له دې امله په دوی کې د زړه د ناروغيو ګڼه لوړه تللې ده.

د ساري په ډول د جاپانيانو په تېره بيا د سهيلي آسيا د وګړو ژوند دود د زړه او د شکري ناروغۍ کنټرولوي. د دغو سيمو عام وګړي لکه کارګران، مزدوران، بزګران او نور د روغتيايي اصولو تر پولي ډنګر دي او د کلسټرولو سطحه ډېره پکښې ټيټه ده. خو ځينو نورو د ښاري او لوېديز ژوندانه د اغېزو له کبله د ځان هوسانيه غوره کړې او زياتره هغه خواړه چي کله کله بايد وخوړل سي د خپلو همېشنيو خوړو غوندي خوري.

د زړه له ناروغيو څخه د ژغورني بنسټيز شرط دادی چي وګړي روغتيايي عادتونه خپل کړي او په خوراك، چيښناك کي احتياط وکړي او جسماني فعاليتونه زيات کړي. بل دا چي زموږ دوديز خواړه روغتيا ته زښت زيات ګټور دي. په هغو کي مېوې، سابه (ترکاری او سبزي) دالونه، حبوبات او غلې دانې ډېري دي. خو له بده مرغه نن مهال د دې خوړو پر ځای زياتره له غوړزګيو او خوږو څخه ډکو خوړو ته مخه سوې ده. چي که د دې حالت مخه ونه نيول سي او داسي غير صحي عادتونه پرې نه ښوول سي نو به له ۴۰ څخه تر ۵۰ کلنو وګړو مړينه د زړه د ناروغيو له لاسه بې کچي ډېره سي. د زړه د ناروغيو د مخنيوي لپاره مشوره داده چي چهل قدمي کوم چي يو غوره اسلامي سنت دی هر وګړی خپل عادت وګرځوي او ور سره ورسره بښوالي، بايسکل ځغلول او يا داسي کوم بل ورزش وکړي.

مشکل دادی چي اوس خلکو مانښام لا څه چي د ورځي ډېر وختونه ټلويزيو نونو ته ناسته غوره کړې او خپل دغه ارزښتناك وخت پر غير صحي لارو او د لوېديزيانو او هنديانو د کلتوري يرغل د پروګرامونو پر کتو لګوي. دغه راز ډېره لږ لار هم د موټر په واسطه پرې کوي.

په دې لړ کي ځينو نورو ناسمو تصوراتو ته خاتمه ورکول هم اړين برېښي. ځيني وګړي فکر کوي چي که په سبزيو کي موجود ګټور توکي د ويټامينونو له ګوليو څخه تر لاسه سي نو دغه ضرورت به بشپړ سي. خو دا غلط خيال دی.

دغه اړتیا په خپله د سبزیو په خوړلو سره تر سره کیږي. ډېر سابه او مېوې خوړل ډېر ګټور او د زړه له ناروغیو څخه د مخنیوي ډېره ښه لار ده.

## د پلاستيکي کڅوړو استعمال زموږ روغتيا او چاپېريال د ګواښ سره مخامخ کړی دی

په پخوا وختونو کي که زموږ ژوند ساده وو، خو خورا پاک، بې ضرره، روغتيايي او صفا ستره هم وو. دلته زموږ موخه زموږ د ژوند پر ټولو برخو باندي خبري او څېړنه نه ده، بلکي موږ دلته د پلاستيکي کڅوړو پر بېخي زياتو روغتيايي تاوانونو او د چاپېريال په ککړتيا کي د هغو د زياتي ونډي په هکله لنډي خبري کوو. پخوا به موږ له کوره د توکره څخه جوړي سوي کڅوړي را واخيستي بازار ته به ولاړو. له دکاندارانو څخه چي به مو شيان رانيول، هغو به ټول په کاغذونو او کاغذي کڅوړو کي په يو ډول ځانګړي مهارت سره پېچل او همداراز به يې پر ځينو کاغذونو او کڅوړو تار هم پېچی او راکول به يې او موږ به په خپله د توکره په کڅوړه کي واچول او کور ته به مو راوړل. دغه راز به موږ ډول ډول مېوې او نور په ځانګړو توکريو کي ايښوولې او په هغو کي به مو ساتلې.

خو له بده مرغه له کومه مهاله چي زموږ ټولني ته د پردو کلتور را څرګند سو زموږ د ټولني د ډېرو ښو دودونو او معمولاتو ځای غير صحي او مضرو کړو وړو اشغال کړ. په دې لړ کي يو هم پلاستيکي کڅوړي او ډېر نور دي چي زموږ د توکره او کاغذي کڅوړو ځای يې ونيو او د څه سهولت او آسانتيا په را بخښلو سره يې زموږ روغتيايي حالت او چاپېريال د ستر ګواښ سره مخامخ کړی دی. نن مهال دادی وينو چي زموږ د هيواد په هر ګوټ کي ډول ډول پلاستيکي کڅوړي او نو شيان خورا ډېر کارول کيږي..

بدمرغي داده چي د دې کڅوړو زښتو زياتو تاوانونو ته نه زموږ دولت متوجه دی، نه زموږ د روغتيا او چاپېريال ساتني مسؤولين او چار واکي څه پر وايي او نه زموږ د خلکو د دې کڅوړو روغتيايي خطراتو ته پام اوښتی دی.

دغه پلاستیکي کڅوړي او نور له پولي اـ تهايي لين څخه جوړيږي چي يو ډول پټروليم محصول دی. په رنګه کڅوړو کي کروميم (Cromium) لېډ (Laed). کاپر (Copper) کېډميم (Cadmium) او داسي نور مضره مواد کارول کيږي چي په انسانانو کي د حساسيت او ډېرو نورو ناروغيو لامل ګرځي. تور رنګي پلاستيکي کڅوړي تر نورو ډېري زياتي هلاکوونکي دي، او د سرطان غوندي خطرناکي ناروغۍ سبب ګرځي.

پر دې سربېره د موثقو منابعو په حواله په پاکستان کي په روغتونونو کي د استعمال سوو پلاستيکي موادو، لکه سرنجونو (پېچکاريو) او داسي ډېرونورو ناپاکو او فضله موادو څخه د پلاستيکي کڅوړو په جوړولو کي کار اخلي. چي دغسي کڅوړي لا زياتي خطرناکي باله سي

پر دې سربېره دغه کڅوړي هغه مهال ډېري خطرناکي کيږي چي په هغو کي خواړه په تبره تاوده خواړه کښېښوول سي او بيا وخوړل سي. که تاسي چای، سالن، شيدې يا درمل په دغو کڅوړو کي ايږدئ، نو له هغو څخه د کڅړو کېمياوي مادې جذبوي چي په پايله کي يې دغه شيان تاسي ته د روغتيا پر ځای د بېلابېلو ناروغيو لامل ګرځي.

دا چي دغه پلاستيکي کڅوړي او نور شيان په لارو، کوڅو، لښتيو او ډنډونو کي د غورځولو له امله څونه ډېر مکروبونه جذبوي او زيږوي او زموږ چاپېريال څونه ککړوي دا بيا بېل او ډېر اوږد بحث دی چي دا کوچنی کتاب يې د بيانولو حوصله نه لري. په دې هيله چي زموږ دولت، روغتيا يي موسسې او خلک د دغو خطرناکو توکو له شره د ژغورني لپاره اغېزمن تدابير ونيسي.

## درملنه

### په نړۍ او زموږ په هیواد کې د درملنې لنډ تاریخ:

له کومې ورځې څخه چې لوی څښتن جل جلاله حضرت آدم علیه السلام مځکې ته را کوز کړ طبابت هم ور سره رامنځته سو. پر مځکه باندې د هغه د ګام ایښوولو سره سم د ځان په فکر کې سو؛ له سړو، تودو او طبیعي آفتونو څخه به یې ځان خوندي کاوه او چې څه درد او تکلیف به ورپېښ سو د هغه چاره به یې کول. په دې توګه ویلای سو چې د انساني ټولنې په تاریخ کې طبابت په ټولو طبیعي پوهنو کې لومړۍ پوهنه ده چې په بېلو بېلو ټولنو او تاریخي پړاوونو کې یې وده کړې او تر دې اوسنۍ پوړۍ پوري را رسېدلې ده. د تاریخ پوهانو په وینا زموږ عنعنوي طبابت د زردشت له وختو څخه دود دی. د اورپالو (آتش پرستانو یا مجوسیانو) دغه پخواني پیغمبر چې د عیسیٰ علیه السلام تر زیږېدو شا وخوا اووه پېړۍ دمخه په بلخ کې اوسېدی د «اوستا» په نامه کتاب ولیکی چې په هغه کې یې د طبابت او روغتیا ساتنې په هکله هم څرګندونې وکړې. وروسته لرغوني افغانستان ته د سکندر او یونانیانو په را تلو او بیا دلته د ځینو یونانیانو په پاته کېدو او د هندي درملو او طبابت په رانقلېدو سره تر اسلام دمخه دلته یو ډول افغاني، یوناني او هندی مخلوط طبابت رامنځته سو. بیا په اسلامي دوره کې مسلمانان دیوناني طبابت سره بلد سول. هارون الرشید، مامون، متوکل، مقتدر او نورو عباسي خلفاوو په بغداد کې روغتونونه پرانیستل او یوناني طبیبان یې ور ته را جذب کړل. چې په دې توګه د مسلمانانو لخوا د طبابت په تاریخ کې ستر بدلون راغی. لومړی د یوناني طب کتابونه په عربي وژباړل سول او بیا په عربي ژبه د طب مستقل کتابونه د ځینو عربي، افغاني او ایراني طب پوهانو لخوا ولیکل سول. څنګه چې د اسلام په سپېڅلي دین کې د خیر او ښېګڼې په هکله زښت زیات ټینګار سوی دی او د انسانانو روغتیا ته په ستر ارزښت قایل دی له دې امله د طب پوهې د اسلام

په سیوري کي بشپړتیایي پړاوونه ووهل، د دې دین په پیروانو کي ډېر ستر او په نړیواله کچه نامتو طبیبان، لکه محمد زکریای رازي، شیخ الرئیس بوعلي سینا، ابن رشد او ډېر نور مونده سول چي د یونان، هند او فارس ګډوډ او سره پاشلی طبابت یې مرتب او منظم کړ، پر هغه یې زیاتوني وکړې، له نظري بڼې څخه یې عملي بڼه ورکړه او په دې توګه د عربو او نورو مسلمانانو د تلاښونو، تجربو، زیراکت او نبوغ له امله نوی، مستقل اسلامي طبابت را منځته سو.

دغه اسلامي طبابت د عباسیانو په پېر کي افغانستان ته نفوذ وکړ چي بالاخره د لرغوني افغاني، یوناني، هندي او عربي طبابت څخه زموږ اوسني دودیز طبابت تشکیل سو کوم چي زموږ د هیواد په ګوټ ګوټ کي رواج لري خو له بده مرغه چي د واکمنو د نه پاملرینې له امله د دې طبابت (د طبي بوټو او طبیعي منابعو) درملیزي ګټې له پامه لوېدلي دي.

دغه راز اسلامي طبابت چي خپلي لوړي کچي ته رسېدلی وو او د ناروغیو پوهي ته یې پراختیا ورکړه، په داسي حال کي چي اروپایان له طبابته بېخي بې برخي وه لومړی د عادي تلو راتلو له امله اروپا ته ورسېد او ورپسې چي د صلیبي جګړو او ډول ډول یرغلونو په پایله کي اروپایان ختیزو هیوادونو او اندلس ته ورسېدل او خپل ځانونه یې د یوه ستر تمدن سره مخامخ ولیدل نو یې له دې ستري پوهي څخه په ګټه اخیستنه پیل وکړ چي په دې توګه تر ډېرو پېړیو پوري اسلامي طبابت پر اروپا مسلط وو. ډېر اروپایي طبیبان او د طبابت د زده کړي مراکز د اسلامي طبابت د مکاتبو شاګردان او پیروان وه، د اسلامي طب پوهانو آثارو په اروپایانو کي دونه نفوذ درلود چي ان د ابن سینا د «قانون» لاتیني ژباړه تقریباً دېرش واره چاپ سوې ده. ډېرو اروپایي شارحینو د قانون بېلي بېلي برخي شرح کړي دي. ډېر نور طبي کتابونه یې هم په بېلو بېلو ژبو ژباړلي او ان ځیني یې تقریباً څلوېښت ځلي طبع کړي دي.

په دې توګه د لوېدیز اوسنی طبابت چي د نولسمي پېړۍ په پیل کي په مستقله توګه د لوېدیز یا انګریزي طب په نامه ونومول سو هماغه یوناني، اسلامي طبابت دی چي د لوېدیزیانو د ډول ډول زیارونو او پرمختیاوو په پایله

کي اوسنۍ پوړۍ ته رسېدلی دی. خو بیا هم په ډېرو مواردو کي نیمګړی او د ډېرو ناروغیو په وړاندي بې وسه پاته دی.

زموږ په هیواد کي د دغه طبابت دودېدل له افغانستان څخه د انګرېزانو تـر وتلو وروسته په محدوده توګه پیل سول. د شـلمي پېړۍ پـه لومړیـو لسـیزوکي روغتونونه را منځته سول. په ۱۳۱۱ل.کال پـه کابـل کـي د طـب پـوهنځي او د درمل جوړولو عالي ښوونځي بنسټ کښېښوول سو. خو له بده مرغه پر موږ د نا اهلو، ځـان او پـردي پـالو واکمنـانو د شـومي سـیطرې او د پـردو غلیمـانو د توطئو او تېریو له امله زموږ د طبابت چاري دونـه ورسـته پاتـه دي چـي ټـول د اړتیا وړ درمل او طبي سامان آلات مو له بهرنیو هیوادونو په ډېره ټیټه سـطحه او کیفیت او ګرانه بیه را ته راځي او زیـات شـمېر ناروغـان مـو پـه ګاونـډیو او نورو هیوادونو کي تداوي کیږي.

## اسلام او درملنه:

لکه چي پوهیږو د اسلام د سپېڅلي دین ستره او بنسټیزه موخه له روحي او معنوي پلوه د انسان جوړښت او لوړو او سپېڅلو پوړیو ته د هغه رسول دي. له دې امله اسلامي شریعت د انسان جسماني روغتیا او د هغې ساتني ته ډېر پـام اړولی دی. ځکه چي جسم دې موخي ته د رسېدلو او د انسان لخوا د اسـلامي ارشاداتو او شرعي چارو د تر سره کولو او د دواړو جهانو دسمولو او د ژوندانه د کړاوونو او ستونزو د اوارولو وسیله بالـه سـي. دغـه لامـل دی چـي اسـلامي شریعت له زښتو زیاتو روغتیایي لارښوونو او سپارښتونو ډك دی. څو مسلمان له دیني او بدني پلوه ښـه ځـواکمن او پیـاوړی اوسـي. پـه دې هکلـه رسـولﷺ فرمایي:

«الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ وَلَا تَعْجَزْ» (مسلم، کتاب القدر، باب في الامر بالقوة ۲۶۶۴ حدیث).

یعني لوی څښتن ته ځواکمن مومن تر بې سېکه مومن غوره دی. پـه دواړو مومنانو کي خیر دی. د هغه څـه کوښـښ کـوه چـي ګټـه درتـه رسـوي، لـه لویـه

څښتنه مرسته غواړه او ځان عاجزه او اسکېرلی مه ګڼه. يعني د خدای په طاعت کي چي ډېر ګټور کار دی زيات کوښښ کوه او په دې چاره کي له خدايه مرسته غواړه او د عبادت او له خدايه د مرستي په کار کي سستي مه کوه.

لوی څښتنﷻ د انسان د وجود د ساتني او له آفتونو، ناروغيو، وژونکو مکروبونو او زهرجنو اغېزو څخه د هغه د ژغورني لپاره په خپله د هغه په بدن کي دونه قوي تدابير په کار اچولي دي چي لاتر اوسه پوري د انسان علم په دې نه دی بريالی سوی چي په هغو باندي په بشپړه توګه وپوهيږي. که دغه طبيعي تدابير موجود نه وای نو يوه مازي ساده ناروغي به هم د انسان لپاره وژونکې جوتېدلای او د هغه د درملني لپاره به د هغه هيڅ هڅه او هاند نه سوای بريالی کېدلای. له دې امله وو چي حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلار او قوم ته د نورو خبرو په ترځ کي وويل:

﴿وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ۝٨٠﴾ [الشعراء: ۸۰].

«او کله چي زه ناروغه سم هغه رب العالمين مي رغوي».

کله چي د اسلام مقدس دين د نړۍ د انسانانو د دې او هغي دنيا د نېکموغۍ لپاره دا د جهل په تورتمونو او مادي او معنوي ناروغيو تياره نړۍ په خپلو سپېڅلو لارښوونو رڼا کړه، نه يوازي دا چي د انسانانو د نورو ډېرو شيانو تر څنګ يې د هغو د مادي او بدني ناروغيو رغولو ته پام واړاوه، بلکي د هغو د زړونو د ناروغيو رغولو ته يې هم بشپړه پاملرنه وکړه.

د زړونو د ناروغيو يادوني مو ږ په لاندي آيتونو کي موندلای سو:

لوی څښتن د شبهې د ناروغۍ په هکله وايي:

﴿فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ فَزَادَهُمُ ٱللَّهُ مَرَضٗاۖ﴾ [البقرة: ۱۰].

ژباړه: «د هغو (منافقانو) په زړونو کي يوه ناروغي ده چي لوی څښتن هغه لا پسي زياته کړه».

دغه راز فرمايي:

﴿وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٞ وَٱلۡكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلٗاۚ﴾[المدثر:۳۱].

ژباړه: «او د زړه ناروغان او کافران دا وايي چي ښه نو د لوی څښتن د دې عجيبي خبري څخه څه مطلب کېدای سي؟».

او د هغه چا په هکله چي د قرآن اوسنتو پرېکړي ته بلل کيږي او نه يې مني فرمايي:

﴿وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ ۝٤٨ وَإِن يَكُن لَّهُمُ ٱلۡحَقُّ يَأۡتُوٓاْ إِلَيۡهِ مُذۡعِنِينَ ۝٤٩ أَفِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ أَمِ ٱرۡتَابُوٓاْ﴾ [النور: ٤٨-٥٠].

ژباړه: «کله چي دوی د لوی څښتن او پېغمبر لوري ته بلل کيږي څو پېغمبر د دوی د خپل منځي شخړو په هکله پرېکړه وکړي نو له دوی څخه يوه ډله په څنګ کيږي. البته که حق د دوی پر خوا وي نو پېغمبر ته د امر منونکي په بڼه مراجعه کوي. آيا د دوی په زړونو کي د (منافقت) نارغي ده؟ او که په شك کي لوېدلي دي؟».

د شهوتونو د ناروغۍ په هکله فرمايي:

﴿يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ إِنِ ٱتَّقَيۡتُنَّۚ فَلَا تَخۡضَعۡنَ بِٱلۡقَوۡلِ فَيَطۡمَعَ ٱلَّذِي فِي قَلۡبِهِۦ مَرَضٞ﴾ [الأحزاب: ٣٢].

ژباړه: «ای د پېغمبر مېرمنو! تاسي د عامو مېرمنو غوندي نه ياست. که تاسي له لوی څښتن څخه بېرېدونکي ياست نو په داسي لهجه خبري مه کوئ چي د زړه په ناروغۍ اخته کوم سړی تمه پيدا کړي».

البته د بدني ناروغيو په هکله په قرآن کريم کي داسي يادونه سوې ده:

﴿لَّيۡسَ عَلَى ٱلۡأَعۡمَىٰ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡأَعۡرَجِ حَرَجٞ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرِيضِ حَرَجٞ﴾ [النور: ٦١] - [الفتح: ١٧].

ژباړه: «که ړوند، ګوډ او ناروغ جهاد ته ولاړ نه سي نو څه باك نسته».

په حج، روژه او اودس تازه کولو کي د بدن د ناروغۍ يادونه د داسي عجيبو اسرارو او رازونو لپاره سوې ده چي پوه سړي ته د قرآن عظمت له ورايه څرګندوي.

له هغه ځايه چي د اسلام مقدس دين په خپلو مباديو او توجيهاتو کي د حفظ الصحې، د ناروغيو د خپرېدو مخنيوی او د هغو په وړاندي وقايوي تدبيرونو نيولو ته بلنه ورکوي او د هغو د درملني لپاره خپل پيروان هڅوي نو اسلامي طبيبانو د لوی څښتنﷻ له معجز کتاب څخه د حفظ الصحې او د ناروغيو د وقايې لپاره دغه درې قاعدې يا اصول را ايستلي دي:

(۱) حفظ الصحه. (۲) روغتیا ته د ضرر رسوونکي شي له خوړلو او استعمالولو څخه ډډه کول. (۳) د داسي عمل څخه ځان ساتل چي پر ناروغي ناوړي اغېزي ښندي.

په دې هکله ستاسي پام لاندي آیتونو او د هغو ژباړو ته را اړوو:

په هغه آیت کي چي د روژې په هکله نازل سوی دی فرمایي:

﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ [البقرة: ۱۸٤].

ژباړه: «که له تاسي څخه څوك ناروغ یا مسافر وي، نو په نورو ورځو کي دي هغونه روژې ونیسي چي خوړلي یې دي».

په دې آیت کي لوی څښتن ﷻ ناروغ لره د ناروغۍ د عذر په خاطر او مسافر لره د روژې خوړل روا کړي دي. څو د هغه صحت او روغتیا وساتل سي او تاوان ورته ونه رسیږي.

د حج په هکله چي کوم آیت نازل سوی دی په هغه کي داسي فرمایي:

﴿فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِۦٓ أَذًى مِّن رَّأْسِهِۦ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ﴾ [البقرة: ۱۹٦].

ژباړه: «خو که له تاسي څخه څوك ناروغ وي یا یې په سر کي څه تکلیف وي (چي له امله یې خپل سر وخریي) نو هغه دي د فدیې په توګه روژې ونیسي یا دي خیرات ورکړي او یا دي قرباني وکړي».

په دې ډول یې ناروغ او هغه چا ته چي په سر کي څه تکلیف ولري او د احرام په حالت کي سر خریل ورته لازم وي، د سر خریل مباح کړي دي. چي له دې څخه اسلامي فقهاوو او علماوو نور دغسي مسایل هم قیاس کړي دي.

د اوداسه په آیت کي فرمایي:

﴿وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ ٱلْغَآئِطِ أَوْ لَٰمَسْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَلَمْ تَجِدُواْ مَآءً فَتَيَمَّمُواْ صَعِيدًا طَيِّبًا﴾ [النساء: ٤۳] - [المائدة: ٦].

ژباړه: «او که تاسي ناروغ یاست یا په سفر کي یاست، یا انساني حاجت رفع کړئ یا مو ښځو ته لاس وروړئ او بیا اوبه ونه مومئ، نو له پاکي خاوري څخه کار واخلئ».

په دې آيت کي په اودس تازه کولو کي ناروغ ته د وقايې او حمايې لپاره د اوبو پر ځای له خاوري څه کار اخيستل مباح سوي دي.

پر همدې بنسټ اسلامي سترو طبيبانو د اوسني عصري طبابت تر رامنځته کېدلو په سلګونو کلونه وړاندي ويل: د طب موخه روغتيا ساتنه او د ناروغۍ رغېدنه ده. چي اوسنی طبابت يې د وقايوي او معالجوي طب په نومونو راښيي. که تاسي د اسلام د نامتو طبيب ابن رشد (۱۱۲۰ـ ۱۱۹۸ع) «الکليات في الطب» کتاب وګورئ، هغه وقايه او معالجه په «حفظ الصحه وازالة المرض» تعبيروي. دغه راز که تاسي د نامتو مسلمان طبيب ابن البيطار (په ۱۲۴۸ع.کال مړ) کتاب «تحفة البيطار» وګورئ، هغه سوونه کلونه دمخه ويلي دي: حفظ الصحه داده چي څوك د ځان د روغتيا ساتنه په داسي حال کي چي بدن يې روغ رمټ وي، مراعات کړي او د خپل ځان راتلونکې په پام کي ونيسي. ځکه هوښيار سړی هغه دی چي د يوې چاري چاره د هغې تر پيښېدو دمخه وکړي او وقايه تر علاج غوره ده.

اسلامي طبيبانو ډېر پخوا لا ويل چي وقايه تر معالجې هم آسانه او هم مهمه ده. ځکه د معالجې لپاره پوه طبيب په کار دی څو د ناروغۍ تشخيص او درملنه وکړای سي. خو داسي پوه طبيبان ممکن لږ وي. او که پوه طبيبان هم وي ممکن داسي يوه ناروغي وي چي معالجه يې ممکنه نه وي. او يا د معالجې وسايل مونده نه سي او د معالجې وخت تېر سي او بيا که د معالجې اسباب هم مونده سي ممکن ناروغ د طبيب خبره ونه مني او که دا هم ومني ممکن ناروغ د تداوۍ واك ونه لري.او که د تداوۍ قدرت هم ولري او ناروغي درمل سي ممکن د ناروغۍ يا درملو اغېزه بل تکليف رامنځته کړي. ځکه نو اسلامي طبيبان «الاطباء افضل من الدواء» د حضرت محمدﷺ وينا بولي. او سپارښتنه کوي چي هر څوك بايد د روغتيا وقايې ته زيات پام وکړي او په دې هکله هغوی په مشهورو طبي کتابونو کي ډېري ښې مشورې هم ورکړې دي.

## د ناروغیو د درملني په هکله د اسلام لارښووني:

رسولﷺ به د خپل ځان ناروغي هم تداوي کول او خپلو هغو اړوندو کسانو او اصحابوته چي په ناروغي به اخته وه هم د درملني لارښوونه کول. د رسول ﷺ هغه احادیث چي د ناروغانو درملني ته هڅونه کوي:

عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ» (مسلم، کتاب السلام، باب لکل داء دواء، ۲۲۰۴ حدیث).

ژباړه: له حضرت جابرؓ څخه روایت دی چي رسولﷺ وویل: لوی څښتن داسي هیڅ ناروغي نه ده موندلې چي هغې ته دې درمل نه وي را استولي او چي درمل پر ناروغي ولګیږي د خدای په فضل رغیږي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَنْزَلَ اللَّهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً» (بخاري، کتاب الطب، ۵۶۷۸حدیث).

ژباړه: له حضرت ابوهریرهؓ څخه روایت دی چي رسولﷺ وویل: لوی څښتن داسي ناروغي نه ده را لیږلې چي د هغې درمل دې نه وي را لیږلي.

عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَتْ الْأَعْرَابُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا نَتَدَاوَى؟ قَالَ: «نَعَمْ يَا عِبَادَ اللَّهِ تَدَاوَوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شِفَاءً» (ترمذي، ابواب الطب، باب ما جاء في الدواءوالحث علیه).

اسامه بن شریکؓ وایي: اعرابو له رسولﷺ څخه پوښتنه وکړه چي آیا موږ د ناروغیو درمل وکړو؟ هغه ورته وفرمایل: هو! تاسي ای د لوی څښتن بنده ګانو تداوي وکړئ، ځکه چي الله تعالی هیڅ ناروغي نه ده را استولې چي هغې ته دې درمل نه وي موندلي.

اسلام د ناروغیو درمل سنت او مستحب بولي. لکه څنګه چي د اسلامي نړۍ سترو پوهانو ویلي دي هر انسان لره د طبابت دغونه زده کړه چي ځان له ناروغۍ په وساتي مستحب ده. او وایي پوهه دوه ډوله ده: د ادیانو پوهه او د ابدانو پوهه. نو لکه چي د دیني علم دغونه زده کړه چي خپلي دیني چاري په

سمبالي کړي لازمه ده، د طبابت هغونه زده کړه چې د خپل ځان روغتیا او سلامتیا په وساتي هم لازمه ده.

له همدې امله مسلمانانو ډېر روغتونونه، طبي انستیتوتونه، او مدرسې وداني کړې چې له هغو څخه داسي ستر او نومیالي اطبا راووتل چې نړیوال به تر څو دا نړۍ وي د هغو په علمي او همېشنیو زیارونو ویاړي.

د اسلام پیروانو په هماغو لومړیو کي دوه ډوله، ځای پر ځای (ثابت) او ګرځنده (سیار) روغتونونه درلوده. ګرځنده روغتون د رسولﷺ په وختو کي د خندق د غزا پر مهال د لومړي ځل لپاره جوړ سو. په دغه جګړه کي خېمه ووهل سوه او د هغې له لاري د جګړې د ټپیانو معالجه کېدل. چې وروسته دغه ډول ګرځنده روغتونونه زیات منځته راغله او په ټولو ضروري وسایلو، لکه درملو، خوړو، کالیو، طبیبانو، روغتیا پالو او درمل جوړوونکو سمبال، له یوه ښار څخه بل هغه ښار ته چې ځای پر ځای روغتونونه به یې نه درلودل لیږل کېدل.

د ځای پر ځای روغتونونو په هکله د اسلامي تمدن تاریخ لیکونکي وایي: په اسلامي نړۍ کي لومړی روغتون د ولید بن عبدالملك بن مروان په وختو کي پرانیستل سو. چې یوازي د جذام په ناروغي اخته کسان به یې درملول. وروسته دغه ډول روغتونونه ورو ورو زیات سول او په ټولو اسلامي ښارونو او ان ډېرو کوچنیو ښارګوټو کي او د کلینیکونو په بڼه په عامو محلاتو کي د ډول ډول ناروغیو د درملني لپاره را منځته سول. چې په هغو کي ټول ناروغان په وړیا توګه درمل کېدل، او د فارمسي څانګې، د طبو په کتابونو سمبال کتابتونونه او طبي انستیتوتونه به یې درلودل. چې د طب زده کوونکو به پکښي د ډېرو سترو اطباوو څخه زده کړه تر لاسه کول.

## په ساري ناروغیو له اخته کسانو څخه ګوښه اوسېدل:

د صحیح مسلم د کتاب السلام، باب اجتناب المجذوم و نحوه په۲۲۳۱ حدیث کي راغلي دي چې یو مهال د رسولﷺ سره د لیدلو او بیعت کولو لپاره د ثقیفو د قبیلې یو پلاوی ورغلی وو. په دغه پلاوي کي یو سړی د خوراړه

(خوږونکي یا جذام) په ناروغي اخته وو. رسولﷺ پرې نه ښود چې ورسره وګوري او سړی یې ور واستاوه او ورته ویې ویل: «انا قد بایعناك فارجع» «موږ ستا سره بیعت وکړ او ولاړ سه».

د صحیح البخاري د کتاب الطب، باب الجذام په ۵۷۰۷ حدیث کې د حضرت ابوهریرهؓ څخه تعلیقاً روایت دی چې رسولﷺ وفرمایل:

«فِرَّ مِنْ الْمَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنْ الْأَسَدِ» «د خوراږه په ناروغي اخته سړي څخه داسي تښته لکه له زمري څخه چې تښتې».

د سنن ابن ماجه او نورو په حسن، صحیح حدیث کې د حضرت ابن عباس څخه روایت دی چې رسولﷺ وویل: «لَا تُدِيمُوا النَّظَرَ إِلَى الْمَجْذُومِينَ» «په خوراږه ناروغۍ اخته کسانو ته ډېر مه ګورئ».

څنګه چې حضرت رسولﷺ پر خپل امت باندي زښت زیات شفقت درلود، نو یې دوی ته لارښوونه وکړه چې له هغو اسبابو څخه چې د دوی اجسامو او زړونو ته علت او ناروغي پېښوي ډډه وکړي. او په ساري ناروغیو اخته کسانو ته د دغسي ناروغیو څني اخیستلو له امله او د وقایوي تدابیرو د نیولو په پام کي نیولو سره نژدې نه سي.

دغه راز په هغه حدیث کي چې امام احمد په خپل مسند کي راوړی دی وایي چې رسولﷺ یوه ښځه وغوښتل. کله چې یې د هغې سره د دخول اراده وکړه د هغې په بغل کي یې سپین ټکی ولید. نو یې ورته وویل: «الحقي باهلك». (ته بېرته خپلي کورنۍ ته ولاړه سه).

دا چې ځیني علما دغه احادیث د ځینو نورو احادیثو معارض او مخالف ګڼي باید ووایو چې دې ټکي ته ډېر ستر علما متوجه سوي دي او په دې هکله یې په ځیرنه سره څه تعارض نه دی موندلی.

د ساري ناروغیو او د هلاکت د ځایونو څخه د ځان ساتلو او ګوښه اوسېدلو په هکله د ر سولﷺ لخوا نور ورته ارشادات هم سته. د بېلګې په توګه: په ابوداود کي دي چې یوه صحابي چې فروه بن مسیك نومېدی رسول ﷺ ته وویل: ای د لوی څښتن استازې! موږ څه د کرکیلې مځکه لرو چې «ابین» ور ته وایي. خو دا د وبایي ناروغیو ځای دی. نو رسولﷺ ور ته وویل:

«دعها عنك، فان من القرف التلف» «دغه ځای پرېږده ځکه چي دغه ځای ته نژدې کېدل د هلاکت او مرګ سره مخامخ کېده دي». (البته د دغه روایت اسناد ځینو ضعیف بللي دي).

دغه راز په بخاري او مسلم کي له حضرت اسامه بن زید څخه روایت دی چي رسولﷺ وفرمایل:

«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا» «کله چي واورئ چي په یوه ځمکه کي طاعون دی نو هغې ځمکي ته مه ورځئ. او په کومه ځمکه کي چي د طاعون ناروغي ګډه سوې وي او تاسي پکښي اوسېږئ، نو له هغې ځمکي مه وزئ».

دا ارشاد له دې امله دی چي که هغه ځای ته څوك ورسي چي د وبا یا طاعون ناروغي پکښي تیته سوې وي ځان به د دې خطرناکي ناروغۍ سره مخامخ کړي. چي دا د شرعي او عقل دواړو مخالف کار دی. لوی څښتن فرمایي:

﴿وَلَا تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى ٱلتَّهْلُكَةِ﴾ [البقرة: ۱۹۵].

«تاسي په خپلو لاسونو خپل ځانونه په هلاکت کي مه اچوئ». او که څوك له دغسي ځایه وزي کېدای سي چي دغه ناروغي له ځان سره نورو ځایونو ته ولېږدوي، خپله هم له دې ناروغۍ ونه ژغورل سي او د نورو ډېرو خلکو ژوند هم د خطر سره مخامخ کړي. نو ښه داده چي څوك د طاعون له سیمي ونه وزي، بلکي ځان د لوی څښتن رضا او قضا ته وسپاري او دعاوي او دواوي دي کوي. او که په همدغه سیمه کي یوې فراخي ارشو ته ووزي کېدای سي چي هوایي بدله سي او له خطره وژغورل سي.

څنګه چي دلته پر دې خبرو نور ډېر بحث موږ له خپلي اصلي موضوع څخه لیري کوي، ځکه نو په دې هکله له نورو تفصیلاتو څخه ډډه کوو. البته که څوك په دې هکله مفصل معلومات غواړي له سترو او جیدو عالمانو څخه دي پوښتني وکړي. یا دي معتبرو کتابونو ته مراجعه وکړي.

## د ناروغۍ روحاني درملنه او دعاوي:

که چاته څه ناروغي ورپېښه سي تر ټولو دمخه دي په بشپړ یقین او اعتقاد سره قلبي او روحاني درملني ته پناه وروړي. دا د لوی څښتنﷻ لخوا انبیاوو صلوٰة الله علیهم اجمعین ته او د هغو لخوا موږ مسلمانانو ته داسي را ښوول سوې درملنه ده چي د سترو سترو ډاکټرانو او حکیمانو عقلونه، پوهي او تجربې نه په رسیږي.

ناروغ دي ګردسره زړه نه اچوي، بلکي زړه او نفس دي قوي کوي، پر هغه ستر ذات دي توکل کوي او ځان دي پر سپاري چي پیدا او پنا یې دی. ښې چاري دي تر سره کوي، خیراتونه دي ورکوي، د خلکو سره دي ښه وضع کوي، د ویرجنو د ویرونو په لیري کولو کي دي ونډه اخلي، په عاجزي او انکسار سره دي توبه وکاږي او د ذکر او استغفار تر څنګ دي د زړه په حضور، قبلې ته مخامخ، په اوداسه، په داسي حال کي چي لاسونه یې پورته کړي وي هغه دعاوي چي رسولﷺ د ناروغۍ پرمهال کړي دي او داسي نوري دعاوي دي لوی څښتنﷻ ته د خپلي روغتیا لپاره کوي.

دعا تر ټولو ګټوره دوا ده. دعا د بلاوو دښمنه ده. دعا د بلاوو او ناروغیو دفع او علاج کوي، که بلا او ناروغي نه وي نازله سوې د نازلېدو مخه یې نیسي او که نازله سوې وي یايې له منځه وړي او یايې کموي. دا د مومن ډېره ښه وسله ده. حاکم په خپل صحیح کي له حضرت عليؓ څخه روایت کوي چي رسولﷺ وویل: دعا د مومن وسله، د دین ستون او د آسمانو او مځکي رڼا ده. دا چاري ډېرو سترو پوهانو ازمویلي دي او د هغو داسي اغېزي یې لیدلي دي چي په حسي او مادي درملو کي یې نه دي لیدلي. دا د لوی څښتن حکمت او قانون دی چي کله زړه رب العالمین او د درد او درملو خالق او د طبیعت مدبر او تصرف کوونکي ته ورسیږي دغسي نالیدلي درمل پر ولګوي.

دا هم جوته سوې ده چي کله روح، نفس او طبیعت پیاوړي وي د ناروغۍ په دفع کي یو له بله لاسونه ورکوي او ناروغ د خدای په حکم روغ رمټ سي. البته دا خبري رشتیاني او د یقین درلودونکي پوهان مني، خو د جاهلانو، منکرانو او ناولو اروحونو د خاوندانو زړونو ته نه لوېږي. هغوی به هله پوه سي

چي د زکندن سلګۍ ورته ودرېږي او ورته و ويل سي: ﴿ذَٰلِكَ مَا كُنتَ مِنۡهُ تَحِيدُ ١٩﴾ [ق: ١٩] «دا هغه شی دی چي ته ځني تښتېدلې». يعني دا هغه حقيقت دی چي د هغه له منلو څخه تا ډډه کول.

هو! موږ ته زموږ دين د دغسي روحاني علاج تر څنګ د حسي او جسماني درملني لارښوونه هم کړې ده. په دې هکله موږ څه وړاندي څرګندوني وکړې. د دې چارو تر څنګ بايد د معالجې دارو درملو او نورو ټولو تدابير هم په کار واچول سي. دا هم د اسلام لارښوونه ده. خو دا يقين مو وي چي درمل د ناروغۍ د رغېدو لپاره يو سبب باله سي له آره خو شفا د لوی څښتن لخوا ده. البته که څوك درمل شفا بالذات وګڼي پر هغه باندي د شرك بېره ده.

ناروغ دي پخپله هم ځانته په زاريو او په ډېره عاجزي د شفا دعا کوي. ځکه چي د ناروغۍ په حالت کي دعا قبليږي. د هغه خپلوان او پوښتني کوونکي دي هم هغه ته د شفا دعاوي کوي. خو ګورئ چي د ناروغۍ پر مهال د شرعي او ادب حدود په پام کي ونيسئ او د شکايت په ډول دعا و نه کړئ. بيا چي لوی څښتن څه کوي په هغو رضا واجب ده. البته د دعا د قبلېدو لپاره تلوار د دعا د نه قبلېدو له آفاتو څخه باله سي.په بخاري شريف کي د رسولﷺ حديث دي چي: «يُسْتَجابُ لاحَدِكُمْ مَالَمْ يَعْجَلْ، يَقُولُ: دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَب لِي» (کتاب الدعوات باب يستجاب للعبد مالم يعجل، ۶۳۴۰ حديث). يعني که تلوار ونه کړئ ستاسي دعاوي قبليږي، خو تاسي واياست: دعا مي وکړه خو قبوله نه سوه.

په صحيحو احاديثو کي راغلي دي چي رسولﷺ هم د روغتيا پر مهال، کله چي به بيدېدی او هم د ناروغۍ پر مهال د ﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾، ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾ او ﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾ سورې ويلې. او نوري دعاوي يې هم کړي دي.

د يادوني وړ ده چي کتابونو د دعاوو د قبلېدو لپاره دغه شپږ وختونه ډېر ښه وختونه بللي دي: (۱) د شپې وروستۍ درېيمه برخه. (۲) د اذان پر مهال. (۳) د اذان او اقامت په منځ کي. (۴) تر فرضو لمونځونو وروسته. (۵) د

جمعې په ورځ کله چې امام منبر ته پورته سي بیا د لمانځه تر پای ته رسېدو پوري. (۶) د جمعې د ورځې د مازدیګر تر لمانځه وروسته د مازدیګر تر وروستیو شېبو پوري.

دعاوي باید د لوی څښتن ﷻ په حمد او ثنا او پر رسول الله ﷺ په درودونو او سلامونو، په توبه او استغفار، پیل سي او د هغه ستر ذات په نومونو او صفاتو په توسل سره تر سره او بیا په حمد او صلاة پای ته ورسیږي. د دعا د قبلېدو لپاره څه خیرات هم ورکړئ. ان شاء الله دغسي دعاوي به هیڅ رد نه سي. په تېره چې بیا د هغو دعاوو سره سمي وي کومي چې رسول ﷺ یې په هکله سپارښتني کړي دي. ځکه چې کېدای سي هغه یا د قبلېدو وړ وي او یا اسم اعظم پکښې وي.

خو د دعاوو د قبلېدو لپاره یوه خبره ډېره مهمه ده او هغه داده چې له ډول ډول معصیتونو او ګناهونو، سرکښیو، حرامو، ظلمونو، فسق او فساد، خیانتونو او بدو او ناوړو کارونو څخه مو په خوله نه بلکي د زړه له کومي سمه، صحیح او په اخلاص توبه کښلې وي او د دې ناوړو کړنو سره سره بایدپه نورو دلایلو او وسایلو لکه د خدای په عفو، ځینو نفلي روژو، عبادتونو او ذ کرونو، علم او پوهي، مازي په خوله توبه او داسي نورو ځانونه تېر نه باسو. له یوه ستر عالم څخه یو چا پوښتنه وکړه چې آیا زه تسبیح ووایم که استغفار؟ هغه ورته وویل: خیرن کالي تر عطرو صابون ته ډېره اړتیا لري.

## که څه ناروغي درپېښه سي په غذا یې درملنه وکړئ:

څنګه چې غذایي مواد (نباتي بوټي، میوې، سابه، او نور ډول ډول خواړه) هر څوك موندلای سي او په هغو درملنه هم آسانه، هم ارزانه او هم بې ضرره ده نو د طبیبانو پر دې اتفاق دی چې تر څو په خوړو د درملني امکان وي نور درمل مه خورئ. او تر څو چې په بسیطو او ساده درملو علاج شونی وي مرکب (له څو توکو جوړ درمل) هم مه استعمالوئ. د خوړو پېژندونکو طبیبانو لارښووني د ناروغۍ د مخنیوي لپاره وي، یعني نه پرېږدي چې مکروب د ناروغ په د ننه وجود کي نفوذ وکړي. په داسي حال کي چې نور ډېر درمل د

درد او ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره وي او دغسي درمل ډېر لږ د ناروغۍ د مخنيوي لپاره ورکول کيږي. بل دا چي زياتره درمل مخدر او مسکن وي چي کېداى سي د ناروغ اعصابو او زړه ته مضر تمام سي. مهمه لا داده چي که چيري ډاکټر د ناروغۍ په تشخيص کي اشتباه وکړي ښايي ناروغ لا ناروغ کړي او يايې ان د مړيني تر پولي ورسوي. خو که د خوړو درملګر دغسي اشتباه وکړي که ناروغ ښه نه سي تر پخوا خو به يې حال نه بتريږي.يوه طبيب هغه دی چي تر څو په آسانه شی علاج کېدونکی وي مشکل کار يا قوي درمل توصيه نه کړي. بايد درملنه په ضعيفو درملو پيل سي بيا که ناروغي ښه نه سي قوي درمل توصيه سي. اما که د ناروغ حالت بل ډول وي او وسمدلاسه د قوي درملو ايجاب کوي په هغه صورت کي دي طبيب څنګه چي لازمه وي هغسي وکړي.

## تر څو کېداى سي په طبيعي او نباتي بوټو او درملو درملنه وکړئ:

انسانانو په زرګونو کلونو د نباتي بوټو او ميوو د درمليزو خواصو په هکله علم تر لاسه کړی دی او د هغو خواص يې د درملو په توګه د انسانانو پر جسم ازمويلي دي او پوهېدلي دي چي ډول ډول دردونه او ناروغۍ درملوي. له دې امله له ډېرو پخوا زمانو څخه خلکو خپلي ډول ډول ناروغۍ په طبيعي او نباتي درملو درملولې او لوی څښتنﷻ به د هغو په سبب شفا ورکول. په تېره دغه طب د اسلامي طبابت يوه ستره برخه ګرځېدلې وه. خو له کله څخه چي لوېديزيانو د مسلمانانو سره تر تودو صليبي جګړو وروسته د مرئي او نامرئي او علمي صليبي جنګ لار خپله کړه او زموږ ډول ډول علوم يې له موږ څخه زده کړل او بيا يې خپلي تجربې پر ورزياتي کړې او خپل نوم يې پر کښېښود او ډول ډول نوي کيمياوي درمل او لابراتوارونه او داسي نور يې راو ايستل، په طبيعي درملو علاج تر ډېري اندازې لږ سو. په داسي حال کي چي کيمياوي درمل لکه څنګه چي پخپله د هغو جوړوونکي هم وايي جانبي عواقب او عوارض لري. يعني که يوه ناروغي ښه کوي، بله ناروغي په بدن کي زېږوي. خو طبي بوټي او طبيعي درمل دغه ځانګړني نه لري. له دې امله په دې

وروستيو وختونو کي له ګياهي بوټو څخه د ګټي اخيستني ارزښت او اهميت بېرته څرګند سو. د نړۍ په ډېرو برخو کي د طب پوهانو افکار د ګياهي درملني او پخوانيو درملو معجزو ته متوجه سوي دي او اوس بېرته طبابت ګياهي درملني ته سوقوي. اوس په امريکا، اروپا، هندوستان او د نړۍ په ډېرو نورو برخو کي د حکومتونو روغتيايي ادارو د ګياهي طبابت ارزښت منلی او په دې لټه کي دي چي د کېمياوي درملو مصرف هر څه زيات را لږ او منسوخ کړي. په دغو هيوادونو کي د درملو جوړولو په ځانګو کي د ګياهي درملو طبيبان او کار پوهان هم د کېمياوي درملو د پوهانو تر څنګ په کار بوخت دي او د درملو په جوړولو کي د هغو له پوهي او مشورو څخه ګټه ترلاسه کوي.

هيله ده زموږ اړوند حکومتي چارواکي هم وهڅيږي چي د هيواد د اسلامي طبابت دغي ځانګي ته ارزښت ورکړي او که چيري د درملو جوړولو کار ته اقدام کوي دغي برخي ته هم بشپړه توجه وکړي.

البته زما موخه د کېمياوي درملو د ارزښت نفي نه ده. بلکي که د کېمياوي او ګياهي درملو په منځ کي د منطقي ارتباط د ايجاد لپاره هڅي وسي او د ناروغيو سره په مبارزه کي له هر ډول درملو څخه چي د بشري علم او پوهي محصول باله سي ګټه واخيستل سي دا به ډېره ښه خبره وي.

## د کېمياوي او طبيعي درملو په هکله د ډاکټرانو نظريې:

د «راز سلامتي وطول عمر» چي د اسماعيل اژدري په نامه يوه ايراني طبيب ليکلی دی په لومړيو مخونو کي د لوېديځ د کېمياوي طبابت او د اسلامي طبيعي طبابت د پرتلني په هکله د پوهو ډاکټرانو او طبيبانو نظريې ليکل سوي دي څنګه چي د دې موضوع په روښانتيا کي ګټوري دي نو له هغو څخه مو لاندي څو کرښي را واخيستلې:

که ووايو چي لوېديز طبابت ناروغ ته ډېر خطرونه لري مبالغه به مو نه وي کړې. ډېرو لويو ډاکټرانو پخوا خپل ناروغان په کېمياوي درملو درملول خو اوس چي د دغو درملو په ضررونو پوه سول خپل ناروغان په طبيعي درملو درملوي.

ډاکټر سر ويليام نومی په دې عقيده دی چې: «په اوسني طبابت کې تقريباً ټول قوي زهر استعماليږي. دغه سموم د بدن په ځينو برخو کې يو ځای کيږي، په کراره کراره د بدن انساج تخريشوي او له منځه يې وړي او د انسان عمر را کموي».

اوسنی طبابت ځيني ناروغۍ معالجه کوي خو په عين درملنه کې ځيني نوري ناروغۍ هم رامنځته کوي.

که يو څوك په يوه نسبتاً مهمه ناروغۍ اخته سو او په اوسنيو کېمياوي درملو درمل سو بيا محاله ده چې د ښې ورځې مخ ووينې. بيا به يې ټول عمر د درملو او ډاکټرانو سره سروکار وي.

رشتيا هم ډېر ناروغان له اوسنۍ کېمياوي درملنې څخه ستړي سوي او خواتوري سوي دي خو له بده مرغه چې بله چاره هم نه ويني.

## د کېمياوي درملو د ناسمو کارولو په هکله څرګندوني:

د «صحت بخش عادات» په نامه يو ګټور او معياري کتاب چې ليکونکی يې زبير وحيد نوميږي او د پاکستان يوې معتبرې او د معياري کتابونو خپروونکې ادارې«اردو سائنس بورډ، لاهور» خپور کړی دی، د درملو تر سر ليك لاندي د کېمياوي درملو په هکله ډېر ګټور مطالب لري، له دې امله مو د لوستونکو د زياتو معلوماتو لپاره دغه مطالب دلته وژباړل او ځای ځای مو څه اړيني زياتوني هم پر وکړې:

د انساني ژوند د پر مختيا سره سم د درملو استعما ل ورځ تر بلې زياتيږي او پر انساني کړو وړو کنټرول ټينګوي. له زيږېدو څخه تر مړيني پوري زمونږ ژوند د کېمياوي کنټرول تابع سوی دی. د درملو له ډېرو اعلانولو او تشهير څخه موخه داده چې د هغه په هکله زمونږ يقين پوخ او ټينګ کړي. که زمونږ کولمې د پروګرام سره سم کار نه کوي نو موږ سمدستي ملين (قبض ماتوونکي) درمل اخلو او خورو يې. که سهار د را ويښېدو پر مهال زمونږ پزه بنده وي يا د نزلې څخه ناسم کيفيت احساس کړو نو موږ انټي بيوټيك درمل استعمالوو. يا که غرمه د تلو پر مهال ناڅاپه زمونږ پر ملادرد سي، نو موږ له

هغه څخه د ژغورني لپاره په هغو اوبو چي رائي (اوري د شړشمو د دانې غوندي يو ډول نرى دانې چي په عربي كي خردل ورته وايي، د اچارو په جوړولو كي هم په كاريږي، طبيبان يې پيژني). په ګډه وي د لمبېدو پر ځاى د عضلاتو مسكن درمل استعمالوو. په برتانيه غوندي پر مختللي هيواد كي هم خلك ډېر درمل خوري. زموږ په هيواد كي هم خلك د كوچنيو كوچنيو ناروغيو د درملني لپاره فوراً درمل استعمالوي چي دا بېخي ناسم كار دى. د يوې دقيقي احصائيې له مخي په برتانيه كي هره ورځ نژدې نيم لوى وګړي او تقريباً هر درېيم كوچنى درمل استعمالوي. په پاكستان غوندي پر مختيايي هيواد كي هم اوس څنګه چي ښوونه او روزنه كرار كرار لوړه ځي خلك له تعويذونو او ټوټكو څخه مخ اړوي او ايلوپيتهك) د كېمياوي يا انګريزي درملني (Allopathic) درمل استعمالوي. نن سبا درمل داسي لازم ګڼل سوي دي لكه زموږ خواړه. په امريكا غوندي پر مخ تللي هيواد كي خلك د دردونو د كمولو، د خوښيو لټولو، اشتها خلاصولو، ستړ يا ليري كولو او خوب ورتللو لپاره د مليونونو ډالرو په بيه درمل كاروي. دا سمه ده چي درمل په رشتيا سره تكليف كموي او موږ ته آرام خوب راولي، خو په دغو درملو روږدېده هم ښه او سمه خبره نه ده. ځيني نارينه د خپل نارينه توب ځواك د لوړ بېولو لپاره د سټروئيډ (Steroid) په نامه درمل كاروي. بوډۍ ښځي د مياشتنيو وقفو مصنوعي هامونونه زياتوي. د كوچنيانو د آرامولو لپاره مسكن درمل وركوي. ځيني ښځي تر ډېر مهاله د خپلي ځوانۍ د ساتلو لپاره استروجن (Estrogen) درمل كاروي. (په دوى كي په طبيعي ډول د حيض بندول په عمر كي زيات والى راولي).

سره د دې چي نړۍ د ډېري له دورې څخه بېخي ډېره ليري سوې ده. خو اوس هم خلك له ذهني پلوه پر كوډو او ټوټكو د زړګونو كلونو وړاندي غوندي يقين لري. اوس نړۍ د ګوليو له استعمال څخه د هماغو مافوق الفطرت ګټو د تر لاسه كولو په لټه كي ده.

ځيني درمل د ژوندانه د ساتلو لپاره مهم دي. خو له بده مرغه نن په بازارونو كي زياتره ناوړين او نامناسبه درمل پلور ته وړاندي كيږي. د كينساس

د پوهنتون د Pharmaceutical Chemistry ماهر پروفيسر ويناده چي اوسمهال (۹۰) فيصده نا اړين درمل جوړيږي. دغسي درمل ګټه لږ رسوي خو تاوانونه يې زښت زيات دي. د فرانسې د نوبل د جايزې ګټونکي اينډريولوف (Andrew Lwoff) اټکل دی چي په فرانسه کي (۳۰) فيصده ناروغۍ د درملو له ناسم يا بې ځايه استعمال څخه پيدا کيږي.

اوس چي پر روغتيايي موضوعاتو کوم نصابي کتابونه ليکل کيږي ټول د نوو درملو څخه د پيدا کېدونکو ناروغيو په اړه دي. د تېرو کلونو د استعمالېدونکو درملو په نسبت د اوسمهال درمل ډېر اغېزمن دي. دا که څه هم ناروغ ته ژر ځواك بخښي او سمدستي يې تکليف ورآراموي خو همدغسي يې ناروغه کوي هم.

د برتانيې د Safety Drug د ادارې د مشر وينا ده چي په نړۍ کي داسي درمل نسته چي له ضمني اغېزو (جانبي عوارضو) څخه دي په بشپړه توګه پاك وبلل سي. ډېر درمل د ژوندانه فعاليتونه ښه کوي او يا يې د خرابۍ مخه نيسي. له دې صلاحيته پرته درمل بې ګټي باله سي. خو د دې وو سره سره ضمني عوارض هم را منځته کوي. خلك عموماً د ډېرو معمولي او ساده ناروغيو د درملني لپاره درمل استعمالوي. زيات خلك د درملو په بې ځايه استعمال خپل د هضم نظام په لوی لاس ورانوي. د خوړو د نه هضمېدو له بېري د خپلو خوړو په عادتونو کي په قصده بدلون راولي او د بېخي ډېرو زياتو شفا راوړونکو غذاوو د خوړلو کوښښ کوي. ځيني بيا په خپلو خوړو کي کمښت راولي. د ګېډې د ترشۍ او تېزابو ضد ډېرو شيانو (Antacid) له خوړلو څخه ښايي خواړه هضم سي، خو د هاضمې د خرابۍ اصلي سبب نه سي ليري کېدلای. پر دې سربېره د انټي اسيډ مادو له ډېر استعمال څخه په ګېډه کي هايډرو کلوريك اسيډ ډېر افرازيږي. د دې مطلب دادی چي د لومړيو انټي اسيډ مادو د عکس العمل څخه د ژغورني لپاره ډېرو انټي اسيډ مادو ته اړتيا رامنځته کيږي چي په دې سطح د دغو مادو له استعمال څخه کېدای سي د وينو کېمياوي ترکيب خراب سي.

دغه راز کوم کسان چې له قبض څخه شکایت کوي هغو ته ښايي داسي خواړه وخوري چې د ګېډې فضله مواد يې ډېر کړي، لکه ترکاری، شنه سابه او داسي نور.پر دې سربېره بندګوبی (کرم) ګازري او د حلوا کدو هم قبض نه لري. د قبض ماتولو دوهمه لار د ملينو (قبض ماتوونکو) درملو استعمال دی. خوپه دې کي شك نسته چې په لومړۍ طريقه، يعني په سبو د قبض علاج غوره دی. دا د کولمو د نظام د ښه کولو لار ده او نور ټول کوښښونه مصنوعي دي، کوم چې له په کار اچولو څخه يې زموږ کولمې د درملو سره عادي کيږي. او بله دا خبره هم ده چې قبض ماتوونکي درمل نور نقصانونه هم رامنځته کوي. (ټول قبض ماتوونکي او د نس ناستي راوړونکي درمل د ګېډې د کار طبيعي طريقه خرابوي او پرله پسې استعمال يې د کولمو تاو هم رامنځته کوي. دغه راز قبض ماتوونکي درمل د مثال په ډول د پيرافينو محلول په غوړزګيو کي د حليدونکو ويټامينونو په انجذاب کي خنډ اچوي او د ځينو ملينو درملو څخه د ناروغ د جسم اوبه تر دې کچې خارجيږي چې ناروغ بېخي ډېر کمزوری کړي).

جسم د خپلو اړتياوو په پام کي نيولو سره خپل ټول افعال په خپله سرته رسوي. نو ښه داده چې زموږ جسم د خپل کار د ښه نظام لپاره ټولي اړيني ضروري مادې په خپله پيدا کړي. که نه د نس ناستي يا قبض په صورت کي استعماليدونکي درمل د کولمو په طبيعي کار کي ګډوډي رامنځته کوي. د ډېرو معمولي ناروغيو لپاره ويل سوی مهم علاج د ساينسي درمليزو اصولو سره سم نه وی. خو لکه چې څرګنده ده بيا هم څه نا څه په کار لوېږي. البته دغسي علاج روغتيا ته ډېر مضر دی. ځکه چې د دغسي درملو حمله د ناروغۍ پر ضد نه، بلکي د هغو نخښو او علامو پر خلاف وي چې د دغي ناروغۍ له امله څرګندي سوي وي. دغه علامات زياتره د جسم د جوړښت په خلاف د ناروغۍ د مرستندوی په توګه کار ورکوي.

د اميندوارۍ پر مهال هم د درملو استعمال ضررناکه دی. له څېړنو څخه جوته سوې ده چې د حامله ګۍ په وخت کي د درملو بې ځايه او بې مشورې استعمال ډېر ناوړه حالات رامنځته کوي. د حامله ګۍ په لومړيو ورځو کي د

خوب راوړونکي درمل لبريم (Librium) لـه اسـتعمال څخـه پـه زېږېدونکي ماشوم کي د مورزاده ناروغتيا امکانات زيات وي. دغه راز په يوه بله څېړنه کي د دغسي يوې بلي اندېښنې يادونه هم سوې ده. د څېړونکو په وينا کېداى سي د آسپرين له استعمال څخه هم په ماشوم کي مـورزاده نـاروغي مونـده سـي. د دغو څېړنو له مخي د حامله توب له پيله په ۲۸ ورځو کي د دغسي يوې دوا له خوړلو څخه کېداى سي په ماشوم کي مورزاده نقايص مـثلاً د زړه عارضـه او د جسماني غړو د بـدي وضـعي غونـدي خرابـۍ پيـدا سـي. دغـه راز کـه دغسـي ښځي زيات پنسلين استعمال کړي هم کېداى سي د دوى او د دوى د ماشوم د مزاج پر وضع ناوړي اغېزي وښندي.

زمونږ يوشمېر خلك د پنسلينو په هکله په دې اند دي چي دا د هري ناروغۍ درمل دي او له درملتونونو او د درې ګزي د غاړي د درمل پلورونکو څخه يـې د ډاکټر بې مشوري او بې نسخې رانيسي او خوري يـې. درسـته ده چـي پنسـلين ډېر ښه انتي بيوټيك باله سي خو دا د هري ناروغۍ څه چي د ځينـو مکروبونـو په هکله لا څه اغېزه نه ښندي. نو د هغو پر خپل سر خـوړل کېـداى سـي سـتر خطر ولري. ځيني ناروغان د پنسلين سره حساسيت لري. وايي چي په امريکـا کي په يوه کال کي په (۹۶) مورده کي ناروغان د پنسلينو د تزريق لـه املـه مـړه سول. په يوه بله څېړنه کي څرګنده سوې ده چي په ۱۹۵۷ کال په امريکا کـي د پنسلين په وسيله د ناسمي درملني له امله (۱۰۵۰۰) تنـو خپـل خـوږ ژونـد لـه لاسه ورکړ. تر دوهمي نړيوالي جګړې وروسته چي پنسلين نوي کشف سـول د هغو په هکله يو عجيب شورماشور رامنځته سو او ټولو فکر کـاوه چـي کېـداى سي په دغه معجزه لرونکي درمل د ډېـرو مکروبونـو نـوعۍ وايسـتل سـي. خـو اوس چي ډېر کلونه تېر سوي دي دې درمـل انسـان تـه ډېـره لـږ ګټـه ورسـول. اوس جوته سوې ده چي د پنسـلينو اسـتعمال انسـان ضـعيفه کـوي، عمـر يـې کموي، د بدن ويټامينونه يې سوځي او د بدن ګټوري باکټرياوي، پـه تېـره هغـه باکتریاوي چي په ګېډه کي ژوند کوي او ويټامين B توليدوي له منځه وړي.

په امريکا کي د ورځي ۲۵ ټنه آسپرين کارېږي چي په دې حساب هر نارينه، ښځي او کوچني ته دوې نيمي ګولۍ رسيږي. زمونږ ډېر خلك هم له درد څخـه

د خلاصون لپاره آسپرين استعمالوي. د بېلګې په توګه که د هغو پر غابښ درد وو، د دې پر ځاى چې د غابښو د درملګر سره اړيکي ونيسي د آسپرين د ګوليو خوړلو ته ترجيح ورکوي. که پر چوکۍ له ناسم کښېنستلو يا د يو بل ډول ساده پاړسوب څخه درد ورپيښ سو هم د درد ضد ګولۍ خوري. په داسي حال کي چي په دغو ټولو صورتونو کي ډاکتر ته تلل اړين دي. دردونه د يوې ناروغۍ نخښې ښي ټرګندوي چي بايد پام ورته وسي. مسکن درمل د هغو علاج نه بلل کيږي. له دغسي درملو خوړلو څخه سمدستي درد آراميږي، خو د ناروغۍ لاملونه نه ليري کوي. کله کله د ناروغ حالت دونه خراب وي چي د سمدستي توجه اړتيا ورته ليدل کيږي او کله بيا يو معمولي تکليف په ډېره لږ پاملرنه ليري کيږي.

له پورته خبرو څخه اټکل کېداى سي چي ټول درمل خطرناکه دي. تر څو چي د هغو په هکله بشپړه څېړنه نه وي سوې د درملو ډېر استعمال تر ګټې ډېر تاواني دى. خو په راډيو ګانو، ټلوېزيونونو او اخبارونو کي خپرېدونکي اعلانونه زياتره دغسي درمل داسي ښيي چي ګواکي دا د چاکلېټو غوندي بې ضرره دي او هيڅ کومي ضمني بدي اغېزي نه لري. مثلاً کوډين Codeine يا Methylmorphine (د ترياکو جوهر چي د درد د آراموونکي په توګه استعماليږي). قبضيتي دي. فيناسيټين (Phenacetin) پښتورګو ته تاواني دي. دپريسټامول (Paracetamol) زيات استعمال د اينې د خرابۍ لامل کيږي. د آسپرين د لږو خوړلو څخه هم کېداى سي له ګېډې او کولمو څخه ويني راوتل پيل سي. د برتانيې د يوه ډاکتر په وينا د دغه ځاى په آسپرينو د يوه مليون روږدو کسانو له ګېډو څخه ويني بهيږي.

د سټړيا، خواشينۍ، خلق تنګۍ يا د ډېري غم غوسې د ليري کونکو درملو بې ځايه استعمال هم تاواني دى. البته دا هم جوته ده چي د وخت په تېرېدو سره د دغو درملو د خوړلو په کچه کي زياتوب ته اړتيا رامنځته کيږي چي په پايله کي يې مور عادي کيږو او د هغو له خوړلو پرته زمونږ وضعيت نه سميږي. پرېشاني، درد او سټړيا زمونږ لپاره تنبيهي علايم دي، هغه بايد په درملو ليري نه سي، بلکي په دغسي صورتونو کي بايد د خپل ځان لپاره د

سمو او موافقو حالاتو د رامنځته کولو او زموږ په ورځنيو چاروکي د بدلون راوستلو په لټه کي سو او يا د ډېر درد په صورت کي د معالج ډاکټر سره اړيکي ټينګي کړو.

انساني ژوند له لوړو ژورو ډک دی، کله خوښي، کله غم او کله هم تنهايي پر موږ را چاپېره سي. که دا بدلونونه نه وي نو انسان خو مازي د يوه ماشين يوه پرزه جوړېږي. او که موږ خپل حالت په درملو کنټرول کړو نو زموږ ژوند ماشيني غوندي کيږي چي دا د انسان او ماشين په منځ کي د توپير له منځه تلو خبره ده.

## درمل بايد د ډاکټر په مشوره او بشپړ وخوړل سي:

لنډه دا چي درمل ګټور هم دي او تاواني هم، نو بايد د روغتيايي اصولو سره سم او د پوهو ډاکټرانو په مشوره استعمال سي. په دې باب له ډېر پخوا څخه زموږ ديني عالمانو لا په خپلو کتابونو کي توصيې کړي دي چي هيڅ درمل، په تېره هغه درمل چي په طبي کتابونو کي يې په هکله څرګندوني سوي وي د يوه ډاکټر او طبيب له مشورې پرته ونه خوړل سي. په دې هکله ستاسي پام د بېلګې په توګه د امام ابن حجر الهيتمي د الفتاوى الحديثية د (۴۴) مخ دې عبارت ته را اړوم: «ولاينبغي لا حد ان يستعمله الا بعد مشاورة طبيب حاذق وكذا سائر ما يرٰى في كتب الطب، ينبغي لمن يراه ان لا يقدم على استعماله الا بعد مشاورة الطبيب».

ژباړه: درمل بايد د يوه ډاکټر په مشوره وخوړل سي. دغه راز هغه درمل چي په طبي کتابونو کي يې په اړه څرګندوني سوي هم بايد د کتاب د مطالعې له مخي د ډاکټر بې مشورې ونه خوړل سي.

دلته يوه بله خبره هم د يادولو وړ ده او هغه دا چي د روغتيا نړيوالي ادارې څه مهال دمخه خبرورکړی دی چي د ستوني د خرابۍ يا غوږونو د انفکشن (Infection)؛ تبې، ګزك، عفونت (غوندي تکاليف چي به د انتي بيتيك په ذريعه په آساني سره ښه کېدل، ژر به د هغو درملنه ستونزمنه سي، يعني د دغو

ناروغیو مکروبونه به په ځینو هیوادونو کې د ملاریا او نرې رنځ غوندې د انټي بیټیکو په خلاف مزاحمت ایجاد کړي.

د دغې ادارې په یوه رپوټ کې ویل سوي دي چې پنسلین یانور انټي بیټیک درمل چې پخوا یې ساده انفکشن په آسانۍ سره لیرې کاوه، له دې وروسته به بې اغېزې سي.

البته دغې ادارې د دې ستونزې پېره د درملو پر ناسم استعمال اچولې ده او ویلي یې دي څنګه چې د دغسې درملو کم یا ناسم خوراك توصیه سي نو په بدن کې مکروبونه نه وژل کیږي او د درملو په وړاندې مزاحمت ایجادوي، تردې چې دغه درمل چې د ژوندانه د ژغورنې وړتیا لري په ځینو ناروغانو کې بیخي د یوه چاکلیټ حیثیت غوره کوي. د دې ستونزې بل لامل یې دا بللی دی چې ځینې ناروغان چې څه انټي بیټیك وخوري او لږ څه ښه سي نور درمل خوړل پرېږدي. څنګه چې د درملو خوړلوکورس بشپړ نه سي نو په جسم کې چې کوم جراثیم پاته سي هغه د دغو درملو پر ضد مقاومت پیدا کړي.

په امریکا کې بیا دغه ستونزه برعکس د درملو له ډېر استعمال څخه رامنځته سوې ده. هلته څېړنو جوته کړې ده چې یوشمېر ناروغانو ته په نا اړینه توګه انټي بیټیك ورکول کیږي چې په پایله کې په دغسې ناروغانو کې داسې باکټریاوې وده کوي چې د دغو انټي بیټیکو پر ضد زیاتې ځواکمنې وي. له دې امله د کاله په زرګونو وګړي د درملو د نه اغېزې له امله ناروغه یا مړه کیږي.

د سهیل ختیزې آسیا په بېلو بېلو سیمو کې د پنسلینو پر ضد مزاحمت دونه زیات سوی دی چې لس کاله دمخه د ټایفایډ (Typhoid)؛ لویې تبې علاج په درو ارزانو دواوو کېدی خو اوس دغه درمل په عامه توګه بې اغېزې سوي دي.

له بده مرغه زموږ ځینې هیواد وال رشتیا هم چې لږ درمل وخوري او ځان لږ څه روغ احساس کړي نو نور درمل نه خوري. له دې امله ناروغانو ته په کار ده چې په دغسې او نورو ټولو مواردو کې د ډاکټر لخوا توصیه سوې دوا په بشپړه توګه وخوري.

## په هغو درملو چې الكحل او داسې نور ګډ وي درملنه څنګه ده؟

لکه چې پوهیږو په ډېرو درملو یا شربتو او نورو، ان په ځینو ګولیو د «الکحل» (Alcohol) په نامه ماده ګډه وي. محمد زکریای رازي لومړی سړی وو چې د شرابو له تقطیر څخه یې دغه ماده په لاس راوړل او هغه یې الکحل وبلل. الکحل له آره عربي لفظ دی چې په عامه توګه شرابو ته کارول کیږي. وايي پلانی سړی الکحليست دی. يعني شرابي دی. په عامو لغتنامو کې یې هم الکحل شراب بللي دي. په ځینو ډکشینریو کې یې الکحل د شرابو روح او جوهر بللي دي. په المنجد کې ليکلي: «الکحل الاتيليك (Ethylic) یا الایتانول (Ethanol) کوم چې عام خلك یې السبيرتو (Spirituous) بولي، بې رنګه مايع دي چې خوږه لوړی بوی او تېز او سوځونکی خوند لري. د ځینو خوږو، دانو، پټاټو، لرګیو او نورو له تخمير څخه استخراجیږي او په کېمیاوي توګه هم جوړیږي. دا په جوهري (له ځینو میوو، دانو، او نباتاتو څخه خُلاصه سوو) مشروباتو کې راځي او د پاکوونکي او عطرونو او کريمونو د ویلي کوونکي مادې په توګه استعمالیږي». په فرهنګ عميد کې ليکي: «الکل (Alcool) فرانسوي لفظ دی چې له عربي څخه ماخوذ دی. د تند او سوځونکي خوند درلودونکی مايع دی او پر دوه ډوله دي: يو اتيليك الکل چې په ټولو خمري چيښاکونو، شرابو، عرقو او د هغو په امثالو کې موجود دي او د انګورو یا کشمشو له شرابو څخه اخيستل کيږي. او بې رنګه مايع دي چې مطبوع بوی او تند خوند لري. په هوا کې د آبي کم رنګي لمبې په کولو سره سوځي. او زياتره د الکلي مشروباتو په توګه مصرفيږي.په داروخانو کې هم کارول کیږي. بل ډول يې ميتاليك الکل دي چې د لرګي له تقطير څخه په لاس راځي او هغه ته د لرګي عرق يا د لرګي الکل يا صنعتي الکل هم وايي. د چيښلو وړ نه دي او په صنعت او طبابت کې په کاريږي».

د «ملټی نیشنل کمپنیون کی اسلام دشمنی» کتاب په (۱۱۱) مخ کې ليکي: شراب عموماً په خپلو معروفو نومونو په شيانو کې نه ګډوي خو د شرابو مؤثر جز «الکحل» (Alcohol) زياتره په انګريزي درملو ياشربتو او نورو هم ګډوي. د طبي نقطۀ نظره «الکحل» هغه ماده ده چې په شرابو کې اثر ښندي.

په کومو شرابو کي چي د «الکحلو» مقدار هرڅونه زيات وي هغونه تېز وي. او هر څونه چي الکحل په شرابو کي لږوي هغو نه کمزوري وي.

ښه نو که په درملو کي ګډ الکحل يا په نورو مواردو کي د الکحلو په نامه استعمالېدونکي مواد شراب وي، نو د دغسي درملو د خوړلو حکم له شرعي نظره څنګه دی؟

مولانا خالد سيف الله رحماني د «جديد فقهي مسائل» په (۲۰۱) مخ کي د «په الکحلو کي د ګډو درملو استعمال» تر سر ليك لاندي ليکي:

«دا منلی حقيقت دی چي الکحل شراب او يو نشه راوړونکی شی دی او له دې امله حرام دی. شراب چيښل غټه ګناه ده او د سخت عذاب باعث ګرځي. نو د مازي خوند يا د ښکلا د زياتوالي يا د قوت لپاره د هغو مشروباتو استعمال چي الکحل په ګډ وي درست نه دی. البته د درملو او علاج په هکله څنګه چي دا يو ډول ضرورت او مجبوريت دی د فقهاوو د دې عام اصل سره سم چي «ضرورت ناجايزه شيان هم روا کوي» د هغو درملو استعمال به چي الکحل په ګډ وي درست وي. د فقهي په کتابونو کي په دې لړ کي ځيني صراحتونه موجود دي: شرب البنج للتداوي لاباس به (خلاصة الفتاوٰی ۴/ ۲۰۴مخ). يعني د درملني لپاره د بنګوپه څکولو کي کوم حرج نسته.

هل يجوز شرب القليل من الخمر للتداوي إذا لم يجد شيئاً يقوم مقامه؟ فيه وجهان (فتاوٰی عالمګيري۴/ ۱۱۲). يعني کله چي د شرابو کوم معادل پيدا نه سي، نو د هغو لږ چيښل د درملني لپاره جواز لري؟ په دې کي د فقهاوو دوې رايي دي ځينو جايز او ځينو ناجايز بللي دي.

البته که د دغسي درملو کوم بل معادل درمل موجود وي نو له هغو څخه پرهېز په کار دی. شراب يوازي حرام نه، بلکي ناپاك هم دي. او د ناپاکو شيانو نه يوازي د ننني استعمال، خوړل، چيښل او نور ناجايزه دي، بلکي د هغو خارجي استعمال، يعني پر بدن وهل او نور هم جايز نه دي. له دې څخه د سپرټ او ټينکچرو او نورو حکم هم معلومېږي چي بيله اړتيا د هغو لګول هم درست نه دي. ځکه چي په هغو کي هم شراب ګډ دي. البته د علاج په توګه دضرورت له مخي به د هغو لګول هم درست وي».

داسي ښكاري چي په حرامو او ناپاكو شيانو باندي د درملني په هكله ځينو فقهاوو اجازه وركړې، خو په كمزورو دلايلو اوپه ډېر احتياط او د ځينو شرطونو او قيدونو سره. په دې هكله د درالمختار دې عبارت ته پام وكړئ:

اختلف في التداوي بالمحرم وظاهر المذهب المنع كما في رضاع البحر. لكن نقل المصنف ثمة وهنا عن الحاوي وقيل يرخص إذا علم فيه الشفاء ولم يعلم دواء آخر كما رخص للعطشان وعليه الفتوى (د رد المحتار د ۱/ ۱۹۴مخ هامش).

ژباړه: په حرامو د درملني په هكله يې اختلاف كړى دى. او ظاهره مذهب يې د منعي پلوى دى، لكه چي د بحر الرائق كتاب د رضاع په باب كي ويل سوي دي. خو مصنف د حاوي كتاب په حواله وايي چي چا ويلي دي: كه د يو چا علم ورسيږي چي په كومو درملو كي شفا ده او پوه سي چي ناروغي يې بله دوا نه لري نو هغه ته د دغسي درملو استعمالول رخصت دي، لكه چي تږي ته د حرامو (شرابو) د چيښلو په هكله رخصت وركړه سوى دى او پر دې قول فتوٰى ده.

په دې هكله علامه شامي رحمه الله هم د ردالمحتار په ۱/ ۱۹۴، ۲/ ۵۵۵، ۴/ ۱۵۶، ۴/ ۲۹۸، ۵/ ۳۴۲مخونو كي څرګندوني كړي او د ځينو كتابونو عبارتونه يې نقل كړي دي. خو داسي ښكاري چي هغه هم د دې رايي پلوى نه دى. ځكه د ردالمحتار په ۵/ ۳۴۲مخ كي ليكي چي: «مذهب د دې خبرو خلاف دى».

په دې صورت كي خو په دې د چا علم نه رسيږي چي دا درمل به په رشتيا د دې ناروغۍ لپاره شفا وي كه څنګه؟ ان دا خبره كه د طبيب لخوا وي لا هم د منلو نه ده. ځكه د ډاكټر خبري خو د تجربې له مخي دي چي دا علم يا يقين نه بلكي غالب ظن باله سي.

نو لكه چي څرګنديږي دا خبري د تامل وړ دي.

لاندي خبري تولي د دې خبرو خلاف ښكاري، نو راځئ ويې لولو:

## د قرآن كريم لارښووني:

لوى څښتن په قرآن كريم كي فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ ۝٩٠﴾ [المائدة: ۹۰].

ژباړه: «ای مومنانو! دا شراب، قمار، بتان او د فال اچولو لپاره غشي ویشتل ټول ناولي او د شیطان کارونه دي نو ځانونه ځني وساتئ څو وژغورل سئ».

بل ځای فرمایي:

﴿۞يَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلۡخَمۡرِ وَٱلۡمَيۡسِرِۖ قُلۡ فِيهِمَآ إِثۡمٞ كَبِيرٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثۡمُهُمَآ أَكۡبَرُ مِن نَّفۡعِهِمَاۗ﴾ [البقرة: ۲۱۹].

ژباړه: «ستا څخه د شرابو او قمار په هکله پوښتنه کوي ور ته ووایه په دواړو کي لویه ګناه ده. که څه هم د خلکو لپاره به څه ګټي هم پکښې وي، خو ګناه یې تر ګټي ډېره زیاته ده».

یادونه: ځیني محقق اسلامي طبیبان او عالمان وایي: دا چي لوی څښتن د شرابو په هکله فر مایلي چي: ﴿وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ﴾ یعني په شرابو خوړلو کي خلکو ته ګټي دي. له دې څخه مراد د وجود روغتیا او ګټه نه ده، بلکي د هغو له چیښلو څخه ظاهري خوند مراد دی. یا هغه مادي ګټي ځني مراد دي چي د شرابو د تجارت له لاري یې په لاس راوړلې. خو جوته خبره دا ده چي شراب له اصله صحت اوعقل ته مضر او مهلك دي.

بل ځای لوی څښتن فرمایي:

﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ﴾ [الأعراف: ۱۵۷].

یعني «هغه امي پیغمبر پاك شیان حلالوي او ناپاکه حراموي».

(د دې آیت په استناد پوهان وایي: هر هغه څه چي روغتیاته ګټه رسوي هغه پاك او طیب دي او هر هغه څه چي ضرر ورته رسوي هغه ناپاکه او خبیث دي).

نو لکه چي له دغو آیتونو څخه ښکاري خدای تعالی شراب رجس او ناولي (ام الخبائث) بللي دي.

## د احاديثو لارښووني:

بخاري له حضرت ابن مسعود څخه تعليقاً ذ کر کوي: «ان الله لم يجعل شِفاءَ کم فيما حرم عليکم» يعني: لوی څښتنﷻ تاسي ته په هغو کي چي پر تاسي يې حرام کړي دي شفا نه ده ګرځولې.

(دغه حديث بخاري د کتاب الاشربة، د باب شراب الحلواء والعسل په لومړيو کي ذکر کړی دی او ابوحاتم بن حبان په خپل صحيح کي له رسولﷺ څخه روايت کړی دی).

دغه راز په صحيح مسلم کي له طارق بن سويد الجعفي څخه روايت دی چي هغه د شرابو په هکله له رسولﷺ څخه پوښتنه وکړه. رسولﷺ هغه منع کړ يا يې د شرابو جوړول بد وګڼل. طارق ورته وويل: زه يې د درملو لپاره جوړوم. رسولﷺ وفرمايل: «إِنَّهُ لَيْسَ بِدَوَاءٍ وَلَكِنَّهُ دَاءٌ» (کتاب الأشربة، باب تحريم التداوي بالخمر (۱۹۸۴) حديث. يعني: شراب درمل نه بلکي ناروغي ده. (چي دا په شرابو سره د درملني په هکله د منعي قطعي نص او دليل دی، او نور ټول محرمات د قياس له مخي همدغسي باله سي).

په ترمذي، ابوداود، ابن ماجه او نورو کي له حضرت ابوهريرهؓ څخه روايت دی چي: «نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الدَّوَاءِ الْخَبِيثِ» (مشکٰوة کتاب الطب ۴۵۳۹ حديث). يعني: رسولﷺ له خبيثو او ناپاکو درملو څخه منع وفرمايل.

ابوداود، نسائي او نورو روايت کړی دی چي يوه درملګر له رسولﷺ څخه په درملو کي د چونګښي د ګډولو په هکله پوښتنه وکړه رسولﷺ د هغې له وژلو څخه او په درملو کي د هغې له کارولو څخه منع کړ. (ځکه چي په حرامو له درملني منع راغلې ده). (اشعة اللمعات، ۳/ ۶۰۹). (د چونګښي د وژلو څخه منع د دې د مردار والي او د هغې له خوړلو څخه د خوا ګرځېدو او حراموالي له امه وه). (مرقات، ۸/ ۳۱۴مخ).

عبدالله بن عمر وايي چي ما له رسولﷺ څخه واورېدل چي: «که زه ترياق (يوډول درمل) وخورم يا د جاهليت د وختو تعويذونه، مرۍ اوداسي نور په

غاړه کړم یا زه له خپله ځانه شعر ووایم، نو زه به له هغو کسانو څخه یم چې د هیڅ ناوړه کار د تر سره کولو پروا نه کوي».

د احادیثو شارحین د دې حدیث په تشریح کې وایي چې څنګه چې د تریاقو په نامه درملو کې د مار غوښې او شراب ګډ وي او له دې امله حرام او نجس دي نو رسولﷺ له هغو بد وړل.

دیادوني وړ ده چې پورتني ټول حدیثونه د محدثینو لخواصحیح بلل سوي دي.

## د محدثینو اقوال:

شیخ عبدالحق محدث دهلويؒ د اشعة اللمعات په ۳/ ۶۰۷مخ کې وایي:

«په ځینو فقهي روایتونو کې راغلي دي چې که پوه طبیبان اتفاق وکړي چې دغي ناروغۍ لره بېله دغو درملو بل درمل نسته، په هغه تداوي جایزه ده. خو باید وویل سي چې د پوهو طبیبانو وجود او په یوه شي کې د درملني پر انحصار د دوی اتفاق متعذر دی».

پر مشکوٰة باندي د ملاعلي قاري هرويؒ د شرحي مرقاة المفاتیح له ۸/ ۳۱۰، ۳۱۱ مخونو څخه جوتیږي چې: په خبیثو، نجسو او حرامو درملنه د امام ابو حنیفهؒ په نزد حرامه ده.

امام ابن حجر شافعيؒ د فتح الباري په ۱۰/ ۱۰۱ او ۳۰۵ مخونو کې وایي: «په صحیحو احادیثو کې په شرابو له درملني څخه د حراموالي او نجاست او خباثت له امله صریح منع راغلې ده او صحیح مذهب هم همدغه تائیدوي».

د درس ترمذي په ۱/ ۲۹۱ مخ کې لیکي:

«څوك كه د اضطرار په حالت کې وو او ځان یې په خطر کې وو او بېله حرامو درملو په بل څه نه ژغورل کېدی، نو په حرامو درملنه د ضرورت په اندازه په اتفاق جایزه ده او بېله دغه حالته د ناروغۍ د لیري کولو لپاره په حرامو درملنه د امام شافعي، امام اعظم او امام محمد په نزد مطلقاً ناجایزه

ده. او د امام ابویوسف په نزد که کوم پوه (حاذق) طبیب دا پریکړه وکړي چې له حرامو درملو پرته د ناروغ ژغورنه شونې نه ده نو په دې صورت کې به په حرامو تداوي جایزه وي».

امام ابن قیم جوزیه په الطب النبوي (۱۱۷) مخ او زادالمعاد (۳/ ۱۵۲) مخ کې لیکي:

«په محرماتو معالجه عقلاً او شرعاً بده او قبیح ده. ځکه پر دې امت باندي محرمات د هغو د خبث (ناولتیا) او له هغو څخه د ژغورني او د هغو له خوړو څخه د صیانت او ساتني له امله حرام سوي دي. نو دا مناسبه نه ده چې په هغو له ناروغیو شفا وغوښتل سي. ځکه که حرام درمل د بدني ناروغۍ په لیري کولو کي اغېز وښندي خو زړه به یې د خباثت له امله په ډېره لویه ناروغي اخته کړي. نو په حرامو تداوي به د زړه د ناروغۍ په بیه د بدن روغتیا وي».

حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمایي: «یوه غلطي دا عامه سوې ده چې د ناروغ په درملنه کي د پاکو او ناپاکو او حلالو او حرامو درملو ته پام نه کوي او بېله څېړني او پوښتني او ګروېږني او بېله شدیده ضرورته حرامي اونجسي دواوي ورکوي، چې دا سخته لویه غلطي ده». (اغلاط العوام ۲۰۴ مخ).

## د فقهي احکام:

په درالمختار او د هغه په حاشیه ردالمحتار کي وایي: «د شرابو لږ (یو څاڅکی) او ډېر د هغو د مغلظ نجسوالي له امله حرام دي. حلال بلونکی یې کافر کیږي او په درملو او نورو کي له هغو څخه استفاده هم حرامه ده خو که څوك پر دې وبېرېدی چې له تندي مري او بېله شرابو یې بل څه ونه موندل، د ضرورت په اندازه یې چیښل جواز لري. او په شرابو درملنه هم په معتمد قول حرامه ده». (وګورئ ردالمحتار ۵/ ۳۹۷، ۳۹۸مخونه).

د بحر الرائق په ۳/ ۳۳۹مخ کي لیکي: «په ظاهر المذهب په حرامو درملنه روا نه ده».

د حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانويؒ په امداد الفتاوی کي لـه ۴/ ۲۰۵تر ۲۱۲ مخونو پوري له هغه څخه د حرامو درملو او داسي نورو پـه هکلـه سوي پوښتني درج دي چي د ټولو د جوابونو لنډيز دادی: فقهاوو تصریح کړې ده چي نجس شی سپي ته لا مه اچوئ. محرم الاستعمال شی کفارو ته هم مه ورکوئ. متقدمینو د ضرورت په وخت کي د حرامو درملو استعمال هـم جـایز نه دی بللی، خو متاخرینو د ضرورت په وخت کـي اجـازه ورکـړې ده احـوط د متقدمینو قول دی. د هغو انګریزي درملـو چـي پـه هغـو کـي د شـرابو او نـورو حرامو شیانو ګډون یقیني دی خوړل او سر بېره پر بدن وهل که د اضـطرار پـه حالت کي وي اتفاقاً مباح دي او که د اختیار په حالت کي وي که غالب ګومان دا وي چي شفا نه ځي حاصلیږي په اتفاق حرام دي. او که غالب ګومان دا وو چي شفا ځني حاصلیږي او د هغـه معـادل درمـل نـه وه پـه دې صـورت کـي د علماوو تر منځ اختلاف دی ځینو جایز بللي ځکه چي رسولﷺ د عرینه قبیلې څو وګړو ته د اوښو د متیازو د چیښلو اجازه ورکړې وه او ځینـو ناجـایز ګڼلي دي او وایي چي عرینه قبیلې ته د منسوبو کسانو په هکله حدیث منسوخ سوی دی (د تیسیر القاري په ۵/ ۲۸۲ مخ کي د عـرنيين حـديث پـه شـرح کـي وايـي کېدای سي دغه حکم په حرامو د علاج تر منعي دمخه وي). نو امتناع يې تقوا ده او انتفاع يې فتوا. دغـه راز پـه کومـو انګریـزي درملـو چـي پـه يقـين سـره د شرابو جوهر او داسي نور ګډوي استعمال یې جایز نه دی.

سید سابق په فقه السنه ۲/ ۱۷ مخ کي لیکي: «په شرابو باندي د درملني پـه هکله علماوو اختلاف کړی دی، چا منع کړې او چا مباح کـړې ده. خـو راجـح منع ده. ځکه شراب خلکو د جاهلیت په زمانه کـي د تـداوۍ لپـاره خـوړل. نـو کله چي اسلام راغی مسلمانان يې په شرابو له تداوۍ څخه منـع کـړل او ورتـه حرام يې کړل».

یادونه:

د فقهي اصولو او احکامو له مخي مفتي بایـد پـر راجـح قـول فتـوا ورکـړي. (فتوٰی نویسي کی رهنمـا اصـول ۴۲ مـخ. دغـه کتـاب د علامـه شـامي د نـامتو کتاب شرح عقود رسم المفتي په رڼا کي لیکل سوی دی).

د الفقه الاسلامي وادلته په ۳/ ۵۲۲ مخ کي وايي: «د څلورو واړو مذهبونو امامان وايي چي: په راجح قول د درملني لپاره له شرابو او نورو ټولو مسکراتو څخه ګټه اخيستنه حرامه ده. لکه په غوړيو، او خوړو کي د هغو کارول او د درملو په ويلولو او داسي نورو کي د هغو استعمال. ځکه رسولﷺ فرمايي: «لوی څښتن ستاسي شفا په هغو نه ده ګرځولې چي حرام دي». خو حنفيه وايي: په حرامو درملنه هله رواده چي په يقين سره پوه سي چي په هغې کي شفا ده، او بل معادل درمل يې نه وي. اما په ظن او ګومان سره درملنه نه ده په روا. او د طبيب په قول يقين نه حاصليږي. همدا شان د سرکوزي په غوښو هم د درملني رخصت نسته.

دغه راز په الفقه الاسلامي وادلته (۷/ ۵۴۹۳ ـ ۵۴۹۶ مخونو کي د قرآن کريم او احاديثو په استناد د نسبتاً اوږده بحث په ترڅ کي وايي: «څنګه چي شراب محرم العين دي د هغو هم لږ او هم ډېر خوړل حرام دي. او د خوړلو رخصت يې هم د تندي او په زوره چيښلو (اکراه) پرمهال د ضرورت د رفعي په کچه ښوول سوی دی او وايي چي د درملني او نورو لپاره له هغو څخه ګټه اخيستنه جايزه نه ده، ځکه چي لوی څښتن زموږ شفا په هغو نه ده ګرځولې چي پر موږ يې حرام کړي دي».

د کتاب الفقه على المذاهب الاربعه په ۲/ ۱۲ مخ کي ليکي: «په شرابو تداوي پر معتمد قول حرامه ده. او د امام محمدؒ په قول يې د مسکرو (نشه کوونکو) په لږو او ډېرو درملنه حرامه بللې ده، او دا قول يې معتمد ګڼلی دی». دغه راز د دغه کتاب په ۵/ ۲۶ مخ کي ليکي: «احناف وايي چي کله کوم خواړه په ستوني کي بند سي د شرابو خوړل د ستوني د خلاصېدو لپاره يا د شديدي تندي د ماتېدو لپاره که بل څه مونده نه سي په هغه اندازه چي ضرورت وي جايز دي. ځکه چي په دې سره د روح بقا راځي او دا پر مسلمان واجب باله سي. او دا د اضطرار حالت بلل کيږي. خو په شرابو درملنه صحيح نه ده».

د «د واړو جهانو سردار ارشادات» د کتاب په ۱۱۲ مخ کي د «په حرام او ناپاك څيز علاج مه کوئ» تر سر ليك لاندي په دې هکله د احاديثو تر راوړلو وروسته په حرامو د درملني نه کولو د حکمت په هکله داسي ليکي:

«د حرامو او ناپاکو څيزونو مثلاً شراب، افيم، چرس، بهنګ او داسي نورو څيزونو نه بنده ته هسي هم کرکه ورځي د بيمارۍ په حال کښي طبيعت هسي هم نازك شي. ځکه نو که مريض له داسي داروګان ورکړی شي چه په هغې کښي دا څيزونه ګډ وي نو مريض ته به سخته کرکه ورځي او د فايدې په ځای به ورته نقصان رسوي. دغه شان ځيني خلك په داروګانو کښي د مردارو او ناپاکو ځناورو اعضاء شاملوي، لکه چونګښه، شر مښکی، موږك، سپی، پيشو، مچ او شرمښ وغيره او وژلی شي. او هم دغسي يا د ځينو اعضاوود اچولو نه پس دا داروکښي ګډ کړی شي يا وسوځولی شي او بيا داروکښي واچولی شي. که مريض ته دا معلومه شي چي په دې داروکي څه ګډ کړی شوي دي نو هغه به بې نيتې مړ شي. ځکه حضورﷺ د حرامو او ناپاکو څيزونو په ذريعه علاج کول منع فرمايلي دي».

## سپرټ او ټنکچر:

د سپرټو، ټنکچرو او داسي نورو په هکله د ډاکټرانو څېړنه داده چي دا د «شرابو جوهر» دي. البته په هغو کي د زهرو اجزا هم ګډ دي. کوم څه چي شراب وي په مفتي به قول د هغو په لږو او ډېرو کي توپير نسته. لږ وي که ډېر وي حرام به وي او له دې امله به ناپاك هم وي. نو له دې امله د سپرټو او ټنکچرو لګول درست نه دي او که ولګيږي پرېولل به يې واجب وي. خو که د درملو په توګه کارول کيږي او په عوض يې کوم بل درمل نه موندل کيږي يايې د ترلاسه کولو توان نه وي يا د هغو د موندلو تر مهاله ناروغي زياتيږي او شدت اختياروي په دې صورت کي به يې استعمال درست وي. د امام ابوحنيفه مسلك دادی چي په حرامو شيانو درملنه نه سي کېدلای. خو نوروا حنافو يې د جواز فتوٰی ورکړې ده. حديث هم د دې تائيد کوي. لکه چي

رسولﷺ د عرينه قبيلې وګړوته د اوښو د بولو د چيښلو حکم وفرمايه. (جديد فقهي مسائل ۱/ ۳۷مخ).

يادونه:

د جواز د فتوا او د حديث العرنيين په هکله په څه وړاندي پاڼو (۱۹۱) مخ کي هم خبري وسوې.

د لنډيز په توګه:

د پورتنيو تفصيلاتو تر ليکلو وروسته د محمد عبدالحی لکهنويؒ د مجموعة الفتاوٰی دې حکم ته ستاسو پام را اړوم: «در ودائيکه آميزش شراب اگرچه يك قطره هم باشد، يقيني يا ظني باشد نوشيدن آن دوا حرام است» (وګورئ د خلاصة الفتاوٰی مع مجموعة الفتاوٰی ۴/ ۳۷۲مخ).

**هيله:**

په درملو ګډ الکحل چي په هر نامه وبلل سي اوله هر شي څخه چي جوړ سوي وي که نشه کوونکي وي، يعني که يې څوك يوازي وخوري د معروفو شرابوغوندي يې نشه کړي يا يې روغتيا ته تاوان ورسوي، نو هغه شرعاً خمر (شراب) دي او خوړل يې حرام بلل کيږي. البته که کوم ډاکټر يا کېميا پوه په درملو يا ځينو نورو شيانو د الکحلو په نامه ګډ توکي هغه شراب نه بولي چي نشه کوونکي، صحت ته مضر او حرام دي نو لطفا دي پر پورتنيو څرګندونو باندي له شفاهي اعتراضونو څخه ډډه وکړي. ځکه دا خبري تولي د لويو پوهانو او اسلامي عالمانو له ليکنو څخه ليکلي سوي دي. په دې هکله که د ده خبري واقعاً مستندي وي ځان ته دي لږ تکليف ورکړي او د دغو د ده په وينا جايزو الکحلو په هکله دي يوه هر اړخيزه ليکنه وکړي څو نور پوهان پر هغې جر او بحث وکړي او په پايله کي په دې هکله حقايق څرګند او خبره سپينه سي.

## ځيني شرعي حکمونه:

امام ابوحنيفهؒ ويلي دي: د انسان د مکرم والي له امله د هغه له اجزاوو څخه ګټه اخيستل جايز نه دي. دغه راز امام صاحب وايي: چي د سرکوزي له

ځرمني او نورو څخه دي ګټه نه اخيستل کيږي. خو له وربښتانو څخه يې ګټه اخيستل پروا نه کوي. خو امام ابويوسف‌رحمه الله وايي لـه وريښـتانو څخـه يـې هـم ګټه اخيستل مکروه دي اما د امام صاحب خبره غوره ده.

که پوه طبيب ناروغ ته ووايي چې ستا ناروغي د ځيرګي يا مار لـه غوښـو پرته او يا له هغو درملو پرته چې د مار پوست په ګډوي نه ښه کيږي نـاروغ تـه يې خوړل روانه دي. (عالمګيري۵/ ۳۵۴، ۳۵۵مخونه بحر ۵/ ۳۳۹مخ).

که طبيب نـاروغ تـه ووايـي چې تـه بايـد د سـرکوزي غوښـي وخـوري څـو ناروغي در څخه ليري سي، نـاروغ تـه يـې خـوړل روا نـه دي. (بحـر الرائـق۵/ ۳۳۹مخ).

## نيم پيازه او بې سنده ډاکټران:

که تاسي ته کومه ناروغي پېښه سي در ملنه يې هرو مرو کوئ. که ډاکټر تـه اړتيا پيدا سي تر ټولو ډېر ښه او پوه ډاکټر ته مراجعه کوئ. په دې هکله رسـول ﷺ همدغسي لار ښوونه کړې ده. خو هوښ کوئ چي جاهل، نـيم پيـازه او بـې سنده طبيب ته ورنه سئ.زموږ زياتره کارونه همدغسي نيم پيازه ډاکټرانـو، نـيم پيازه انجنيرانـو او نـيم پيـازه سياسـتوالو را وران کـړي دي. وايـي «نـيم حکـيم خطره د ځان».

له بده مرغه څنګه چي زموږ د هيواد سياسي حالت سم او عادي نه دی، نو له دغي وضعي څخه په استفاده د جاهلو او بې اسـنادو نيمچـه ډاکټرانـو او پـه اصطلاح يوناني طبيبانو خولې په غـوړو کـي سـوې ده او دغسـي پـه اصـطلاح ډاکټران او طبيبان څنګه چي په طبابت کي بشپړ تحصيلات او معلومـات نـه لري د انسانانو په روغتيا لـوبي کـوي او ناروغـانو تـه کلـه نـا کلـه داسي درمـل توصيه کـوي چي د هغـو د نـاروغيو د لازيـاتوب او ان بيخي د هغـو د مړيني سبب ګرځي.

اسلامي شريعت دولت مکلفوي او د هغه دنده يې بولي چي دغسـي نـاپوه طبيبان د طبابت له کاره منع او ګوښه کړي. په دې هکله د فقهي په کتابونو کي ځرګند احکام موجود دي او دا د امر بـالمعروف او نهي عـن المنکـر لـه چـارو

څخه بولي. زموږ د مذهب امام حضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په هماغه خپل مهال کي لا دا موضوع ډېر ه مهمه ګڼلې وه او د عمومي ضرر د دفعي او عامه مصلحت لپاره يې د جاهل طبيب د حجر او منعي حکم ورکړی وو. د اسلامي نړۍ نامتو عالم حضرت امام غزالي رحمه الله وايي: «اسلامي شريعت د دې لپاره راغلی دی چي د خلکو دين، ځانونه، عقلونه، عزت، شته او ژوند وساتي او هر څه چي دې شيانو ته ضرر وي له منځه وړل يې د امکان تر پولي واجب بولي». رسول ﷺ وايي: «څوك چي نه پوهيږي او د طبابت کار کوي که يې چاته تاوان ورساوه تاوان به ورکوي». وګورئ ابوداود ۴۵۸۶حديث، ابن ماجه ۳۴۶۶حديث، نسايي ۸/ ۵۲ مخ او دغه حديث حسن بلل سوی دی.په دغسي مواردو کي دغسي جاهل طبيب بايد قانوناً تعقيب او محکمې ته معرفي سي. د فقه السنه په ۳/ ۸۲مخ کي وايي: «ټول عالمان بېله اختلافه او په يوه خوله وايي چي که کوم څوك په طبابت کي نيمګړې پوهه ولري او د ناروغ داسي درملنه وکړي چي ناروغي يې نوره هم زياته سي نو هغه د خپل دې جنايت مسؤول او د تاوان په ورکولو مکلف دی».

له بده مرغه زموږ په هيواد کي طبابت ډېر وروسته پاته دی. خلك مو له ډول ډول ناروغيو سره لاس او ګرېوان دي. خو نه سمه درملنه سته، نه سم درمل او د درملني وسايل، نه سم درمل ځايونه سته او نه دې چارو ته لکه څنګه چي ښايي هغسي پاملرنه سوې ده. د طبابت په هکله د نوو پرمختګونو، تجربو او معلوماتو په هکله خپرونو او کتابونو او داسي نورو ته زموږ د ډېرو لږو ډاکټرانو لاس رسيږي.

له بله پلوه چي زموږ بې وزلي ناروغان ډاکټرانو ته ورځي زيات ډاکټران داسي عادت لري چي څنګه چي ناروغ د خپلي ناروغۍ په هکله په توضيح پيل وکړي او چي خبري يې لا خلاصي سوي نه وي ډاکټر د نسخې په ليکلو پيل کوي. په دې صورت کي څنګه کېدای سي د ناروغۍ علت تشخيص کړي؟

ډاکټر نه يوازي بايد ناروغ جسماً معاينه کړي، بلکي روحاً يې هم معاينه او معالجه کړي. ډاکټر بايد د ناروغ سره ډېره ښه وضع وکړي، په مهرباني او

ورین تندي خبري ورسره وکړي او په ناروغ کي داسي قوت قلب ایجاد کړي چي د هغه د دننني ځواك او خوښیو په تحریکولو سره د هغه د قطعي درملني موجبات برابر کړي. د ډاکټر لفظ له یوې لاتیني کلمې څخه مشتق سوی دی چي د ښوونکي یا هدایت ورکوونکي معنا ورکوي. له دې څخه باید وپوهیږو چي ډاکټر یو حکیم او ښوونکی دی نه یوازي د څو ګولیو، شربتو یا پیچکاریو توصیه کوونکی.

بل چي ډېر مهم دی د ډاکټر درملځی او کتنځی دی. د زیاترو ډاکټرانو کتنځي داسي چټل او ناپاکه وي چي د ناروغ یې په لیدو سره د ډاکټر او د هغه له درملني خواتوره سي او کرکه یې ځني وسي. په تېره چي بیا ډاکټر ناروغ ته د ده د اړوند درملتون څخه د درملو د رانیولو توصیه وکړي. دا خبره خو نو ناروغ ته د قوت قلب پر ځای دا تلقین کړي چي دې ډاکټر صاحب چي دا دونه ډېره دوا درته ولیکل حتماً یې مطلب د خپل اړوند درملتون درمل خرڅول او تېرول دي، نه زما درملنه. بیا که کوم ناروغ د دغه ډاکټر صاحب نسخه بل درملتون ته ور هم وړي په داسي مېخي یا هیروغلیف لیك یې لیکلې وي چي بېله ده او د ده د اړوند درملتون د کارکوونکي پرته یې بل هیڅوك نه سي لوستلای. په دې توګه ناروغ له دغه وخته لا د ده پر درملو او درملنه بې باوره سي. نو تاسي فکر وکړئ چي که ناروغ ته د علاج په هکله دغسي فکر پیدا سي څنګه به روحاً معالجه، تسکین او تسلی سي؟

د اوسني دولت له چارواکو څخه خو دا هیله نه سي کېدلای چي د ډاکټرانو د کتنځیو او درملتونونو اړیکي دي وشلوي. په دې هکله دي خپله ناروغ پام او کوښښ وکړي چي دغسي دوافروشو ډاکټرانو ته ورنه سي.

دا چي د ډاکټرانو، شخصي روغتونونو او نورو روغتیایي خدماتو فیسونه او د درملو بیي نه دي معلومي او وخت په وخت نه کنټرولیږي دا بیا د دې ساحې داسي ناروغي ده چي د علاج توقع یې نه کیږي. دغه لامل دی چي په دې وروستیو کي په هیواد کي ځیني داسي شخصي روغتونونه راوتلي دي چي د خلکو غولولو او چورولو ته یې ملا تړلې ده.

زموږ په کورنۍ کي يوه تن ته د حساسيت (د بدن د کا يا خارښت) تکليف پيښ سو. تر زياتي بې ګټې درملني وروسته مو له ټلويزيون څخه واورېدل چي د کابل په خيرخانه مېنه کي د افغان روغتون په نامه شخصي روغتون د حساسيت د واکسينونو په تطبيق سره د دغي ناروغۍ علاج کوي. موږ هم په خپل هيواد کي د دغسي پرمختيا د رامنځته کېدو له امله په ډېره خوښي سره کابل ته د تللو زحمت او لګښت پر ځان ومانه. هلته يې تر څو ډوله ټيسټونو وروسته د نسبتاً زياتو پيسو په بدل کي واکسينونه راکړل او د ډاکټر توصيه سوي درمل مو هم د دغه روغتون له درملتون څخه واخيستل. خو باور وکړئ چي دغو واکسينونو او درملو هيڅ ګټه و نه کړه. بلکي هم بې ځايه سرګرداني را باندي تېره سوه او هم مو لګښت هدر ولاړ.

## پاکستاني زښت ګران او هندي بې اغېزي درمل:

په ځينو مواردو کي زموږ ډاکټران هم نه دي ملامت. زموږ په ډاکټرانو کي ډېر ښه او پوه ډاکټران او د ډېرو ښو استعدادونو خاوندان سته. خو څنګه چي زموږ د زياترو خلکو اقتصاد ضعيف دی نو ډاکټران زياتره ناروغانو ته ارزانه درمل ليکي. خو له بده مرغه چي زياتره ارزانه درمل جعلي، بې کيفيته او د لږو مؤثره موادو درلودونکي وي. د بېلګې په توګه اوس زموږ هيواد ته ډېر هندي، چينايي او پاکستاني او نور درمل راځي چي بيه يې خورا ټيټه او بېخي ارزانه ده. دا له دې امله ده چي تقريباً ټول دغسي درمل جعلي او بې کيفيته دي. په دغسي درملنه خو نه داچي ناروغ نه ښه کيږي، بلکي ناروغي يې لا زياتيږي او هغه لږ پيسې يې هم هدر ځي. له بلي خوا هم ډاکټر په بدنامه کيږي او هم د اصلو درملو د واردو نکو او زموږ د هيواد داقتصادپه تاوان تماميږي.

ځيني ډاکټران بيا د خپلو اصولو له مخي ناروغانو ته د معتبرو کمپنيو ډېر بيي درمل تجويزوي. له بده مرغه بهرني درمل بېخي ډېر ګران دي. په دغو درملو کي بايد پاکستاني درمل ارزانه وای ځکه يو خو يې خام مواد په پاکستان کي پيدا کيږي او په پاکستان کي د کارګرانو کار هم ارزانه دی او بل

يې افغانستان ته پر راوړلو دونه لګښت نه راځي. خو د پاکستان درمل ان تر ځينو نورو باندنيو درملو لا ګران دي.

زما په ګومان په دې هکله ستونزه بل ځای ده. پاکستان خو د امريکايانو او لوېديزيانو يو نيمه مستعمره غوندي هيواد دی. لکه مو‌ږ چي پوهيږو په لوېديز کي د درملو او روغتيايي سامان آلاتو ستري ستري کمپنۍ راو تلي دي چي په پاکستان او نورو دغسي هيوادونو کي زياترو تجارانو له دغو کمپنيو څخه د امتيازونو په تر لاسه کولو سره د هغو د ايجنټانو او نماينده ګانو حيثيت غوره کړی دی. نو د دې پر ځای چي پاکستاني سوداګر له خپلو خامو موادو څخه استفاده وکړي، د درملو جوړولو امتيازونه او خام مواد له بهرنيو لوېديزو ملکونو څخه په ګرانه بيه رانيسي، د هغو په بدل کي د ډاکټرانو او درمل پلورونکو پرلاس د خپلو خلکو په مليارډونو پيسې د هغو له جيبونو کاږي او د دغو پردو جيبونو ته يې اچوي.

## د لوېديزو هيوادونو د درملو د تحريم په هکله فتوا:

د اسلامي نړۍ ستر نامتو عالم او د ډېرو کتابونو ليکوال ډاکټر يوسف قرضاوي مدظله د لوېديزو هيوادونو درمل جوړوونکي کمپنۍ د يهودو مرستندويي بللي او له دې امله يې ويلي دي چي د اسلامي هيوادونو درمل که څه هم د لوېديزو هيوادونو د درملو د معيار سره برابر نه وي بيا هم ډاکټرانو ته ښايي چي ناروغانو ته د اسلامي هيوادونو د درملو نسخې وليکي. ځکه چي د لوېديزو هيوادونو د درملو له ګټي څخه يهود حمايه کيږي. د امريکا او نورو لوېديزو هيوادونو د درملو رانيول څنګه چي د يهودو سره مرسته کوي د هغو د ځواکمنۍ لامل کيږي. چي دا ګناه ده او د ظالم سره د مرستي سره مترادفه ده. لوی څښتن فر مايلي دي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَۖ إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ۝٢﴾ [المائدة: ٢].

«کوم کارونه چي د نېکۍ او تقوا دي په هغو کي يو له بله مرسته وکړئ او د ګناه او تېري په چارو کي د چا ملاتړ مه کوئ. له لوی څښتن څخه وبېرېږي، ځکه چي د هغه نيونه ډېره سخته ده».

په دې ډول ډاکټر قرضاوي فتوا ورکړې ده او په زغرده يې ويلي دي چي د يهودو لخوا د جوړو سوو درملو او نورو شيانو رانيول جايز نه دي. که بېخي ډېره اړتياوي نو د «الضرورة يقتدر بقدر الضرورة» (يعني د هر هغه کار کول يا پرېښوول چي د اړتيا له مخي رخصت باله سي نو رخصت يا جواز يې د اړتيا په کچه وي او تر هغه زيات جواز نه لري). د قاعدې له مخي دي دغسي شيان هغه مهال له کفري هيوادونو څخه رانيول کيږي چي د اسلامي هيوادونو شيان کفايت نه کوي. (په دې هکله د دې کتاب ۱۲٦ او ۱۲۷ مخونه هم وګورئ).

د دې بحث په پای کي بايد ووايو چي د درملو د توريد، کيفيت او د بيو د مناسبوالي ستونزه دولت اوارولای سي. که دولت پخپله درمل او طبي سامان آلات د اسلامي هيوادونو سره د اړيکو ټينګولو او تړونونو لاسليکولو له مخي وارد کړي او په د ننه هيواد کي د درملو جوړولو کارته توجه وکړي، هم به د کفري هيوادونو او بې کيفيتو درملو مخه ونيول سي او هم به د درملو بيې ارزانه او کنترول سي. خو د دې کار هيله له اوسني دولت څخه نه سي کېدلای. دغه لاملونه دي چي زموږ د ناروغانو ډېري عادي ناروغۍ په سختو او وخيمو ناروغيو بدلي سي او يو شمېر ناروغان د درملني لپاره پاکستان او هند ته سفرونه کوي. چي هلته په تېره په هند کي زيات ناروغان پر داسي کسانو پېښ سي چي هم يې زياتي پيسې مصرف سي، هم خوارۍ او کړاوونه پر تېر سي او هم يې ناروغي يا لازياته سي، يا بېخي ور ځني ومري او بيرته يې کور ته مړ راوړي. خدای جل جلاله مو دي وزله وکړي.

## د نارينه ډاکټرانو لخوا د ښځو درملنه

سمه خبره خو داده چي په هر لوی او کوچني روغتون کي نارينه ډاکټران او د هغو کتنځي د نارينه وو د درملني لپاره وي او ښځي ډاکټراني او د هغو بېل کتنځي د ښځو د درملني لپاره وي. خو لوی څښتن ته جل جلاله په ژړا او شکايت

سره باید ووایو چي د پردو غلیمانو د دسیسو او زموږ د هیواد د پرمختیا په مخ کي د دوی د ډول ډول خنډونو د اچولو او د هغو کسانو چي زموږ د مشرانو په نومونو یې پر موږ ظلمونه او حکومتونه کړي دي د ځاني ګټو په فکر کي د لوېدلو او دې چارو ته د لږ پاملرني او زموږ د خلکو د علم او هیوادنۍ پر مختیا سره د نه یا لږي علاقې له امله په دې هکله غرونه غرونه ستونزي رامنځته سوي او پرتې دي. د اوس لپاره خو د دې چارو هیڅ امکانات نسته. نو په ډېرو مواردو کي اړتیا لیدل کیږي چي موږ خپلي ښځي نارینه ډاکټرانو ته د درملني لپاره ورولو.

اما له بده مرغه زموږ ځیني خلك په دغسي مواردو کي د شرعي غیرت او ننګ پر ځای له جاهلي غیرت او مړاني څخه کار اخلي. چي له دې امله ډېري داسي پېښي سوي دي چي زموږ ناروغي ښځي ان د مړيني تر پولي رسېدلي دي. وایي چي د هیواد په اطرافو کي د یوې ښځي د کوچني تر زېږېدو وروسته د هغې په رحم کي د کوچني د نمونې د پاته کېدو له امله خون ریزي ورته پېښه سوې وه. مېړه یې نارینه ډاکټر نه ورپرېښاوه او نرسه یې په درملنه نه پوهېده. چي پای بې چارې ښځې د ډاکټرانو پر هماغه کټ ساورکړه.

﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ﴾.

زما خپلو افغانو ورونړو ته په ډېر درناوي دا عرض دی چي په دغسي مواردو کي د سرزورۍ او ناپوهۍ پر ځای د عقل او شریعت لار خپله کړئ او دا فکر و کړئ چي که ستاسي د ممانعت له امله ستاسي خور یامېرمن له منځه ولاړه سي پر هغه دنیا به د لوی څښتنﷻ په وړاندي څه جواب وایاست؟

**د نارینه ډاکټرانو لخوا د ښځو د درملني په هکله شرعي احکام:**

اسلام د ستونزو او سختیو دین نه دی، بلکي د اسلامي غرا شریعت بنسټ پر آساني او سهولت ولاړ دی. لکه چي لوی څښتن فرمایي:

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ﴾ [البقرة: ۱۸۵].

ژباړه: «لوی څښتن پر تاسي آسانتیا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي».

بل ځای فرمایي:

﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي ٱلدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ [الحج: ۷۸].

ژباړه: «په دین کي یې پر تاسي باندي کوم حرج او تنګي نه ده راوستلې».

پر همدې بنسټ د فقهي قاعده ده چي: «مشقت د آسانۍ وسایل جلبوي او د تنګۍ پر مهال پراختیا لازمیږي». د دې قاعدې له مخي د ښځي د ناروغۍ په دغسي ځانګړو حالاتو او اعذارو کي د نارینه ډاکټر لخوا د هغې کتنه او درملنه رخصت باله سي.

بل په داسي شرایطو کي چي د ښځو د درملني لپاره ښځینه ډاکټره نه وي د نارینه ډاکټر لخوا د هغې درملنه اضطراري ضرورت دی. په دې هکله د لوی ښتن حکم دی:

﴿وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا ٱضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَآئِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِٱلْمُعْتَدِينَ ۝١١٩﴾ [الأنعام: ۱۱۹].

ژباړه: «د کومو شیانو استعمال چي لوی ښتن له اضطراري حالاتو او سخت ضرورت پرته په نورو ټولو حالتونو کي حرام کړي دي د هغو تفصیل یې تاسي ته درښوولی دی. بېشکه چي زیاتره خلك داسي دي چي بېله علمه صرف د خپلو خیالاتو او خواهشاتو پر بنسټ ګمراه کوونکي خبري کوي. ستا رب له حده تېرېدونکي ډېر ښه پېژني».

د لوی ښتن له دغه سپېڅلي ارشاد څخه د فقهي هغه قاعده را وتلې ده چي وایي: «ضرورتونه ممنوع شیان روا کوي». «اضطرار» له سختي اړتیا څخه عبارت دی.

رسول ﷺ فرمایي: «د لوی ښتن په نزد ډېر غوره دین هغه دی چي ډېر آسانه وي». چي هغه عبارت د اسلام له سپېڅلي دین څخه دی.

د الفقه الاسلامي وادلته په ۳/ ۵۶۳ مخ کي وایي: «د درملني لپاره ښځي ته کتل د فقهاوو لخوا استثنایي حاجت ګڼل سوی دی. البته د حاجت په اندازه. د ښځي د درملني پرمهال طبیب ته ښایي چي د هغې د محرم یا مېړه په موجودیت کي د ناروغۍ ځای ته د ضرورت له مخي وګوري. په دې شرط چي د ښځي د درملني لپاره داسي ښځینه ډاکټره نه وي چي د هغې په معالجه پوه سي. او که امین ډاکتر وو غیر امین ته دي نه ورځي. که مسلمان ډاکټر وو

نامسلمان ته دي نه ورځي او که مسلمانه ډاکټره وه نامسلماني ته دي نه ورځي».

په هدایه کتاب الکراهیة کي وايي: «طبیب لره جایزه ده چي د ضرورت له مخي د اجنبي ښځي د ناروغۍ ځای ته وګوري البته واجب او غوره داده چي ډاکټر کومه بله ښځه پوه کړي څو د ناروغي ښځي درملنه وکړي. ځکه چي د ښځي کتل ښځي ته آسانه دي. خو که داسي ښځه پیدا نه سوه نو واجب ده چي د ناروغي ښځي ټول بدن د ناروغه ځای پرته پټ کړي. بیا ډاکټر ورته وګوري. خو ډاکټر دي چي تر څو یې وس رسیږي له نورو ځایونو څخه دي سترګي پټي وساتي.

دغه راز د ردالمحتار په ۵/ ۳۲۶مخ کي وايي: «که یې ناروغي بېله شرمځایه په ټول بدن کي خپره وه د درملني پر مهال یې ټول بدن ته کتل روا دي. ځکه چي دا د ضرورت ځای باله سي. خو که ناروغي په شرمځای کي وه واجب ده چي کومه ښځه پوه کړي څو د شرمځای درملنه وکړي. خو که داسي ښځه نه سوه پیدا او وېرېدل چي ناروغه به مړه سي او یا به په داسي درد اخته سي چي نه یې سي سهلای او تحمل کولای نو دي د دې د ناروغۍ له ځای پرته د هغې نور ټول بدن پټ کړي، بیا دي نارینه هغه ځای تداوي کړي او تر څو کولای سي سترګي دي د ټپ له ځای پرته له نورو ځایونو څخه پټي کړي».

د فتاوٰی علماء البلدالحرام په ۴۴۹مخ کي وايي: «اهل علمو ویلي دي چي د ښځینه طبیبي په نه موجودیت کي د حاجت له مخي نارینه طبیب ته د ښځي تلل پروا نه کوي. او طبیب ته د هر هغه ځای ښکاره کول چي لیدلو ته یې د درملني لپاره ضرورت وي جواز لري. خو د ښځي سره باید محرم ملګری وي او په خلوت (په تنهایي کي) باید طبیب ته ځان ښکاره نه کړي، ځکه چي خلوت حرام دی». دغه راز د دغي فتاوٰی په ۸۷۵ مخ کي وايي: «که ښځي ته مسلمانه طبیبه پیدا کیږي نو په نارینه مسلمان طبیب یې درملنه جایز نه ده. خو که ښځه طبیبه نه پیدا کیږي او درملنه اړینه وي جایز ده چي د مېړه یا محرم په حضور کي ځان نارینه طبیب ته ښکاره کړي او هغه یې درملنه وکړي. البته

که مسلمان طبیب نه پیدا کېدی په کافر طبیب هم د ویلو سوو شرطونو سره سم درملنه کولای سي.

همدا شان د همدغي فتاوی په ۴۶۵ مخ کي وايي: د ضرورت په وخت کي که نارینه ډاکتر نه وي ښځینه ډاکټري ته د نارینه ناروغ تلل پروا نه کوي.

په دې هکله د بخاري، کتاب الجهاد، باب مداواة النساء الجرحی في الغزو په ۲۸۸۲ حدیث کي د مُعوِّذ لور رُبيِّع وايي: «موږ د نبيﷺ په ملګرتیا په جهاد کي ټپیانو ته اوبه ورکولې او تداوي کول مو او شهیدان مو مدینې منورې ته لېږدول».

حافظ ابن حجر رحمه الله د فتح الباري په ۶/ ۹۸مخ کي وايي: «له دې حدیث څخه د ضرورت په وخت کي د اجنبي ښځي لخوا د اجنبي نارینه د معالجې جواز جوتیږي». والله اعلم.

# د حرامو شيانو تجارت

تر کومه ځايه چې معلومات دی په دې کتاب کې ويل سوي حرام شيان زياتره زموږ سوداګر له بهره راوړي او يا ځيني په دننه هيواد کې توليديږي اونور هېوادونو ته يې خرڅوي. چې دا کار هم شرعاً ښه نه دی. خو زموږ زياتره خلك په دې خبرو نه پوهيږي يا سر نه په ګرځوي. ځکه نو موږ په دې مضمون کې د «احکام تجارت اور لين دين کے مسائل» کتاب او نورو څخه په استفاده په دې هکله په لنډ ډول څه رڼا اچوو.

تر ټولو دمخه بايد ووايو چې کوم څه چې د حرامو باعث او سبب ګرځي اسلام هغه هم منع کړي دي او په دې ډول يې د حرامو د ذرايعو ور تړلی دی. مثلاً څنګه چې اسلام زنا حرامه کړې ده، نو د هغې پر وسايلو، اسبابو او عللو يې هم بنديزونه لګولي دي. لکه د نارينه او ښځي اختلاط (ګډه ناسته پاسته). د نامحرمي ښځي سره د نارينه يوازي اوسېدل.لڅ تصويرونه. فحش ادبيات، کوم چې نفساني خواهشونه د زنا لور ته وربولي او داسي نور.

بل ډېر ښه مثال يې د شرابو دی. څنګه چې د شرابو خوړل حرام دي، دغه راز د هغو په خوړلو کي مرسته هم حرامه ګڼل سوې ده. لکه د شرابو جوړولو په موخه د ځينو شيانو توليد. د شرابو په کارخانو کي کار کول. د شرابو خرڅول او رانيول او داسي نور.

دغه راز د حرامو د حلالولو لپاره حيلې هم حرامي ګڼلي سوي دي. لکه چې د ځينو حرامو شيانو نومونه بدل کړي او حلال يې وبولي. د مثال په توګه بډي هديه او تحفه وبولي. د شرابو نوم په بيرو او سربيسه واړوي او داسي نور. مطلب د يوه شي د نامه په بدلولو سره حقيقت نه بدليږي او نه يې په ګناه او حرمت کي څه توپير راځي. د داسي خبرو په هکله رسولﷺ مخکي تر مخکي لا وړاند وينه کړې ده. فرمايلي يې دي: «يَشْرَبُ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي الْخَمْرَ يُسَمُّونَهَا بِغَيْرِ اسْمِهَا» «زما له امت څخه به ځيني خلك شراب چيښي او په بل نامه به يې

نوموي». رواه الحاكم في المستدرك وقال صحيح على شرط البخاري و مسلم.

بله خبره داده چي ځيني خلك د ښه نيت او د خيريه چارو د تر سره كولو په نامه حرام تر لاسه كوي. لكه چي ځيني كسان په دې نيت يا نامه بډي او سود خوري يا قمار وهي يا نور حرام كارونه كوي څو پيسې پيدا كړي او مسجدونه، مدرسې او داسي نور ودان كړي او يا خيراتونه وركړي يا داسي نوري خيريه چاري په تر سره كړي. چي داسي ښه نيتونه او كارونه هيڅكله حرام نه حلالوي.

رسولﷺ فرمايي: «أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا» (مسلم، كتاب الزكاة، باب قبول الصدقة ١٠١٥حديث).

ژباړه: اى خلكو! لوى څښتن پاك دى بيله پاكې (حلالو) بل څه نه قبلوي.

اوس خو له بده مرغه زموږ يو شمېر خلك پر حلالو او حرامو نه دي. مقصد په هر ترتيب چي وي پيسې دي پيدا كړي. او ډېر لږ خلك په حلال رزق قناعت كوي. په دې هكله هم رسولﷺ وړاند وينه كړې ده: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنْ الْحَرَامِ» (بخاري، كتاب البيوع، باب من لم يبال، ٢٠٥٩ حديث).

ژباړه: داسي وخت به پر خلكو راسي چي سړى به پروا نه كوي چي څه شي يې اخيستي او خوړلي دي. آيا حلال يې اخيستي او خوړلي دي كه حرام. يعني د حرامو او حلالو په منځ كي به توپير نه كوي او څه چي يې په مخه ورځي خوري به يې.

په هرصورت موږ دلته خپلي غاړي خلاصوو او هغه څه چي اسلامي شريعت ويلي دي ورته ليكو، نور دوى پوه سه او كار يې:

اسلام پير او پلور روا بللى دى. خو په دې هكله يې څه بنديزونه هم لګولي دي. مثلاً اسلام خپل پيروان د حرامو شيانو له تجارت يا د ناجايزو لارو د شتو د ګټلو څخه منع كړي دي. نو څوك چي په سودا ګري كي دغسي شرعي بنديزونه په پام كي ونيسي دې ته مبرور تجارت ويل كيږي. له رسولﷺ څخه چا پوښتنه وكړه چي كوم كسب تر ټولو پاك دى؟ هغه وفرمايل: «عَمَلُ الرَّجُلِ

بِيَدِهِ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُورٍ» (مسند احمد۴/ ۱۴۱مخ، طبراني، ۴۴۱۱حدیث، حاکم ۲/ ۱۰مخ). (د سړي د حپل لاس کار او سم او صحیح تجارت).

اما د حرامخور په هکله يې فرمایلي دي: «لا يد خلُ الجنَّةَ لحمٌ نبتَ منَ السُّحْتِ. وكلُّ لحمٍ نبتَ منَ السُّحْتِ كانتِ النَّارُ اوْلى بهِ» (مشکوٰة، کتاب البیوع، ۲۷۷۲ حدیث).

ژباړه: هغه غوښي چي له حرامو خوړو څخه يې وده کړې وي جنت ته نه ننوزي. او هري غوښي چي په حرامو وده کړې وي اور يې ور دی.

د حرام کار وبار په سر کي سود راځي خو تر سود وروسته د شرابو کار وبار ډېر بد دی. رسولﷺ فرمايي: «إنّ الّذِي حَرَّمَ شُرْبَهَا حَرَّمَ بَيْعَهَا» (اخرجه الطبراني في المعجم الكبير، وذكره الهيتمي في مجمع الزوائد في كتاب البيوع، باب في الخمر وثمنها، ۶۴۱۳حدیث). یعني د هر هغه شي چي چیښل حرام دي خرڅول يې هم حرام دي. دغه راز له حضرت انسرضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول ﷺ د شرابو په هکله پر لسو کسانو لعنت ووایه: (۱) د شرابو پر جوړوونکي، (۲) د شرابو د جوړولو په هکله پر فرمایش ورکوونکي، (۳) د هغو پر چیښونکي، (۴) د هغو پر وړونکي، (۵) پر هغه چا چي وروړل کیږي، (۶) د هغو پر ساقي، (۷) د هغو پر خرڅوونکي، (۸) د هغو د بيي پر خوړونکي، (۹) د هغو پر رانیوونکي، (۱۰) او پر هغه چا چي ورته رانیول کیږي.

همداشان څنګه چي چرس، تریاك، هیورئین او داسي نور نشه يي توکي حرام بلل سوي دي نو د هغو خرڅول او رانیول هم حرام دي. دغسي په هغو درملو او نورو شیانو چي الكحل یا حرام توکي ګډوي د هغو هم دغه حکم دی. د سرکوزي د غوښو د خرڅولو هم دغه حکم دی.

دغه راز هغه څوك چي د شرابو یا کوم بل حرام شي د خرڅولو او کاروبار لپاره دکان په کرایه ورکوي یا ځای ورته برابروي، هغه هم مجرم دی. او د تعاون على الاثم والعدوان په ضمن کي راځي. پر همدې بنسټ د الفقه الاسلامي وادلته په ۶/ ۲۰۲مخ کي وايي چي د شرابو د خرڅولو ځای باید وسوځول سي.

همدا شان د دې اصولو پر بنسټ د هر هغه شي رانيول او خرڅول هم ناجايز بلل سوي دي چي د حرامي يا غلطي موخي لپاره وي. له دې امله د يهودو او داسي نورو د مشروباتو او مصنوعاتو رانيول او خرڅول هم بايد جايز نه وي. په الزواجر عن اقتراف الكبائر ۱/ ۳۳۶مخ کي وايي: څوك چي پوه سي چي رانيوونکی له انګورو او داسي نورو څخه شراب جوړوي يا له پې مخي هلك څخه ناوړه کارونه اخلي يا مينځه بدو چارو ته ګوماري يا له لرګيو او داسي نورو څخه د ناسمو ساتېريو «لهو» آلې جوړوي يا د مسلمانانو سره په جګړه اخته دښمن له وسلې څخه د مسلمانانو د وژلو لپاره کار اخلي يا شراب د چيښلو او چرس د څکولو لپاره رانيسي، نو که څه هم دغه کارونه لوی ګناهونه (کبائر) نه شمېرل کيږي خو د هغو د ضررونو د سترتوب له امله له لويو ګناهونو څخه ليري نه ګڼل کيږي. ځکه چي قاعده ده چي وسايل د مقاصدو حکم لري او له دغو شيانو څخه موخي او مقاصد ټول ستر ګنهونه دي او ټول د سترو ګنهونو وسايل جوړيږي. چي البته په دې هکله د حراموالي ګومان د علم غوندي دی.

فقهي قاعده هم داده چي د کوم شي څخه معصيت رامنځته کيږي د هغه خرڅول منع دي. وګورئ د حضرت مولانا اشرف علي تهانوي‌رحمه‌الله د امداد الفتاوی ۳/ ۱۱۱مخ. د فقهي له نورو کتابونو څخه هم معلوميږي چي که څوك پوهيږي چي مسلمان له انګورو څخه شراب جوړوي يا د پې مخي مريي سره بدکاري کوي نو يې پر خرڅول مکروه دي. دغه راز پر فتنه ګرو باندي د وسلو خرڅول هم مکروه دي. ځکه چي دا پر معصيت باندي مرسته ده. اما د شرابو په کارخانو کي کارکول حرام دي. ځکه چي دا بالفعل معصيت دی. وګورئ ردالمحتار۵/ ۳۴۴مخ او الفقه الاسلامي وادلته ۳/ ۵۸۰ مخ.

## د مخدراتو د سوادا ګرۍ په هکله د يوه معتبر کتاب څرګندوني:

څنګه چي د شرابو، چرسو، ترياکو، هيروئينو، کوکائينو او داسي نورو له کاروبار څخه په ډېره آساني ستري ګټې تر لاسه کيږي نو يو شمېر مسلمانو قاچاقبرانو په بيله توګه يا د دې کار وبار د نړيوالو مافيايي تاجرانو په مرسته او

همکاري دې کار ته لاس اچولی دی. په دې هکله په الفقه علی المذاهب الاربعة ۵/ ۳۰ مخ کې په څرګنده توګه وایي چې د مخدراتو، لکه چرسو، تریاکو او کوکایینو کار او له دې درکه عیش او ژوند حرام دی. په دې هکله ډېر احادیث هم وارد سوي دي. دغه تجاران د مسلمانانو او نورو انسانانو د وژني او د هغو د شتو د ضایع کېدو اسباب برابروي. دا له اصله د خلکو د اروحونو د قبضولو او د ځوانانو د فساد او د هغو د اخلاقو د ورانۍ او پر معصیت باندي د مرستي تجارت دی. د دې شیانو قیمت (ثمن) او ګټه که څه هم د رانیوونکي په قناعت او رضائیت تر سره کیږي د قمار، سود او غلا څخه په لاس راغلي ګټې غوندي ده. لکه چې رسول ﷺ فرمایي: «إِذَا حَـرَّمَ عَلَى قَـوْمٍ أَكْلَ شَيْءٍ حَرَّمَ عَلَيْهِمْ ثَمَنَهُ». رواه ابن ابي شيبة عن ابن عباس.

دغه راز څنګه چې د دې توکو بیه حرامه ده نو بېله شکه هغه خبیثه باله سي او حج په کول او مسجدونه په جوړول یا یې په خیرات ورکول هیڅ مقبول نه بلل کیږي او هیڅ ثواب نه لري. د احنافو په نزد پر حج باندي د حرامو پیسو ښندل نه دا چې ثواب نه لري، بلکي دا هم بل حرام کار بلل سوی دی. لکه چې وړاندي مو د رسول الله ﷺ دا حدیث ولوست: «أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ اللَّهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا» الخ

د رسول ﷺ بل حدیث دی: «په هغه ذات لوړم چې زما نفس یې په واك کې دی، څوك چې حرام شته ترلاسه کړي یا یې په میراث پرېږدي نه ځني منل کیږي. بلکي دا به د دوږخ لپاره د هغه توښه وي. لوی ښتن بدي په بدي له منځه نه وړي، بلکي بدي په ښو چارو له منځه وړي. حقیقت دادی چې خبیث بل خبیث نه محو کوي».

دغه راز حضرت ابوهریره رضي الله عنه له رسول ﷺ څخه روایت کوي: څوك چې حرام شته ترلاسه کړي او خیرات ځني ورکړي هغه ته یې ثواب نه ورکول کیږي. او عقوبت او جزایې پر هغه وي.

## د چرسو او ترياکو د کښت حراموالی:

ځنګه چې ډېر آيتونه او احاديث د مخدرو توکو په تحريم کې وارد سوي دي، او چرس او ترياك هم په آيتونو او احاديثو کې يادو سوو مخدروتوکو ته ورته دي، ځکه نو د الفقه على المذاهب الاربعه په ۵/ ۳۱مخ کي وايي: «اتفق الائمة على تحريم زراعة الحشيش، والخشخاش، لاستخراج المادة المخدرة منهما لتعاطيها اوالاتجار فيها» يعني: اسلامي عالمانو پر دې اتفاق کړی دی چې د چرسو او خشخاشو څخه د مخدري مادې د را ايستلو او د هغو د استعمال او تجارت لپاره د هغو کرل حرام دي.

ورپسې يې په نوموړي کتاب کي د چرسو او خشخاشو د کرلو د حرمت دلايل ذکر کړي دي. دغه راز سيد سابق د فقه السنه له ۲/ ۵۳۲ مخ څخه تر ۵۴۲مخ پوري د مصر د مفتي شيخ عبدالمجيد سليم اونورو جيدو علماوو د څرګندونو په استناد د خشخاشو، چرسو او نورو ډول ډول مخدراتو د استعمال، سوداګرۍ او کرني په هکله مفصل بحث کړی او د دغو توکو استعمال، تجارت او د هغو بيه او ګټه او له هغو څخه د استعمال او تجارت لپاره د مخدري مادي ايستل يې د قرآن کريم د آيتونو، د حضرت رسولﷺ د احاديثو او جيدو فقهاوو اوعلماوو د هغو څرګندونو په رڼا کي چې د شريعت د اصولو او مبادیو سره موافقي دي له شکه وتلی حرام ثابت کړی دی او په پای کي يې زياته کړې ده چې په دې هکله مې خبري ځکه اوږدې کړې چې جاهلانو ته څه شك او شبهه پاته نه سي او پوه سي چې د دغو مخدراتو د حلال والي خبري د باطل پالو او لاروركو باطلي او لار وركوونكي خبري دي.

هو، د حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلويؒ د اشعة اللمعات په ۳/ ۳۰۰ مخ کي راغلي دي: «زراعت وي (افيون) از براى استعمال واسكار حرام ست وجائزست بغرض تداوى».

نو ځنګه چې جوته ده چې د دغو شيانو کښت د درملني لپاره نه، بلکي د مادي ګټو د لاسته راوړلو او تجارت لپاره دی اوپر معصيت باندي مرسته او د هغو د کرونکو لخوا د هغو د استعمال او تجارت په خاطر رضائيت باله سي.

له دې امله د هغو کرنه قطعي حرامه ده. په دې هکله زیات دلایل د الفقه علی المذاهب الاربعه په ۵/ ۳۱مخ کې وګورئ.

دغه راز د الفقه علی المذاهب الاربعه مؤلف هغه کسان چې د دغو توکو د رواوالي فتواوي ورکوي جاهلان بللي دي او د هغو فتواوي او خبري يې باطلي او ګمراه کوونکي ګڼلي دي.

تعجب:

عجبه ده چې زموږ د مهال په زیاترو هغو ټولنو کې شراب او داسي نور بې کچې زیات استعمالیږي چې په ظاهره متمدني ښکاري او علم او فرهنګ هم ډېر پکښې خپور سوی او د شرابو او داسي نورو د روغتیایي، مالي او اجتماعي اضرارو په هکله هم په ډول ډول لارو علمي معلومات پکښي ورکول کیږي. او زیاتره هغه کسان شراب خوري چې ځانو ته پوهان او عالمان وايي او عجبه يې لا دا چې ډېر ډاکټران دغه د روغتیا ضد ماده د خپلو اندیوالانو سره «دوا» بولي او خوري يې. دلته دی چې پوه وګړي دې پایلي ته رسېدلي دي چې علت په مادي پالو، سرابنو پانګوالو ځواکونو او د خلکو د ارادې په ضعف کې دی.

# د ځان، کور او چاپېریال خواپاکي

لوی څښتن فر مايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلتَّوَّٰبِينَ وَيُحِبُّ ٱلۡمُتَطَهِّرِينَ ٢٢٢﴾ [البقرة: ٢٢٢].

يعني «لوی څښتن توبه کوونکي او پاکي غوره کوونکي خوښوي».

دغه راز لوی څښتن د قبا د جومات د لمونځ کوونکو د طهارت او پاکۍ تعريف او توصيف په دې الفاظو کړی دی:

﴿لَّمَسۡجِدٌ أُسِّسَ عَلَى ٱلتَّقۡوَىٰ مِنۡ أَوَّلِ يَوۡمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِۚ فِيهِ رِجَالٞ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُواْۚ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُطَّهِّرِينَ ١٠٨﴾ [التوبة: ١٠٨].

يعني «کوم جومات چي له لومړۍ ورځي څخه د تقوا پر بنسټ ودان سوی وو هغه د دې ښه وړ دی چي په هغه کي (د عبادت لپاره) ودرېږې. په هغه کي داسي خلك دي چي پاکي خوښوي او لوی څښتن همدغه پاکي خوښوونکي خوښوي».

رسولﷺ فرمايي: «الطُّهُورُ شَطْرُ الإِيمَانِ» (مسلم، کتاب الطهارة، باب فضل الوضوء (١/ ٢٢٣) حديث. قال النووي «اصل الشطر النصف» شرح النووي ٣/ ١٠٠ مخ.يعني سپېڅلتيا او پاکي نيم ايمان دی. معنا دا چي نيمی ايمان دادی چي انسان خپله اروا او زړه پا ك او مهذب کړي او نيم ايمان دادی چي انسان خپل بدن پاك او نظيف وساتي. د زړه پاکي داده چي هغه د کفر، ګناه او ورکلارۍ له ککړتياوو پا ك کړې او په سمو او سپېڅلو اخلاقو يې روڼ او روښانه کړې او د بدن پاکي او نظافت دادی چي هغه له ظاهري ناپاکيو وساتې او په ښه سليقه او متمدنه او مهذبه طريقه يې د خپلو اسلامي دودونو سره سم سمبال کړي او له ناولتياوو او ناروغتياوو يې وژغوري.

د دغو او داسي ډېرو نورو ارشاداتو پر بنسټ د مسلمان دنده ده چي د ژوند په هره شيبه کي د پشپړتيا او پرمختيا پر لوري وخوځي او پرله پسې د خپل ځان د مادي او معنوي سپېڅلتيا او ارتقا لپاره لازمي هڅي وکړي. ځکه د لوی څښتنﷻ په نزد د ده په ځانګړنو او خوی او خصلت پوري اړه

لري. که دی د خپل ځان د مادي او معنوي پاکۍ او ستره ګۍ په حال کي ومري د فردوس اعلی جنت څښتن به وي. که يې ظاهري او باطني پاکي په منځني حال کي وي بيا هم ښايي وژغورل سي. خو که د مادي او معنوي خواپاکۍ له پلوه په ټيټ حالت کي اوسي او د اسلامي احکامو او لارښوونو سره سم يې د ځان نظافت ته پام نه وي اړولی بېره ده چي سخته جزا وويني.قا ل الله تعالی:

﴿وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا ۝٧٢﴾ [الإسراء: ۷۲].

يعني «څوك چي په دې دنياکي ړوند پاته سو، هغه به په آخرت کي هم ړوند وي، بلکي په لار موندلو کي به تر ړندو لا هم ناکامه وي».

په دې حساب څوك چي ګنده او مردار خور وي هغه به پر هغه دنيا همدغسي راپاڅيږي.

په دې اړه د رسول ﷺ نوري څرګندوني هم سته. هغه څرګنده کړې ده چي څوك چي د خپل بدن، څېرې او غړوپاکۍ او نظافت ته پاملرنه کوي پر هغه دنيا به همدغسي په سپين مخ، ورين تندي او سپېڅلو اعضاوو را پاڅيږي.

د اسلام مقدس دين د بدن روغتيا، پاکتيا او ښکلا ته زښته زياته پاملرنه کړې ده او دا چاره يې له خپلو سترو او مهمو رسالتونو او دندو څخه ګڼلې ده. تاسي وګورئ چي د فقهي دټولو او د احاديثو د زياتو کتابونو په لومړيو کي د طهارت خبري او د هغو په ترڅ کي د اوداسه، تشناب ته د تللو د آدابو، مسواك وهلو، ځان پرېوللو، د اوبو د پاکۍ، د نجاستونو د تطهير او داسي نورو ټولو موضوعاتو په باب مفصلي خبري راغلي دي.

د اسلام له نظره هغه څوك ډېر دروند او د درناوي وړ باله سي چي د ځان او لباس له پلوه نظيف او مهذب وي او په خوراك، چيښاك او کړو وړو کي يې ککړتياوي او د خواګرځېدو او تنفر حالت ونه لېدل سي. اسلام بدني روغتيا او نظافت يوازي مادي ښېګڼه نه بولي، بلکي هغې ته د نفس په تزکيه او سپېڅلتيا کي په ستر قوت او اغيز قايل دی. رشتيا هم انسان هله د ژوندانه د چارو ډېر ښه پر مخ بېولو ته چمتو کيږي چي ډېر ښه صحت او تکړه او پياوړی بدن ولري. دا چي اسلام د ورځي پنځه وخته لمونځ فرض کړی او د

هغه لپاره يې اودس او د ځان، کاليو او د لمانځه د ځای پاکي لازمه ګرځولې ده او د جنابت په صورت کي يې د ټول بدن پرېولل واجب بللي دي په دې توګه يې د انسان پر بدن باندي لويه پېرزوينه کړې ده.

## د ځان پرېولل:

عن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ان رسول الله قال: «اذا جاء احدكم يوم الجمعة فليغتسل» (بخاري، کتاب الجمعة، فضل الغسل يوم الجمعة ۸۷۷ حديث).

يعني که له تاسي څخه پر کوم چاباندي د جمعې ورځ راسي نو غسل دي وکړي.

د احاديثو په کتابونو کي له رسول ﷺ څخه د ستره ګۍ او نظافت او له ځانه د ناوړه بوی د له منځه وړلو لپاره د سر او بدن پرېوللو او عطر او خوشبويي وهلوپه هکله ډېر احاديث روايت سوي دي

غسل د روغتيا لپاره ډېر اړين بلل سوی دی. د ځان پرېولو له امله په بدن کي چټکتيا، چسپاندي او خوښي او هوسايي پيدا کيږي. د ځان پرېوللو پر مهال دويني دوران تېز سي، دماغ تازه سي او وروسته اشتها خلاصه سي. پر دې سربېره د ځان پرېولو په پايله کي د بدن کا، خيره او خوَله، سستي او تنده، ګرمي او داسي نور ليري سي. له دې امله دی چي نن مهال طب پوهان وايي که څوك د خپل ځان نظافت او روغتيا ته زيات پام وکړي او خپل بدن زيات مينځي پنځوس فيصده به له ناروغيو څخه خوندي وي.

د ځان پرېولل د روغتيا ساتني يو مهم اصل دی. د بدن په پرېولو سره د جلد مړې حجرې، له غوړو غدودو څخه راوتلې غوړزګي او خوَله پاکيږي. که د بدن خوَله او غوړزګي او پر هغو نښتي دوړي پاکي نه سي نو د جلد مسامات (د بدن د پوست هغه کوچني سوري چي خوَله ځني را وزي) بنديږي او پر جلد باندي د مکروبونو د ودي لپاره ډېر ښه چاپېريال رامنځته کيږي. البته د بدن خوَله او خيره د ګريسو غوندي ده چي يوازي په اوبو نه پاکيږي او د صابون کارول ور ته اړين دي. خو له بده مرغه په ډېروصابونونو کي داسي وازګي او نور ګډ وي چي بدن ته ډېر مضر جوتيږي. ځيني صابونونه د جسم

مسامات تنګوي او وچوي. په ځينو کي داسي تېز مواد ګډوي چي د جلد هغه ځيني طبيعي تېزاب چي پر جسم باندي مکروبونه نه پرېږدي له منځه وړي. په دې هکله مشوره داده چي لومړي خو د کفري هيوادونو ډېر بيي صابونونه مه رانيسئ. ځکه تر ټولو ډېر ارزان صابون هم بدن ډېر ښه پاکوي. بل هغه صابون رانيسئ چي د کبانو يا کوپړې يا جورويا زيتون يا داسي نورو له غوړو (تېلو) څخه جوړ سوی وي او ښه بوی ولري. په دې هکله که په ځينو ځانګړو مواردو کي د ډاکټر سره مشوره وسي ډېر به ښه وي.

د يادولو وړ ده چي د اسلامي لارښوونو په رڼاکي پر هر مسلمان لازمه ده چي کله له تشنابه راوزي يا ډوډۍ خوري او چي ډوډۍ وخوري لاسونه په صابون پرېولي.

دغه راز د شپې د بيدېدو د آدابوپه هکله فقيه ابوالليث سمرقندي‌رحمه‌الله وايي: انسان ته ښايي چي په اوداسه بيده سي. ځکه رسولﷺ فرمای: «څوك چي په اوداسه بيده سي ملايکه له لوی څښتن څخه د بخښني دعا ورته کوي». همدا شان رسولﷺ انس بن مالك ته وويل: «که مرګ در ته درسي او ته په اوداسه يې د شهادت د کلمې ويل به در څخه پاته نه سي». بستان العارفين (۴۳) مخ.

## د عطرو وهل:

عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أُطَيِّبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَطْيَبِ مَا يَجِدُ حَتَّى أَجِدَ وَبِيصَ الطِّيبِ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ (متفق عليه. مشکوٰة کتاب اللباس، باب الترجل، **۴۴۳۵** حديث). يعني له بي بي عايشې‌رضي‌الله‌عنها څخه روايت دی چي ما تر ټولو هغه ښه خوشبويي چي موندل کېدل به په رسولﷺ باندي وهل. څو چي د هغه په سر او ږيره کي به مي د هغو برېښېده ليدل.

په دې هکله نور احاديث هم روايت سوي دي.عطر وهل له ديني او تهذيبي نظره ډېر ښه کار دی. زموږ د ستر پيغمبرﷺ د عطرو او خوشبويي وهل ډېر خوښ وه. په تېره د جمعې په ورځ يې موږ ته د عطرو وهلو لارښوونه هم کړې ده نو تاسي هم خوشبويي ډېري وهئ.البته د داسي خوشبويي وهلو څخه

چي ناولي شيان په ګډه وي په کلکه ډډه کوئ او هغه خوشبويي رانيسئ چي زمونږ د خپل يا کوم مسلمان هيواد جوړ وي

## د ځان او ځيرې سمون او سمبالښت ته پاملرنه:

د اسلام مقدس دين خپلو پيروانو ته توصيه کوي چي د ځيرې له مخي ښکلي او د کړو وړو له کبله مرتب او منلي وي او دا د ادب او وقار له نخښو څخه ګڼي. په دې هکله ستاسو توجه د مالك بن نضر ﵁ خبرو ته را اړوم، هغه وايي: په داسي حال کي چي ما خواربوشکي کالي اغوستي وه رسول ﷺ ته ورغلم. نو هغه راته وويل: «آيا ته څه شته لرې؟» ما ور ته وويل: هو. ويې ويل: «څه ډول شته لرې؟» ما ورته وويل: هر ډول؛ لوی څښتن اوښان، غوايي، پسونه، اسان او مريان راکړي دي. ويې ويل: «نو چي تا ته لوی څښتن شته درکړي دي، بايد پر تاباندي د هغه د نعمت او پېرزويني نخښه څرګنده سي». وګورئ مشکوٰة کتاب اللباس، الفصل الثاني، (۴۳۵۲) حديث.

رسول ﷺ مسلمانانو ته لارښوونه کول چي دغو چارو ته زياته پاملرنه وکړي او په خپلو ورځنيو چارو کي يې پر ځانو لازمي وګرځوي، څو مسلمان د کړو وړو، کالو او ځيرې له پلوه ښکلی او منلی څرګند سي. لکه چي وايي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ لَهُ شَعْرٌ فَلْيُكْرِمْهُ» (ابوداود، باب في اصلاح الشعر).

ژباړه: له حضرت ابو هريره ﵁ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي وريښتان لري، نو د هغو دي په تنظيف او تزئين او غوړو وهلو او ږمونځولو اکرام، ساتنه او پالنه وکړي.

حضرت ابو قتاده انصاري ﵁ وايي: ما رسول الله ﷺ ته وويل: زما وريښتان ډېر ګڼ دي نو آيا زه هغه ږمونځ کړم؟ رسول ﷺ وويل: «نعم. واکرمها» يعني هو. ږمونځ يې کړه او پالنه او اکرام يې وکړه. وايي چي ابو قتاده به د رسول ﷺ د دې لارښووني د درناوي له امله خپل وريښتان د ورځي دوه واره غوړول. الموطاء، کتاب الشعر، باب اصلاح الشعر، (۶) حديث.

پر دې بنسټ د وريښتانو ږمونځول او غوړول سنت حسنه باله سي.

عطاء بن یسارﷺ وایي رسولﷺ په جومات کي وو چي یو ببر سرى او ببر ږیرى سړى ورغى. نو رسولﷺ په لاس اشاره ورته وکړه چي ووزه. ګواکي لـه دې اشارې څخه د هغه موخه دا وه چي سر او ږیره دي جوړ او اصـلاح کـړه. نو هغه وو چي دغه سړي سر او ږیره اصلاح کړل او بیا ورغـى. نـو رسـولﷺ ورته وفرمایل: «آیا دا تر هغه ببر سر چي شیطان غوندي ایسېدې او راغلې ښـه نه دى؟». الموطاء، کتاب الشعر، باب اصلاح الشعر، (۷) حدیث.

له دې امله لازمه ده چي سرونه یا وخریو او یا یې وربښتان په ښه سلیقه لنډ کړو. دغه راز د ږیرې زیاتي وربښتان هم باید په غچي برابر کړو.

په دې هکله په ترمذي کي د عمرو بن شعیب د پلار له قوله راوړي چي: «ان النبي صلى الله علیه وسلم کان یاخذ من لحیته من عرضها وطولها». یعني رسولﷺ د خپلې مبارکي ږیرې وربښتان د بره لخوا لږ لږ او د اوږدو لخوا چي د یوې قبضې تر کچي به زیات سول اخیستل او اصلاح کول یې. ډېرو علماوو دا کار سنت مؤکد بللى دى. وکورئ مرقاة (۸/ ۲۲۳مخ).

د ښې او سر او صورت ساده او بېله اسرافه سمبالول او ښکلي کول د اسلام له تعالیمو څخه دي. رسولﷺ وفرمایل: «هغه څوك به جنت ته داخل نه سي چي په زړه کي یې یوه ذره کبر او لویي وي». چا ور ته وویل: یوسړى خوښوي چي کالي او څپلۍ یې ښکلي وي؟ نو رسولﷺ وویل: «إِنَّ اللَّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ» مسلم، کتاب الایمان، باب تحریم الکبر (۱٤۷) حدیث. یعني لوى څښتنﷻ ښکلى دى، ښکلا خوښوي، کبر په لویي سره د حق نه منلو او د وګړو سپکاوي ته وایي.

د رسولﷺ به تل دې ټکو ته پام وو او کله چي به یې یو مسلمان ولید چي د ځان او کړو ړو په سمون کي به یې څه ناسم والى وومتوجـه کـاوه بـه یـې او امر به یې ور ته کاوه چي سمي جامې واغوندي.

هر څوني چي پر انسان کارونه او تکلیفونه زیات هم سي باید د خپـل ځـان او لباس سمبالښت او نظافت هېر نه کړي. له بده مرغه ځیني کسان د تدین پـه نامه سپېدلي او لغوړني ګودړۍ اغوندي او پـه دې ډول خپـل زهـد څرګنـدوي.

خو دا د دين او د هغه د تعاليمو په هکله بېله جهله او بېله افترا څخه بل څه نه دي. دوی لکه چي په دې نه دي خبر چي د جاهليت په وختو کي مشرکينو ځيني حلال کالي او خواړه خدای ته د تقرب په نامه پر خپلو ځانو حرام کړي وه، نو لوی څښتن د دوی د دې اند د بطلان لپاره دا آيت نازل کړ:

﴿قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِينَةَ ٱللَّهِ ٱلَّتِيٓ أَخۡرَجَ لِعِبَادِهِۦ وَٱلطَّيِّبَٰتِ مِنَ ٱلرِّزۡقِۚ قُلۡ هِيَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا خَالِصَةٗ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ٣٢﴾ [الأعراف: ٣٢].

ژباړه: «ای محمده! دوی ته ووايه چي چا د لوی څښتن د ښکلا اسباب حرام کړي چي هغه د خپلو بنده ګانو لپاره را منځته کړي دي؟ او چا د خوراك او څېښاك حلال شيان منع کړي دي؟ ورته ووايه چي دا ټول شيان د دنيا په ژوندانه کي هم د ايمان لرونکو لپاره ځانګړي دي او د قيامت په ورځ خو به ګردسره او يوازي د دوی لپاره وي. په همدې ډول موږ خپلي خبري د هغو خلکو لپاره چي پوهان دي روښانوو».

د بخاري شريف د کتاب اللباس په لومړيو کي راغلي دي: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُوا وَاشْرَبُوا وَالْبَسُوا وَتَصَدَّقُوا فِي غَيْرِ إِسْرَافٍ وَلَا مَخِيلَةٍ».

يعني رسول ﷺ وفرمايل: وخورئ، وڅېښئ، واياست غوندئ، اړو ته صدقې ورکړئ، خو اسراف او لويي مه کوئ.

کله چي حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د حرورا د سيمي خلکو ته ورغی او د يمن ډېر ښه کالي يې اغوستي وه او هغو ور ته وويل چي دا دی څه ډول کالي اغوستي دي؟ هغه ورته وفرمايل پر ما باندي عيب مه نيسئ ځکه چي ما رسول ﷺ ليدلی دی چي تر ټولو ښه کالي به يې اغوستي وه. دغه راز د صحيح بخاري د کتاب اللباس په لومړيو کي د حضرت ابن عباس دا وينا هم راوړي چي: «هر څه چي دي خوښ وي خوره يې او اغونده يې، خو اسراف او تکبر مه کوه».

که موږ د رسول ﷺ د احاديثو او سيرت او د اسلام د تاريخ کتابونه په غور ولولو را ته جوته به سي چي رسول ﷺ د مسکنت او ښت زيات مصروفيت

سره سره پرته له وربښمينو او ژړو او ځينو ناوړو کاليو نور ډول ډول يمني، طليساني، رومي او داسي نور ښکلي لباسونه اغوستل چي تر هغو به ښه نه وه.

## د کاليو پاک ساتل او د کواړي پر بولل:

په تفاسيرو کي وايي چي پر رسولﷺ ترټولو لومړی د ﴿العلق﴾ سوره نازله سوه. بيا د وحيو په نزول کي څه ځنډ راغي. بيا د ﴿ٱلۡمُدَّثِّرُ﴾ سوره پر نازله سوه، چي په دې حساب دا دوهمه سوه ده او په دې سوه کي لوی څښتن رسولﷺ ته لومړی د هغه د قوم ايمان ته د بللو او له خدايه د بېرولو او د لوی څښتن د عبادت کولو او د کاليو د پاك ساتلو حکم کړی دی او ورته فرمايلي يې دي چي: ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرۡ ۝٤﴾ [المدثر: ٤] يعني «خپل کالي پاك وساته». دغه راز د فقهي حکم دی چي د ناپاکو کالو سره لمونځ او عبادت نه صحيح کيږي او د جسد او کالو طهارت او پاکي د لمانځه شرط باله سي.

په کتابونو کي راوړي چي د رسولﷺ له خيرنو کالو څخه بد راتله. لکه چي هغه مبارك يو سړی وليد چي خيرن کالي يې اغوستي وه نو هغه وفرمايل: «ماكان يجد هذا ما يغسل به ثوبه؟» مشكوٰة كتاب اللباس، الفصل الثاني، (۴۳۵۱) حديث. يعني دغه سړی داسي څه نه سي پيدا کولای چي خپل کالي په پرېولي؟ له دې څخه څرګنده سوه چي د رسولﷺ پاك کالي ډېر خوښ وه او اسلام د کالو پاکوالي، تجميل او د انسان د کړو وړو سمون د ادب او وقار له نخښنو څخه بولي.

بله ډېره اړينه او د يادولو خبره داده چي لکه چي پوهيږو زموږ ځيني خلك ځيني بهرنۍ کواړي جامې، جاکټان، تلتکان او داسي نور استعمالوي. د دغو کاليو په استعمال کي څه شرعي ممانعت نسته. خو کېدای سي دغه کالي د مخه داسي کسانو استعمال کړي وي چي په څه ناروغيو به اخته وه. نو که يې موږ لومړی ښه پرې نه ولو او وايې غوندو ښايي له صحي نظره تاواني وي. تاسي پوهېږئ چي په بهرنيانو کي د ايډز او نوري ډول ډول خطرناکي ناروغۍ خورا ډېري دي. له دې امله ښه داده چي دغسي کالي لومړی ښه ومينځو او بيا يې استعمال کړو.

**د غاښو ساتنه:**

پاك، سپين او روغ غاښونه هم روغتيا ته اړين دي او هم د انسان د مخ په ښايست او د شخصيت په درنښت کي ستر اغېز لري. د چا چي د خولې بوی ځي او غاښونه يې ژړ او خيرن وي له خبرو او ورنژدې کېدو څخه يې د خلکو کرکه کيږي او کوشش کوي چي ليري ځني وګرځي. يو نامتو ډاکټر ليکي چي د انساني ژوندانه نيم مصيبتونه او ناروغۍ د سمو غاښونو د نه لرلو له امله دي. رشتيا هم که خپل غاښونه ښه ونه ساتئ هم به د هغو له درده په عذاب ياست، هم به پر ډاکټرانو ګرځئ او هم به د خوړو د ښه نه ژوولو له امله د ګېډې او هاضمې په ډول ډول ناروغيو اخته سئ. ځکه کله چي ستاسي غاښونه خراب وي تاسي خواړه ښه نه سئ ژوولای او ژوندي يا نيم ژوولي يې تېروئ، چي په دې توګه د غاښو کار ګېډې ته سپارئ او په دې خو پوهېږئ چي غاښونه د هډوکو دي او ګېډه د غوښو څخه جوړه سوې ده.نو غوښې کله د هډوکو کار کولای سي. بل داچي زموږ ډېر خلك چي ډوډۍ وخوري په خوله اوبه نه لغړوي چي دا کار بالکل د غاښوسره د دښمني غوندي دی. تر ډوډۍ خوړلو وروسته د خوړو کوچنۍ کوچنۍ ټوټې په غاښونو کي بنديږي او بيا ورستيږي، خوله بوينه کړي او په غاښونو کي مکروبونه مونده سي چي بالاخره د «پائيوريا» (PYORRHEA) په نامه په يوه ناوړه ناروغي واوړي. کله چي غاښ په دغه ناروغي اخته سي بيله کښلو بله چاره نه لري. له دې امله تر خورك وروسته خپل غاښونه هرومرو مينځئ. دغه راز که تر ډوډۍ خوړلو وروسته ستاسي په غاښونو کي د خوړو څخه پاتي شوني پاته وي د رسولﷺ هدايت دی چي غاښونه خلال کړئ. په دې هکله د ياد ولو وړ ده چي خپل کوچنيان هم هرو مرو تر ډوډۍ خوړلو وروسته په خوله د اوبو په لغړولو عادت کړئ، خو هغوی دي غاښونه نه خلالوي ځکه کېدای سي په دې کار سره خپلي ورۍ ټپي کړي.

د غاښونو تر ټولو مهم د هغو سرېږن پوښونه مينا يا (Enamel) دي چي غاښونه ساتي. په غاښونو کي د بندو شيانو د نه پاکولو، د ډېرو خوږو شيانو او غوښو د خوړلو او تر تودو خوړو وروسته ديخو اوبو چيښلو يا ډېرو توده خوړو

يا ډېرو سړو اوبو چيښلو له امله دغو پوښونو ته ستر تاوان رسيږي چي په پايله کي يې غاښونه خرابيږي.

ښه دا ده چي په کال کي دوه واره د غاښو په يوه ښه ډاکټر خپل غاښونه پاك کړئ او د غاښو د نه خرابتيا په صورت کي په کال کي يو يا دوه واره د غاښو يوه پوه ډاکټر ته ورسئ او مشوره ځني اخلئ. خو که مو غاښونو ته څه تکليف پېښ سوی وي سمدستي او هرومرو د غاښو ډاکټر ته مراجعه وکړئ څو يې د ناروغۍ تر زياتېدو دمخه علاج وسي او کښلو ته يې اړتيا پېښه نه سي.

## د مسواک وهل:

لکه چي څرګنده ده له ډېرو لرغونو مهالونو څخه خلکو د خولې او غاښونو د پاکولو لپاره دريبښې لرونکو لرګيو څخه کار اخيست. په مسلمانانو کي دغه طريقه تر اوسه دود ده. رسولﷺ او اصحابو کرامو﵃ به مسواکونه بېخي د ځانو سره ګرځول. په صحيح مسلم کي يې راوړي دي چي حضرت شريح بن هانی﵁ له بي بي عايشې﵂ څخه وپوښتل چي رسولﷺ چي کور ته راسي نو په څه شي پيل کوي؟ هغې ورته وويل: په مسواك وهلو. دغه راز رسولﷺ فرمايي څلور ستر خصلتونه د رسولانو عليهم السلام له سننو څخه دي: حيا يا سنتېده، عطر وهل، مسواك وهل او نکاح. په بخاري او مسلم کي راوړي چي رسولﷺ ويل: «که د دې بېره نه وای چي زما امت په مشقت او تکليف اخته سي ما به دوی ته امر کړی وای او پر فرض کړي به مي وای چي د ماخستن لمونځ د شپې دريمي يا نيمی ته وځنډوي او مسواك د هر لمانځه لپاره ووهي ». د نسايي او نورو لخوا په يوه بل روايت سوي حديث کي راغلي دي چي: «مسواك وهل د خولې د پاکېدو او د لوی څښتن د رضا د حاصلېدو لامل ګرځي».

له دې څخه پر نظافت باندي د اسلام ټينګار او د مسواك ګټي او فضايل څرګنديږي. حضرت ملاعلي قاري﵀ د مرقاة المفاتيح په ۲/ ۸۹ مخ کي وايي: «په مسواك وهلو کي اويا فايدې دي، ډېره کوچنۍ يې دا ده چي د زکندن پرمهال به يې د وهونکي د شهادت د کلمې ويل په ياديږي. او په

ترياکو کي اويا ضررونه دي کوچنی يې دادی چي د مړيني په وخت کي به يې د شهادت کلمه نه په ياديږي. لوی څښتن مو دي عافيت په نصيب کړي». له دې امله اسلامي عالمان په ټينګار سره فرمايي چي هر څوك کور ته ننوزي لومړی دي خوله په مسواك مينځي.

يو شمېر فقهای کرام مسواك وهل بېخي واجب بولي خو د احنافو په نزد مسواك وهل د اوداسه سنت باله سي.

## مسواک که پلاستيکي برس؟

وايي چي د غاښو برس نژدې پنځه سوه کاله دمخه تر ټولو لومړی په چين کي وکارول سو. خو په ځانګړې توګه هغه لومړي د وليم ايډس په نامه يوه سړي جوړ کړ. کله چي هغه اړو دوړ ته د خلکو د پاڅولو په تور د انګلستان په يوه محبس کي بندي سو، څه مهال يې خپل غاښونه په ټوکره پاکول. بيا يې پام سو چي کېدای سي غاښونه په برس پاك سي. نو هغه وو چي د هډوکي يوه ټوټه يې را واخيستل او په برمه يې کوچني کوچني سوري ور کړه. د محبس يوه نرم زړه ساتونکي هغه ته څه وربښتان راوړل او ايډس د دغه هډوکي په سوريو کي ورکړل او خپل غاښونه يې په پرېولل. کله چي هغه له بنده خوشي سو خپل دغه ايجاد ته يې انکشاف ورکړ او بازار ته يې وړاندي کړ.

خو سره د دې چي نن مهال د برس استعمال زيات سوی دی يو خو په برس د مسواك په پرتله غاښونه ښه نه پاکيږي. بل په خوله پلاسټيك وهل ښايي له ضرره خالي نه وي او بل هم د برس د تارونوپه بېخونو کي زياتره وختونه مکروبونه ځای نيسي. مسواك کېدای سي چي سر يې ژر ژر پرې سي خو په برس به څه وسي؟

په لندن کي د غاښو په هکله په يوه غونډه کي يوه پروفيسر رپوټ ورکړ چي په سوډان کي د غاښونو د پاکولو د بېلو بېلو سيمه ييزو طريقو د څېړني په ترڅ کي جوته سوه چي د غاښو تر ټولو اغېزمنه ذريعه مسواك دی.

له ديني نظره پر ترمذي باندي د پياوړی عالم مولانا محمد تقي عثماني له تقريرونو (د درس ترمذي له ۲۲٦/۱، ۲۲۷ مخونو) څخه څرګنديږي چي که

غاښونه په تکره، منجن، ګوتو یابرس پرېولل سي په دې شرط چې د برس ریښې پاکي وي د مسواك وهلو سنت چي موخه ځني نظافت او ستره ګي ده اداکیږي. خو د مسنون مسواك سنت نه په اداکیږي. د مسنون مسواك فضیلت یوازي د زیتون او د مسواك د ځانګړو ونو په لرګیو کي دی د برس له استعمالولو څخه دغه فضیلت هیڅ نه حاصلیږي. په تېره غاښونو او وریو ته د مسواك په سر بل هیڅ شی ګټور نه سي جوتېدلای.

مسواکونه په کتاب پلورنځیو کي په پېخر موندل کیږي. ان اوس په ځینو اسلامي هیوادونو کي د مسواك جوړولو ځانګړي کمپنۍ راوتلي دي او ډېر ښه مسواکونه په ښکلو پوښونو کي بازارونو ته وړاندي کوي.

## د غاښونو د پاکولو توکي:

که موږ د رسولﷺ په لار ښوونو عمل وکړو او خپل غاښونه ښه پاك وساتو ښایي د غاښو جوړوونکو دکانونه ګردسره وتړل سي. خو څنګه چي په اوسني ماشیني او لاالهانده ژوند کي دغسي نه سي کېدلای نو لږ تر لږه خو سهار د اوداسه پر وخت او ماخستن د بیدېدو پر مهال باید خامخا خپل غاښونه په مسواك پرېولو.

اوس لکه چي پوهیږو خلك د غاښونو د پاکولو لپاره ډول ډول کریمونه، منجن (د غاښو پاکولو سفوف)، مالګه او داسي نور کاروي. کریمونه ښایي سم ښایي ناسم وي. منجن باید استعمال نه سي، ځکه هغه څه مهال وروسته غاښونو ته څه ناڅه تاوان رسوي.

د غاښونو د پاکولو لپاره ساده توکی او ښه شی مالګه ده. که هر سهار غاښونه په مالګه پرېولل سي د هغو خیره او د وریو غلیظ رطوبت به په ډېره ښه توګه لیري سي. دغه راز که مالګه په تودو اوبو کي واچوئ او غاښونه، خوله او ستونی په پرېولئ هم به مو خوله او غاښونه پاك سي او هم به یې بد بوی ورك سي. که د چایو نیمه کاچوغه خوږه سوډا او نیمه کاچوغه پاکه میده مالګه په یوه ګیلاس تودو اوبو کي واچوئ او غاښونه، خوله او ستونی په پرېولئ هم مو دغاښونو خیري او ژړ والی پاکوي. خو که مو وری کمزوري

سوي وي نو مالگه بايد څه لږ وي. همدا شان لسټرين (LISTERINE) يا هايډروجن پر اکسايډ (HYDROGEN PEOXIDE) چي دواړه په نسبتاً کوچنيو بوتلانو کي اوبلن درمل دي او په درملتونونو کي په ډېره لږ بيه پلورل کيږي. که د هغو پر بوتلانو باندي د ليکلو لارښوونو سېه سم د ورځي دوه واره غرغړه سي او بېرته تو سي او بيا خوله په اوبو پرېولل سي د غاښو، خولې او ستوني د مکروبونو د وژلو او بد بوی د له منځه وړلو لپاره ډېر اغېزمن دي. خو د غاښونو د پاکولو لپاره تر ټولو ښه سکاره دي. دا کورنی منجن هيڅ تاوان نه لري او چي په دې وو غاښونه پاك سي د مرغلرو غوندي به ځليږي. سکاره کاربن لري او د غاښونو لپاره گټور دي. سکاره ښه ميده کړئ. او يوه گيلاس ميده سوو سکروته يوه د چايو کاچوغه مالگه او يوه د چايو کاچوغه نوشادر ور واچوئ بيا غاښونه په پاکوئ

ښايي تاسي ته دا په ظاهره کوچنۍ کوچنۍ خبري ښکاره سي. خو که دغو کوچنيو کوچنيو خبرو ته پام وسي هم به د غاښونو له ناروغيو څخه وژغورل سئ او هم به د ښه صحت او ښوغاښونو درلودونکي ياست.

که مو غاښونه پاك وساتئ ستاسي د مړيني تر مهاله به خراب نه سي. د غاښونو خرابي په عمر پوري اړه نه لري. په دې کي د طبيعت کمزوري نسته، بلکي زمونږ غلطۍ زمونږ د غاښونو د خرابۍ لامل گرځي. تاسي نه دي ليدلي چي د ځينوانسانانو تر مړيني وروسته لا کلونه کلونه د هغو غاښونه روغ پاته وي.

لوی ځښتنﷻ د هر چا غاښونه د هغه د ټول عمر لپاره ورکړي دي. په دې هکله مونږ ملامت يو چي د خدای دغه نعمت ښه نه سوساتلای.

## د کور پاک ساتل:

مونږ ته د ځان تر پاك او مرتب ساتلو وروسته د کور ستره او اوډلی ساتل زيات اړين باله سي. که په کورونو کي د پاکۍ او ستره گۍ معقول انتظام نه وي، نو مونږ به تل تر تله د ککړو او خرابو خوړو له امله په ډول ډول ناروغيو اخته يو، د ډاکټرانو بازار به ښه تود وي ان د پاکستان، هند او نورو ځايو

روغتونونو ته د تللو د ستونزو سره به مخامخ يو او څه چي په خواره خواري او زهره ترکي ګټو پر درملو به يې د پردو جېبو ته ور اچوو.

موږ د خپل کور او خوړو د پاکۍ او نظافت ادعاوي ډېري کوو، خو باور ولرئ چي په ډېرو مواردو کي په دې هکله د حفظ الصحې په اصولو نه پوهېږو. يو خودي زموږ ډاکټران هم خدای لري په دې هکله يې ډېر لږ تبليغاتي کار کړی دی او ليکني خو يې په دې برخه کي پر هيڅ حساب دي. بل موږ هم په دې باب څه نه لولو او له دې امله مو د کور، خوړو او نورو چارو د روغتيا ساتني د اصولو په هکله معلومات ډېر لږ دي. د دې خبرو په هکله تر ديد او کج بحثي مه کوئ. په يوه مجله کي وايي چي: «د برتانيې د فوډ سټينډرډ اجنسۍ څرګندہ کړې ده چي د دې هيواد ډېر هلك د خوړو د روغتياساتلو په چارو نه پوهيږي. د دغه هيواد خلك چي د غلطو يا خرابو خوړو له امله ناروغه کيږي نو هم نه پوهيږي چي د دوی د ناروغۍ سبب ناپاکه خواړه دي. لکه چي په پنځو تنو ناروغانو کي يوازي يو تن ډاکټر ته وايي چي د ده ناروغي د خرابو خوړو له امله ده». نو چي د برتانيې غوندي پر مخ تللي هيواد د خلکو دا حال وي، زموږ به څه حال وي؟

ډول ډول ساري يا خپرېدونکي ناروغۍ په کور کي له هر پراته شي څخه؛ د کور د دروازو له دستګيرونو څخه نيولې د لوښو تر صافو پوري له هر څه څخه خپرېدلای سي. په کور کي د ډول ډول مکروبونو د خپرېدو خطره تل موجوده وي.

ډېره اندېښنه د غوښو له کبله ده. غوښي د ککړتيا لويه ذريعه باله سي په تېره زموږ د بازارونو دا چي ډېري د ناروغو چرګانو وي او له ليرو ځايونو څخه د راوړلو او د ډېر وخت پر تېرېدلو له امله يې رنګ او خوند دواړه بدل سوي وي. دغسي تاسي فکر وکړئ چي د زړو او عمر خوړلو ګاميښو او مېږو، ميندايانو غوښي چي ګرده ورځ زموږ د ککړو بازارونو دوړي پر لوېږي، او مچان او غالبوزي پر بوړيږي، د داسي غوښو په کور کي ايښوول او ساتل او بيا خوړل به څنګه وي؟

ما په يوه مجله کي ولوستل چي: «د اومو غوښو تر کوچنۍ کولو او پرې کولو وروسته لاسونه ښه پرېولئ او چي نه مو وي پرېولي لاسونه په خوله، پزه او سترګو مه وهئ. که مو لاس څه تپي يا معمولي غوندي ګرږل سوی وي نو اومو غوښو ته يې مه وروړئ او د دغسي غوښو د کوچني کولو لوښی يا ځای ښه پرېولئ». د دغو خبرو په لومړي لوستلو سره سړی داسي فکر کوي چي اومې غوښې خو څه مرداري نه دي چي په هغو ککړ لاس به خولې يا پزې ته نه وروړم؟ خو که زمونږ د ورځنيو خوړونکو غوښو څرنګوالي ته ښه ځير سو سمدستي به د دغي مجلې د دغو خبرو په معقوليت وپوهيږو.

پر دې بنسټ بايد تر څو کېدای سي د بازاري شيانو له استعمال څخه ډډه وکړو. ځکه دغسي شيان زياتره په مکروبونو ککړ وي او زمونږ روغتياته مضر تماميږي. له لويه سره خو ګردسره غوښې په تېره د غوايي او ګامېښو غوښې مضري دي چي بايد يا ګردسره ونه خوړل سي يا ډېري لږ وخوړل سي. البته ټولي غوښې په تېره د غوايي دا بايد ډېري ښې پخې سي. له هغوغوښو څخه چي ښې نه وي پخې سوي. دغه راز له اوموشيدو، او ککړو اوبو او شربتونو څخه ډېري ناوړي ناروغۍ رامنځته کيږي.

په کوم ځای کي چي خواړه تياروئ، لومړی به هغه ځای ډېر ښه پاکوئ. د خوړو تر تيارولو وروسته به هم هغه ځای په لس پنځلس دقيقې کي بيا پاکوئ. يوه ورځ يا يوه اوونۍ وروسته د دغسي ځايونو پاکول کفايت نه کوي.

په کور کي که کوم يو د نس په ناسته اخته سوی وي (اسهال سوي وي) نو د هغه ټول کالي په ايشېدلو اوبو ورپرېولئ. بايد وويل سي چي لږ تودې سوي اوبه مکروبونه نه سي وژلای.

د غاليو فرش د ساري ناروغيو د خپرېدو ډېره ستره ذريعه باله سي. په هر حال د خپل کور فرشونه ډېر ښه پاکوئ. (د پخلنځي د پاك ساتلو او ځينو داسي نورو موضوعاتو په هکله په «پخلي» او«زمونږ خواړه او درمليز توکي» کتابونو کي هم ډېر ښه معلومات ورکړل سوي دي. تاسي کولای سئ په دې هکله نور معلومات د دغو دوو کتابونو له لومړيو پاڼو څخه تر لاسه کړئ).

هو! خير دی زموږ د ځينو خلکو د يو ډېر ناوړه دود په هکله به هم څه ځرګندوني وکړم ګوندي چې پرې يې ږدي. هغه دادی چې زموږ ځيني کورنۍ چې کله ډوډۍ خوري يا مېلمستيا کوي پر سترخان باندي د شلومبو کاسه کښېږدي او يوه يا څو د شلومبو مخصوصي کاچوغي ور واچوي. بيا هر يو په دغو کاچوغو دغه شلومبې چيښي. کله کله مستې، فرني او ځيني نور شيان هم په څو کسو په يوه کاچوغه خوري. اوبه هم په څو کسو په يوه ګيلاس يا يوه سړوبي کي چيښي. چي دا د روغتيايي اصولو او ډوډۍ خوړلو د آدابو خلاف کار دی. ښايي په دغو کسانو کي يو تن زکام وي. يا ان ښايي په کومه ساري ناروغي اخته وي. هسي خو په موږ کي ډېر داسي انسانان سته چي د خولې او غاښونو د نه پرېوللو او سم نه ساتلو له امله يې په خوله کي د اتياوو په شاوخوا کي ډول ډول جراثيمو ځای نيولی وي.نو که دغسي ناروغ او نور روغ کسان په يوه کاچوغه څه وخوري نو ښايي د ناروغ ناروغي نورو ټولو ته انتقال سي. ولي داسي نه کوو چي شلومبې په يوه جګ يا بل داسي لوښي کي واچوو او له هغه څخه يې پر ستر خان هر خوړونکي ته په جلا جلا ګيلاسونو کي کښېږدو او که مستې او فرني او داسي نور هم هر يو په جلا جلا کاچوغو وخوري او اوبه هم هر يو په جلا جلا ګيلاسونو کي وچيښي ډېر به ښه وي.

## د کور لوښي:

په موږ کي داسي خلك ډېر لږ دي چي په خوراك چيښاك کي احتياط کوي او روغتيايي اصول په پام کي نيسي. په نوره دنيا کي پوه ډاکټران د روغتيا او خوړو د ډېر ښه جوړولو او پخولو په هکله هر سهار کله چي د روغتون مخي ته ناروغان او نور وګړي روغتون ته د ننوتلو لپاره ورټول سي او يا د نورو غونډو او اړوندو مجلو او کتابونو له لاري لازمي لارښووني کوي. خو له بده مرغه زموږ په هيواد کي ډاکټران دغسي خبري ډېري لږ کوي.

په لوېديزو هيوادونو کي يې د مسي او پيتلي لوښو استعمال منع کړی دی، ځکه چي دغسي لوښي زنګ کوي او خواړه خرابوي.

د أيگرو فلزي لوشگو خوند او رنـګګ پـه خـوؤو کـي د موجـودو مـوادو د تاثير له امله خګه نا خګه خوؤو ته ور وزي يا د لوشگو خوند او پـه خـوؤو کـي موجود مواد يو له بله کيګمياوي اغيګزي شګندي. چې دا کلـه کلـه أيګـر ضـرر ناك تماميګاږي. د مسو، جستو، اوسـپني او تګـيګم (تګـين) پـه لوشـګو کـي دا خبره پـه حګانـګګؤيګ توګګـه ليـدل سـويګ ده. هغـه ميګويـګ او سـابه چـي تيګزاب ولري تر پخولو وروسته بايد تر أيګره وخته په لوشګي کي کشګيګ نـه شګوول سي، حګګه چي تيګزاب فلز ويلي کوي او پـه غذا کي ګګأيږي، چي پـه ديـګ أول ضـرر نـاك کيـږي. د ميګـوو اوبـه هـم بايـد د جسـتو پـه لوشـګي کـي کشګيګ نه شګوول سي. حګګه چي په اوبو کي موجود تيګزاب د جستو سره يو حګاى کيږي، مالګګه حګني جوؤيږي او د ميګويګ اوبه بـد خونـده کـوي. د مسو مالګګه معده او کولميګ خرابـوي او ويګتګـامين C لـه منحګـه وؤي. پـه هغو مسي لوشګو کي چي په قلعي شـګه نـه وي سـپين سـوي دغـه مالګګـه ژر جوؤيږي او د خوؤو سره ګګأيږي.

د اوسپني کؤايي هم د تيګزابي خـوؤو د پخولـو او سـاتلو لپـاره مناسـب نـه دى. نوو څېړنو جوته کړې ده چي د المونيمو په لوښو کي د خوړو د پخولو پـه پايله کي داسي مرکبات ګډيږي چي انساني روغتيا ته ډېر مضر او مهلك دي. د جارج ډونلس په نامه يوه نامتو ډاکټر تر ازموينو وروسته جوتـه کـړې ده چـي د المونيمو په لوښو کي د خوړو له پخولو څخه په هغو کي ځيني تـوکي پـه ډول ډول زهرجنو مرکباتو اوړي او په خوړو ګډيږي او پـر بېلـو بېلـو طبـايعو بانـدي ډول ډول مهلك اثرات ښندي. ځيني طبيعتونه د ځينو ځانګړنو لـه مخـي دغـه سمي اثرات مني او په لومړيو وختونو کي ډېر معمـولي او غيـر محسـوس وي، خو د سبب د نه ايسته کېدو له امله کرار کرار زياتيږي او بالاخره انسان ناروغه کوي. يو بل څېړونکى وايي: «که يوه پلا د المونيم په لوښي کي د سـوډا اوبـه واچول سي نو په هغه کي ځګ پيدا کيږي. خو که دغه اوبه د ښيښې پـه لوښـي کي واچول سي نو هيڅ ځګ به پکښي مونده نه سي». دغه راز که د المونيم په لوښي کي د نيم ساعت لپاره اوبه وايشول سي په هغـو کـي د المـونيم هايـډرو اکسايډ مرکب چي يوه زهـر نـاکـه مـاده ده ګډيږي کومـه چـي روغتيـا تـه ډېـره

مضره ده. دا هم ويل سوي دي چي د المونيمو مرکبات چي ګېډې ته ورسيږي کولمې کمزوري کوي او د ګېډې پر کوچنيو کوچنيو پردو باندي تپونه پيدا کيږي. دغه راز د المونيم لوښګي بايد د مالګگي په تيگزابو يا سوأا په اوبو پريګ نه ولل سي او تيگزابي خواؤه هم بايد د أيګر وخت لپاره پکښي پر ې نه ښوول سي.

د خوؤو په لوښګو کي تر تګولو شګه د بيګداغه فولاد و يا ستګګيل (Stain Less Steel) لوښګي دي، چي نن سبا په هر حګاى کي بېخي ډېر پيدا کيإي. خو د بيګداغو لوښګو بيي أيګري جکګي دي. که دا نه وي د خوؤو ساتلو لپاره چيني يا ناشکن لوښګي مناسب دي، چي دا نسبتًا ارزانه په لاس راحګي. خو اوس داسي لوښګي را وتلي چي د اور تودو شګه ييګ نه خرابوي. نا سوزه يا (Fire Proof Glass) لوښګي د پخلي لپاره أيګر مناسب دي. پر دغو لوښګو تيګزاب يا کوم بل شی هيګخګ کيګمياوي اغيګزه نه کوي او د خوؤو خوشبويي هم نه ضايع کوي. د دغو لوښګو تر پريګوللو وروسته په هغو کي دکوم شي بوى هم نه پاته کيإي. نوکه کيګداى سي دغه لوښګي استعمال کؤئ.

دغه راز لکه چي پوهيږو نن سبا د بخار د ديګګګ استعمال هم أيګر عام سوى دى. په دغسي د ډګونو کي پخلی هيڅ تاوان نه لري خو ګټي يې بېخي ډېري دي. د خوؤو ضروري او مهم اجزا او د هغو خوشبوييګ تر أيګره حده پکښګي پاته کيإي. دغه راز د اکسيګجن د لإ ورسره يو حګاى کيګدو له امله د خوؤو ويتګامينC هم د کګرمة سره سره له ضايع کيګدو خګخه خوندي پاته کيإي. خو کله کله داسي هم کيګداى سي چي که پام ونه سي، نو د بخار په ديګګګ کي د خوؤو د أيګرو پريګشګوولو له امله هغه زيات پاخه سي او کګتګور مواد ييګ أيګر ضايع سي. نو که د بخار په ديګګګ کي خواؤه پخوو د وخت پابندي بايد أيګره وسي.

## د کور د لوښو پرېولل:

د کور په کارونو کي د لوښو پرېولل یو ډېر مهم کار دی. زموږ خلك په تېره د کور مېرمني د خپلو کورونو لوښي په ډول ډول طریقو مینځي. خو له بده مرغه بیا هم لوښي له مکروبونو څخه نه وي پاك. ځکه د لوښو پرېوللو په صافو او جالیو زښت زیات مکروبونه نښتي وي، په تېره که دغه صافي بیا څه خیرني هم وي. دغه راز د لوښو د وچولو په ټوکرانو او دسملونو هم مکروبونه نښتي وي. چي له دغو صافو او ټوکرانو څخه مکروبونه هرومرو په لوښو پوري نښلي.

د دې ستونزي ډېره ښه او آسانه چاره داده چي د کور لوښي او د هغو د پاکولو ټوکران تل په ایشېدلو اوبو او د لوښو پاکولو په پوډرو یا شامپو مینځئ، څو د اوبو حرارت د هغو باکټریاوي له منځه یوسي. د لوښو د پرېوللو او وچولو لپاره اسفنج هم مه استعمالوئ. د دې پر ځای که له کاغذ څخه کار واخلئ ښه به وي. اسفنج هم د مکروبونو ډېره ښه پناهګاه ده.

کله چي مو لوښي پرېوله په ټوکره یې مه وچوئ، بلکي د لوښو ایښوولو په جالویو کي یې ایږدئ څو په خپله وچ سي. پرېولي لوښي په ټوکرانو هیڅ مه وچوئ. ځکه کېدای سي د ټوکره مکروب پر لوښي ونښلي. له دې امله دا کار ډېر مضر دی.

په پر مخ تللو هیوادونو کي لوښي په ځانګړو ماشینونو مینځي. په دغو ماشینونو کي په تودو اوبو او قوي پوډرو د پرېوللو او د لوښو د څو ټپاله د اړولو را اړولو په پایله کي لوښي ډېر ښه پاك سي. چي دا کار د حفظ الصحې ډېره غوره طریقه ده. خو افسوس چي تر اوسه زموږ په بې وزلي هیواد کي د جګړو ناورین د دغسي شیانو او وسایلو د را رسېدلو مخه ډب کړې ده.

## د کورونو او د هغو د شاوخوا پاک ساتل:

دلته به په لنډه توګه ووایو چي یو خو اسلام د مدنیت، ښاریت، ودانۍ، د پرمختیا د دودولو او فرهنګ او تهذیب دین دی. رسولﷺ په مدینه کي د خپل اسلامي حکومت په پیل کي د نورو ډېرو چارو د پر مخبېولو تر څنګ د

مسجد، کورونو او ښار او بازارونو په جوړولو لاس پوري کړ. بل له تاريخي لحاظه مردار خوري، په تېره د کورو نو او د هغو د ننه او شاوخوا ته په هرلوري د خځلو او ناپاکيوغورځول او د هغو نه ټولول د يهودو عادت دی. لکه چي د مدينې يهود په دې کي ښېخي ضرب المثل ګرځېدلي وه.

حضرت عمرﷺ پر منبر باندي ويل: چي ای خلکو! تاسي خپل کورونه ترميم او اصلاح کړئ، څو له نقصانونو څخه خوندي سي او په دې ډول تاسي د مارانو او نورو حشرو له شره په امان سئ. الادب المفرد (۲۰۸) مخ.

له دې امله د اسلام مبارك دين د مسلمانانو پام د کورونو ترميم او بيا رغوني او له خځلو او ډول ډول ناپاکيو څخه د هغو د کورونو، کوڅو او بازارونو د پاکولو خوا ته اړولی دی او دوی يې په دې هکله د يهودو سره له مشابهته ډډې کولو ته بللي دي.

په دې باب د جامع الترمذي د ابواب الآداب، باب ما جاء في النظافة۲/ ۱۰۳ مخ کي له حضرت ابن المسيبﷺ څخه روايت کوي چي: «لوی څښتن سپېڅلی دی، سپېڅلتيا خوښوي. پاك دي، پاكي خوښوي. کريم دي، کرم خوښوي. جواد دي، جود او سخا خوښوي. نو چي لوی څښتن نظافت خوښوي تاسي هم خپل هر څه پاك او نظيف وساتئ او د خپلو کورونو غولي، مخونه او شاوخوا پاك کړئ او د يهودو سره کوم چي د کورونو انګړونه او چارچاپېر يې ناپاکه دي او د هغو مخونو ته يې خځلي، ناپاکۍ او خوشايي غورځولي دي ځانونه مه مشابه کوئ». په ترمذي کي وايي چي پورتنۍ خبري ځينو نورو د رسولﷺ څخه روايت کړي دي.

د اسلام ښکلي دين له لاري څخه لارويو ته د تکليف ورکوونکو شيانو ايسته کول، لکه د ډبري، چيځلي، نجاست او داسي نورو د ايمان له څانګو څخه يوه څانګه او صدقه بللې ده. نو موږ ته ښايي چي نه داچي د خپل کور خځلي. پلاستيکي کڅوړي او قوطۍ چي د ډول ډول مکروبونو جذبوونکي او ډېروونکي دي په لارو، کوڅو کي واچوو، بلکي د يوه رشتياني مسلمان او مهذب او مؤدب افغان په حيث د وس مطابق د خپل کور مخونه او شاوخوا هم پاك او ستره وساتو.

دا خو د کورو نو او د هغو د شاوخوا د پاك ساتلو په هكله اسلامي لارښووني وي كومي چي پكښي څرګنده سوه چي د كورونو او د هغو د شاوخوا ناپاكي پخوا د يهودو عادت وو. خو اوس چي موږ د خپل ښار كوڅو، لښتيو، مكانونو او په هر لوري د خځلو كوټو او ډول ډول ككړتياوو، په تيره په دننه ښار كي د ګندګيو پاتاوونو ته ګورو نو آيا اوس يهودو دغه عادت موږ ته نه دى پرې ايښى؟

# د کندهار د ښار وضع

څنګه چي انسانان مدني بالطبع موجودات دي نو ښارونو، مدنيت او ټولنيز ژوند ته د هغو اړتيا يو منلی حقيقت دی. له دې امله دی چي حکمت عملي يې پر درو برخو وېشلی دی چي لومړی يې اخلاق، دوهمه يې تدبير منزل (کور اوډل) او درېيمه يې تدبير مدن (د ښار په نظم ونسق کي مشارکت يا حکمت مدني) دی چي د يوه کوچني ښارګوټي په نظم ونسق کي له ګډون څخه نيولې د بشپړ هيواد په نظم و نسق او ډول ډول نورو چارو کي تر ګډون پوري رسيږي. چي دې ته بيا سياست مدن هم وايي.

رشتيا داده چي د ښار جوړول او لکه څنګه چي ښايي د هغه اړوندو چارو ته سمون ورکول ډېر ستونزمن او د پرله پسې زيار ګاللو کار دی. په دې کار کي ګډون کوونکي بايد تر ټولو دمخه دا وطن په رشتيا او د زړه له کومي خپل وبولي. بل بايد ډېر ښه او رشتيني مسلمانان وي؛په ډول ډول پوهنو پسوللي وي او د خپل وطن سره بايد په خوله او په منافقت نه، بلکي رشتيانی او اورنی مينه ولري؛ د تل لپاره پکښي واوسي نه دا چي کورونه او اولادونه يې په بهر کي وي او دلته د ځينو مشخصو موخو لپاره موقتي او څو ورځي راغلی وي. د خپل افغاني تابعيت تذکره يې ورکه کړې يا ايسته غورځولې وي او د دين او وطن د دښمنانو د تابعيت کارټونه يې په پوښونو کي په ډېر درناوي او احتياط ساتلي وي، خو بيا هم د افغانيت او هيوادپالني غولوونکي لافي شافي ولي او چي مطلب يې تر سره سي بېرته مخ د خپلو بادارانو پر خوا ور الا کي.

دولتي چارواکي خو يې بايد هر يو په ورسپارلو سوو کارونو کي متخصص او د لازمي او بشپړي وړتيا او تجربي درلودونکي وي. نه دا چي څوك دغسي دندو ته بېله وړتيا، د واسطې، ډول ډول اړيکو، يا ان د پردو په خوښه يا د مصلحت پر بنسټ يا تصادفي او چوټ انداز وټاکل سي. د هيوادنيو چارو په هکله خو يې ويلي دي چي: «امور کشوري را خسروان دانند». يعني د هيوادني سياست لپاره تر ټولو ډېرو پوهو خلکو ته اړتيا ده نه دا چي پردي غليمان هر

غوږ راکش کړي، د هيواد د واك پر ګدۍ يې کښېنوي او پای هيواد داسي په وران ويجاړ کړي لکه افغانستان.

ښه لکه چي خبره ئلي خوا ته را ځخه کش سوه. بيرته به خپلو خبرو ته را وګرځو. زموږ خبري د ښار د اوسني وضعي او ستره ګی په هکله دي. دا ډېر عمر خو په افغانستان کي جنګ وو. طالبان خو نه چا په رسميت پېژندل او نه د نړی کفارو د افغانستان او د افغانانو د يو ځه ودانی او هوسايی لپاره د يوې خاشې قدر کومك ورسره کاوه. بلکي ډول ډول بنديزونه يې لا د پاسه پر لګولي وه او خپل ګوډاګي دولتونه او اشخاص يې نه دا چي د هغو سره له کومکه منع کړي وه، بلکي چي ځوك به دلته را تلل د بېلو بېلو موخو او جاسوسيو لپاره به يې را استولي او ګومارلي وه. او پر دې ټولو سر بېره يې ډېر ناروا او زهرجن تبليغات هم پسي کول.

پر هغو دي بيا هم آفرينونه وي چي په تشو لاسو يې د هيواد د کورنيو او بهرنيو دښمنانو د ډېرو ناځوانمردانه دسيسو او خنډ اچونو سره سره يې د افغانستان په تاريخ کي بې ساری امنيت ټينګ کړی وو. اسلامي نظام او عدل يې رامنځته کړی وو. د ظالمانو، پردي پالو، لوېديز خوښو، د وطن د غليمانو، بدېي خوړونکو، غلو، حرامخورو، بد اخلاقيو، شر او فسق او فساد مخه يې نيولې وه. پر توپکيانو او ناولو عناصرو يې پر تم او دبدبه پرته وه. دولس ډېرکی ځني راضي وه او يوازي او يوازي غله او ناروا پلوي ساکښان او د پردو چوپړيان او ګوډاګيان يا ناپوه او په حقايقو ناخبره انسانان په ناپامی او لاشعورې توګه نه وه په خوشاله.

په هر صورت د طالبانو نظام خو د دې اوسنيو په اصطلاح د ناپوهانو يا د هيواد د دښمنانو يا د پاکستان د ګومارلو حکومت وو. اوس چي په اصطلاح قانوني او د امريکا او د نړی د تقريباً ځلوېښتو هيوادونو له ملاتړه برخمن حکومت دی، ډول ډول پرېمانه مرستي ور کول کيږي، په مليارډونو ډالر ورته راو بهېدل او په اصطلاح د اهل کارو او بيروکراټانو او ټکنوکراټانو واك چليږي او پنځه کاله يې هم تېرسوي دي په هيواد کي ځه حال دی؟ امنيتي وضع ځنګه ده؟ د چور، تالان، غلاوو، اختلاسونو، بډو، نارواوو، فسق، فساد او

فحشاوو، جنګ جګړو، زورونو، تښتونو، شخصي، دولتي او امريکايي زندانونو، د وطن د غليمانو لخوا د ولسي بېګناه خلکو د پرله پسې کشتار او د کلو او بانډو د بمبار ولو، د نرخونو د لوړ والي او د خلکو د بې وزلۍ، بې کارۍاو بېزارۍ او د ادارې د بې کفايتۍ او فساد او... څه حال دی؟

نوري خبري به پرېږدو د همدغه زموږ د کندهار د ښار وضعي ته به يو سر سري کاته وکړو. د دې ولايت د جوړېدو او بيا رغېدو او د دبی سره د سيالېدو لافي څو واليانو، وزيرانو او نورو او ان امريکايانو او نورو بهرنيانو وويشتې؟ نو آيا د دې د ښار د ځينو ناحيو دغه کږې وږې چرۍ او دا څو کاږه واږه او څو نيم خامه او پر نيمی پاته سړکان چي جوړ سول ښار په دبی سو؟ تاسي څه فکر کوئ د کجکي د برېښنا تور بينونه چي دغو خلکو په پنځه کاله کي نه کړه نوي او د دې تورو تيارو د استازو له لاسه د طالبانو د وختو برېښنا لا را باندي ودرېدل دغسي را باندي توره شپه سول، که چيري طالبانو له کجکي څخه د کندهار او لښکرګاه تر ښارونو پوري د برېښنا مزي نه وای غځولي دوی به عځولي وای؟ د خندا وړ خولا داده چي اوس په دې د مدنيت د اوج او د انټرنيټ په روښان او پر مخ تللي پېر کي د کندهار په بازارونو کي د شپې لخوا هغه د امير کډو د وختو ماردنګۍ (د تېلو څراغونه) لګيږي.

تاسي يو وار د کندهار د ښار بڼي ته ځير سئ تاسي په افريقا کي دغسي سپېره او د دوړو ډك او ګډوډ ښار ليدلی دی؟ تاسي په نورو ځايونو کي داسي ځای ليدلی چي تقريباً څنګ پر څنګ او سره نژدې دي هم د استوګني کورونه وي، هم دي د تېلو ټانك، هم دي موټر شويي ګاني، او هم دي د مال التجاره ګودامونه او هم د غواوو ډېری، هم تراکتور فروشۍ او هم داسي ډېر نور وي؟ او همدغه راز دي په يوه کنډواله کي هم د تمبکو او نسوارو کارخانه، هم د پلمېټو کارخانه او هم د پوليسو پوسته وي؟

تاسي د بل ښار سړکان، درې ګزيان او لښتيان دغسي چټل او د خځلو ډك ليدلي دي؟ تاسي د چينباك د اوبو له پلوه بل دغسي نېستمن ښار هم ليدلی دی؟

تاسي پخوانی عمر جامع جومات، دغه د خدای کور ليدلی دی چي څه وضع يې ده؟ شاوخوا يې څه چټلې او هر ډول لغوړني هتي‌پر را ګرځېدلي او په دننه اُورشو کي يې سپي او پيشياني چکرونه وهي!

تاسي يو وار د اعليحضرت لوی احمدشاه بابارحمه‌الله زيارت ته ورسئ تاسي به د نورو ولسونو د دغسي ملي لويانو او مفاخرو د قبرو د ودانيو د شاوخوا وضع پر دغه حال ليدلې وي؟

تاسي بل ځای ليدلي دي چي خلك د خپلو ميندو، پلرونو، خپلوانو او اولياوو پر هديره او قبرونو باندي كورونه او دكانونه جوړوي؟

رشتيا د ښار د کوڅو د مکانونو خبره را ياده سوه عجبه ده يو ويشتمه پيړۍ سوه او په نړۍ کي هر څه بدل سول، خو له بده مرغه زمونږ د ښار د کورونو د مکانونو په هکله هيڅ بدلون رانه غی. د ښار په هره کوڅه چي سړی ننوزي زړه يې تر خوله رالوېږي.زه بېچاره به د دې ښار نوري بېخي ډېري ناسمي ټولي څنګه درته بيان کړم.

تاسي وګورئ په دې ښار کي تر نورو ټولو کسبګرو د ډاکټرانو کتنځي او درملتونونه زيات دي. نو چي يو ښار دونه بي نظمه او چټل وي او په دوبي د ورځي له مچانو او د شپې يې له غوماشو څخه خوږ خوب پر سړي حرام سي نو ولي به ډاکټران او درمل پلورونکي دونه نه وي پکښي ډېر؟ او ولي به يې کار نه وي چوك؟

کاشکي داسي وای چي موږ راتلونکي ته څه هيله او اميد درلودای او ويلای مو چي دا ټولي ناروغي به کرار کرار سمي او روغي سي. موږ چي اوسنۍ وضعي ته ګورو راتلونکې مو هم د پردو د دې اوسني روان خرلمبيت له امله توره تياره بريښي. نو لوی څښتن مو دي پرده او چاره وکي. والسلام.

# د کتاب د مراجعو فهرست

**ګڼه د کتاب نوم د ليکوال نوم او نور مشخصات**

1- قرآن کريم تنـزيل من رب العلمين.
2- احکام تجارت اور لين دين، مولاناعبدالرحمان کيلاني، مکتبة السلام، لاهور: دوهم چاپ، ۲۰۰۳ع.
3- احکام تجميل النساء، د / ازدهار، داراحياء اللغة العربية، کراچي.
4- اخبار جهان مجله، بېلې بېلې ګڼې او نوري ډول ډول مجلې او ورځپاڼې.
5- الادب المفرد، ابي عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري، مکتبۀ رحمانيه لاهور.
6- الاشباه والنظائر، علامه زين الدين بن ابراهيم بن نجيم.قديمي کتب خانه، کراچي.
7- اشعة اللمعات، شيخ عبدالحق محدث دهلوي، تيج کمار مطبعه، نهم چاپ، لکهنو: ۱۹۶۳ع.
8- السر کا علاج، علي اعجاز، فيصل پبليکيشنز، نوی ډيلی: ۱۹۸۹ع.
9- امداد الفتاوٰی، مولانا اشرف علي تهانوي، مکتبۀ دارالعلوم، کراچي.
10- انسايکلوپيډيا بريټانيکا، سي ډي.
11- بحرالرائق، امام ابو البرکات عبداله بن احمد بن محمد نسفي، مکتبة الحبيبية، کوټه: ۱۴۱۸س.
12- بستان العارفين، فقيه ابو الليث نصر بن محمد بن احمد سمر قندي، مکتبة الکتاب والسنة، پېښور.
13- بهيج طبي سيند، دوکتور عبدالحميد بهيج، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور: ۱۳۸۵ل.
14- التفسير الکبير، اما فخرالرازي، دار احياء التراث العربية، بيروت: ۱۴۲۰س

15- التفسير المظهري، قاضي محمد ثناء الله پاني پتي، المكتبة العربية، كوئټه: ۱۴۱۵س.
16- تمباكو او اسلام، مولانا حفظ الرحمان اعظمي ندوي، بيت العلم ټرسټ، كراچي: ۲۰۰۶ع.
17- تمباكو نوشى مضر صحت، محمد بن ابراهيم آل شيخ، اردو ژباړه د ابويحيٰى محمد زكريا زاهد، حديبيه پبليكيشنز، لاهور: ۲۰۰۳ع.
18- جامع الترمذي، ابو عيسٰى محمد بن عيسٰى بن سورة بن مسٰى الترمذي، كتب خانهٔ رشيديه، ډيلى.
19- حسن وصحت، حبيب اشعر، نهال كتاب گهر، ډيلى: ۱۹۷۶ع.
20- حلال وحرام در اسلام، ډاكټر يوسف قرضاوي، فارسي ژباړه د ابوبكر حسن زاده، كتب خانهٔ اكرميه، پېښور: ۱۳۷۸ل.
21- خلاصة الفتاوٰى، طاهر بن عبدالرشيد البخاري، امجد اكيډيمي، لاهور: لومړى چاپ.
22- خُلق المسلم، محمد الغزالي، دار القلم، دمشق: پنځلسم چاپ، ۱۴۲۱س.
٢٣- خواتين كے لئے جديد مسائل، مولانا مفتي احسان الله شائق، دار الاشاعت، كراچي، ۲۰۰۷ع.
24- د د واړو جهانو سردار ارشادات، طالب هاشمي، پښتو ژباړه د اعجاز احمد زاهد، دعوت اكېډيمي، بين الاقوامي اسلامي يونيورسټي، اسلام آباد: ۱۹۹۱ع.
25- درس ترمذي، مولانا محمد تقي عثماني، مكتبهٔ دار العلوم، كراچي: ۱۳۹۹س.
26- درمختار، محمد علاء الدين الحصكفي، على هامش ردالمحتار.
27- راز سلامتى وطول عمر، د اسماعيل اژدرى، اقبال، تهران: دريم چاپ، ۱۳۷۳ل.
28- ردالمحتار، سيد محمد امين ابن عابدين، مطبعهٔ عثمانية، تركيه: ۱۳۲۴ س.

29- روائع البيان، محمد علي الصابوني، مكتبة الغزالي، دمشق: دوهم چاپ، ۱۳۹۷س.
30- زموږ خواره او درمليز توكي، جميله همت، صحاف نشراتي مؤسسه، كوټه: لومړی چاپ، ۱۳۸۳ل.
31- الزواجر عن اقتراف الكبائر، ابوالعباس احمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي، مكتبۀ فاروقيه، پېښور.
32- سنن ابن ماجه، ابو عبدالله محمد بن يزيد بن ماجه، مكتبۀ اكرميه، پېښور: ۱۴۰۷س.
33- سنن ابوداود، امام سليمان بن الاشعث ابي داود السجستاني، كتب خانۀ رشيديه، ډيلی.: ۱۴۰۰س.
34- سنن النسائي، ابو عبدالرحمان محمدبن شعيب بن علي النسائي، قديمي كتب خانه، كراچي.
35- شرح المجلة، علامه محمد خالد الاتاسي، مكتبۀ رشيديه، كوټه.
36- شهد، محمد اسلم صديقي، تخليقات، لاهور: ۲۰۰۰ع.
37- صحت بخش عادات، زبير وحيد، اردو سائنس بورډلاهور: لومړی چاپ، ۱۹۹۷ع.
۳۸- صحت وزندگی، خوشتر گرامی، بيسوين صدی بكډپو، نوی ډيلی: نولسم چاپ، ۱۹۸۰ع.
۳۹- صحيح البخاري، ابي عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري، دار الاحياء التراث العربي، بيروت: لومړی چاپ، ۱۴۲۲س.
40- صحيح مسلم، امام ابوالحسين مسلم بن الحجاج القشيري، المكتبة الاسلامية، استانبول: لومړی چاپ، ۱۳۷۴س.
41- الطب النبوي، امام ابن قيم الجوزية، دار الفجر للتراث، قاهره: ۱۴۲٦س.
42- عورت كی اسلامی زندگی اور جديد سائنسی تحقيقات، محمد انور بن اختر، ادارۀ اشاعت اسلام، كراچي، ۲۰۰۳ع.

43- غذاکی کهانی، علي ناصر زيدي، مکتبۀ پيام تعليم، نوی ډيلی: لومړی چاپ، ۱۹۸۹ع.
44- غلات برای سلامتی شما، ژان لوك داريګل، فارسي ژباړه د ساعد زمان، انتشارات ققنوس، تهران: ۱۳۷۱ل.
45- الفتاوٰی الحديثية، احمد بن محمد بن علي بن حجر الهيتمي، قديمي کتب خانه، کراچي.
46- الفتاوٰی العالمګيريه، مولانا شيخ نظام او د هند د سترو عالمانو يوه ډله، مکتبه رشيديه، کوټه: ۱۴۰۳س.
47- فتاوٰی عزيزي، شاه عبدالعزيز محدث دهلوي، دارالاشاعة العربة، کوټه.
48- فتاوٰی علماء البلد الحرام، شيخ سعد بن عبدالله البريك، دار الکتاب والسنة، رياض: ۱۴۰۵س.
49- فتاوٰی واحدی، مخدوم عبدالواحد سيوستانی، دارالاشاعة العربية، کوټه: ۱۴۱۸س.
50- فتح الباري، حافظ احمد بن علي بن حجر العسقلاني، دارالسلام، رياض: لومړی چاپ، ۱۴۲۱س.
51- فتح القدير، امام کمال الدين محمد بن عبدالواحد، مکتبه رشيديه، کوټه.
52- فتوٰی نويسي کے رهنما اصول، مفتي محمد سلمان منصورپوري، مکتبۀ نعمانيه، کراچي: ۱۴۲۱س.
53- فرهنګ عميد، حسن عميد، انتشارات امير کبير، تهران: ۱۳۸۱ل.
54- الفقه الاسلامي وادلته، دکتور وهبة الزهيلي، دارالفکر، دمشق: دريم چاپ، ۱۴۰۹س.
55- فقه السنة، سيد سابق، شرکة المنار الدوليه، قاهره: ۱۴۱۷س.
56- الفقه على المذاهب الاربعة، عبدالرحمان الجزيري، دار الفکر، بيروت: ۱۳۲۴س.
57- فقهي مسائل، مولانا خالد سيف الله رحماني، مکتبة الايمان، لاهور.

58- قرآني آيات اور سائنسى حقائق، ډاکټر نورباقي ترکي، اردو ژباړه د سيد محمد فيروزشاه، انډس پبلشنګ کارپوريشن، کراچي: پنځم چاپ، ۲۰۰۰ع.

59- الكليات في الطب، ابن رشدالقرطبي، دارالكتب العلمية، بيروت: لومړی چاپ، ۲۰۰۵ع.

60- مجموعة الفتاوٰی، محمد عبدالحی لكنوي، امجد اکېډيمي لاهور: ۱۳۹۷س.

61- مرقاة المفاتيح، علامه ملاعلي قاري، مکتبۀ رشيديه، کوټه.

62- مشكوٰة المصابيح، خطيب عمري تبريزي، مطبع نظامي، ډيلی.

63- معدے کا السر، ډاکټر فنبارګارټن او ډاکټر ډينيل سټيل، اردو ژباړه د آصف نواز، سميع پبليکيشنز، نوی ډيلی: ۱۹۸۹ع.

64- مقدمۀ رسالۀ جوديه، دکتر محمود نجم آبادي، دانشگاه بوعلي سينا، همدان: ۱۳۸۳ل.

65- ملټی نيشنل کمپنيون کی اسلام دشمنی، مسعود مفتي، علم وعرفان پبلشرز، لاهور: ۲۰۰۳ع.

66- منهيات در اسلام، دوکتور نظام الدين نافع، مرکز نشراتی ميوند، پېښور: دريم چاپ، ۱۳۷۸ل.

67- الموطاء، امام مالك بن انس، دار احياء التراث العربية، بيردت: ۱۴۰۶س.

٦٨- هماری غذا، شکيل احمد، ترقی اردو بيورو، نوی ډيلی: دوهم چاپ، ۱۹۸۸ع.

# د ليکوال لنډه پېژندنه

**عبد المالك (همت)**

- د پلار نوم يې مولوي عبدالرزاق.
- د کندهار په سوزني کې زېږېدلی دی.
- د زېږېدو کال يې ۱۳۳۲ لمريز.
- په اسلامي او ټولنيزو علومو کې يې خصوصي زده کړې کړې دي.
- د نجيب د واکمن کېدو په لومړيو کې له هيواده مهاجر سو، لومړې پاکستان او بيا هند ته کډه سو.
- کله چې لا طالبان پر کابل نه وه واکمن سوي تر اوږدې کډوالۍ وروسته هيواد ته راستون سو او اوس په کابل کې استوګن دی.
- اوس په کور کې د کتابونو په ليکلو بوخت دی.
- تر اوسه يې لاندي آثار ليکلي دي:

1- د همت چيغه (شعري ټولګه) په ۱۳۸۰ ل.کال خپره سوې ده.
2- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند (ژباړه) په ۱۳۸۱ ل.کال خپره سوې ده. په ۱۱۳۸۹.کال دوهم ځل خپره سوه.
3- زموږ د قبلې تاريخ (دمکې مکرمې تاريخ) په۱۳۸۵ ل.کال دوهم ځل خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دريم ځل خپور سو.
4- زموږ د نبي مېنه (د مدينې منورې تاريخ) په ۱۳۸۵ ل.کال خپور سو. په ۱۳۸۹ کال دوهم ځل خپور سو.
5- ادب او ادبي کره کتنه په ۱۳۸۵ ل.کال خپور سو.
6- د مقالې ليکلو اصول په ۱۳۸۵ ل.کال خپور سو. په۱۳۸۸ ل.کال دوهم ځل خپور سو.
7- پښتو معلم الحجاج (ژباړه) په ۱۳۸٦ ل.کال خپره سوه.
8- پوپنا سوي ولسونه (ژباړه). په ۱۳۸٦ ل.کال خپره سوه.

9- زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي په نامه کتاب په ۱۳۸۷ل.کال خپور سو.
10- د آسيا نن او سبا په نامه (ژباړه) په ۱۳۸۷ل.کال خپره سوه.
11- غرور او د هغه علاج (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
12- د کلمې شريـفي حقيقت (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
13- د ښځو د حج او عمرې لارښود په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
14- اسلام د دوه لاري پر سر (ژباړه) په ۱۳۸۸ل.کال خپره سوه.
15- د حق او باطل جګړې، په ۱۳۸۸ل.کال خپور سو.
16- د لوېديځ مشران وايي: اسلام او مسلمانان له منځه يوسئ.په ۱۳۸۹ل.کال خپور سو.
17- د حق او باطل د جګړې په هکله (۲۵) مقالې. په ۱۳۸۹ل.کال خپور سو.
18- د حق او باطل په جګړه کي الهي سنت (ژباړه) په ۱۳۸۹ل.کال خپره سوه.
19- راځي توبه وکاږو، چاپ ته لېږل سوی دی.
20- زموږ صحت او آخرت ته تاواني توکي په ۱۳۸٦ل.کال خپور سو. او اوس دادی دوهم ځل خپور سو او ستاسي په لاس کس دی.

◀ پر دې سربېره يې د هيواد په دننه او دباندې کي بېلي بېلي مقـالې هـم خپرې سوي دي.

◀ د ليکوال د ګرځنده تليفون لمبر: 700300167 0093

◀ د ليکوال د برېښناليك يا ايمېل آدرس:

**himmat_ afg@yahoo.com**